صباح المصلی

پشتو شرحه

ته المصلی



پشتو ترجمه کوونکی
استاد مولوی
حافظ نور احمد الحقانی

مصنف
الله صاحب

«فَاسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَاتَعْلَمُوْنَ»

مصباح المُصلي

«پښتو شرحه»

د منية المُصلي

مصنف

مولانا ولي الله صاحب

پښتو ترجمه کوونکی

أستاد مولوی حافظ نور احمد الحقاني

المكتبة الحبيبية كاسي روډ كوټه

المكتبة الحبيبية ارګ بازار کندهار

د کتاب پېژند پاڼه:

د کتاب نوم	مصباح المُصلي پښتو شرحه د منية المُصلي
مصنف	مولانا ناولي الله صاحب
پښتو ترجمه کوونکی	أُستاد مولوي حافظ نور احمد الحقاني
کمپوز	ترجمه کوونکي په خپله
زموږ شمېره	: :



المـكتـبـة الحبيبي كاسي روډ كوټه

المكتبة الحبيبي ارګ بازار کندهار



اَلْحَمْدُ لِلْمُنْعِمِ الْعَظِيْمِ الَّذِیْ اَنْعَمَ عَلَيْنَا بِفِقْهِ الدِّيْنِ. وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ قَالَ مَنْ يُّرِدِ اللهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِى الدِّيْنِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ بَذَلُوْا جُهْدَهُمْ فِىْ اِسْتِنْبَاطِ الْمَسَائِلِ وَاِشَاعَةِ الدِّيْنِ.

امابعد: تقریباً د نن څخه اووه سوه (۷۰۰) کاله مخکي د ویل سوي علم فقهي ابواب الصلوة باندي مشتمل کتاب "منیة المصلي" ده، او د دیني مدارسو څخه ماسوای د مساجدو امامان یې هم د لمانځه د مسائلو ایزده کولو لپاره عوامو ته وایي، مګر دا کتاب په عربي ژبه کي د نویشتي او تحریر د وجي د عربي څخه نا خبرو خلګو ته د رسولو څخه وتلی وو، او د کوم استعداد والا طلباء هم د ده څخه کوماحقه استفاده نه سوای اخستلی، نو د دغه ضرورت په بناء پیش نظر مي په پښتو کي د ترجمې او تشریح لپاره مي قلم را واخست او د خدای په فضل سره مي دا شرحه مصباح المصلی پیل کړه، زما د کوم علمي په وجه که هرځای زما څخه خطایي، کوموالی او زیاتوالی سوی وي نو په غرض د تصحیح به مشکور یم.

هم په دغه مقام زه د هغو ملګرو د شکریې ادا کولو بغیر نه سم پاته کېدی چي هغوی د دې کتاب په اشاعت کي زماسره هر ممکن تعاون کړی دی، چي په هغوی کي حافظ عبدالوهاب غوریواله، حاجي افسرخان وزیر، حاجي نقیب الله او معتصم بالله الهاشمي په خصوصي توګه د ذکر وړ دي، او په آخر کي د ټولو قارینو څخه زما داعاجزانه خواست دی چي یو وخت د دې شرحي څخه استفاده واخلي نو ما بنده، زما والدین،

استاذان او شاگردان هم په خپلو دعاوو کي ياد ولری، الله تعالی دي دا کتاب د طالبانو د علم لپاره نافع او زما لپاره د اٰخرت ذخيره وگرځوي.

وَمَا ذٰلِکَ عَلَی اللهِ بِعَزِيز



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

ژباړه: ټوله صفتونه خاص دي الله تعالى لره چي دی رب د عالمين دی، او ښه انجام دی لپاره د پرهيزګارانو، درود او سلام دي وي پر رسول د هغه چي حضرت محمد مصطفى ﷺ دی، او دغه رنګه دي درود او سلام وي د رسول ﷺ په کورنۍ او په اصحابو رضي الله عنهم باندي.

تشريح: مصنف د دې کتاب شروع د الله تعالى د برکت نوم او د هغه د حمد او په ثناء سره وکړه، لپاره د دې چي په اقتداء بالقرآن سره برکت حاصل سي.

دغه ډول نبی کريم ﷺ ويلي دي (كُلُّ اَمْرٍ ذِىْ بَالٍ لَمْ يَبْدَاءُ فِيْهِ بِالْحَمْدُ لِلّٰهِ فَهُوَ اَقْطَعُ. وفى رواية لا يَبْدَاُ فِيْهِ بِبِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) چي هر هغه ذي شان کار چي د هغه شروع د الله تعالى د حمد او ثنا يا بسم الله سره نه وسي نو هغه کار نا مکومل پاتيږي، په دغه بيناد مصنف د کتاب ابتداء په بسم الله او ثناء سره وکړه چي زما دانيک مقصد نيمګړی نه سي.

او الله نوم دی د ذات حق واجب الوجود سبحانه وتعالى، او د رب معنٰى ده ساتونکی د ټول جهان، بحالت نصب و جر (عالمون) بحالت رفعه په استعمال کي په مخلوقات کي ذوی العقول لکه څنګه چي انسان، ملائکي او د جنات لپاره کيږي، مګر الله تعالى خو د غير ذوی العقولو هم مالک دی مګر کله چي د الله تعالى لپاره په (رب العالمين) کي د ذوي العقولو لپاره رب کيدل ثابت سوه نو په کائناتو

کي تمام غير ذوي العقول د اصحاب عقل تابع دي، نو الله تعالی د غير ذوي العقولو لپاره بدرجه اولی مالک سو.

د الله تعالی د حمد وثنا سره مصنف نيک خلک د حسن عاقبت څخه خبره وي او وايي چي د بهترين انجام مالکان هغه خلک دي چي په هر حال کي د الله تعالی څخه بېرېدونکي دي نو دلته په "العاقبة "سره لفظ حسن يا خير مضاف محذوف دی، او اصل عبارت يې (حُسْنُ الْعَاقِبَةِ يَا خَيْرُ الْعَاقِبَةِ لِلْمُتَّقِيْنَ) دی.

د دې څخه وروسته مصنف په نبی کريم ﷺ درود او سلام ذکر کړ، ولي چي د ده مبارک په واسطه سره پرمور د علم ومعارف دروازې خلاصي سوي او د ده مبارک په نوراني خلې مبارکي سره د علم نورانيت وغورېدی او مبارک عليه السلام په ال يعني کورنۍ وعيال او اصحابو رضي الله عنهم باندي صلوة او سلام ذکر کړ ولي چي د دغه عظيمو خلکو په سخت محنت سره د نړۍ په هر کونج کي د علم دين چنارونه خلاص سوي دي او نن په ديارِ عجم کي مور د صحابه کرامو رضي الله عنهم د محنت په برکت سره کلمه ويونکي يو.

اِعْلَمُوْا وَفَّقَكُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى وَاِيَّانَا اَنْوَاعَ الْعُلُوْمِ كَثِيْرَةٌ وَّاَهَمُّ الْاَنْوَاعِ بِالتَّحْصِيْلِ مَسَآئِلُ الصَّلٰوةِ فَلَمَّا رَاَيْتُ رَغْبَةَ الْمُقْتَبِسِيْنَ فِيْ تَحْصِيْلِهَا الْتَقَطْتُ مَا كَثُرَ وُقُوْعُهُ لِلْمُصَلِّيْنَ وَمَا لَابُدَّ لَهُمْ مِّنْهُ مِنْ تَصْنِيْفَاتِ الْمُتَقَدِّمِيْنَ وَمِنْ مُخْتَارَاتِ الْمُتَاَخِّرِيْنَ نَحْوَ الْهِدَايَةِ وَالْمُحِيْطِ وَشَرْحِ الْاِسْبِيْجَابِيْ وَالْغُنْيَةِ وَالْمُلْتَقَطِ وَالذَّخِيْرَةِ وَفَتَاوٰى قَاضِيْخَانَ وَجَامِعَيْهِ وَسَمَّيْتُهُ مُنْيَةُ الْمُصَلِّيْ وَغُنْيَةُ الْمُبْتَدِيْ.

ژباړه: پوه سئ چي الله تعالی دي مور تهولوته د ايزده کولو، پوهېدلو توفيق راکړي، چي د علم ډېر قسمونه دي، او په اعتبار د حصول د ټولو موهم مسائل د

لمانځه دي، نو مصنف رحمه الله وايي چي ما کله په مسائلو کي د لمانځه د طلباؤ زيات رغبت وليدى نو ما د مقدمينو په کتابو چي کوم د مقدمينو علماؤ د کتابو څخه متاخرينو علماوو خوښ کړي دي لکه : هدايه، محيط، شرح الاسبيجابي، غنية، ملتقط، ذخيره، فتاوى قاضي خان، جامع صغير وکبير څخه مي هغه مسائل راجمع کړي چي اکثره لمونځ کونکو ته مخته راځي، چي د هغه د ايزدکولو بغير چي لمونځ کونکي چاره نه لري، او د دې نوم مي" منية المصلي وغنية المبتدي "کښيښووى.

تشريح: مصنف رحمه الله په دغه عبارت کي وروسته له توفيق د دعاء، وجه د تصنيف بيانوي چي کله ما علومِ دنيه په طلباؤ کي مسائل د لمانځه ايزده کولو زيات محنت او شوق وليدى نو مي د انتهايي زيات محنت څخه کار واخستى، د معتبرو کتبو څخه کثيرالوقوع مسائل مي را جمعي کړي او دغه جمع کړي مسائل مي د کتاب په شکل کي مرتبي کړلي او د" منية المصلى "نوم مي ورکړ، يعني د لمونځ کونکي خوښه، ولي چي د لمانځه اکثره مسائل په دې کتاب کي بيان کړل سوي دي، نو د لمونځ کونکي لپاره د لمانځه په موضوع د دغسي جامع کتاب وجود د لمونځ کونکي خواهش وو او غنية المبتدي يعني ابتدايي طالب چي د نورو کتبو د مطالعې څخه قاصره ده د دې لپاره د نوروکتابو ضرورت ختم کونکى کتاب دى.

وَاَسْاَلُ اللّٰهَ تَعَالٰى اَنْ يَّجْعَلَ مَااعْتَمَدْتُّهُ خَالِصًا لِّوَجْهِهٖ وَمُكَفِّرًا لِّذُنُوْبِيْ بِفَضْلِهٖ وَاَنْ يَّغْفِرَلِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِاُسْتَاذِيْ وَهُوَ الْمُوَفِّقُ لِلسَّدَادِ وَمِنْهُ الْهِدَايَةُ وَالرَّشَادُ.

ژباړه: او زه د الله تعالى څخه پوښتنه کوم چي زما دغه نيکه اراده، نيک مقصد يواځي د خپل رضا لپاره، او په خپل فضل وکرم سره زما د ګناهونو د بخښش، او زما د مورپلار او استاذانو د مغفرت سبب جوړ کړي، او هغه ذات د خطاؤ څخه د ساتلو توفيق ورکونکى دى او د هغه د طرف څخه هدايت او استقامت دى.

تشریح: مصنف د الله تعالی په حضور کي د دې کتاب د قبولیت غوښتنه کوي چي ای الله! زما د غه سعیه قبوله کړي او خپل رضا را نصیب کړي او زما ګناهونه خراب کړي او ورسره زما مور پلار او استاذانو ته هم مغفرت وکړي ولي چي د ګناهونو څخه د ځان ساتني توفیق او اسباب د هدایت او په دین استقامت اختیار کول د خدای د فضل وکرم سره ممکن دي .

اِعْلَمْ بِاَنَّ الصَّلٰوةَ فَرِيْضَةٌ ثَابِتَةٌ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ وَاِجْمَاعِ الْاُمَّةِ وَاَمَّا الْكِتٰبُ فَقَوْلُهُ تَعَالٰى اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَقَوْلُهُ تَعَالٰى وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ اَىْ صَلُّوْا لِلّٰهِ قَائِمِيْنَ وَقَوْلُهُ تَعَالٰى فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ وَلَهُ الْحَمْدُ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَعَشِيًّا وَّحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ . وَقَوْلُهُ تَعَالٰى حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى وَقَوْلُهُ تَعَالٰى اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتَابًا مَّوْقُوْتًا اَىْ فَرْضًا مُّوَقَّتًا .

ژباړه: پوه سه چي لمونځ فرض دی، چي په قرآن، حدیث او اجماع امت سره ثابت دی .او کوم چي قرآن دی نو د الله تعالی دا قول ۱ لمونځ قائم کړئ، ۲ ودرېږئ الله لره د عاجزی په حالت کي یعني ودرېږئ او لمونځ وکړئ د الله تعالی لپاره، ۳ الله تعالی لره پاکي ده په وخت کي د سهار او ماښام او د هغه حمد دی په آسمانو او مځکو کي په وخت کي د ماخستن او ماپښین، ۴ د لمونځونو حفاظت وکړئ او د درمیانه لمانځه، ۵ بیشکه لمونځ فرض کړل سوی دی په مؤمنانو باندي په ټاکلي وخت یعني په اوقاتِ مقرره فرض دی .

تشریح: مصنف وایي چي د لمانځه فرضیت په قرآن کریم، د احادیثو رسول الله ﷺ او په اجماع درو سرو سره په قطعي طور ثابت دی، او د قرآن کریم څخه د فرضیت د ثبوت لپاره مختلف آیةِ قرآني یې ذکر کړه " اقیموا الصلوة "کي الله تعالی

د لمانځه د قائمولو حکم کړی دی، د لمانځه اقامت دادی چي د لمانځه د ادا کولو په وخت کي په تمامو ارکانو کي فرائض، واجبات، سنتونه او د مستحباتو خیال وساتل سي .

(وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ) یعني په لمانځه کي د الله لپاره په عاجزۍ دربدل کوئ، او ځینو علماؤ د قوموا لله معنی په صلّوا لله سره کړي ده چي د لمانځه د یوه رکن یعني قیام د ذکر څخه دلته د جز مراد کل دی، او د صاحب منیة المصلي میلان هم دغه طرف ته دی لکه څنګه چي په آیت کي دي" لَاتَقُم فِيهِ اَبَداً "دلته د لاتقم معنی په لاتصل سره کیږي .

حَافِظُوْا عَلَى الصَّلٰوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى. یعني د لمونځو د حفاظت حکم ورکولو د درمیانه لمانځه په خاصه توګه ذکر کړی دی .

د درمیانه لمانځه په باره کي د علماؤ مختلف اقوال دي، د عمرو ابن رافع څخه روایت دی چي ما د ام المؤمنین حضرت حفصې رضي الله عنها لپاره د قرآن پاک یوه نسخه لیکله نو ام المؤمنین ماته وویل چي کله ته دغه پورته آیت مذکور ته ورسیږې نو به ماته ووایه نو کله چي زه دغه آیت ته را ورسېدم نو مي ام المؤمنین ته خبر ورکړی، نو ماته یې په دې طریقه د لیکلو حکم راکړ (حَافِظُوْا عَلَى الصَّلٰوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى)

(صلوة العصر موطاء امام مالک) نو د دې روایت مطابق د صلوة وسطٰی څخه مراد د ماځیګر لمونځ دی .

ځینو علماؤ د صلوة وسطٰی څخه مراد د ماپښین لمونځ کړی دی ولي چي دا د ورځي درمیان دی، ځینو د ماښام لمونځ نیولی دی، ولي چي دا نه نماز رباعي، د څلور رکعاتو والا لمونځ دی او نه ثنایي، د دوو رکعاتو والا دی بلکي د هغه په درمیان کي د درو رکعاتو لمونځ دی، او د دې څخه علاوه د نورو علماؤ اقوال هم

ستـه کـوم چي د طوالت پـه خـوف دلتـه نـه نقل کيږي.

فَسُبْحَانَ اللهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ الخ يعني پـه اوقـاتو مذکوره وو کي دالله تعالٰی تسبيح کوی، سبحان مصدر دلته د فعل سَبِّحُوا پـه معنی کي استعمال سوی دی، د هغو مفسرينو د قول مطابق چا چي دلته د تسبيح څخه لمونځ مراد اخستی دی ولي چي لمونځ په تسبيح مشتمل دی، د حضرت ابن عباس ﷺ څخه يو چا پوښتنه وکړه چي د پنځو لمنځو ذکر په قرآن کي سته؟ نو حضرت ابن عباس ﷺ وويل چي وو او په دليل کي يي دغه آيت حِينَ تُمسُونَ ......الخ تلاوت کړ.

اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَت ......الخ، يعني لمونځ په مسلمانانو په خپلو محدودو اوقاتو کي فرض کړل سوی دی، او هر لمونځ پـه خپل وخت کـول فرض دی او دلتـه د "كِتَابًا" څخه مراد فرض کېدل دي لکه څنګه چي د روژې پـه فرضيت کـي "كُتِبَ عَلَيكُوم الصِّيَام "فرمايلي دی.

وَاَمَّا السُّنَّةُ فَمَا رُوِىَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ فِى الصَّحِيْحَيْنِ اَنَّـهُ قَالَ بُنِىَ الْاِسْلَامُ عَلٰى خَمْسٍ شَهَادَةُ اَنْ لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ. وَاِقَامُ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءُ الزَّكٰوةِ وَصَوْمُ شَهْرِ رَمَضَانَ وَحَجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا. وَقَوْلُـهُ عليه السلام لِكُلِّ شَيْءٍ عَلَمٌ وَعَلَمُ الْاِيْمَانِ الصَّلٰوةُ وَقَوْلُهُ عليه السلام عِمَادُ الدِّيْنِ فَمَنْ اَقَامَهَا فَقَدْ اَقَامَ الدِّيْنَ وَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ تَرَكَ الدِّيْنُ وَفِىْ رِوَايَةٍ فَقَدْ هَدَمَ الدِّيْنَ وَقَوْلُـهُ عليه السلام خَمْسُ صَلَوَاتٍ اِفْتَرَضَهُنَّ اللهُ تَعَالٰى عَلَى الْعِبَادِ مَنْ اَحْسَنَ وُضُوْءَ هُنَّ وَصَلّٰهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ وَاَتَمَّ رُكُوْعُهُنَّ وَسُجُوْدَهُنَّ وَخُشُوْعَهُنَّ كَانَ لَـهُ عَلَى اللهِ عَهْدٌ اَنْ يَّغْفِرَلَـهُ وَمَنْ لَّمْ يَفْعَلْ فَلَيْسَ لَهُ عَلَى اللهِ عَهْدٌ اِنْ شَآءَ غَفَرَلَـهُ وَاِنْ شَآءَ عَذَّبَـهُ وَقَوْلُـهُ عليه السلام اَلْفَرْقُ

بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلٰوةِ وَمَنْ تَرَكَ الصَّلٰوةَ مُتَعَمِّدًا يُفْضِيْ اِلَى الْكُفْرِ.

ژباړه: (۱) کوم حدیثونه چي د نبی کریم ﷺ څخه روایت کړل سوي دي چي د اسلام بنیاد په پنځو شیانو دی، د دې خبرې ګواهي ورکول چي د الله تعالی بغیر هیڅ څوک لائق د عبادت نسته او محمد رسول الله د الله رسول دی، لمونځ قائمول، زکوٰة ورکول، د روژې د ماشتي روژې او د بیت الله شریفي حج چي څوک د تلوطاقت لري.

(۲) د هر شي لپاره یوه علامه وي او د ایمان لپاره علامه لمونځ دی، (۳) لمونځ د دین ستن ده چا چي لمونځ قائم کړ نو هغه دین قائم کړ، چا چي لمونځ پرې ښووی نو هغه دین پرې ښودی، او په یوه روایت کي دي چي هغه دین ونړوی.

(۴) پنځه لمونځونه الله تعالی په خپلو بندګانو فرض کړي دي، چا چي په ښه طریقه سره اودس وکړ او په خپلو وختو کي یې وکړ او رکوع، سجدې او حضور د زړه کامل کړي نو د ده لپاره د الله په خپل فضل او کرم سره وعده ده چي دی به وبخښي او چي چا دغسي نه وکړه نو د هغه لپاره د الله تعالی هیڅ وعده نسته که چېري وغواړي نو به مغفرت ورته وکړي یا به عذاب ورکړي، (۵) د انسان او د کفر په مابینځ کي دلمانځه فرق دی چاچي په قصداً پرېښووی نو و کفر ته نیژدې سو.

تشریح: مصنف رحمه الله د ثبوت بالقرآن د فراغت څخه وروسته د لمانځه په باره کي د یو څو حدیثو تذکره کوي، او وایي چي نبی کریم ﷺ د اسلام بنیاد پنځه شیان ښوولي دي، نو په صحیحین کي د ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چي نبي کریم ﷺ وویل چي د اسلام بنیاد پر پنځو عباداتو دی چي په کومو کي د توحید و رسالت د اقرار وروسته بغیر د الله په نز هیڅ عمل قبول نه دی ، فوراً د لمانځه ذکر دی په کوم سره چي په اسلام کي د لمانځه اهمیت واضح کېږي، او دغه ډول نبي

کریم ﷺ لمونځ د ایمان علامه ښوولي ده او نبی کریم ﷺ د دین تشبه د یوې خیمې سره کړي ده لکه څنګه چي یوه خیمه هغه وخت قائمه کېدلی سي چي د هغې تنبي بانډسونه و دروول سي او دغه ډول لمونځ په دین کي په منزله د تنبې دی چي د لمانځه په اقامت سره د دین اقامت کېږي او د لمانځه په پرېښولو سره د دین عمارت د یوې نړېدلي کانډوالي په شان دی.

په ابوداؤد شریف کي د عباده بن صامت ﷺ څخه روایت دی چي نبی کریم ﷺ وویل: چي الله تعالی په بندګانو پنځه لمونځونه فرض کړي دي، هر څوک چي په ښه طریقه سره اودس وکړي او دا لمونځونه په خپلو مقرره اوقاتو کي وکړي او رکوع په آرامه سره او پوره لمونځ په کاملي خشوع، توجه الی الله سره وکړي نو د ده لپاره د الله تعالی پخه مضبوطه وعده ده چي ده ته به بخښنه وکړي، او هر څوک دا ډول نه کوي، بالکل لمونځ نه کوي، یا په ښه طریقه سره یي نه کوي نو د هغه لپاره د الله تعالی هیڅ وعده نسته د نورو خطاکارو په مثال که چیري وغواړي بخشش به ورته وکړي یا به سزا ورکړي.

صاحب کتاب په دغه حدیث کي د" رُکُوعُهُنَّ "سره لفظ"سُجُودُهُنَّ"هم ذکر کړی دی او د" سجودهن "لفظ په حدیث مبارک کي ثابت نه دی.

وَاَمَّا اِجْمَاعُ الْاُمَّةِ فَلِاَنَّ الْاُمَّةَ قَدِاجْتَمَعَتْ مِنْ لَّدُنْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ عليه السلام اِلٰی یَوْمِنَا هٰذَا عَلٰی فَرْضِیَّةِ الصَّلٰوةِ مِنْ غَیْرِ نَکِیْرِ مُنْکِرٍ وَلَارَدَّ رَادٍّ وَلَامُنَازِعَةِ مُنَازِعٍ وَکَانَ ذٰلِکَ اِجْمَاعًا وَاِجْمَاعُ الْاُمَّةِ حُجَّةٌ مِّنْ اَقْوَی الْحَجَجِ بَعْدَ نَصِّ الْاٰیَاتِ وَالْخَبَرِ لِقَوْلِهٖ عليه السلام وَالسَّلَامُ لَایَجْتَمِعُ اُمَّتِیْ عَلَی الضَّلٰلَةِ فَاِنْ اِجْتَمَعَتْ اُمَّتِیْ عَلَی الضَّلٰلَةِ فَاَنَا بَرِیْءٌ مِّنْهُمْ وَهُمْ بَرِیْئُوْنَ مِنِّیْ.

ژباړه: او هرڅه چې اجماع د امت ده نو امت د رسول الله ﷺ د زمانې څخه تر ننه پورې په فرضیت د لمانځه متفق دی، بغیر د انکاره د منکر یا رد ویونکې یا د جنګ کونکې د جګړې څخه، او دغه ته اجماع د امت وایي، د قرآن او حدیث وروسته اجماع د امت یو قوي دلیل دی ولې چې حضور ﷺ ویلې دي چې زما امت به په ګمراهۍ نه سي جمعه او چې کله زما امت په ګمراهي جمعه سو نو زه د هغوی څخه بیزاره یم او هغه امت زما څخه بیزاره دی.

تشریح: مصنف رحمه الله د رسول الله ﷺ د حدیثو د بیان څخه وروسته په اجماع امت سره د لمانځه ثبوت بیانه وي، چې د نبی کریم ﷺ د زمانې څخه بیا ترنن ورځې پورې بغیر د څه انکار او شکه پوره امت د لمانځه د فرضیت قائل دی او د پوره امت په یوه غلطۍ مجتمع کېدل امکان نه لري ولې چې نبی کریم ﷺ ویلې دي چې زما امت په څه ګمراهۍ نه سي جمع کېدلی او که چېرې بالفرض محال جمعه سو نه زه د هغوی څخه بیزاره یم او هغوی به زما څخه بیزاره یي، نو اوس دا خو نسي کېدلای چې د پوره امت څخه علیه السلام بیزاره سي او نه هم پوره امت د علیه السلام څخه بیزاره کېدی سي. لهٰذا پوره امت په یوه ګمراهي سره نه سي جمع کېدی، د دې لپاره اجماع د امت په فرضیت د لمانځه یو قوي دلیل دی.

ثُمَّ اِعْلَمْ بِاَنَّ لِلصَّلٰوۃِ شَرَآئِطُ قَبْلَهَا وَفَرَائِضٌ وَاَرْکَانًا وَوَاجِبَاتٍ وَسُنَنًا وَاٰدَابًا وَکَرَاهِيَةً وَمَنَاهِيَ فِيْهَا اَمَّا الشَّرَآئِطُ فَسِتَّةٌ اَلطَّهَارَۃُ مِنَ الْحَدَثِ وَالْجَنَابَةِ وَالطَّهَارَۃُ مِنَ النَّجَاسَةِ وَسَتْرُ الْعَوْرَۃِ وَاِسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ وَالْوَقْتُ وَالنِّيَّةُ.

ژباړه: بیا پوه سه چې د لمانځه څخه د مخه شرائط دي او په لمانځه کې فرائض، ارکان، واجبات، سنت، مستحبات، مکروهات او محرمات هم دي، شرائط یې ٦

دي، ۱ بې اودس کېدل، ۲ د جنابت څخه پاکي، ۲د ظاهري ګندګۍ څخه پاکي حاصلول، ۳عورت پټول، ۴ قبلې شريفي ته مخامخ درېدل، ۵ د وخت خيال كول، ۶ نيت كول .

تشريح: مصنف رحمه الله د لمانځه د فرضيت د ثبوت وروسته خپل مقصود يعني مسائل د لمانځه يي شروع كړه ، شرائط جمع ده د شريطة ، شرط په لغت كي د يوشي لازمي علامې ته ويل كېږي، او د شريعت په اصطلاح كي په كوم شي چي د يو شي وجود موقوف وي او د هغه بغير د هغه شي په صحيح طريقه سره كيدل ممكن نه وي نو هغه ته شرط ويل كېږي، صاحب د كتاب چي كوم شپږ شيان د لمونځو لپاره شرائط بيان كړي دي هغه ټول دغه سي دي چي د كومو بغير د مطلوب الى الشريعة لمانځه وجود ممكن نه وي، مګر دا ټول د لمانځه د وجود څخه خارج دي ، او اركان جمعه د ركن ده، د كومو په اجزا سره چي د يو شي ماهيت مركب وي هغه ته اركان ويل كيږي، لكه څنګه چي په قيام، ركوع او سجده وغيره سره لمونځ مركب دی، نو چي كوم فرائض د لمانځه څخه خارج دي هغوی ته شرائط ويل كيږي او چي كوم په لمانځه كي دننه دي هغو ته اركان ويل كيږي، او د فرائضو اطلاق په شرائطو او اركانو دواړو باندي كيږي، واجب مشتق دی د وجب څخه چي معنی يې د اضطراب ده چونكي د واجباتو ثبوت په اضطراب كي كيږي، د فرائضو په ډول قطعي الثبوت نه دی، د دې لپاره واجبات ورته ويل كيږي او واجبات ياديږي، سنت مؤكده هغه دي چي په كومو نبی كريم ﷺ مواظبت كړی وي او د هغو په فرضيت هيڅ دليل نه وي، اداب جمع د ادب ده، په دوی سره لمونځ د زيات ادب والا جوړيږي، او د دوی په پرېښوولو سره هيڅ عذاب يا عتاب نسته، كراهية مصدر دی د كره يكره څخه او دلته كه چېري خلاف سنت مراد واخستل سي نو كراهت تنزيهي دغه دی، او كه چېري خلاف واجب مراد واخستل سي نو كراهت تحريمي جوړيږي كوم چي حرامو ته نژدې

دی، د مناهی څخه مراد هغه افعال دي چې د لمانځه فاسد کونکي دي .

اَمَّا الطَّهَارَةُ مِنَ الْحَدَثِ وَالْجَنَابَةِ فَالْوُضُوْءُ وَالْاِغْتِسَالُ عِنْدَ وُجُوْدِ الْمَآءِ وَالْقُدْرَةُ عَلَيْهِ وَاَمَّا عِنْدَ عَدَمِهِمَا فَالتَّيَمُّمُ وَلِكُلٍّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُمَا فَرَائِضٌ وَسُنَنٌ وَّآدَابٌ وَمَنَاةٍ.

ژباړه: کوم چې پاکوالي دی د بې اودسۍ څخه او د جنابت څخه، نو اودس کول او مکمل بدن پرېمنځل کله چې اوبه موجودي وي او د هغو په استعمال قدرت هم وي، چې کله دواړه نه وي نو تیمم کول دي، او د دوی څخه د هر یوه فرائض، سنن واداب او محرومات دي .

تشریح: چونکې د لمانځه د شرائطو څخه طهارت یو مهم شرط دی، ځکه چې مصنف د ټولو اول په دې تفصیل بیان کولو سره وایي چې د حدث حُکمي نجاست څخه پاکي حاصلول د اودس کولو او ځان پرېمنځلو په ذرئعه سره حاصلیږي، وضوء " بضم الواو مصدر دی او د حسن په معنی کې راځي د اودس په ذریعه د اعضاؤ د صفايي په سبب سره حسن حاصلیږي، او د رسول الله ﷺ د حدیث مطابق به د اوداسه اندامونه په ورځ د قیامت به روښانه او ځلیږي، د دې لپاره د دغه عمل نوم یې اودس ایښی دی او دغه ته طهارت صغرٰی هم ویل کیږي .

نو کله چې اوبه موجودي وي او په استعمال یې هم قدرت وي، نو په حدث اصغر کې اودس، او په حدث اکبر کې غسل کول فرض دي، که چیرې د اوبو وجود یا په استعمال قدرت نه وو نو د دواړو قائم مقام تیمم دی او لکه څنګه چې د لمانځه لپاره فرائض وغیره وي نو دغه ډول په اودس او غسل کولو کې شریعت فرائض، سنت ومستحبات ومفاسد بیان کړي دي چې د هغو ذکر چې لاندي را روان دی.

اَمَّا فَرَائِضُ الْوُضُوْءِ فَاَرْبَعَةٌ كَمَا قَالَ اللهُ تَعَالٰى يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْآ اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ وَالْمِرْفَقَانِ وَالْكَعْبَانِ تَدْخُلَانِ فِيْ فَرْضِ الْغَسْلِ وَكَذَا مَابَيْنَ الْعِذَارَيْنِ وَالْاُذُنَيْنِ يَجِبُ غَسْلُهُ وَالْمَفْرُوْضُ فِيْ مَسْحِ الرَّاْسِ مِقْدَارُ النَّاصِيَةِ وَهُوَ رُبُعُ الرَّاْسِ لِمَا رُوِيَ الْمُغِيْرَةُ ابْنِ شُعْبَةَ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ اَتٰى سُبَاطَةَ قَوْمٍ فَبَالَ وَتَوَضَّا وَمَسَحَ عَلٰى نَاصِيَتِهٖ وَخُفَّيْهِ.

ژباړه: د اوداسه فرضونه څلور دي لکه څنګه چي الله تعالى وايي چي اى مسلمانانو! کله چي تاسي ولاړ سى لمانځه ته نو خپل مخونه پريولئ او لاسونه ترڅنګلو پوري او مسحه وکړئ په خپلو سرو او پرېولئ پښي تر بجلکو پوري، د څنګلو او بجلکو دواړو پرېولل په فرائضو کي داخل دي او دغه ډول د دواړو بارخوګانو او د غوږو درمياني علاقه هم پرېولل واجب دي او د سر مسحه هم په مقدار د نزلي يعني د سر څلورمه حصه فرض ده ولي چي مغيره ابن شعبه د نبى کريم ﷺ څخه روايت کړى دى چي عليه السلام د يو قوم په کانډواله کي د قضاء حاجت څخه وروسته اودس وکړ او خپل ناصيه او په موزو يي مسحه وکړه.

تشريح: مصنف د فرائضو د اودس اثبات د قرآن پاک څخه وکړ او وې ويل چي الله تعالى وايي اې مومنانو چي تاسي د لمانځه اراده وکړئ نو مخونه پرېلولى، د مخ حدود د ډېرو فقهاء کرامو په نيز په اوږدوالي د تندي طرف د وربښتانو د مقام څخه بيا لاندي ترزني پوري دى، او په پراخوالي کي د دواړو غوږو په درميان کي دى، د امام يوسف رحمه الله په نز د غوږ پتى چي د غوږ د طرف څخه د ږيري تر آخري کنارى پوري او د غوږ په درميان کي تقريباً د يوې ګوتي برابر دى او په دغه پتى د

غوږو د بیري وریښتان نه راځیژي د مخ په حدودو کي داخل نه دي او د دغه پرېولل ضروري نه دي، مصنف د امام یوسف په قول رد کولو سره ویلي دي"مَا بَينَ العِذَارَينِ وَالأُذُنَينِ يَجِبُ غَسلُهُ "یعني د غوږ د پټي پرېولل هم ضروري دي او داهم د مخ په حدودو کي شمار دی.

دغه ډول الله ﷻ د لاسونو ترڅنګلو پوري د پرېوللو حکم کړی دی، مرافق د مرفق جمع ده، په لاس کي د بازو لاندي او د ذراع څخه پورته درمیاني مصافيې ته وایي، او د دې وروسته یې د سر د مسحي حکم کړی دی، مسحه په لغت کي په یو شي د بل شي تیرولو ته ویَل کیږي او په شریعت مطهره کي لوند لاس پر هغه مواضعو تیرول د کومو چي په شریعت کي حکم دی او په تیمم کي د مسحه لغوي معنٰی مراد اخستل کیږي، او د پښو تر بجلکو پوري د پرېولوحکم دی.

که چیري دا پوښتنه وسي چي د مفسرینو د قول مطابق دا آیت مدني دی او لمونځ په مکه مکرمه کي فرض سوی دی، نو د دې آیت د نزول څخه ترمخه لمونځ بغیر اوداسه وو؟

ځواب دادی چي د اودس حکم د دې ترمخه یا خو د وحي غیر متلو په ذریعه وو یا د تېرسوو پیغمبرانو په شریعت کي د اودس حکم وو او د مکې د زندګی په دور کي په دغه عمل کېدی، لکه څنګه چي نبی کریم ﷺ اودس کوی نو تول اندامونه به یې درې دري واره پرېولل او ویل یې چي دا زما او زما څخه ترمخه تېر سوي انبیاوودا اودس وو.

په " وَالمِرفَقَانِ وَالكَعبَانِ تَدخُلاَنِ فِي فَرضِ الغُسلِ"کي مصنف یو اختلافي بحث راخستی دی، د جمهورو علماؤ په نز څنګلي او پښې تر بجلکو پوري پرېولل فرض دي، مګر د امام زفر رحمه الله په نز فرض نه دي، هغه وایي چي مرفقان او کعبان دلته د انتهاء لپاره بیان کړي دي، د لاسو پرېولل ترڅنګلو پوري او د پښو پرېولل تر بجلکو

پوري دي، خپله ځنګلي او بجلکي د پړېولو په فرائضو کي داخل نه دي .

جمهور علماء وايي چي چېري غايت، انتها د ماقبل جنس څخه وي نو هغه هم د ماقبل په حکم کي داخلېږي لکه (حفظت القرآن او له الٰى آخره) کي د قرآن اٰخر هم د قرآن د جنس څخه دى، ځکه چي تر آخره مراد د قرآن پاک حفظ دى نو دلته هم مرفقان د يد د جنس څخه دي او کعبان رجل د پښو د جنس څخه دي او د دوى پرېولل هم فرض دي .

د سر په مسحه کي مقدار څلورمه حصه ده او د امام مالک رحمه الله په نز د ټول سر مسح فرض ده لکه ځنګه چي په آيت تيمم کي" فامسحو بوجوهکوم "څخه د پوره مخ استعاب فرض دى، او امام شافعي رحمه الله د آيت په اطلاق عمل کولو سره د سر په ادنى جزء باندي مسح کول يعني که څه هم يو څه وريښتان وي مسح يي جائز ګڼلي ده، د احنافو په نز د نبى کريم ﷺ د عمل مبارک په پيروي کي ناصيه څلورمه حصه مسح فرض ده .

وَاَمَّا سُنَنُهُ فَغَسْلُ الْيَدَيْنِ قَبْلَ اِدْخَالِهِمَا الْاِنَآءَ اِلَى الرُّسْغِ ثَلَاثًا قَالَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا اسْتَيْقَظَ اَحَدُكُمْ مِّنْ مَّنَامِهٖ فَلَا يَغْمِسَنَّ يَدَهُ فِى الْاِنَآءِ حَتّٰى يَغْسِلَهَا ثَلٰثًا فَاِنَّهُ لَايَدْرِىْ اَيْنَ بَاتَتْ يَدَهُ مِنْ جَسَدِهٖ وَتَسْمِيَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى فِىْ اِبْتِدَآئِهٖ وَالْاَصَحُّ اَنَّهُ يُسَمِّىْ مَرَّتَيْنِ قَبْلَ كَشْفِ الْعَوْرَةِ وَمَرَّةً بَعْدَ سَتْرِهَا وَالشَّهَادَةُ عِنْدَ اِبْتِدَآءَ غَسْلِ سَآئِرِ الْاَعْضَآءِ وَالْمَضْمَضَةُ وَالْاِسْتِنْشَاقُ بِمَآئَيْنِ جَدِيْدَيْنِ وَاِيْصَالُ الْمَآءِ اِلٰى مَاتَحْتَ الشَّارِبَيْنِ وَالْحَاجِبَيْنِ وَمَسْحُ مَا اسْتَرْسَلَ مِنَ اللِّحْيَةِ وَتَخْلِيْلُهَا وَاِسْتِيْعَابُ جَمِيْعِ الرَّاْسِ فِى الْمَسْحِ بِمَآءٍ وَّاحِدٍ وَكَيْفِيَّةُ اِسْتِيْعَابِ الْمَسْحِ اَنْ يَّاْخُذَ

الْمَآءَ وَيَبُلَّ كَفَّيْهِ وَاَصَابِعَهُ ثُمَّ يُلْصِقُ الْاَصَابِعَ وَيَضَعُ عَلٰى مُقَدَّمِ رَأْسِهِ مِنْ كُلِّ يَدٍ ثَلٰثَ اَصَابِعَ وَيُمْسِكُ اِبْهَامَيْهِ وَسَبَابَتَيْهِ وَيُجَافِيْ بَطْنَ كَفَّيْهِ عَنْ رَأْسِهِ وَيَمُدُّهُمَا اِلَى الْقَفَاءِ ثُمَّ يَضَعُ كَفَّيْهِ عَلٰى جَانِبَيِ الرَّأْسِ وَيَمْسَحُهُمَا وَيَمُدُّهُمَا اِلٰى مُقَدَّمِ الرَّأْسِ وَيَمْسَحُ ظَاهِرَ اُذُنَيْهِ بِبَاطِنِ اِبْهَامَيْهِ وَبَاطِنَ اُذُنَيْهِ بِبَاطِنِ مُسَبِّحَتَيْهِ كَذَا ذَكَرَهُ فِي الْمُحِيْطِ وَيَمْسَحُ الرَّقَبَةَ بِظُهُوْرِ الْاَصَابِعِ الثَّلٰثِ بِمَآءٍ جَدِيْدٍ وَقَالَ بَعْضُهُمْ هُوَ اَدَابٌ وَقَالَ بَعْضُهُمْ هُوَ سُنَّةٌ وَتَخْلِيْلُ الْاَصَابِعِ وَتَكْرَارُ الْغَسْلِ اِلَى الثَّلٰثِ وَالنِّيَّةُ وَالتَّرْتِيْبُ وَالدَّلْكُ وَالْمُوَالاَتُ.

ژباړه: د اوداسه چي کوم سنت دي نو دواړه لاسونه تر ځنګلو پوري درې واره پريولل دي مخکي تر داخلولو په يو لوښي کي، نبي کريمﷺ ويلي دي چي کله ستاسو څخه يوڅوک د خوب څخه را کښيني نو لاس دي نه اچوي په يو لوښي کي مخکي تر درو وارو پريوللو، ولي چي ده ته څه معلوم دي چي د ده لاس تېوله شپه د جسم د کومي حصې سره پروت وو، او د اودس په شروع کي بسم الله ويل او صحيح داده چي بسم الله دوه واره ووايي، يو وار د کشف عورت (استنجاء) ترمخه، او يو وار وروسته، او کلمه شهادت د هر اندام تر پرېوللو ترمخه ويل کيږي، او په جلا جلا اوبو سره په خوله او پوزه کي اوبه اچول، او بريتو او د ورځو لاندي حصې ته اوبه ورسول دي، او د ږيري لاندي زړېدونکي وريښتان مسح کول، او د ږيري خلالول، او د پوره سر مسح کول په يوه وار اوبو سره، او د پوره سر د مسح کولو طريقه داده چي اوبه راواخلي ورغوي او لاسونه لانده کړي، بيا د هرلاس درې درې ګوتي يوځای کړي، د سر په اولنۍ حصه باندي يې کښيږدي، د ګوتو تسبيحي ګوتو او د ورغوو

باطني حصه د سر څخه وساتي او دواړه لاسونه شاته د غاړي و طرف ته یوسي د دې وروسته ورغوي د سر په دواړو اطرافو راسته چپه طرف کښېږدي او په دواړو مسح کولو سره یي سیده یوسي او د غوږو بیرونۍ حصه د ګوتو په باطن او دننه حصه یي د تسبیح د ګوتو په باطن سره مسح کړي، دغه ډول په محیط کي د مسح طریقه ذکر کړل سوي ده، بیا دي مسح وکړي د غاړي د درو ګوتو په ظاهر سره او په نوو ابو سره، ځینو علماوو د غاړي مسح ته مستحب ویلي دي او ځینو سنت، او د ګوتو خلال او درې واره پرېولل، نیت کول او ترتیب قائمول او پرله پسې پرېولل.

تشریح: منصف رحمه الله په دغه عبارت کي د اودس سنتونه بیان کړي دي د نبي کریم ﷺ څخه عبدبن زید بن عاصم روایت کړي دی، چي علیه السلام د اوداسه په اول کي درې واره لاسونه پرېولل او دغه ډول د اوداسه په شروع کي بسم الله ویل سنت ده، مګر د فقهاء کرامو په دغه باره کي اختلاف دی چي تسمیه د استنجاء څخه ترمخه یي او که وروسته د اودس کولو په وخت کي، نو مصنف د دغه اختلاف څخه د ځان ساتلو لپاره وویل چي بسم الله دوه واره ویل پکار دي، د کشف عورت یعني د استنجاء څخه ترمخه او د اودس کولو په وخت کي دي بیا ووایي، د هدایې مصنف بسم الله ویل مستحب لیکلي ده، ځینو د اوداسه په شروع کي د نبي علیه السلام څخه" بسم الله العظیم والحمدلله علي دین الاسلام "الفاظ نقل کړي دي او ځینو صرف بسم الله الرحمن الرحیم ته افضل ویلي دي، د خولې او پوزي پرېوللو لپاره جلا اوبه اخیستل لکه څنګه چي امام طبراني د کعب بن عمرو الیمامي څخه روایت کړي دی چي نبي کریم ﷺ په اوداسه کي درې واره خوله او درې واره پوزه ومینځل او د هر وار لپاره یي جلا جلا اوبه اخستلي، د بریتو او وریځو لاندي اوبه رسول هم سنت دي، او صاحب تجنیس دا په مستحباتو کي شمار کړي دي، او د بیري ځړېدونکي وریښتان لندول او د بیري خلالول هم سنت دي لکه څنګه چي امام

ترمذي او ابن ماجه د حضرت عثمان څخه روایت کړی دی چي نبي علیه السلام ږیره خلالوله او امام ابوداود د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت کړي دي چي کله به علیه السلام د یولوبني څخه اوبه په لاس کي واخستلي، نو د لاندیني حصې څخه د ږیري په پرېولوسره يي وول چي دغه ډول ماته الله تعالي حکم کړی دی.

او د پوره سر مسح کول هم سنت دي، علیه السلام په دې باندي همیشه توب کړی دی، او کله کله يي د پوره سر مسح پرې ایښي ده لکه څنګه چي د حضرت مغیره په روایت کي تیر سویدي، دا د دغه تعلیم لپاره وو چي د همیشه توب په وجه سره د پوره سر مسح فرض ونه ګڼل سي، د غاړي په مسح کي د فقهاوو اختلاف دی ځینو سنت او ځینو مستحب ګڼلي ده، او د صحیح قول مطابق مستحب ده، په فتاوٰی قاضیخان کي راغلي دي چي د غاړي مسح نه سنت ده او نه مستحب او د حلقوم مسح بدعت دی، د ګوتو خلالول هم سنت دي لکه څنګه چي د لقیط بن صبره څخه روایت دی چي نبي علیه السلام په کامل او احسنه طریقې سره په اوداسه کي په ګوتو کي خلال وکړ، او د عبدالله بن عباس رضي الله عنه په روایت کي دي چي علیه السلام وویل چي کله تاسي اودس کوی نو د لاسو او پښو په ګوتو کي خلال کوی، او د اوداسه اندامونه درې درې واره پرېولل سنت دي، ولي چي علیه السلام اودس وکړ او ټوله اندامونه يي یو یو وار پرېولل او د هغه وروسته يې وویل چي دا اودس دی، د دې بغیره الله تعالی لمونځ نه قبلوي او چي کله يې دوه دوه واره اعضاء پرېولل نو وې ویل چي په دغه اوداسه سره الله تعالي اجر دوه چنده کوي او د درې واره پرېوللو په باره کي يې وویل چي دا زما او زما د مخکنیو انبیاؤ اودس دی، نو د دې څخه دا ثابته سوه چي یو وار پرېولل فرض، او درې واره هر اندام پرېولل دانبیاء علیهم السلام سنت دي او د درې واره څخه زیات که په اعتقاد سنت سره وي نومکروه دی او که چېري د شک په وجه د زړه د اطمینان لپاره وي نو مکروه نه دی

او نيت هم د اوداسه لپاره سنت دى فرض نه دى، د ائمه ثلاثه وو په نز فرض دى او ترتيب لكه څنګه چې په آيت الوضوء كې ذكر دى سنت دى ولې چې يووخت نبي كريم ﷺ څخه د اودس كولو په وخت كې مسح پاته سوه او د فارغيدو وروسته يې د سر مسح په ياد سوه نو فقط د سر مسح يې وكړه، كه چېرې ترتيب فرض واى نو عليه السلام به نيوى اودس كړى واى، او دغه ډول په خوله كې، په پوزه كې اوبه اچولو او د مخ پرېولو په مابينځ كې هم ترتيب سنت دى، او د هر اندام پرېولو په وخت كې مږل هم د تكميل د فرضو سنت دى، او پرله پسې اندامونه داسې پرېولل چې د هر اندام د وچېدو ترمخه بل اندام پريولې دا سنت دى .

وَاَمَّا اٰدَابُهٗ فَهُوَ اَنْ يَّتَاَهَّبَ لِلصَّلٰوةِ قَبْلَ دُخُوْلِ الْوَقْتِ وَاَنْ يَّجْلِسَ لِلْاِسْتِنْجَاءِ اِلٰى يَمِيْنِ الْقِبْلَةِ اَوْ اِلٰى يُسَارِهَا مُتَفَرِّجًا اِلَّا اَنْ يَّكُوْنَ صَآئِمًا وَاَنْ يَّغْسِلَ مَخْرَجَ النِّجَاسَةِ اِذَا لَمْ تَتَجَاوَزِ النِّجَاسَةُ مِنْ مَّخْرِجِهَا فَغَسْلُهٗ مُسْتَحَبٌّ اَمَّا اِذَا جَاوَزَتْ مَخْرَجَهَا وَلَمْ تَكُنْ قَدْرَ الدِّرْهَمِ فَغَسْلُهٗ سُنَّةٌ وَاِنْ كَانَتْ قَدْرَا الدِّرْهَمِ فَغَسْلُهٗ وَاجِبٌ وَاَمَّا اِنْ زَادَتْ عَلٰى قَدْرِ الدِّرْهَمِ فَغَسْلُهٗ فَرْضٌ وَالْاَدَبُ اَنْ يَّغْسِلَهٗ حَتّٰى يُنَقِّيَهٗ وَلَيْسَ فِيْهِ عَدَدٌ مَسْنُوْنٌ وَكَذَا فِى الْاِسْتِنْجَاءِ بِالْاَحْجَارِ يَمْسَحُ حَتّٰى يُنَقِّيَهٗ وَاَنْ يَّمْسَحَ مَوْضِعَ الْاِسْتِنْجَاءِ بِالْخِرْقَةِ بَعْدَ الْغَسْلِ قَبْلَ اَنْ يَّقُوْمَ وَاِنْ لَّمْ تَكُنْ مَعَهٗ خِرْقَةٌ يُجَفِّفُهٗ بِيَدِهِ الْيُسْرٰى وَاَنْ يَّسْتُرَ عَوْرَتَهٗ حِيْنَ فَرَغَ وَاَنْ يَّتَوَلّٰى فِىْ اَمْرِ الْوُضُوْءِ بِنَفْسِهٖ وَلَا يَاْمُرَ غَيْرَهٗ لِقَوْلِهٖ عليه السلام اَنَا لَا اَسْتَعِيْنُ عَلٰى طَاعَةِ اللهِ تَعَالٰى اِلَّا بِالضَّرُوْرَةِ وَاَنْ يَّجْلِسَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ عِنْدَ غَسْلِ سَآئِرِ الْاَعْضَاءِ وَاَنْ يَّكُوْنَ جُلُوْسُهٗ عَلٰى

مَكَانٍ مُرْتَفِعٍ وَاَنْ لَايَتَكَلَّمَ فِيْ اِثْنَآءِ الْوُضُوْءِ بِكَلَامِ الدُّنْيَا وَاَنْ يَّتَشَهَّدَ عِنْدَ غَسْلِ كُلِّ عُضْوٍ وَاَنْ يَّدْعُوَ بِمَا جَآءَ فِي الْاٰثَارِ وَاَنْ يُّمَضْمِضَ وَيَسْتَنْشِقَ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى وَيَمْتَخِطَ وَيَسْتَنْثِرَ بِيَدِهِ الْيُسْرٰى وَيَنْبَغِيْ اَنْ يَّاْخُذَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مَآءً جَدِيْدًا وَاَنْ يَّسْتَاكَ بِالسِّوَاكِ اِنْ كَانَ لَهٗ مِسْوَاكٌ وَاِلَّا فَبِالْاَصْبَعِ وَاَنْ يُّبَالِغَ فِي الْمَضْمَضَةِ وَالْاِسْتِنْشَاقِ اِلَّآ اَنْ يَّكُوْنَ صَائِمًا وَالْمُبَالَغَةُ فِي الْمَضْمَضَةِ قَالَ بَعْضُهُمْ هِيَ الْبَغْرَغْرَةُ وَقَالَ صَدْرُ الشَّهِيْدِ هِيَ تَكْثِيْرُ الْمَآءِ حَتّٰى تَمْلَاُ الْفَمُ وَفِي الْاِسْتِنْشَاقِ جَذْبُ الْمَآءِ حَتّٰى يَصْعَدَ اِلٰى مَنْخَرِهٖ وَاَنْ يَّدْخَلَ اِصْبَعَيْهِ الْخِنْصَرَيْنِ فِيْ صِمَاخِ اُذُنَيْهِ عِنْدَ الْمَسْحِ وَاَنْ يُّخَلِّلَ اَصَابِعَ رِجْلَيْهِ بِخِنْصَرِيَدِهِ الْيُسْرٰى وَاَنْ يُّحَرِّكَ خَاتِمَهٗ اِنْ كَانَ وَاسِعًا وَاِنْ كَانَ ضِيِّقًا فَفِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ عَنْ اَصْحَابِنَا لَابُدَّ مِنْ تَحْرِيْكِهٖ اَوْ نَزْعِهٖ هٰكَذَا ذُكِرَ فِي الْمُحِيْطِ وَاَنْ لَّايُسْرِفَ فِي الْمَآءِ وَاِنْ كَانَ عَلٰى شَطِّ نَهْرٍ جَارٍ لِمَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ اَنَّهٗ سُئِلَ اَوَفِي الْوُضُوْءِ سَرَفٌ قَالَ نَعَمْ وَلَوْكُنْتَ عَلٰى ضِفَّةِ نَهْرٍ جَارٍ وَاَنْ لَّا يُقْتَرَ فِي الْمَآءِ وَاَنْ يَّمْلَاَ اِنَاءَهٗ ثَانِيًا وَاَنْ يَّقُوْلَ عِنْدَ تَمَامِهٖ اَوْفِيْ خِلَالِهٖ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنْ عِبَادِكَ الصّٰلِحِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الَّذِيْنَ لَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَاهُمْ يَحْزَنُوْنَ، وَاَنْ يَّقُوْلَ بَعْدَ فِرَاغِهٖ سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَّآاِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ وَحْدَكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُوْلُكَ نَاظِرًا اِلَى السَّمَآءِ وَاَنْ يَّقْرَاَ بَعْدَ الْفِرَاغِ

سُوْرَةُ اِنَّا اَنْزَلْنٰهُ مَرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ اَوْ ثَلٰثًا وَاَنْ يَّشْرَبَ فَضْلَ وُضُوْئِهٖ قَائِمًا وَيَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اشْفِنِيْ بِشِفَآئِكَ وَدَاوِنِيْ بِدَوَآئِكَ وَاَعْصِمْنِيْ مِنَ الْوَهْلِ وَالْاَمْرَاضِ وَالْاَوْجَاعِ وَيَكْرَهُ الشُّرْبُ قَائِمًا اِلاَّ هٰذَا وَشُرْبُ مَآءِ زَمْزَمٍ وَاَنْ يَصِلَهٗ بِسَبْحَةٍ اَىْ نَافِلَةٍ اِلاَّ اَنْ يَّكُوْنَ فِيْ وَقْتٍ مَكْرُوْهٍ وَاَنْ يَّتَوَضَّا عَلَى الْوُضُوْءِ وَاسْتِصْحَابُ النِّيَّةِ.

ژباړه: د اوداسه مستحبات دادي چي د لمانځه تر وخت تر مخه تياري وکړل سي، او د استنجاء لپاره د قبلې شريفي راسته يا چپه طرفته خلاص کښينستل، مګر دا چي روژه يي وي، عورت دي پرېولي، که نجاست بولي د خپل مخرج (عورت) څخه متجاوز نه يي نو پرېولل يي مستحب دي، که چېري د مخرج څخه زيات سي او په قدر د درهم نه وي نو پرېولل يي سنت دي، او که چېري په قدر د درهم وي نو پرېولل يې واجب دي او که چېري د درهم د مقدار څخه زيات سي نو پرېولل يي فرض دي، او مستحب دا دی چي مخرج (عورت) په ښه وضعي سره چي پاک او صاف سي په دې استنجاء کي هيڅ عدد مسنون نه دی، او دغه ډول په ډېرو سره دې د استنجاء وهلو په وخت کي ښه صفايي وکړل سي او د پرېوللو وروسته د استنجاء ځای (عورت) دي په يوې کپړې سره وچ کړي او که چېري کپړه نه وي نو په چپه لاس سره دي وچ کړي او د فراغت وروسته دې ستر پټ کړی، په خپل اودس کولو کي پکار دی چي د بل چا څخه بغير د ضرورته کومک اخستل نه دي پکار، ولي چي نبي کريم ﷺ ويلي دي چي زه د الله په عبادت کي د يوچا کومک نه کوم مګر د ضرورت په وخت کي، او د ټولو اعضاء وو اودس پرېوللو په وخت کي دي مخامخ قبلې ته کښيني، د اودس لپاره ناسته دي په پورته ځای وي او په دغه دوران کي دي د خبرو څخه ځان وژغوري او د هر اندام پرېوللو په وخت کي دي کلمه تشهد او هغه دعاوي

د سلف صالحينو څخه نقل سوي دي ووايي، او په راسته لاس سره دي خوله ومينځي او په پوزه كي دي اوبه واچوي او بيا دي په چپه لاس سره پوزه صفا كړي، مناسبه داده چي د هر وار لپاره جلا جلا اوبه واخستل سي، او مسواک ووهي كه چېري موجود وي، او كه نه وي نو په ګوتي سره دي خوله پرې منځي او په پوزه كي دي د اوبو اچولو په وخت كي ښه كوشش وكړي مګر نه چي روژه دار وي .

ځينو فقهاؤ ويلي دي چي د خولې په پرېمنځلو كي د مبالغې څخه مراد غرغره ده او امام صدر الشهيد وايي چي په خوله كي ډېري اوبه اچول چي خوله ډكه سي "مبالغه في المضمضه " ده، او په استنشاق پوزه كي د اوبو اچولو مبالغه داده چي پورته تر خيشوم پوري اوبه وخيژي، او د دواړو لاسو د شهادت ګوتي د مسح په وخت كي د غوږو په سوريانو كي داخلي كړئ او د پښو د ګوتو خلال د چپه لاس په ښې ګوتي سره دي وكړي، او كه ګوتمۍ چېري فراخه وي نو حركت دي وركړي او كه فراخه نه وي نو د ظاهر روايت مطابق د هغه ښورول يا راايستل ضروري دي، دغه ډول په "محيط" كتاب كي ذكر دي چي په اوبو كي اسراف مه كوئ كه څه هم د ولې په غاړه ياست، ولي چي د نبي كرم ﷺ څخه يو چا پوښتنه وكړه چي ايا په اوداسه كي اسراف كيدی سي؟ نو نبي كريم ﷺ وويل چي هو كه څه هم د جاري ولې په غاړه ناست ياست ،او دا چي په اوبو كي كمی هم نه وكی او لوښي دوهم وار ډک كړئ او د اوداسه په آخر يا په منځ كي دا دعا ووايياست:

(اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنْ عِبَادِكَ الصَّالِحِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الَّذِيْنَ لاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَهُمْ يَحْزَنُوْنَ) د اوداسه د فراغت څخه وروسته دي (سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اَنْتَ وَحْدَكَ

لاَ شَرِيْكَ لَكَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُوْلُكَ) د آسمان طرف ته په کتولو سره دي ووايي، او د فراغت وروسته دي سورة القدر يو يا دوه يا درې واره ووايي او د اوداسه څخه پاته اوبه په ولاړه سره وڅښئ او دا دې ووايي:

اَللّٰهُمَّ اشْفِنِيْ بِشِفَائِكَ وَدَاوِنِيْ بِدَوَائِكَ وَاعْصِمْنِيْ مِنَ الْوَهْلِ وَالْاَمْرَاضِ وَالْاَوْجَاعِ

په ولاړه سره څښاک مکروه دی مګر د اوداسه پاته سوي اوبه او د زمزم اوبه مکروه نه دي، که چېرې مکروه وخت نه وي نو دوه رکعات نفل دي هم وکړي.

تشريح: مصنف رحمه الله د سنتو د بيان څخه د فراغت وروسته د مستحباتو په بيانولو سره وايي، چې د لمانځه د وخت څخه ترمخه د لمانځه لپاره تياري کول مستحب دي ولې چې په دې تياری سره شيطان د دې خبرې څخه نااميده کيږي چې زه به دا انسان د لمانځه څخه غافله کوم، د استنجاء په وخت کي د قبلې د ادب لحاظ کولو سره راسته يا چپه طرف ته کښېنستل، ولې چې په وخت د ضرورت مخ پر قبله کښېنستل مکروه تنزيهي دي، البته په وخت کي د ضرورت قبلې ته مخامخ اودس مات، چکر وهل مکروه تحريمي دي، د استنجاء څخه چونکي مقصد صفايي حاصلول دي نو په وخت کي د استنجاء پوره خلاص کښېنستل پکار دي د دې لپاره چي صفايي په ښه طريقه سره وسي، او د روژې په وخت کي د اوبو داخلېدو احتمال ستّه نو د دې لپاره احتياط کول پکار دي چي روژه فاسده نه سي.

مصنف رحمه الله د دې وضاحت کړی دی چي په هر وخت کي استنجاء مستحبه نه ده بلکي په ځينو حالاتو کي واجب او فرض هم ده، د کومو تفصيل چي په متن کي ذکر سوی دی، او ځينو فقهاؤ کرامو په استنجاء کي درې يا اووه واره وغيره کي مختلف قولونه ذکر کړي دي، او دغه ډول په ډېرو د استنجاء وهلو په وخت کي درې واره يا اووه يا لس واره پوري بيان کړی دی، مګر د احنافو په نزيه دوی کي يو

عدد هم مسنون نه دی او وايي چي دا رايه دي په مبتلی باندي پرېښودل سي، البته که چېري څوک د وسوسې مريض وي نو د هغه لپاره د نورو مرداريو په مثل درې واره دي مقدر کړل سي .

د فراغت وروسته د استنجاء مقام په کپړې سره وچ کړئ، يا په چپه لاس سره يې وچ کړئ، د دې لپاره چي د مستعملو اوبو احتمال پاته نه سي، عورت چونکي د ضرورت لپاره خلاص کړی وو نو اوس دا پټ کړئ ولي چي ستر بغيره ضرورته خلاصول جائز نه دي .

په اوداسه کي بغير د ضرورته د چا څخه کومک غوښتل خلاف اولی دی مګر کله چي څوک خپله د محبت په وجه بغير د طلبه د اودس کونکي لپاره اوبه راوړي يا د اودس کونکي په اعضاؤ اوبه ورواچوي نو په دې کي هيڅ قباحت نسته، د عليه السلام څخه خپله هم ثابت دي چي د اودس کولو په وخت کي خادم ده مبارک ته اوبه وراچولي دي .

د اودس کولو په وخت کي اودس کونکي ته پکار ده چي مخ پر قبله کښيني او په پورته ځای کښيني چي د مستعملي اوبو د څاڅکو خطره نه سي پاته، د اودس په وخت کي د دنياوي خبرو پر ځای منقولي دعاوي ويل پکار دي د دې لپاره چي د اودس کولو عمل د دنياوي خبرو څخه پاک او صرف د خدای تعالی لپاره سي، د اودس کولو په وخت کي خوله او په پزه اوبو اچولو لپاره راسته لاس استعمال کړئ ولي چي دا طهارت دی او د پزي لپاره چپه لاس استعمال کړئ ولي چي د حضرت عائشې صديقې رضي الله عنها څخه روايت دی چي د نبي کريم ﷺ راسته لاس د طهارت او خوراک لپاره وو او چپه لاس يې په نورو کارو کي استعمالي دی، په خوله کي مسواک وهئ، امام قدوي مسواک په سنتو کي شمار کړی دی، په تحفة الفقهاء کي دي چي د خولې مينځلو په وخت کي سنت دی او که چېري مسواک نه يې نو د

شهادت گوته کفایت کوي، په اوږدوالی به مسواک یوه لوېشت وي او په پراخوالی به د یوې گوتي په مقدار وي، علیه السلام ویلي دي چي په مسواک سره خوله پریولل د الله تعالی د رضامندی سبب دی.

په مضمضه، استنشاق کي مبالغه کول پکار دي لکه څنگه چي علیه السلام لقیط بن صبره ته ویلي وه "که چېري ته روژدار نه يي نو په استنشاق کي مبالغه کوه "او مضمضه هم ځینو علماؤ په استنشاق باندي د مبالغې په حکم کي قیاس کړي ده، د سر د مسح په وخت کي کوچنی خچنه گوته د غوږو سریو ته داخلول پکار دي ولي چي ربیع بنت معوذ بن عفرا په یو حدیث کي بیان کړی دی چي ما علیه السلام د اودس کولو په وخت کي ولیدی دغه ډول حدیث بیانه وي او وایي چي گوتي يي د غوږو په سریو کي د سر د مسح په وخت کي داخلي کړي.

خچنه (کوچنی) گوته چونکي د کوچنیوالي په وجه په اسانی سره داخلیږي نو د دې لپاره فقهاؤ د دې گوتي داخلولو ذکر کړی دی، او وروسته د گوتو خلالول هم مستحب دي، مستور بن شداد وایي چي ما د اودس کولو په وخت کي علیه السلام ولیدی چي په خچنې گوتي سره يې د پښې گوتي موږلې. گوتمی بړتت ضرورت حرکت ورکول پکار دي او که چېري د تنگی په وجه د اوبو د ننه کیدو نو احتمال نه وي نو ایستل يې پکار دي د دې لپاره چي دا ځای وچ نه سي پاتی.

دغه ډول په وبو کي د اسراف کولو څخه چي مقدار سنت یعني د درو وارو څخه زیات د اودس اندامو پرېوللو څخه پرهیز پکار دی. حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ وایي چي علیه السلام یو وخت تیرېدی نو حضرت سعد ﷺ اودس کوی، علیه السلام وویل ای سعد ﷺ! ته اسراف کوي نو حضرت سعد پوښتنه وکړه ایا په اودس کي هم اسراف سته؟ علیه السلام وویل چي هو که څه هم د نهر پرغاړه يي، او کمي هم نه ده پکار ولي چي د هر اندام پرېوللل یقیني سي، د اودس په اخر یا په

مابينځ کي په متن کي ذکر سوي دعاګاني ويل د اجر باعث دي، په ترمذي شريفي کي د حضرت عمرؓ څخه روايت دی چي عليه السلام وويل چاچي د اوداسه وروسته دغه لاندي کلمه شهادت وويل نو د هغه لپاره د جنت اته دروازې خلاصيږي، په کومه دروازه چي هغه وغواړي داخل به سي:

اَشْهَدُ اَنْ لاَّاِلٰهَ اِلاَّاللّٰهُ وَحْدَهٗ لاَ شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

دغه ډول د اوداسه څخه پاته اوبه د ولاړي په حالت وڅښئ، ولي چي حضرت عليؓ خلکو ته د ښووولو لپاره اودس وکړ او د اوداسه پاته اوبه يي په ولاړي سره وڅښلي او وې ويل چي ماته دا محبوبه وه چي تاسو ته د نبي کريم ﷺ د اودس طريقه در ښکاره کوم، د زم زم اوبه هم په ولاړه سره څښلای سئ ولي چي د ابن عباسؓ څخه روايت دی چي عليه السلام د زم زم اوبه د ولاړي په حالت کي وڅښلي.

دغه ډول په هر اوداسه کم از کم دوه رکعاته نفل کول پکاري دي ولي که چيري د اوداسه سره مقصودي عبادت نه وکړل سي نو هغه پخپله مقصود بالذات عبادت نه دی.

وَاَمَّا الْمَنَاهِیُ فَهُوَ اَنْ لاَّيَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ وَقْتَ الْاِسْتِنْجَآءِ وَلاَيَكْشِفَ عَوْرَتَهٗ عِنْدَ اَحَدٍ وَالْاِسْتِنْجَآءُ بِالْمَآءِ اَفْضَلُ اِنْ اَمْكَنَهٗ مِنْ غَيْرِ كَشْفٍ فَاِنْ لَّمْ يُمْكِنْهُ يَكْفِی الْاِسْتِنْجَآءُ بِالْاَحْجَارِ وَلاَيَكْشِفُ عَوْرَتَهٗ اِذَا لَمْ تَكُنِ النَّجَاسَةُ اَكْثَرَ مِنْ قَدْرِهَمٍ اَمَّا الْاِسْتِنْجَآءُ عَلٰی نَوْعَيْنِ لُغَوِیٌّ وَشَرْعِیٌّ اَمَّ اللُّغَوِیُّ فَهُوَ طَلَبُ النَّجْوِ وَفِیْ بَعْضِ اَقْوَالِ النَّاسِ اَرَادَبِهٖ قَلْعُ النِّجَاسَةِ وَاَمَّا الْاِسْتِنْجَاءُ الشَّرْعِیُّ فَهُوَ اِزَالَةُ النِّجَاسَةِ عَنْ

عُضْوٍ مَّخْصُوْصٍ بِالْمَآءِ اَوْ بِالتُّرَابِ اَوْ بِالْحَجَرِ اَوْ بِالْمَدَرِ وَاَنْ لَّا يَسْتَنْجِيْ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى وَلَا بِطَعَامٍ وَلَا بِرَوْثٍ وَلَا بِعَظْمٍ وَلَا بِعَلَفِ الدَّوَابِّ وَلَا بِحَقِّ الْغَيْرِ وَلَا بِفَحْمٍ وَلَا بِخَذَفٍ وَلَا بِاٰجُرٍ وَاَنْ لَّا يَتَخَمَّرَ وَلَا يَمْتَخِطَ فِي الْمَآءِ وَاَنْ لَّا يَتَعَدّٰى فِي الزِّيَادَةِ وَالنُّقْصَانِ فِي الْمَرَّاتِ وَفِي الْمَوَاضِعِ وَاَنْ لَّا يَمْسَحَ اَعْضَائَهُ بِالْخِرْقَةِ الَّتِيْ يَمْسَحُ بِهَا مَوْضِعَ الْاِسْتِنْجَآءِ وَاَنْ لَّا يَضْرِبَ وَجْهَهُ بِالْمَآءِ عِنْدَ الْغَسْلِ وَاَنْ لَّا يَنْفُخَ فِي الْمَآءِ وَاَنْ لَّا يُغَمِّضَ فَاهُ وَلَا عَيْنَيْهِ تَغْمِيْضًا شَدِيْدًا حَتّٰى لَوْ بَقِيَتْ عَلٰى شَفَتَيْهِ اَوْ عَلٰى جَفْنَيْهِ لُمْعَةٌ لَّا يَجُوْزُ وُضُوْئُهُ هٰذِهٖ هِيَ الطَّهَارَةُ الصُّغْرٰى.

ژباړه: موانع د اوداسه دادي چي په وخت د استنجاء د قبلې طرفته مخ مه کوی او د چا په موجودګۍ کي عورت (شرمګاه) مه ښکاره کوئ، که چېري بغير د اظهار د عورت استنجاء په اوبو ممکنه وي نو افضل دی، که نه وي نو په ډبرو، لوټو سره استنجاء کافي ده او ترکوم وخته پوري چي نجاست د يو درهم د مقدار څخه نسي زيات نو کشف د عورت جائز نه دی .

د استنجاء دوه قسمونه دی (۱) لغوي، (۲) شرعي: استنجاء لغوي پاکي طلبولو ته ويل کيږي او په قول د ځينو نجاست ايسته کولو ته ويل کيږي .

استنجا شرعی د عضوي مخصوصه څخه په اوبو، خاوري، لوټي سره نجاست ليري کولو ته ويل کيږي .

استنجاء په راسته لاس، طعام، خوشايو، اډوکو، د چارپايو خوراک، د بل حق، کوئله، کاڼي او په پخه خښته سره جائز نه ده، اوبه مه تويوئ او مه د پزي فضله ورته اچوی، د اوداسه اندامونه د پرېوللو په وخت کي د پرېوللو د تعداد او پرېوللو

ځای په مقاماتو کي کمی او بیشي مه کوئ، او په کومي کپړې سره چي موضع استنجاء (مقعد) يي صفا کړی وي په هغه کپړي سره د اوداسه اندامونه مه مسح کوی، او د مخ پرېوللو په وخت کي يې پرمخ باندي مه تیروئ، اوبه مه اچوی او په اوبو کي ساه مه کاږئ، خله او سترګي په سختی سره مه بندوی ولي چي د شونډانو او وریځو په ځای کي که چېري لږ ځای هم وچ پاته سي نو اودس نه کیږي، دا وو بیان د طهارت اصغر .

تشریح: منصف رحمه الله د ادابو د اوداسه څخه د فراغت وروسته، موانع د اوداسه چي په کومو کي محرمات او مکروهات دواړه داخل دي په بیان کولو سره وایي چي په وخت کي د استنجاء مخ د قبلې طرفته کول نه دي پکار، علماؤ په مکروهاتو کي شماریلي دي البته یوه خبره د توجه وړ ده چي صاحب کتاب" ان لا یستقبل القبلة " ویلي دي حالانکي عدم استقبال خو ممنوع نه دی بلکي په وخت کي د استنجاء قبلې ته مخکول ممنوع دي، فافهم .

د استنجاء لپاره د چا په موجودګی کي کشف د عورت نه دي پکار، ولي چي دا حرام دی، د مصنف د عبارت څخه دا څرګندیږي که چېري نجاست د قدر درهم څخه زیات سي نو کشف د عورت ضروري دی مګر دا درسته نه ده ولې که چېري نجاست د قدر درهم څخه هم زیات سي نو هم به د استنجاء بالماء نه کولوکي دا سړی شرعاً معذوره وي، فقهاء کرام وایي که چا د استنجاء لپاره د یوچا په مخکي کشف د عورت وکړ نو هغه فاسق دی .

په راسته لاس سره د استنجاء وهلو څخه علیه السلام منع کړي ده، دغه ډول علیه السلام ویلي دي چي په لید، ګوبر او هډوکو سره استنجاء مه وهئ ولي چي دا ستاسي د وړونو پیرانانو خوراک دی، نو چي کله د جناتو په خوراک سره استنجاء جائز نه ده نو د انسان په خوراک سره بدرجه اولی ناجائز نه ده او لید خو خیله نجس

دی نو په ده سره نور نجاست زیاتیږي، او په پخه خښته وغیره سره په استنجاء وهل
کي د زخم کېدلو اندیښنه يي، د بل چا په حق مثلاً کپړي، اوبه وغیره سره بغیر د
رضامندی د مالک استنجاء وهل نه دي پکار، کومه کپړه چي په موضع استنجاء
کي مستعمله سوي وي هغه تهوال (تولیه) په شکل د اعضاء وضوء لپاره استعمال
کول د طبیعت کراهت راځي د دې لپاره ځان ژغورل پکار دي، اوبه پر مخ باندي په
زوره اچول مکروه دي بلکي په آرامه سره د تندي څخه لاندي اوبه تویول پکار دي
چونکي په اوداسه کي د پوره مخ استیعاب فرض دی د دې لپاره که چېري خوله او
سترګي په سختی سره بندي کړي او یو ځای وچ پاته سي نو اودس نه وسو، او دا د
طهارت صغری بیان وو چي مکمل سو.

وَامَّا الطَّهَارَةُ الْكُبْرٰى فَهِيَ الْاِغْتِسَالُ وَسَبَبُهُ خُرُوْجُ الْمَنِيِّ بِشَهْوَةٍ وَدَفْقٍ فَاِنَّ
يَجِبُ الْغُسْلَ بِالْاِجْمَاعِ وَاَمَّا انْفِصَالُهُ عَنْ مَّوْضِعِهِ بِشَهْوَةٍ فَمُخْتَلِفٌ فِيْهِ حَتّٰى اَنَّ
الْمُحْتَلِمَ لَوْ اَخَذَ ذَكَرَهُ وَخَرَجَ الْمَنِيُّ بَعْدَ سُكُوْنِ الشَّهْوَةِ يَجِبُ عَلَيْهِ الْغُسْلُ
عِنْدَهُمَا خِلَافًا لِاَبِيْ يُوْسُفَ وَكَذَا الْاِيْلَاجُ فِيْ اِحْدَى السَّبِيْلَيْنِ مِنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْءَةِ
اِذَا تَوَارَتِ الْحَشْفَةُ اَنْزَلَ اَوْ لَمْ يَنْزِلْ وَجَبَ الْغُسْلُ عَلَى الْفَاعِلِ وَالْمَفْعُوْلِ بِهِ وَاَمَّا
بِالْاِيْلَاجِ فِي الْبَهِيْمَةِ وَالْمَيْتَةِ وَالصَّغِيْرَةَ الَّتِيْ لَاتُجَامَعُ مِثْلُهَا فَلَا يَجِبُ عَلَيْهِ الْغُسْلُ
مَالَمْ يُنْزِلَ وَذَكَرَ الْاِسْبِيْجَابِيُّ اَنَّ بِالْاِيْلَاجِ فِي الصَّغِيْرَةِ يَجِبُ الْغُسْلُ وَالْمَرَاهِقُ اِذَا
وَطِئَ اِمْرَءَةً بَالِغَةً لَايَجِبُ عَلَيْهِ الْغُسْلُ وَلٰكِنْ يُؤْمَرُ بِهِ تَخَلُّقًا وَاعْتِيَادًا وَيَجِبُ
غُسْلُ وَلٰكِنْ يُؤْمَرُ بِهِ تَخَلُّقًا وَاعْتِيَادًا وَيَجِبُ الْغُسْلُ عَلَى الْمَرْءَةِ الْمَوْطُوْءَةِ وَلَوْ

وَطِيَ الْبَالِغُ صَغِيْرَةً فَالْجَوَابُ عَلَى الْعَكْسِ وَكَذَا الْحَيْضُ وَالنِّفَاسُ.

ژباړه: د طهارت کبرٰی څخه مراد غسل دی، د دې طهارت کبرٰی سبب لذت او په غوټه سره د مني وتل دي او دا خروج د مني په لذت او غوټه سره بالاجماع غسل واجبه وي که چېري مني د خپل ځای څخه په شهوت سره جلا سي نو په دې کي اختلاف دی، که چېري محتلم خوب لېدونکی خپل ذکر بند ونيسي او د شهوت د ختمېدو وروسته مني خارج سي نو د طرفينو په نز غسل واجب دی، په خلاف د امام ابويوسف رحمه الله.

اَمَّا فَرَائِضُ الْغُسْلِ فَالْمَضْمَضَةُ وَالْاِسْتِنْشَاقُ وَغَسْلُ سَآئِرِ الْبَدَنِ وَاِيْصَالُ الْمَآءِ اِلٰى مَنَابِتِ الشَّعْرِ وَاِنْ كَثُفَ شَعْرُهٗ بِالْاِجْمَاعِ وَكَذَا اِيْصَالُ الْمَآءِ اِلٰى اِثْنَاءِ اللِّحْيَةِ وَالشَّعْرِ وَالْمَرْاَةُ فِي الْاِغْتِسَالِ كَالرَّجُلِ وَاَمَّا الشَّعْرُ الْمُسْتَرْسَلُ مِنْ ذَوَائِبِهَا فَغَسْلُهٗ مَوْضُوْعٌ فِي الْغُسْلِ اِذَا بَلَغَ الْمَآءُ اُصُوْلَ شَعْرِهَا بِخِلَافِ الرَّجُلِ كَذَا ذَكَرَهٗ فِيْ غُنْيَةِ الْفُقَهَآءِ وَذُكِرَ فِي الْمُحِيْطِ اَنَّ الرَّجُلَ اِذَا اَضْفَرَ شَعْرَهٗ كَمَا يَفْعَلُهُ الْعَلَوِيُّوْنَ وَالْاَتْرَاكُ هَلْ يَجِبُ اِيْصَالُ الْمَآءِ اِلٰى اَثْنَاءِ الشَّعْرِ اَمْ لَا عَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ رِوَايَتَانِ فِيْ رِوَايَةٍ يَجِبُ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَا وَذَكَرَ صَدْرُ الشَّهِيْدِ اَنَّهٗ يَجِبُ اِيْصَالُ الْمَآءِ اِلٰى اَثْنَاءِ الشَّعْرِ فِيْ حَقِّهٖ.

ژباړه: فرائض د غسل غرغره کول دي، په پوزه کي اوبه اچول او د پوره بدن پرېولل، د وربېښتانو بيخو ته اوبه رسول که څه هم ګڼ وي بالاتفاق، دغه ډول د ږيري منځ ته او وربېښتانو ته اوبه رسول دي، ښځه هم په غسل کي د سړي په مثال ده. مګر سر د چوټيلانو. کوڅيو وربېښتان پرېولل معاف دي که اوبه د وربېښتانو بيخوته

ورسيږي، په خلاف د نارينه وو، دغه ذکر په غنية الفقهاء او محيط کي دی، که چېري نر د سر د وريښتانو کوڅی جوړي کړي لکه څنګه چي علويان اولاد د حضرت علي رضي الله عنه او په ترکيانو کي رواج دی، نو په هغوی د وريښتانو منځ ته اوبه رسول لازم دي که نه؟ د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله څخه دوه روايتونه دي، په يوه روايت کي واجب دي، او په دوهم کي واجب نه دي، او صدر الشهيد ذکر کړي دي چي د نر لپاره د وريښتانو منځ ته اوبه رسول ضروري دي .

تشريح: د احنافو رحمهم الله تعالی په نز مضمضه، استنشاق او د پوره خارجي بدن پرېولل په غسل کي فرض دي، د امام شافعي او امام مالک په نز د اوداسه په ډول يعني لکه څنګه چي په اوداسه کي مضمضه او استنشاق سنت دي، دغه ډول په غسل کي هم مضمضه او استنشاق سنت دي .

د احنافو په نز په اوداسه قياس کول درست نه دي ولي چي په اوداسه کي فقط د مخ پرېولل فرض دي، د خولې او پزي دننی حصي د مخ په تعريف کي نه دي شمار، د غسل لپاره الله تعالی" فاطهروا "په مبالغې سره حکم کړی دی، نو دا ټوله بدن شمار دی ما سوای د هغه مقاماتو چي هغو ته اوبه رسول مشکل يي .

ښځه به هم د نارينه په مثل په غسل کي پوره بدن پرېولي، البته د کوڅيو پرېولل د ښځي لپاره معاف دي، ولي چي حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه ښځوته حکم کړی وو چي هغی دي د غسل په وخت کي کوڅی خلاصوي، چي کله دا خبره حضرت عائشې رضي الله عنها ته ورسيده نو ام المؤمنين وويل چي عجبه خبره ده چي ابن عمرو رضي الله عنه ښځوته د کوڅی د خلاصولو حکم کوي او هغه دوی ته د پوره سر د خريلو حکم ولي نه کوي؟ په حقيقت او په يقين سره ما او رسول کريم ﷺ په يو لوښي باندي غسل وکړ او د درو لپو څخه زياتي اوبه ما پر سر نه واچولي، حضرت عائشي صديقي رضي الله عنها د حضرت عبدالله بن عمرو د حکم څخه انکار وکړ د کوم څخه

چي ثابته سوه چي د ښځولپاره د ټولو وريښتانو خلاصولو حکم نسته، دغه ډول حضرت ام سلمه رضي الله عنها هم د نبي کريم ﷺ څخه د دې مسئلي پوښتنه وکړه نو عليه السلام وويل چي ستا لپاره درې واره په سر اوبه اچول کافي دي او دا حکم فقط د ښځي لپاره دی، که چېري نارينه وريښتان دا ډول غټ کړي او کوڅی جوړي کړي نو د هغه لپاره د خلاصولو حکم دی.

اِمْرَءَةٌ اِغْتَسَلَتْ هَلْ تَتَكَلَّفُ فِيْ اِيْصَالِ الْمَآءِ اِلٰى ثُقْبِ الْقُرْطِ اَمْ لَا قَالَ تَتَكَلَّفُ فِيْهِ كَمَا تَتَكَلَّفُ فِيْ تَحْرِيْكِ الْخَاتِمِ اِنْ كَانَ ضَيِّقًا اِمْرَءَةٌ اِغْتَسَلَتْ وَقَدْ كَانَ بَقِيَ فِيْ اَظْفَارِهَا عَجِيْنٌ قَدْ جَفَّ لَمْ يَجُزْ غُسْلُهَا وَكَذَا الْوُضُوْءُ وَلَوْ بَقِيَ الدَّرَنُ فِي الْاَظْفَارِ جَازَ الْغُسْلُ وَالْوُضُوْءُ يَسْتَوِيْ فِيْهِ الْمَدَنِيُّ وَالْقَرَوِيُّ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يَجُوْزُ لِلْقَرَوِيِّ وَلَا يَجُوْزُ لِلْمَدَنِيِّ وَالْاَقْلَفُ اِذَا اغْتَسَلَ وَلَمْ يَدْخُلِ الْمَآءُ دَاخِلَ الْجِلْدَةِ قَالَ بَعْضُهُمْ يَجُوْزُ غُسْلُهُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا يَجُوْزُ وَهُوَ الْاَصَحُّ وَاِنْ خَرَجَ بَوْلُهُ حَتّٰى صَارَ فِيْ قُلْفَتِهِ فَعَلَيْهِ الْوُضُوْءُ بِالْاِجْمَاعِ وَاِنْ لَّمْ يَظْهَرْ.

ژباړه: يوه ښځه به د غوږو د واليو (کړی) سُريانو ته دننه د اوبو رسولو کوشش کوي که نه؟ فقهاؤ ويلي دي چي کوشش به کوي، لکه څنګه چي د تنګي ګوتمۍ د ګوتي کولو په وخت کي ښځي غسل وکړي او د دې په نوکانو کي وچ سوي وړه يي نو غسل نه کيږي او دا ډول حکم د اوداسه هم دی.

که چېري په نکانو کي خيره خاوره پاته يي نو غسل او اودس دواړه جائز دي، او په دې حکم کي د ښاراو د کلي خلګ دواړه برابر دي، ځينو ويلي دي چي کلی د زناني لپاره جائز او ښار د زناني لپاره ناجائز دی او غير زيارکښ سړی چي کله

غسل وکړي او اوبه و پوست نه سي داخيلي نو ځينو ويلي دي غسل جائز دی او ځينو ويلي دي چي نه دی جائز، دغه زيات صحيح دی، که چېري بولي ووزي او د ختنې په پوست کي ودريږي نو بالاتفاق په هغه باندي اودس لازم دی که څه هم بولي ظاهري نه وي .

تشريح: د غوږو په پاى کي د واليو (کړى) لپاره چي کوم سُريان دي نو د غسل کولو په وخت کي د هغوى دننه اوبه رسول ضروري دي، که د غسل کولو په وخت کي والي موجود وي او که غوږ خالي وي. صاحب د کتاب په ظن غالب سره د ښځي ذکر کړى دى که نه حکم عام دى، که چېري د نارينه په غوږ کي سرى يي نو د هغه لپاره هم دا حکم دى لکه څنګه چي د ځينو خلکو عادت يي چي د ځينو هلکانو په غوږو کي کړى اچوي، البته د دومره تکليف ضرورت نسته چي د غسل په وخت کي تار وغيره په دغو سريانو کي داخل کړي ولي چي په دې سره حرج تکليف رائحي .

دغه ډول که چېري لانده کړي وړه په نوکانو کي وچ سي نو داهم د پوست پوري د اوبو په رسيدو کي بندش يي نو غسل جائز نه دى البته که چېري په نوکانو کي خيره خاوره يي نو غسل جائز دى ولي چي دا د بند خپل پيداوار دى، څه غير شى نه دى، دغه ډول چي کله غير مختون يعني نا سُنته نارينه غسل وکړي نو د هغه لپاره د صحيح قول مطابق دا حکم دى چي د پوست دننه د ذکر ترسره پوري دي اوبه ورسوي ولي چي دا ځاى د پوست دننه دى مګر حکم د ظاهر لري، د دې لپاره که چېري د ذکر څخه بولي ووزي قلفه ته ورسيږي نو بالاتفاق اودس کول فرض دى که څه هم د باندي په نظر نسي را .

رَجُلٌ اِغْتَسَلَ وَبَقِيَ بَيْنَ اَسْنَانِهٖ طَعَامٌ قَالَ بَعْضُهُمْ اِنْ كَانَ زَآئِدًا عَلٰى قَدْرِ الْحِمْصَةِ لَايَجُوْزُ غُسْلُهٗ وَاِنْ كَانَ قَدْرَ الْحِمْصَةِ اَوْ اَقَلَّ يَجُوْزُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ اِنْ

كَانَ صُلْبًا مَمْضُوْغًا مُتَاكِدًا قَلِيْلاً اَوْ كَثِيْرًا لاَيَجُوْزُ ذَكَرَهُ فِي الذَّخِيْرَةِ وَذُكِرَ فِي الْمُحِيْطِ اِذَا كَانَ عَلٰى ظَاهِرِ بَدَنِهِ جِلْدُ سَمَكٍ اَوْ خُبْزٌ مَمْضُوْغٌ قَدْ جَفَّ وَاغْتَسَلَ اَوْ تَوَضَّاَ وَلَمْ يَصِلِ الْمَآءُ اِلٰى مَاتَحْتَهُ لَمْ يَجُزْ وَقَالَ فِي الذَّخِيْرَةِ فِيْ مَسْئَلَةِ الْحِنَاءِ وَالدَّرْنِ وَالطِّيْنِ يَجْزِئُ وُضُوْئُهُمْ لِلضَّرُوْرَةِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى.

ژباړه: که چېري يو سړي غسل وکړ او د هغه د غابنو په مابينځ کي څه شی پاته سو، ځينو ويلي دي که چېري د نخود د داني څخه زيات وي نو غسل جائز نه دی، او که د نخود د داني د مقدار څخه کم وي نو جائز دی، ځينو ويلي دي که چېري سخت يي او په غابني پوري مښتی يي نو قليل وکثير په دواړو حالتو کي جائز نه دی، دغه ډول په ذخيره کي ذکر دي او په محيط کي که چېري په ظاهري بدن پوري د ماهي پوست يا سخته وچه ډوډۍ وګرځول سي او د غسل کولو په وخت کي اوبه لاندي بدن ته نه ورسيږي نو جائز نه دی، او په ذخيره کي يې ويلي دي چي د نوکرزو، خيري، خاوري په صورت کي ضرورتاً اودس جائز دی او په دغه سره فتوٰی ده.

تشريح: کله چي په غابنو کي يوشی بند سي او هغه ته اوبه رسول مشکل يي نو د روژې په مسئله قياس کولو سره که چېري د نخود د مقدار څخه زيات وي نو غسل جائز نه دی، د نخود د مقدار سره برابر يا کم وي نو صحيح دی، مګر ځينو فقهاؤ ويلي دي چي قليل وکثير څخه قطع نظر دا دي وکتل سي که چېري په غابنو باندي سخت مښتی وي چي اوبه نه ور رسيږي نو غسل جائز نه دی، نوکريزي که چېري په سرباندي ولګول سي نو په نوکريزو مسح جائز نه ده لکه څنګه چي په فتاوٰی تاتارخانيه ج ۱ص۹۲ کي د دې تشريح سوي ده، البته د نوکريزو کوم اثر چي د رنګ

په صورت کي پاتيږي نو په هغه باندي د خيرو خاورو په ډول ضرورتاً مسح جائز ده.

وَاِذَا كَانَ بِرِجْلَيْهِ شِقَاقٌ فَجَعَلَ فِيْهِ الشَّحْمَ اِنْ كَانَ لَايَضُرُّهُ اِيْصَالُ الْمَاءِ لَايَجُوْزُ غُسْلُهُ وَوُضُوْئُهُ وَاِنْ كَانَ يَضُرُّهُ يَجُوْزُ وَاِيْصَالُ الْمَاءِ اِلٰى دَاخِلِ السُّرَّةِ فَرْضٌ وَكَذَا الْاِسْتِنْجَاءُ عِنْدَ الْغُسْلِ فَرْضٌ بِالْمَاءِ وَاِنْ لَّمْ يَكُنْ عَلَيْهِ نِجَاسَةٌ وَكَذَا تَخْلِيْلُ الْاَصَابِعِ فِي الْغُسْلِ وَالْوُضُوْءِ فَرْضٌ اِنْ كَانَتِ الْاَصَابِعُ مُنْضَمَّةً غَيْرَ مَفْتُوْحَةٍ وَاِنْ كَانَتْ مَفْتُوْحَةً فَهُوَ سُنَّةٌ وَكَذَا اِنْقَاءُ الْبُشْرَةِ وَبَلُّ الشَّعْرِ فَرْضٌ وَلِقَوْلِهٖ عليه السلام اَلَا فَبَلُّوْا الشَّعْرَ وَانْقُوْا الْبُشْرَةَ لِقَوْلِهٖ عليه السلام اِنَّ تَحْتَ كُلِّ شَعْرَةٍ جَنَابَةٌ وَفِيْ رِوَايَةٍ نِجَاسَةٌ وَلَوْ بَقِيَ شَيْءٌ مِّنْ بَدَنِهٖ لَمْ يُصِبْهُ الْمَاءُ لَمْ يَخْرُجْ مِنَ الْجَنَابَةِ وَاِنْ قَلَّ وَشُرْبُ الْمَاءِ يَقُوْمُ مَقَامَ الْمَضْمَضَةِ اِذَا بَلَغَ الْمَاءُ الْفَمَّ كُلَّهُ وَاِلَّا فَلَا وَلَوْ تَرَكَهَا نَاسِيًا وَصَلّٰى ثُمَّ تَذَكَّرَ يُمَضْمِضُ وَيُعِيْدُ مَا صَلّٰى.

ژباړه: که چيري په پښه کي چاودي وي او په هغه کي يې وازګه اچولي وي، که د اوبه رسولو څخه تکليف نه وي نو غسل او اودس جائز نه دی او که تکليف وي نو جائز دی، نو ته دننه اوبه رسول فرض دي، دغه ډول په غسل کي د اوبو سره استنجاء هم فرض ده که څه هم په موضع د استنجاء کي نجاست نه وي دغه ډول د غسل او د اوداسه په وخت کي د ګوتو خلالول هم فرض دي که چيري ګوتي پرله پوري مښتي وي که خلاصي وي نو سنت دی، ظاهري پوست او د وريښتانو پرېولل فرض دي.

عليه السلام ويلي دي که وريښتان لنده وي او پوست صفاکوي او د عليه السلام دا قول چي د هر وريښته لاندي جنابت دی، په يوه روايت کي نجاست دی که چيري د

بدن يوځه حصه وچه پاته سي نو انسان د جنابت ځخه نه وزي، او اوبه ځنبل د مضمضې قائم مقام دی چي پوره خولې ته ورسيږي، او که ونه رسيږي نو نه دی، که چېري په ېيره سره مضمضه پاته سي او وروسته يي په ياد سي نو بيا دي مضمضه وکړي او کړی لمونځ دي را وګرځوي .

تشريح: که چېري په يو چاباندي ځه زخم را سي او په هغه باندي مرهم وغيره کښيږدي، نو که دا زخم داسي وي چي هغه ته د اوبو په رسيدو ځه ضرر نه رسيږي نو د هغه پرېولل ضروري دي او بغير د پرېوللو اودس او غسل جائز نه دی، که چېري ضرورت وي نو د ټوله پرېولو بغير صرف په ظاهري حصې باندي په اوبو اچولو سره اودس او غسل کيږي، دغه ډول موضع د استنجاء هم په اوبو سره پرېولل فرض دي، که ځه هم هلته نجاست ظاهري نه وي، ولي چي په غسل کي د ټوله بدن پرېولل فرض دي او داهم د بدن حصه ده .

په نجاست حكمي كي جنابت هم سته، نو لاس او د پښو د ګوتو پرېولل فرض دي که چېري دا ډول ضم وي چي بغير د خلاله اوبه دننه نه رسيږي نو خلال فرض دي د دې لپاره چي يو ځای هم وچ نه سي پاته ولي که چېري د ستني برابر ځای په جسم کي وچ پاته سي نو غسل نه کيږي، که د غسل کولو په وخت کي مضمضه، استنشاق يا د بدن ځه حصه وچه پاته سي او وروسته يې په ياد سي نو فقط مضمضه او استنشاق دي وکړي يا پاته سوي وچه حصه دي پرېولي، د نوي غسل کولو ضرورت نسته، او چي کوم کالي يې اغوستي وي هغه هم پاک دي البته که چېري فرض لمونځ يي کړی وي نو هغه دي بيرته را وګرځوي که نفل لمونځ يي کړي نو د هغه د راګرځولو ضرورت نسته، د دې لپاره چي په دغو نوافلو کي ابتداء صحيح نه ده نو دا پر ذمه نه لاميږي .

وَسُنَّةُ الْغُسْلِ اَنْ يُّقَدِّمَ الْوُضُوْءَ عَلَى الْغُسْلِ اِلاَّ غَسْلَ رِجْلَيْهِ وَاَنْ يُّزِيلَ النِّجَاسَةَ عَنْ بَدَنِهٖ اِنْ كَانَتْ ثُمَّ يُصُبُّ الْمَآءِ عَلٰى رَاْسِهٖ وَسَآئِرِ جَسَدِهٖ ثَلٰثًا ثُمَّ يَتَنَحّٰى عَنْ ذٰلِكَ الْمَكَانِ فَيَغْسِلُ قَدَمَيْهِ اِلاَّ اَنْ يَّكُوْنَ عَلٰى حَجَرٍ اَوْ عَلٰى خَشَبٍ اَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ وَاَنْ لاَّ يُسْرِفَ فِى الْمَآءِ وَاَنْ لاَّ يُقَتِّرَ وَاَنْ لاَّ يَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ وَقْتَ الْغُسْلِ وَاَنْ يَّدْلِكَ كُلَّ اَعْضَآئِهٖ فِى الْمَرَّةِ الْاُوْلٰى وَاَنْ يَّغْتَسِلَ فِىْ مَوْضِعٍ لاَيَرَاهُ اَحَدٌ وَاَنْ لاَّ يَتَكَلَّمَ بِكَلاَمٍ قَطُّ وَيُسْتَحَبُّ اَنْ يَّمْسَحَ بَدَنَهٗ بِمِنْدِيْلٍ بَعْدَ الْغُسْلِ وَاَنْ يَّغْسِلَ رِجْلَيْهِ بَعْدَ اللُّبْسِ وَاَنْ يَّصِلَهٗ بِسُبْحَةٍ اَىْ نَافِلَةٍ وَاَمَّا النِّيَّةُ فَلَيْسَتْ بِشَرْطٍ فِى الْوُضُوْءِ وَالْاِغْتِسَالِ حَتّٰى اَنَّ الْجُنُبَ اِذَا انْغَمَسَ فِى الْمَآءِ الْجَارِىْ اَوْفِى الْحَوْضِ الْكَبِيْرِ لِلتَّبَرُّدِ اَوْقَامَ فِى الْمَطَرِ الشَّدِيْدِ وَتَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ يَخْرُجُ مِنَ الْجَنَابَةِ.

ژباړه: د غسل سنت دادي چي اودس دي په غسل باندي مخ کي کړي د پښو د پرېوللو بغير، که چېري په بدن باندي څه نجاست وي نو صفادي کړي بيا دي درې واره سر او په ټوله بدن باندي اوبه واچوي بيا په بل ځای کي دواړي پښي پرېولي مګر دا چي په يوه ډبره يا تخته وغيره باندي وي، په اوبو کي زياتوب او کمی مه کوئ، د غسل په وخت کي لځ بدن قبلې ته مخ نه وي ، اول وار ټوله اعضاء ومږئ په داسي ځای کي غسل وکړئ چي څوک يي نه سي ليدی، د غسل په وخت کي بالکل خبري مه کوئ، او دا مستحب دي چي د غسل وروسته بدن په تهواز باندي وچ کړي د کپړو اغوستلو وروسته پښې پريولي او وروسره دوه رکعاته نفل وکړي، نيت په اوداسه او غسل کي ضروري نه دی. که چېري جنبوب سړی په روانو اوبو کي يا په غټ تالاب کي د يوښي حاصلولو لپاره غوټه ووهي يا په تيز باران کي د دريدو

وروسته مضمضه او استنشاق وکړي نو د جنابت څخه وزي.

تشریح: د غسل کولو ترمخه اودس سنت دی مگر په تېره زمانه کي د هر چاه لپاره د پخو خښتو، د فرشو غسلخانې میسري نه وي، په کچه مځکه باندي د غسل کولو د وجي به چي کوم کیچړ جوړیدی یا اوبه درېدلي نو په دې بنا دا ضروري وه چي د پوره غسل کولو وروسته ګالي واغوستل سي او پښې وروسته په یو پاک ځای کي پرېولي مگر نن صبا اکثره غسلخانې پاخه فرشونه دي نو د دې لپاره پښې په هغه غسلخانه کي پرېولل پکار دي، د غسل څخه ترمخه که چېري په ورانه باندي نجاست حقیقي مني وغیره یې نو د هغه صفاکول پکار دي، د دې وروسته په پوره بدن باندي اوبه واچوئ. په سر بیا په راسته اوږه بیا په چپه اوږه اوبه واچوئ. که چېري په غسلخانه کي بدن لڅ وي نو د قبلې طرف ته مخ مه کوئ، او که لڅ نه وي ګناه نه ده، اول وار په بدن باندي په اوبو اچولو وروسته ټول بدن په لاسو سره ومږئ چي دوهم او دریم وار په اوبو تویولو سره د بدن هیڅ د وچ پاتېدو امکان هم نه سي پاته.

که چېري غسل فرض وي او د پردې ځای نه وي نو د دې مسئله د فقهاؤ په مابینځ کي مختلف فیه ده، ځیني وایي چي غسل دي نه ترک وي که څه هم کشف د عورت د خلکو مخته راسي مگر صحیح قول دادی چي غسل دي ترک کړي ولي چي د غسل نیابت تیمم کېدلای سي او نهي مقدم دي پر امر، په کشف د عورت خو نهي واردي سوي دي. نو د دې لپاره امر د غسل به ترک کول کیږي او د غسل کولو وروسته په ټوال تولیه سره د بدن وچول هم بهتر دي لکه څنګه چي په ترمذي شریفي کي د حضرت عائشې صدیقې ﷞ څخه روایت دی چي د نبی کریم ﷺ یوه تولیه وه په کوم سره چي به علیه السلام وروسته د اوداسه مخ لاس مبارک وچوی. د احنفو په نز په اوداسه او غسل کي نیت فرض نه دی مگر د ائمه ثلاثه په نز فرض دی.

آئمه ثلاثه وو د ليل د رسول الله ﷺ حديث" اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَاتِ "دی .

د آئمه ثلاثه په نز لفظ" صحة "مقدر دی چي په اصل کي" انما صحة الاعمال" دی، نو چېري چي نيت نه وي هلته به عمل صحيح نه وي، احناف رحمهم الله وايي چي دلته د حکم لفظ مقدر دی يعني حکم الاعمال بالنيات .

حکم پر دوه قسم دی، يو دنيوي چي صحت د عمل دی، او يو اخروي چي کوم اجر او ثواب دی، کوم غسل او اودس چي بغير د نيت د طهارت وي نو هغه فقط د ثواب به خالي وي مگر وجود به يي معتبر بلل کيږي لکه څنګه چي د لمانځه لپاره ستر د عوت شرط دی پس که چېري څوک کالي په دې نيت واغوندي چي په دې سره به زما ستر پټ سي او زه به لمونځ وکړم نو د اجر او ثواب مستحق به وي، او که چېري د کپړو اغوستلو په وخت کي يي د ستر عورت نيت نه وي کړی فقط زينت يي مراد وي نو هم په دې کپړو کي لمونځ ادا کيږي، په دې بنا زموږ متقدمينو علماؤ ويلي دي چي هر چاچي بغيرطهارت د نيته اودس وکړ نو دا خلاف د سنت دی او اودس مطلوب شرعي نه دی په دې باندي ثواب نه رسيږي مطلقي د دې په اودس او غسل سره د لمانځه په صحيح کېدولي هيڅ کلام نه سي کېدی .

وَالْاِغْتِسَالُ عَلٰى اَحَدَ عَشَرَوَجْهًا خَمْسَةٌ مِّنْهَا فَرِيْضَةٌ الْاِغْتِسَالُ مِنَ الْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ وَالْتِقَآءِ الْخَتَانَيْنِ مَعَ غَيْبُوبَةِ الْحَشْفَةِ وَخُرُوْجِ الْمَنِيِّ عَلٰى وَجْهِ الدَّفْقِ وَالشَّهْوَةِ وَمِنَ الْاِحْتِلَامِ اِذَا خَرَجَ مِنْهُ الْمَنِيُّ اَوِالْمَذِيُّ وَاَرْبَعَةٌ مِّنْهَا سُنَّةٌ غُسْلُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَالْعِيْدَيْنِ وَعِنْدَ الْاِحْرَامِ وَعَرَفَةَ وَوَاحِدٌ مِّنْهُمَا وَاجِبٌ وَهُوَ غُسْلُ الْمَيِّتِ حَتّٰى لَايَجُوْزُ الصَّلٰوةُ عَلَيْهِ قَبْلَ الْغُسْلِ اَوْ قَبْلَ التَّيَمُّمِ عِنْدَ عَدَمِ الْمَآءِ وَوَاحِدٌ مِّنْهَا مُسْتَحَبٌّ وَهُوَ غُسْلُ الْكَافِرِ اِذَا اَسْلَمَ هٰكَذَا ذَكَرَهُ شَمْسُ الْاَئِمَّةِ السَّرْخَسِيّ فِيْ شَرْحِهِ

وَذُكِرَ فِي الْمُحِيطِ اَنَّ الْكَافِرَ اِذَا اَجْنَبَ ثُمَّ اَسْلَمَ الصَّحِيْحُ اَنَّهُ يَجِبُ الْغُسْلُ عَلَيْهِ.

ژباړه: د غسل يوولس (۱۱) قسمونه دي، پنځه فرض دي، هغه دا چي كله د حيض يا نفاس څخه فارغه سي نو غسل به كوي، او بل چي د دوو فرجو (عورتو) يوځای والی وسي سره د ذكر د پټېدو، او بل مني وتل دي په غورزېدو او خوند سره، بل په خوب كي چي مني، مذي، يا ودي ووځي.

او څلور قسمه سنت دی، د جمعې د لمانځه لپاره غسل، بل د اخترونو لپاره، بل د احرام لپاره، بل د عرفاة لپاره، او يو قسم واجب دی، چي هغه د مړي غسل دی، تر هغه وخته پوري لمونځ نه ورکول كيږي تر څو پوري چي يې دا مړي ته غسل نه وي وركړی، يا يې تيمم نه وي ور وهلی په هغه وخت كي چي اوبه نه وي، او يو بل قسم مستحب دی، هغه د كافر غسل دی چي كله دی اسلام راوړي، دغه ډول ذكر كړي دي شمس الائمة السرخسي په خپله شرحه كي، او په محيط شريف كي ذكر سوي دي چي كله كافر د جنابت په وخت كي اسلام راوړي نو صحيح خبره داده چي پر ده غسل واجب دی.

تشريح: صاحب كتاب د دې عبارت څخه د غسل يوولس قسمونه بيان كړي دي، اول پنځه قسمونه په متن كي ذكر سوه چي د ټولو په اجماع سره فرض دي، او څلور قسمه سنت غسلونه، يعني د جمعې په ورځ سنت دی، د امام مالك رحمه الله په نز واجب دی، زموږ دليل د ترمذي شريف دا روايت دی چي رسول الله ﷺ د جمعې د ورځي د غسل افضليت بيان كړی دی، نو ځكه صاحب د هدايې غسل د جمعې، اخترو، عرفه، او احرام لپاره مستحب ګڼلی دی، دغه ډول ځينو فقهاء كرام د دخول مكه، مدينه منوره، او د وقوف مزدلفه په وخت كي غسل مستحب ګڼلی دی، او مړي ته غسل وركولو والا دي وروسته تر فراغت بيا خپله هم غسل وكړي دا هم مستحب دی .

مصنف رحمه الله په آخر كي د مړي غسل ته واجب ويلي دي حالانكي دا فرض كفايي

دی، که چېرې يوې ښځې ته د جنابت په حالت کې حيض راسي نو اختيار دی ورته که اوس په حالت کې د حيض غسل وکړي او يا يې وروسته د انقطاع د حيض غسل وکړي. که چېرې څوک غسل د لمانځه تر وخته پورې مؤخر کړي نو ګناهګار به نه يي، او که څوک د خپل کوروالا سره جماع وکړي نو وروسته يې بيا د کولو شوق يي نو په مابينځ کې غسل کول ضروري نه دی بلکې په حالت کې د جنابت جماع کولای سي، البته په مابينځ کې غسل کول فقط مستحب دی، په دې سره په طبيعت کې تازګي پيدا کيږي.

وَلَا يَجُوْزُ لِلْجُنُبِ وَالْحَائِضِ وَالنُّفَسَاءِ قِرَاءَةُ الْقُرْاٰنِ يَعْنِيْ اٰيَةً تَامَّةً وَاِنْ قَرَءَ مَادُوْنَ الْاٰيَةِ اَوْ قَرَءَ الْفَاتِحَةَ عَلٰى قَصْدِ الدُّعَآءِ اَوِ الْاٰيَةَ الَّتِيْ تَشْبَهُ الدُّعَآءَ عَلٰى نِيَّةِ الدُّعَآءِ يَجُوْزُ وَقِيْلَ يَكْرَهُ وَقِيْلَ لَايَكْرَهُ وَاَمَّا قِرَاءَةُ الْقُنُوْتِ فَلَا يَكْرَهُ فِيْ ظَاهِرِ مَذْهَبِ اَصْحَابِنَا وَعَنْ مُحَمَّدٍ اَنَّهُ يَكْرَهُ وَلَايَكْرَهُ التَّهَجِّيْ بِالْقُرْاٰنِ وَكَذَا التَّعْلِيْمُ لِلصِّبْيَانِ حَرْفًا حَرْفًا وَكَذَا لَايَجُوْزُ لَهُمْ كِتَابَةُ الْقُرْاٰنِ وَذُكِرَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ الْمَنْسُوْبِ اِلٰى قَاضِيْخَانَ لَابَاسَ لِلْجُنُبِ اَنْ يَكْتُبَ الْقُرْاٰنَ وَالصَّحِيْفَةَ عَلٰى وَجْهِ الْاَرْضِ عِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ وَلَايَجُوْزُ لَهُمْ مَسُّ الْمُصْحَفِ اِلَّا بِغِلَافِهِ وَلَايَجُوْزُ اَخْذُ دِرْهَمٍ فِيْهِ سُوْرَةٌ مِّنَ الْقُرْاٰنِ اِلَّا بِصُرَّتِهِ وَكَذَا لِلْمُحْدِثِ هٰذَا اِذَا كَانَ الْغِلَافُ غَيْرَ مُشَرَّزٍ وَاِنْ كَانَ مُشَرَّزًا لَايَجُوْزُ وَالْخَرِيْطَةُ اَحَقُّ مِنَ الْغِلَافِ فِيْ اَنَّهُ لَايَكْرَهُ فَاِنْ اَخَذَ الْمُصْحَفَ بِكُمِّهِ فَلَابَاسَ بِهِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ وَكَرِهَهُ بَعْضُ مَشَائِخِنَا لِاَنَّ الثَّوْبَ تَبَعٌ لَهُ وَذُكِرَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ لَابَاسَ بِدَفْعِ الْمُصْحَفِ وَاللَّوْحِ اِلَى الصِّبْيَانِ وَالْاَحْوَطُ اَنْ

يَأْخُذَ بِكُمِّهِ وَيَدْفَعَهُ وَيَكْرَهُ اَيْضًا تَفْسِيرِ الْقُرْاٰنِ وَكُتُبِ الْفِقْهِ وَاِنْ اَخَذَ بِكُمِّهِ لاَبَأْسَ بِهِ لِتِكْرَارِ الْحَاجَةِ لِاَهْلِهَا اِلٰى اَخْذِهِ وَلاَ تَكْرَهُ قِرَاءَةُ الْقُرْاٰنِ لِلْمُحْدَثِ ظَاهِرًا وَاَمَّا الْجُنُبُ اِذَا غَسَلَهُ فَمَهُ وَيَدَهُ فَلاَ يَجُوْزُ لَهُ الْمَسُّ وَالْقِرَاءَةُ لِبَقَاءِ الْجَنَابَةِ وَتَكْرَهُ قِرَاءَةُ التَّوْرَاةِ وَالْاِنْجِيْلِ وَالزَّبُوْرِ لِلْجُنُبِ.

ژباړه: د جنابت حيض، او نفاس په حالت کي د پوره آيت ويل جائز نه دي، که چېري د يوه آيت څخه کم وي يا الحمد لله شريفه په نيت د دعا ووايي، دا سي آيت چي د دعا سره مشابه وي ويل يي جائز دي. د ځينو په نز مکروه دی او د ځينو په نز نه دی مکروه، د ظاهر مذهب په نز دعائ قنوت ويل مکرو نه دی، د امام محمد څخه د يوه روايت مطابق مکروه دي، قرآن د جوړ سره ويل ياکوچنيانو ته د يوه حرف ويل يې هم مکروه نه دي، دغه ډول د قرآن پاک کتابت هم نه دی جائز.

په جامع صغير کي د قاضي خان وطرف ته په منسوبولو سره ذکر دی که چېري د قرآن پاک د کتابت په وخت کي کاغذ په ځمکه وي نو د امام يوسف په نز په حالت کي د جنابت هيڅ قباحت نسته، د د جنب، حائضې او نفساءلپاره قرآن پاک ته لاس وروړل بغير د پوښه نه دي جائز، داسي درهم په کوم چي قرآن پاک نکيلی وي بغير د پوښه اخيستل گرځول يي جائز نه دي، دغه حکم د بې اودسه هم دی، کله چي د قرآن پاک پوښ ګنډل سوی نه وي جائزدی، که چېري ګنډل سوی وي نو جائز نه دی او بخچکی د غير مکروه په حکم ډېر موزو دی.

د امام محمد په نز په لستوڼي کي د قرآن پاک د اخيستلو هيڅ قباحت نسته، ځينو علماؤ مکروه ورته ويلي دي ولي چي لباس د هغه انسان تابع يي، کوچيانو ته قرآن او تختی ورکولو کي قباحت نسته البته بهتره داده چي په لستوڼي کي يي ورکړي،

دغه ډول تفسير د قرآن پاک او د فقهي د کتابو مسح کول هم مکروه دي، که چېرې په لستوڼي کي يې ونسي نو د دې لپاره قباحت نسته چي د اکثرو علماؤ او طالبانو لپاره د اخستلو ضرورت پيښيږي، د بې اودسه لپاره زباني د قرآن پاک تلاوت مکروه نه دی او جنب انسان که چېري مخ لاس پرېوللي نو د قرآن پاک مسح کول او ويل ورته جائز نه دي، د جنب لپاره تورات، انجيل، او د زبور ويل هم مکروه دي.

تشريح: د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي د نبي کريم ﷺ لپاره د جنابت څخه علاوه بل يو شی مانع د قرآن نه وو، د دې حديث مبارک څخه په حالت کي د جنابت د قرآن پاک د تلاوت عدم جواز ثابتيږي او حالت د حيض او نفاس هم پر دې قياسيږي، د ترمذي شريف په يو روايت کي عليه السلام تصريح کړي ده (لاَ تَقْرَأُ الْحَائِضُ وَلاَ الْجُنُبُ شَيْئًا مِّنَ الْقُرْآن) البته که چېري د يو پوره آيت څخه کم وي نو د اکثرو فقهاؤ په نز يې ويل جائز دی ولي چي قليل مقدار ويلو والا ته قرائت ويلو والا نه ويل کيږي، ځينو بيا د يوه آيت څخه په کم مقدار هم د عدم جواز فتوی کړي ده ولي چي د عليه السلام حديث عام دی او په دې کي د قليل او کثير د مقدار هيڅ قيد نسته، د مصنف رحمه الله په نز اول قول راجح دی ولي چي په لمانځه کي هم د يوه آيت څخه په کم قرائت باندي فرض نه ادا کيږي.

دغه ډول الحمد لله شريفه په طور د دعا يا د دعا سره مشابه بل آيت مثلاً" رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ په ويلو سره يا د خوشالی په وخت کي الحمدلله يا د غم په وخت کي" انا لله وانا اليه راجعون "په ويلو کي هيڅ ګناه نسته ولي چي دلته د قاري نيت د دعا ويلو نه دی، نو د قاري و نيت ته اعتبار کيږي.

د دعائي قنوت ويل هم د اصح قول مطابق په حالت کي د جنابت وغيره مکروه نه

دی، دغه ډول کوچيانو ته د تعليم په وخت کي يو حرف يا د جوړ سره ويل مکروه نه دي، امام طحطاوي ترنيم آيته پوري د جواز قائل دی، ولي چي د دې پوري يو ځوک هم قاري د قرآن نه بلل کيږي، څه ډول چي جنب، حائضه او نفساء لپاره د قرآن پاک مسح کول جائز نه دي دغه ډول د قرآن پاک ليکل هم نه دي جائز، البته د خانيو پر قول باندي يې دومره ګنجائش سته که چيري کاغذ يا تختۍ په مځکه باندي ايښي وي، يا قرآن پاک په داسي پوښ کي نغښتی وي چي جلا کيدی سي نو لاس وروړل جائز دي، که پر قرآن پاک پوري ګنډلی وي نو دې غلاف ته د جنبي، حائضه، نفساء او د بې اودسه لاس وروړل جائز نه دی.

د قرآن پاک څخه علاوه د فقهي کتابونه، تفسيرونه، او نورو کتابو لپاره هم طهارت بهتر دی البته د قرآن حکيم په حکم نه، ولي د علماؤ او طالبانو لپاره د دې کتابو د مسح کولو زيات ضرورت دی، د قرآن پاک حفظ هم کولی سي پر دې بنا چي د بې اودسه لپاره بغير د مسح کولو زباني تلاوت جائز دی.

د قرآن پاک په مثل نور اسماني کتابونه زبور، تورات، او انجيل هم بغير د طهارته مسح کول مکروه دي ولي چي دا کتابونه د اول څخه تر آخره پوري ټول تحريف شده دي، تحريف کړل سوي مواضع غير معين دي نو د دې لپاره د ټول کتاب تعظيم پکار دی، البته منسوخه ټول دي مګر د منسوخيت په وجه يې تعظيم نسي کېدی لکه څنګه چي په قرآن پاک کي منسوخه آياتونه قابل د تعظيم دي.

وَاِذَا اَرَادَ الْجُنُبُ الْاَكْلَ وَالشُّرْبَ يَنْبَغِيْ لَهُ اَنْ يَغْسِلَ يَدَيْهِ وَفَاهُ ثُمَّ يَاْكُلُ وَيَشْرَبُ وَيُكْرَهُ كِتَابَةُ الْقُرْاٰنِ وَاَسْمَآءُ اللهِ تَعَالٰى عَلَى الْمُصَلّٰى وَيُكْرَهُ دُخُوْلُ الْمَخْرَجِ وَفِيْ اِصْبَعِهِ خَاتِمٌ فِيْهِ شَيْءٌ مِّنَ الْقُرْاٰنِ لِمَا فِيْهِ مِنْ تَرْكِ التَّعْظِيْمِ وَكَذَا لَايَجُوْزُ لَهُمْ دُخُوْلُ الْمَسْجِدِ سَوَآءٌ دَخَلُوْا لِلْجُلُوْسِ اَوْ لِلْعُبُوْرِ وَقَالَ الشَّافِعِيُّ يَجُوْزُ

لَهُمُ الدُّخُوْلُ لِلْعُبُوْرِ وَإِذَا احْتَلَمَ فِي الْمَسْجِدِ تَيَمَّمَ لِلْخُرُوْجِ وَإِنْ خَافَ يَجْلِسُ مَعَ التَّيَمُّمِ وَلٰكِنْ لَا يُصَلِّيْ وَلَا يَقْرَءُ الْقُرْآنَ.

ژباړه: كه جنب انسان د خوراک څښاک اراده وكړي نو د مخ لاس پرېولو وروسته دي خوراک څښاک وكړي، د قرآن پاک تلاوت، اسمائي حسناء په مصلي ويل مكروه دي او بيت الخلا ته په داسي وخت كي ورتلل چي په ګوته كي يي داسي ګوتمۍ وي چي پرهغه د قرآن پاک آيت نويشته وي نود تعظيم لازموالي په وجه مكروه دی، دا ډول هغه جنب، حائضه او نفساء لپاره ومسجد ته داخليدل جائز نه دي كه د ناستي په نيت يي يا د تيرېدو لپاره وي، امام شافعي رحمه الله وايي چي د تېرېدلو په نيت داخلېدل دوی ته جائز دي.

كه چېري په مسجد كي احتلام وسي نو د وتلو لپاره تيمم وهل دي، او كه خوف وي نو په مسجد كي دي ووسي مګر په دې تيمم سره دي لمونځ او تلاوت نه كوي.

تشريح: په حالت كي د جنابت كه چېري خوراک څښاک د زړه وغواړي نو مخ لاس پرېولل مستحب دي، ځينو علماؤ ويلي دي چي په حالت كي د جنابت د خوړو او څښلو څخه تنګدستي پېدا كيږي، په هر هغه ځای كي قرآني آياتونه، حادثونه، اسمائي حسنی او اسمای رسول ليكل چي چېري يي د توهين احتمال وي هلته يي ليكل مكروه دي.

چونكي پر مصلي يعني پرمسئله باندي كله كله د لمانځه علاوه هم ناسته كيږي نو د دې لپاره ليكل نه دي پكار ولي چي د عظمت خلاف دی البته كه په جيب كي يا په يوې كپړې، لفافه. پوښ يا داسي بل شي كي نغښتی وي چي په ظاهري ډول په نظر نه سي را نو په دې كي هيڅ قباحت نسته، البته احتياط بياهم بهتر د، د جنب، حائضې او نفساء لپاره هم مسجد ته داخليدل نه دي جائز.

که یوچا ته په مسجد کي احتلام راسي نو تیمم دي وکړي او د مسجد څخه دي ووزي، که د مسجد څخه دباندي د یو حیوان یا د غلـه بیره وي نو د ضرورت په بنا باندي په مسجد کي د تیمم سره کښني نستی سي مګر په دې تیمم سره لمونځ او تلاوت د قرآن پاک نه دی جائز.

فصل في التيمم

وَلِلتَّيَمُّمِ رُكْنٌ وَشَرْطٌ لَابُدَّ مِنْ مَّعْرِفَتِهَا اَمَّا رُكْنُهُ فَضَرْبَتَانِ ضَرْبَةٌ لِلْوَجْهِ وَضَرْبَةٌ لِلذِّرَاعَيْنِ يَعْنِيْ يَدَيْهِ اِلَى الْمِرْفَقَيْنِ وَصِفَتُهُ اَنْ يَّضْرِبَ يَدَيْهِ عَلَى الْاَرْضِ اَوْ عَلٰى مَاهُوَ مِنْ جِنْسِ الْاَرْضِ ضَرْبَةً وَّاحِدَةً مُّتَفَرِّجًا اَصَابِعَهُ فَيَنْفُضُهُمَا مَرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ فَيَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ ثُمَّ يَضْرِبُ ضَرْبَةً اُخْرٰى فَيَنْفُضُهُمَا وَيَمْسَحُ الْيُمْنٰى بِالْيُسْرٰى وَالْيُسْرٰى بِالْيُمْنٰى مِنْ رُءُوْسِ الْاَصَابِعِ اِلَى الْمِرْفَقَيْنِ وَاِسْتِيْعَابُ الْعُضْوَيْنِ بِالْمَسْحِ وَاجِبٌ عِنْدَ الْكَرْخِيِّ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ عَنْ اَصْحَابِنَا حَتّٰى لَوْ تَرَكَ شَيْئًا قَلِيْلاً مِّنْ مَّوَاضِعِ التَّيَمُّمِ لَايُجْزِيْهِ وَرُوِيَ الْحَسَنُ بِنْ زِيَادٍ عَنْ اَصْحَابِنَا اَنَّ الْاِسْتِيْعَابَ لَيْسَ بِوَاجِبٍ حَتّٰى لَوْتَرَكَ اَقَلَّ مِنَ الرُّبُعِ يُجْزِيْهِ وَعَلٰى هٰذِهِ الرِّوَايَةِ نَزْعُ الْخَاتِمِ وَالسِّوَارِ وَتَخْلِيْلُ الْاَصَابِعِ لَايَجِبُ وَعَلٰى تِلْكَ الرِّوَايَةِ يَجِبُ وَيَنْبَغِيْ اَنْ يُّحْتَاطَ وَرُوِيَ عَنْ مُحَمَّدٍ لَوْتَرَكَ ظَهْرَ كَفَّيْهِ بِلاَ مَسْحٍ لَايُجْزِيْهِ وَمَقْطُوْعُ الْيَدَيْنِ مِنَ الْمِرْفَقَيْنِ اِذَا تَيَمَّمَ يَمْسَحُ مَوْضِعَ الْقَطْعِ.

ژباړه: د تیمم لپاره ارکان او شروط سته چي د هغو پېژندل ضروري دي، رکن دوه واره لاس وهل دي، یو وار د مخ لپاره او یو وار د څنګلو لپاره، د تیمم طریقه داده چي دواړه لاسونه پر مځکه یا په هغه شي سره چي د جنس څخه د مځکي وي، یو وار د خلاصو ګوتو په حالت کي ووهي او وروسته د دې دي یو یا دوه واره وڅنډي یا دي تول مخ په مسحه کړي، بیا دي یو وار ووهي او دواړه لاسونه دي وڅنډي او

راسته لاس د چپه لاس او چپه لاس د راسته لاس د ګوتو په سرو سره ترځنګلو پوري دي مسح کړي او په مسح کي دواړه اعضاء مخ، لاس پوره احاطه کول دي.

د امام کرخي رحمه الله په نز تيمم واجب دی لکه څنګه چي زموږ د اصحابو حنفيو څخه ظاهر روايت هم دغه دی، تر دې پوري که چېري يوڅه ځای هم پاته سي نو تيمم نه کيږي ، حسن ابن زياده زموږ د اصحابو څخه روايت کړی دی چي پوره احاطه کول واجب نه دي تر دې پوري که چېري د څلورمي څخه کم د اندام مسح پاته سي لا تيمم کيږي، په دې روايت سره د ګوتمی او بنګړي، کړی ايستل او خلالول واجب نه دي، په اول روايت سره واجب دي او مناسب احتياط هم دغه دی، د اما محمد رحمه الله څخه روايت دی که چېري د څنګلو د ظاهر مسح پاته سي نو تيمم جائز نه دی او د چا چي دواړه لاسونه ترځنګلو پوري پرې وي نو چي کله تيمم وهي په پرې سوي ځايو دي مسح وکړي .

تشريح: مصنف رحمه الله د اوداسه او د غسل د بيان د فراغت څخه وروسته اوس د تيمم بيان کوي، د تيمم لغوي معنٰی د مضبوطي ارادې ده، په اصطلاح کي د شريعت د خاورو څخه پاکي حاص لولوته ويل کيږي، د تيمم ثبوت د قرآن پاک آيت دی (فَلَمْ تَجِدُوْا مَاءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا)، او عليه السلام حديث مبارک، دی چي تيمم د مسلمانانو لپاره د پاکی ذريعه ده که څه هم ترشپږو لسو کالو پوري وي .

د دې مفهوم د نورو احاديثو مبارکو څخه هم تيمم ثابت دی. په تيمم کي دوه فرض دي يو رکن چي د دواړو لاسو پر مځکه دوه واره وهل دي او يو شرط يعني نيت .

د تيمم مسنونه طريقه داده چي يو وار په پاکه مځکه دواړه لاسونه ووهی او د پورته کولو وروسته يو يا دوه واره يې وڅنډی د دې لپاره چي کومي خاوري په لاسو

مښتي وي هغه کښته سي او مخ ډېر په ګرز په خاوره ککړ نه سي، وروسته د ذې تولو مخ په لاسو سره مسح کړي، دوهم وار لاسونه په مځکي د وهلو وروسته راسته لاس په چپه او چپه لاس په راسته سره مسح کړي نو تيمم پوره سو .

مګر څنګه چي په اوداسه کي د مخ او د دواړو لاسو پوره احاطه ضروري ده چي يو ځای هم خالي نه سي پاته، دغه ډول په تيمم کي هم د دواړو اندامو پوره مسح کول واجب دي، زموږ د آئمه حنفيه څخه په ظاهرو متونو کي دغه منقول دي مګر حسن ابن زياد د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله څخه دا هم نقل کړي دي چي که چېري د څلورمي څخه کوم اندام پاته سي نو تيمم کيږي .

د هر اندام په ګلي طور سره مسح کول ضروري نه دي لکه څنګه چي په نورو ممسوحاتو يعني د سر او موزو په مسح کي استيعاب واجب نه دی بلکي د سر څلورمه حصه او په موزو کي د درو ګوتو په مسح سره فرض پوره کيږي، مګر حتياط د امام کرخي رحمه الله په روايت کي دی چي استيعاب واجب دی، که څه هم دا سح ده مګر د تيمم مسح د پرېولو قائم مقامه ده کله چي د اودس کولو څخه عضاء پرېولل متعذر سي نو تيمم کيږي او د موزو د مسحي څخه د پښو پرېولل ساقطيږي، نه دا چي د قائم مقام په حيثيت سره کيږي .

وَاَمَّا شَرْطُهُ فَالنِّيَّةُ فَلاَ يَجُوزُ بِدُوْنِهَا وَكَذَا طَلَبُ الْمَآءِ اِذَا غَلَبَ عَلٰى ظَنِّهِ اَنَّ هُنَاكَ مَآءً اَوْ كَانَ فِي الْعِمْرَانَاتِ اَوْ اُخْبِرَ بِهِ وَجَبَ الطَّلَبُ بِالْاِجْمَاعِ وَاِنَّمَا الْخِلاَفُ فِيْمَا اِذَا لَمْ يَغْلِبْ عَلٰى ظَنِّهِ اَوْ لَمْ يُخْبِرْ بِهِ اِنْسَانٌ اَوْ كَانَ فِي الْفَلْوَاتِ عِنْدَنَا لاَيَجِبُ خِلاَفًا لِلشَّافِعِيِّ وَلَوْ اَخْبَرَ اِنْسَانٌ بِعَدَمِ الْمَآءِ جَازَ بِلاَ خِلاَفٍ.

ژباړه: د تيمم نيت شرط دی چي د ذې بغير جائز نه دی دغه ډول د اوبو طلب کول

که چېري غالب گمان دا وي چي اوبه به پيدا سي که په ابادۍ کي وي، يا د اوبو خبر ورکړل سوی وي نو بالاجماع طلب کول يې واجب دي، اختلاف په دې کي دی چي کله گمان نه وي يا چا خبر نه وي ورکړی يا په صحرا کي وي نو زموږ په نز طلب واجب نه دی ، خلافا للشافعي رحمه الله که چېري څوک د اوبو د نيستی اطلاع ورکړي نو بلا خلاف جائز دی .

تشريح: د تيمم لپاره نيت شرط د طهارت دی، امام زفر رحمه الله وايي چي کله په اوداسه کي نيت طهارت فرض نه دی نو تيمم کوم چي د اوداسه قائم مقام دی په دې کي هم فرض کول د نيت صحيح نه دی .

موږ جواباً وايو چي د لفظ تيمم څخه خپله د نيت معنٰی څرگندېږي، ولي چي د تيمم معنٰی قصد او اراده کول دي، خاوره خلقتًا لپاره د تطهير نه ده نو خاوره لپاره د طهارت بغير د نيته څنگه استعمال کېدی سي؟ د دې لپاره که څوک په تيزو دوړو کي ودرېږي او د ده پر مخ او لاسو گرزونه ولگېږي يا چا ته يې د ښوولو لپاره تيمم ووهی او په خپله يي نيت د طهارت نه وو نو دا سړی شرعاً متيمم نه بلل کيږي، البته صرف نيت د طهارت فرض دی او تخصيص ضروري نه دی.

که دا تيمم خاص لپاره د اودس او يا لپاره د جنابت وي، که چېري يې غالب گمان داوي چي نژدې به اوبه پيدا سي په ابادۍ کي نو چي غالب گمان يې دا کيږي او دا ابادي دلته قائمه ده نو لازماً د اوبو انتظام به هم وي يا يو عادل سړي دا خبر ورکړ چي په فلاني ځای کي اوبه سته نو بغير د تلاش کولو تيمم جائز نه دی .

فقهاؤ کرامو ليکلي دي چي غشی کله د کمان څخه ووزي نو تقريباً د درې سوه څخه تر څلور سوه قدمو پوري ځي، دغه ډول د څلور سوه قدمه پوري د اوبو تلاش ضروري دی، د دې بغير تيمم جائز نه دی البته که چېري غالب گمان دا وي چي دلته د ابو وجود ممکن نه دی او نه ابادي وي نه يو چا يقيني خبر کړی وي نو د احنافو

رحمهم الله تعالی په نز طلب واجب نه دی ، د امام شافعي رحمه الله په نزدي بيا هم د طلب ضروري خيال کوي، که چېري څوک د ابو د نيستی يقيني خبر ورکړي نو بالاتفاق طلب واجب نه دی .

وَكَذَا مِنْ شُرُوْطِهِ عَجْزُهُ مِنْ اِسْتِعْمَالِ الْمَآءِ حَتّٰى اَنَّ الْمَرِيْضَ اِذَا خَافَ زِيَادَةَ الْمَرَضِ اَوْ اِبْطَاءِ الْبُرْءِ جَازَلَهُ التَّيَمَّمُ وَذَكَرَ الْاِسْبِيْجَابِيُّ فِيْ شَرْحِهِ جُنُبٌ عَلٰى جَمِيْعِ جَسَدِهِ جِرَاحَةٌ اَوْ عَلٰى اَكْثَرِهِ اَوْ بِهِ جَدَرِيٌّ فَاِنَّهُ يَتَيَمَّمُ وَلَايَجِبُ عَلَيْهِ غَسْلُ الْمَوَاضِعُ الَّذِيْ لَاجِرَاحَةَ بِهِ وَكَذَالِكَ اِذَا كَانَ عَلٰى اَعْضَآءِ الْوُضُوْءِ كُلِّهَا اَوْ اَكْثَرِهَا جِرَاحَةٌ يَتَيَمَّمُ وَاِنْ كَانَ عَلٰى اَقَلِّهَا جِرَاحَةٌ وَاَكْثَرُهَا صَحِيْحٌ فَاِنَّهُ يَغْسِلُ الصَّحِيْحَ وَيَمْسَحُ عَلَى الْمَجْرُوْحِ اِنْ لَّمْ يَضُرَّهُ الْمَسْحُ وَاِنْ كَانَ يَضُرُّهُ الْمَسْحُ مَكْشُوْفَةً يَرْبِطُ عَلَيْهِ الْجَبِيْرَةَ وَيَمْسَحُ فَوْقَهُ وَاِنْكَانَ لَايَضُرُّهُ يَمْسَحُ عَلَى الْجِرَاحَةِ.

ژباړه: دغه ډول د تيمم په شرائطو کي د اوبو د استعمال څخه عاجزه کيدل تر دې پوري چي ناروغ ته په زياتوب د مرض يا په ځنډ د جوړېدو انديښنه وي نو د هغه لپاره تيمم جائز دی .

اسبيجابي په خپله شرح کي بيان کړی دی وايي که چېري د جنب انسان په ټوله بدن يا په اکثره بدن زخم وي يا دانې وي نو تيمم دي ووهي او په ماينځ کي د جوړو ځايونو پرېولل واجب نه دي، دغه ډول که چېري په ټوله اعضاء د اوداسه په اکثرو ځايو باندي زخم وي نو تيمم دي ووهي، که زخم کم وي او اکثره جوړ وي نو چي کوم جوړ وي هغه دي پرېولي او په زخمي اندامو که چېري ضرر نه وي نو مسح دي وکړي او که په خلاص زخم کولو کي تکليف رسيږي نو وروسته د پټی د ترلو دي مسح

وکړي او که ضرر نه وي نو په زخم دي مسح وکړي.

تشریح: د قرآن پاک آیت دی (وَاِن کُنتُم مَرضٰی) الفاظو څخه دا خبره په ظاهري طور ثابتیږي چي مرض د تیمم لپاره شرط دی، نو باقي عذرو په وخت تیمم د دې لپاره جائز دی چي ځیني عذرونه د مرض څخه هم زیات لوی وي نو چي کله په مرض کي تیمم جائز دی نو د مرض په مثال د نورو عذرو د وجي څخه هم تیمم جائز دی ولي چي الله تعالی ویلي دي چي (مَایُرِیدُ اللّٰهُ لِیَجعَل عَلَیکُم مِن حَرَجٍ) که چیري د اوداسه په وجه زیادت د مرض یا په جوړېدلو کي د تاخیر خوف وي نو د احنافو رحمهم الله په نز تیمم جائز دی، د دې لپاره اسبیجابي په خپله شرحه کي لیکلي دي که چیري د جنب انسان په ټوله یا په اکثره جسم زخم یا دانې وینو هغه په اوبو لګېدلو سره تکلیف رسیږي، دغه ډول په اوداسه کي هم نو تیمم دي ووهي، په قلیل مقدار هغه مواضع چي جوړ وي د هغوی پرېولل واجب نه دی ولي چي زموږ په نز پرېولل او تیمم دواړه نه سي جمع کېدی، بلکي د اکثرو اعتبار کولو سره صرف عمل باندي کیږي.

وَالْجُنُبُ الصَّحِيْحُ فِي الْمِصْرِ اِذَا خَافَ اِنِ اغْتَسَلَ اَنْ يَّقْتُلَهُ الْبَرْدُ اَوْ يُمَرِّضَهُ يَتَيَمَّمُ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَاِنْ كَانَ خَارِجَ الْمِصْرِ يَتَيَمَّمُ بِالْاِتِّفَاقِ وَاِنْ خَرَجَ مُسَافِرًا اَوْ مُحْتَطِبًا اَوْ خَرَجَ مِنْ قَرْيَةٍ اِلٰى قَرْيَةٍ يَجُوْزُ لَهُ التَّيَمُّمُ اِنْ كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمَآءِ نَحْوُ مِيْلٍ اَوْ اَكْثَرُ وَالْمِيْلُ اَرْبَعَةُ اٰلَافِ خُطْوَةٍ وَكُلُّ خُطْوَةٍ ذِرَاعٌ وَنِصْفُ ذِرَاعٍ وَكُلُّ ذِرَاعٍ اَرْبَعَةٌ وَعِشْرُوْنَ اِصْبَاعًا وَهُوَ اَرْجَحُ وَهُوَ ثُلُثُ الْفَرْسَخِ سَوَآءٌ خَرَجَ مِنَ الْمِصْرِ اَوِ الْقَرْيَةِ جُنُبًا اَوْ اَجْنَبَ بَعْدَ الْخُرُوْجِ.

ژباړه: په جسماني طور باندي جوړ جنب انسان که چیري په ښار کي: اوسېدو په

حالت د غسل کولو په وجه سره مرني يا د ناروغۍ خوف لري نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نز دي تيمم ووهي، که چېري د ښار څخه دباندي وي نو بالاتفاق تيمم وهلی سي، که د سفر په اراده د کور څخه ووزي يا د لرګيو لپاره يا د يوه کلي څخه د بل کلي طرف ته روان وي نو د هغه لپاره تيمم جائز دی په دې شرط چي د هغه او د اوبو په مابينځ کي د يوه ميل فاصله وي يا د دې څخه زياته وي، ميل څلور زره قدمه دی او هر قدم يونيم ګز دی او هر ګز ۲۴ اينچه دی، بهتر دغه قول دی او ميل د يوه فرسخ (۱/۳) دی، که دښار يا د کلي څخه په حالت کي د جنابت وتلی وي يا د وتلو وروسته جنوب سوی وي.

تشريح: که په اٰبادۍ کي جنوب انسان ته دا خوف لاحق وي که زه په يخو اوبو سره غسل وکړم نو هلاک يا به ناروغه سم نو د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله په نز په ښلذۍ کي د اوسېدلو په حالت کي هم تيمم جائز دی ولي د چا لپاره چي په اٰبادۍ کي د ګرمو اوبو انتظام نه سي کېدی نو د هغه په حق کي صحرا او اٰبادي برابر دي.

صاحبين رحمهم الله په غالب حالت د حکم کولو سره ويلي دي چي چونکي په اکثرو اباديو کي د ګرمو حمامو انتظام وي نو د دې لپاره په اباديۍ کي د يخ د ييري څخه د غسل په ځای تيمم وهل جائز نه دی، البته د اٰباديو څخه د وتلو په حالت کي بالاتفاق تيمم وهل جائز دی.

دغه ډول که څوک د شرعي په‌اندازه مسافر نه وي، د خپل يار يا د يوچا د ملاقات لپاره يا د محنت مزدورۍ. مثلاً لرګي راوړلو لپاره ووزي او د لمانځه وخت سي نو اوبه که چېري د يويه ميل يا د دې څخه په زياته فاصله وي نو تيمم جائز دی، او که فاصله د يوه ميل څخه کمه وه نو جائز نه دی که څه هم اوبوته ته په رسېدلو کي د لمانځه فوت کېدلو خوف وي، د ميل مقدار د فقهاؤ کرامو د راجح قول مطابق څلور زره قدمه او هر قدم يو نيم ګز يعني د شرعي په‌ګز سره شپږ زره ګزه کيږي، شرعي ګز

د موجوده زمانې د حساب څخه اتلس اينچه يعني يو نيم فټ دی، د شرعي ميل په باره کي د پوره تحقيق او څېړني سره د آئمه وو اختلافي اقوالو لپاره (احسن الفتاویٰ، باب صلوٰة المسافر جلد څلورم کتلی سئ).

وَاِنْ كَانَ مَعَهُ مَآءٌ فِيْ رَحْلِهٖ فَنَسِيَهُ وَتَيَمَّمَ وَصَلّٰى ثُمَّ تَذَكَّرَ فِي الْوَقْتِ لَمْ يُعِدْ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ وَعِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ يُعِيْدُهَا وَاِنْ تَذَكَّرَ بَعْدَ خُرُوْجِ الْوَقْتِ لَمْ يُعِدْ فِيْ قَوْلِهِمْ جَمِيْعًا وَاِذَا تَيَمَّمَ وَصَلّٰى وَالْمَآءُ قَرِيْبٌ مِّنْهُ وَهُوَ لَايَعْلَمُ وَلَايَظُنَّ اَجْزَاهُ وَاِنْكَانَ مَعَ رَفِيْقِهٖ مَآءٌ لَايَجُوْزُ لَهُ التَّيَمُّمُ قَبْلَ اَنْ يَّسْئَلَ اِذَا كَانَ غَالِبُ ظَنِّهٖ اَنَّهُ يُعْطِيْهِ وَاَمَّا اِذَا كَانَ غَالِبُ ظَنِّهٖ اَنَّهُ لَمْ يُعْطِهٖ وَلَمْ يَسْئَلْ وَتَيَمَّمَ وَصَلّٰى جَازَ وَاِنْ تَيَمَّمَ قَبْلَ اَنْ يَّسْئَلَ وَصَلّٰى ثُمَّ سَئَلَ فَاَعْطٰى يَلْزَمُهُ الْاِعَادَةُ وَاِذَا كَانَ غَالِبُ ظَنِّهٖ اَنَّهُ يُعْطِيْهِ وَلَمْ يَسْئَلْ وَتَيَمَّمَ قَبْلَ اَنْ يَّسْئَلَ وَصَلّٰى ثُمَّ سَئَلَ فَاَعْطٰى يَلْزَمُهُ الْاِعَادَةُ وَاِذَا كَانَ غَالِبُ ظَنِّهٖ اَنَّهُ يُعْطِيْهِ وَلَمْ يَسْئَلْ وَتَيَمَّمَ قَبْلَ اَنْ يَّسْئَلَ وَصَلّٰى ثُمَّ اَعْطٰى لَهُ يَلْزِمُهُ الْاِعَادَةُ.

ژباړه: که چېري يې په خپل سامان کي اوبه ايښي وي بيايې ايري سوي وي، نو د تيمم سره يې لمونځ وکړ او د لمانځه په وخت کي اوبه ورپه ياد سوي نو د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نز اعاده نسته. د امام يوسف رحمه الله په نز بيا د لمانځه اعاده سته، که چېري د وخت د اختتام وروسته ورپه ياد سي نو بالاتفاق اعاده نسته.

که په تيمم سره لمونځ وکړي او اوبه نژدي وي مگر لمونځ کونکي ته معلومي نه وي او نه يې گمان وي نو لمونځ يې جائز دی، که چېري د سفر د ملگري سره اوبه وي

او د ورکولو يې غالب ګمان وي نو د اوبو د غوښتلو څخه د مخه تيمم نه دی جائز که غالب ګمان يې د نه ورکولو وي نو يې د غوښتلو بغيره په تيمم سره لمونځ وکړ نو جائز دی، که چېري د غوښتلو ترمخه په تيمم سره لمونځ وکړي د هغه وروسته يې وغوښتلي او ورېي کړي نو د لمانځه اعاده لازمه ده او کله چې يې غالب ګمان دا وي چې ور به يې کړي او د غوښتلو بغيره يې په تيمم سره لمونځ وکړ د هغه وروسته يې اوبه ورکړي نو اعاده يې لازمه ده.

تشريح: د مسافر که چېري په خپل سامان کي اوبه ايري سي او په تيمم سره د لمونځ کولو وروسته يې په يادي سي نو که چېري د ادا کړل سوي لمانځه وخت تر اوسه پوري باقي وي د طرفينو په نز د لمانځه اعاده نسته، امام يوسف رحمه الله وايي چې د وخت د بقا په صورت کي يې اعاده ضروري ده ولي چې اکثره داسي کيږي چې د مسافر په سامان کي اوبه موجودي وي نو مسافر لره پکار وه چې د تيمم څخه ترمخه يې په خپل سامان کي اوبه تلاش کړي واى او کله چې هغه بغير د تلاشه په تيمم سره لمونځ وکړ نو اعاده يې ضروري ده.

طرفين وايي چې د مسافرو په سامان کي موجودي اوبه عموماً د څښلو لپاره يې کومي چې د اودس په حق کي مفقودي شماريل کيږي نو د دې لپاره په سامان کي د اوبو تلاش کول ضروري نه دی، که چېري بغير د تلاشه په تيمم سره يې لمونځ وکړ نو اعاده واجب نه ده البته د آئمه وو د اختلاف څخه د ځان ساتلو لپاره اعاده بهتره ده، اختلاف په صورت کي دی چې په سامان کي يې اوبه خپله ايښي وي يا بل چا د ده په حکم باندي ايښي وي، که چېري د ده د ويلو بغير بل چا ايښي وي نو بالاتفاق اعاده لازمه نه دده.

دغه ډول که چېري د وخت د وتلو وروسته يې په ياد سي نو بالاتفاق اعاده يې نسته او اوبه که چېري معلومي نه وي چې دلته په لږ فاصله باندي اوبه موجودي

دي نو د لاعلمي په وجه يي په تيمم سره لمونځ وكړ نو جائز دی، چي نژدې نهر بهېږي او هغه ته معلوم نه وي .

وَاِنْ كَانَ لَايُعْطِيْهِ اِلاَّ بِالثَّمَنِ فَاِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُ ثَمَنٌ تَيَمَّمَ بِالْاِجْمَاعِ وَلَوْكَ نَ مَعَهُ مَالٌ زِيَادَةٌ عَلٰى مَا يَحْتَاجُ اِلَيْهِ فِي الزَّادِاِنْ بَاعَهُ بِمِثْلِ الْقِيْمَةِ اَوْ بِغَبْنٍ يَسِيْرٍ لَايَجُوْزُ لَهُ التَّيَمُّمُ وَاِنْ بَاعَهُ بِغَبْنٍ فَاحِشٍ تَيَمَّمَ وَالْغَبْنُ الْفَاحِشُ مَا لَايَدْخُلُ تَحْتَ تَقْوِيْمِ الْمُقَوِّمِيْنَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ تَضْعِيْفُ الثَّمَنِ وَعَنْ نَصِيْرِبْنُ الصَّفَّارِ اَنَّ الْمُسَافِرَ اِذَا كَانَ فِيْ مَوْضِعٍ عَزَّ الْمَاءُ فِيْهِ فَالْاَفْضَلُ اَنْ يَسْئَلَ عَنْ رَفِيْقِهِ وَاِنْ لَّمْ يَسْئَلْهُ وَتَيَمَّمَ وَصَلّٰى اَجْزٰهُ وَاِنْ كَانَ فِيْ مَوْضِعٍ لَايُعِزُّ الْمَآءُ فِيْهِ لَا يَجْزِيْهِ قَبْلَ الطَّلَبِ كَمَا فِي الْعِمْرَانَاتِ.

ژباړه: كه چېري بغير قيمته اوبه نه وركوي او د هغه سره د اوبو قيمت نه وي نو بالاتفاق دي تيمم ووهي، كه په توښه كي د ضرورت څخه زائد مال موجود وي نو كه چېري په مناسب قيمت سره اوبه خرخيږي يا په لږ ګراني سره يي وركوي نو تيمم جائز نه دی .

كه يې د غبن فاحش څخه وركوي نو تيمم دي ووهي، د غبن فاحش څخه مراد هغه قيمت دی كوم چي د سوداګرانو د عام نرخ څخه ډېر زيات وي، ځينو د اصل قيمت د ګناه كولو ته غبن فاحش ويلی دی .

د نصير ابن صفار څخه روايت دی چي مسافر كه چېري په داسي علاقې كي وي چي هلته اوبه قيمتي وي نو بهتره ده چي د خپل ملګري څخه يې وغواړي، كه چېري يي بغير د غوښتلو لمونځ وكړ نو جائز دی او كه داسي ځای وي چي اوبه قيمتي نه

وي لکه په اباديو کي نو د غوښتلو ترمخه تيمم جائز نه دی.

تشريح: د مسافر ملگری که چيري او به قيمتاً ورکوي نو په دې کي دوه صورتونه دي يو دا چي د دې مسافر سره د سفرخرچۍ علاوه څه زائد مال موجود نه وي نو چونکي هغه په اوبو قادر نه دی لهٰذا د ده لپاره تيمم جائز دی، البته که چيري د ضرورت څخه زائد مال موجود وي نو اوبه د خپل مناسب او لږ زيات قيمت سره ورکوي نو دا مسافر په اوبو قادر دی د دې لپاره تيمم وهل جائز نه دی.

که د مناسب قيمت څخه په ډېر زيات نرخ يي خرڅوي نو په دې نامناسب قيمت سره اخستل يي ضروري نه دي ولي چي دا مال تلفول دي او د مال تلفول د ځان تلفولو په ډول مشکل دی، په دې کي په مسافر حرج واقع کيږي، لهٰذا په تيمم سره دي لمونځ وکړل سي ، د امام قاضي د قول مطابق غبن فاحش د گناه قيمت ته ويل کيږي چي د يوه درهم شی په دوه درهمه خرڅ سي.

رَجُلٌ مَعَهُ مَآءُ زَمْزَمٍ فِيْ قُمْقُمَةٍ وَقَدْ رَصَّصَ رَأْسَ الْاِنَـآءِ وَيَحْمِلُهُ لِلْعَطِيَّةِ اَوْ لِلْاِسْتِشْفَآءِ لَايَجُوْزُ لَهُ التَّيَمُّمُ وَلَوْ وَهَبَهُ لِاٰخَرَ وَسَلَّمَهُ اِلَيْهِ لَايَجُوْزُ لَهُ التَّيَمُّمُ عِنْدَنَا لِثُبُوْتِ الْقُدْرَةِ بِوَاسِطَةِ الرُّجُوْعِ كَذَا ذَكَرَهُ فِي الْمُحِيْطِ وَاِنْ كَانَ الْمَآءُ فِي الْبِئْرِ وَلَمْ يَكُنْ مَعَهُ دَلْوٌ اَوْ رَشَآءٌ هَلْ يَجِبُ عَلَيْهِ اَنْ يَّسْئَلَ رَفِيْقَهُ اَمْ لَا قَالُوْا لَايَجِبُ وَلَوْسَئَلَ فَقَالَ لَهُ انْتَظِرْ فَعِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ يَنْتَظِرُ اِلٰى اٰخِرِ الْوَقْتِ فَاِنْ خَافَ فَوْتَ الْوَقْتِ تَيَمَّمَ وَصَلّٰى وَعِنْدَهُمَا يَنْتَظِرُ وَاِنْ فَاتَ الْوَقْتُ وَكَذَا فِي الْعَارِيْ وَمَعَ رَفِيْقِهٖ ثَوْبٌ وَاَجْمَعُوْا عَلٰى اَنَّهُ فِي الثَّوْبِ لَايَنْتَظِرُ وَفِي الْمَآءِ يَنْتَظِرُ وَاِنْ فَاتَ الْوَقْتُ.

ژباړه: که د يو سړي سره په کوزه کي د زمزم اوبه وي هغه کوزه چي د هغې سر په

قلعي سره بند وي چي هغه‌په طور د شفاء حاصلولو لپاره وړي نو تيمم جائز نه دی.
كه چېري چاته يې‌په‌طور د بخشش وركړي وي نو زموږ په نز د قدرت د موجودګۍ په وجه تيمم د دې لپاره جائز نه دی چي په رجوع كولو سره خپل بخشش بيرته واخلي، دغه ډول په محيط كي هم‌ذكر دي.

كه چېري په ځاه كي اوبه موجودي وي مګر سولاغه‌ستل او رسۍ نه وي ورسره نو په هغه واجب دی چي د خپل ملګري څخه يي طلب كړي كه نه؟

وايي چي واجب نه دی كه چېري يي وغوښتل او هغه وويل چي انتظار وكړه نو د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نز تر آخر وخته پوري دي انتظار وكړي، وروسته كه چېري د وخت د ختمېدلو خوف وي نو په تيمم سره دي لمونځ وكړي، د صاحبينو په نز انتظار دي وكړي كه څه هم وخت ختم سي، دغه ډول لځ وي كه چېري د ده د ملګري سره كپړه موجوده وي مګر په دې كي اتفاق دی چي د كپړي انتظار دي نه كوي او په اوبو كي دي انتظار وكړي كه څه هم وخت ختم سي.

تشريح: كه يوسړی چاته د تحفې وركولو لپاره يا د څه مرض څخه د شفاء حاصلولو په غرض د خپل ځان سره په سفر كي اوبه وړسي او د دې لوښي سر په پخه طريقه سره بند كړي نو د ده لپاره تيمم جائز نه دی كه څه هم نوري اوبه موجودي نه وي ولي چي دا هم پاكي اوبه دي او په دې سره طهارت حاصلېدی سي، كه صفا اوبه د استعمال او د قدرت سره‌موجودي وي نو د جائزېدو شرائط پوره نه وي د تحفې او شفاء حاصلولو لپاره نور شيان هم په استعمال كي را وړلی سي.

دغه ډول كه چېري دا اوبه يو چاته هبه كړي نو د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله د مسلك مطابق د غيرذي رحم څخه په هبه كي رجوع كول جائز ده نو د هغه موهوب څخه اوبه بيرته په رجوع كولو سره حاصلېدی سي البته كه چېري ذي رحم ته يي هبه كړي وي نو رجوع نه ده جائز او د قدرت د نه حاصلېدلو په وجه تيمم جائز دی.

که په ځاه کي اوبه وي او د را ايستولو لپاره رسی او سولاغه موجوده نه وي نو رسی او سولاغه د چاڅخه غوښتل نه دي واجب مګر د دې باوجوده که چېري د چا څخه يې وغواړي او هغه ورته ووايي چي انتظار وکړه زه په لږ وخت کي تالره رسی او سولاغه را ورمه نو د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله په نز تر آخر وخته پوري انتظار مستحب دی او د وخت فوتېدو څخه ترمخه دي په تيمم سره لمونځ وکړي، د صاحبينو د قول مطابق انتظار واجب دی که څه هم د لمانځه وخت فوت سي.

وَمَنْ لَّمْ يَجِدْ مَآءً اِلاَّ سُؤْرَ الْحِمَارِ اَوِالْبَغْلِ يَتَوَضَّأُ بِهِ وَيَتَيَمَّمُ وَاَيُّهُمَا قَدَّمَ جَازَ وَلٰكِنَّ الْاَفْضَلَ اَنْ يَّبْدَءَ بِالْوُضُوْءِ وَمَنْ لَّمْ يَجِدْ اِلاَّ سُؤْرَ الْفَرَسِ فَعَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ رِوَايَتَانِ اِلٰى اَرْبَعَ رِوَايَاتٍ فِيْ رِوَايَةٍ مَشْكُوْكٌ وَفِيْ رِوَايَةٍ مَكْرُوْهٌ وَفِيْ رِوَايَةٍ طَاهِرٌ وَفِيْ رِوَايَةٍ نَجَسٌ وَالْفِتْوٰى عَلٰى اَنَّهُ طَاهِرٌ وَمَنْ لَّمْ يَجِدْ اِلاَّ نَبِيْذَا التَّمْرِ فَعِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ يَتَوَضَّأُ بِهِ وَلَايَتَيَمَّمُ وَعِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ يَتَيَمَّمُ وَلَايَتَوَضَّأُ بِهِ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا وَمَنْ لَّمْ يَجِدْ اِلاَّ عَصِيْرَ الْعِنَبِ لَايَتَوَضَّأُ بِهِ بِالْاِجْمَاعِ.

ژباړه: که د چا لپاره د خره او خچر د پسخوردې څخه علاوه نوري اوبه نه وي نو په دې اوبو دي اودس هم وکړي او ورسره دي تيمم هم وکړي او کوم يو چي مقدم کړي جائز دی مګر اول اودس کول افضل دی.

که يو چاته د آس د پسخوردې څخه علاوه نوري اوبه نه سي پيدا نو په دې باره کي د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله څخه تر دوو بيا تر څلورو پوري روايتونه دي، په يوه روايت کي مشکوک، په يوه کي مکروه، په يوه روايت کي پاک او په بل روايت کي ناپاکي دي او فتوی په پاکيدو کي ده.

که چاته د نبذ تمر (هغه اوبه په کومو چي خرما اينبودل کيږي او په هغوی کي د

خُرما خوږوالی راځي) څخه علاوه نوري اوبه نه سي پیدا نو د حضرت امام ابو حنیفهؒ په نز په دغه سره دي اُودس وکړي او تیمم دي نه وهي، د امام یوسفؒ په نز تیمم دي وهي او اودس دي نه کوي ،د امام محمدؒ په نز اودس او تیمم دواړه دي وکړي، چاته چي د انګورو د نیستېدلو اوبو څخه علاوه نوري اوبه نه وي پیداسوي نو بالاتفاق اودس دي نه کوي .

تشریح: د خره او د خچر په پسخوردو کي مختلف اقوال دي، د ځینو څخه طهارت او د ځینو سره نجاست ثابتیږي، نو په طهارت او نجاست سره په کوم یوه باندي یقیني حکم نه سي کېدی نو احتیاط په دې کي دی چي د اودس او تیمم دواړو حکم دي ورکړل سي، د آس په پسخورده کي د حضرت امام ابوحنیفهؒ څخه چونکي شاګردانو مختلف اقوال نقل کړي دي مګر صحیح قول د پاک دی، صاحبین هم د آس پسخوردې ته پاک ویلي دي ولي چي د پسخوردې حکم د غوښو تابع دی ، د حضرت امام ابو حنیفهؒ په نز کراماً چي دا اله جهاد دی، نو د دې لپاره یې غوښه خوړل بهتر نه دي .

بالاتفاق د آس پسخورده هم پاکه ده او په دې سره پاکي حاصلېدی سي په نبیذ تمر (یعني هغه اوبه په کومو چي د خرما خوږوالی راغلي وي) کي د آئمه وو د احنافو اختلاف واقع سوی دی چي په دې سره پاکي حاصلول جائز دي که نه؟ د حضرت امام ابوحنیفهؒ په نز په نبیذ تمر سره پاکي حاصلول جائز دي ولي چي په ابوداود او ترمذي شریف کي روایت دی چي عبدالله بن مسعودؓ وایي چي د لیلة الجن په موقع باندي علیه السلام ماته وویل چي په لوښي کي څه شی دی، ما ورته وویل چي نبیذ تمر دی نو علیه السلام وویل خُرما پاکي دي او اوبه یې هم پاکي دي نو په هغوی سره اودس وکړئ، مګر د امام یوسفؒ په نز په نبیذ تمر سره اودس کول جائز نه دی، د دې لپاره چي په آیت تیمم سره هغه دا حدیث منسوخ شماري، امام

محمد رحمه الله احتیاطاً د اودس او تیمم دواړو حکم وکړ چي د ناسخ لپاره د منسوخ څخه موخره کېدل ضروري دي، او د لیلة الجن وقوع تقریباً شپږ واره پیش سوي ده. څیني وخت په مکه مکرمه او څیني وخت په مدینه منوره کي، نو په صحیح طور معلومه نه ده چي حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د کوم وار ذکر کوي، د دې لپاره امام محمد رحمه الله احتیاطاً د دواړو جمع کولو قول کړی دی مګر فتوی د امام یوسف رحمه الله په قول ده چي د نبیز تمر څخه پاکي حاصلول جائز نه ده البته په نورو اشربه مثلاً د کجور وغیره کي د عدم اختلاف په بناء بالاتفاق اودس جائز نه دی.

جُنُبٌ وَجَدَ الْمَآءَ فِي الْمَسْجِدِ وَلَيْسَ مَعَهُ اَحَدٌ يَأْتِيْهِ بِهِ يَتَيَمَّمُ وَيَدْخُلُ فَاِنْ لَمْ يَصِلِ الْمَآءَ يَتَيَمَّمُ ثَانِيًا لِلصَّلٰوةِ لِاَنَّ نِيَّةَ التَّيَمُّمِ لِلصَّلٰوةِ شَرْطٌ لِصِحَّةِ التَّيَمُّمِ لِلصَّلٰوةِ وَكَذَا لَوْ تَيَمَّمَ لِمَسِّ الْمُصْحَفِ اَوْ لِقِرَاءَةِ الْقُرْاٰنِ عِنْدَ عَدَمِ الْمَآءِ لَاتَجُوْزُ بِهِ الصَّلٰوةُ بِخِلَافِ سَجْدَةِ التِّلَاوَةِ وَصَلٰوةِ الْجَنَازَةِ وَصَلٰوةِ النَّافِلَةِ فَاِنَّهُ يُصَلِّيْ بِذٰلِكَ التَّيَمُّمِ الْمَكْتُوْبَاتِ اَيْضًا وَلَوْ تَيَمَّمَ لِصَلٰوةِ الْجَنَازَةِ اَجْزَاهُ اَنْ يُّصَلِّيَ بِهِ الْمَكْتُوْبَاتِ.

ژباړه: که چېري جنب انسان ته په مسجد کي اوبه پیدا سي او د راوړلو والا بل څوک نه وي نو خپله دي تیمم ووهي او مسجد ته دي داخل سي که چېري د اوبو پوري رسایي نه وي نو د لمانځه لپاره دي دوباره تیمم ووهي، ولي چي لمونځ د تیمم لپاره نیت د لمانځه لپاره د صحت د تیمم شرط دی.

دا ډول قرآن پاک ته لاس وروړل یا د ویلو لپاره د اوبو په نامجودګی کي تیمم ووهي نو په دې تیمم سره لمونځ نه دی جائز، سجده تلاوت، د جنازي لمونځ یا د نفل په نیت سره کړي تیمم باندي فرض لمونځ کول جائز دي، د جنازي د لمانځه په تیمم باندي فرضي لمونځونه کول جائز دي.

تشريح: كه د مسجده څخه علاوه بل ځاى اوبه نسي پيدا نو لپاره د دخول مسجد د جنب لپاره تيمم وهل ضروري دي، ولي چي په مسجد كي د جنب، حائضه او نفساء داخليدل ممنوع دي، مګر په دې تيمم سره لمونځ كول كه څه هم نفل وي يا فرض جائز نه دي.

كه يو څوك ووايي چي په دخول د دواړو يعني د داخليدو اوكه ځيري اوبو ته رسايي نه سوى كيدى نو د دې وروسته يي د لمانځه نيت كړى وي نو جائز دى كه نه؟

په وخت د خول نيت كول جائز نه دى، د دې لپاره چي د اوبو څخه عجز ثابت نه وي تر هغه وخت پوري د تيمم نيت د لمانځه لپاره صحيح نه دى نو په وخت د دخول دا معلومه نه وه چي اوبو ته به زما رسايي كيږي كه نه، نو د دې لپاره په دې تيمم سره لمونځ نه دى جائز، دوباره په نيت د لمانځه تيمم وهل ضروري دى، البته كوم تيمم چي د سجده تلاوت، د جنازې لمانځه يا د نفل لمونځ لپاره كړل سوى وي نو په هغه سره فرض هم ادا كيږي.

رَجُلٌ فِي رَحْلِهِ مَآءٌ وَهُوَ لَايَعْلَمُ بِهِ فَتَيَمَّمَ وَصَلّٰى اِنْ كَانَ وَضَعَ الْمَاءَ بِنَفْسِهِ اَوْ وَضَعَهُ غَيْرُهُ بِاَمْرِهِ فَنَسِيَهُ ثُمَّ تَذَكَّرَ الْمَآءُ بَعْدَ فِرَاغِهِ مِنَ الصَّلٰوةِ فَهُوَ عَلَى الْخِلَافِ الَّذِىْ ذَكَرْنَاهُ وَاِنْكَانَ قَدْوَضَعَ غَيْرُهُ بِغَيْرِ اَمْرِهِ لَايُعِيْدُ الصَّلٰوةَ بِالْاِتِّفَاقِ وَاَمَّا الْعَارِىْ اِذَا نَسِىَ ثَوْبًا فِي الْمَتَاعِ فَمِنَ الْمَشَائِخِ مَنْ قَالَ هُوَ عَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ الْمَذْكُوْرِ وَمِنْهُمْ مَّنْ قَالَ لَاتَجُوْزُ بِالْاِتِّفَاقِ وَهُوَ الصَّحِيْحُ وَعَنْ مُحَمَّدٍ اَنَّهُ قَالَ يَجُوْزُ وَلَوْ تَيَمَّمَ وَهُوَ عَلٰى شَطِّ نَهْرٍ جَارٍ وَهُوَ لَمْ يَعْلَمْ بِالْمَآءِ فَهُوَ عَلَى الْخِلَافِ الَّذِىْ ذَكَرْنَاهُ

وَلَوْ كَفَّرَ عَنِ الْيَمِيْنِ بِالصَّوْمِ وَفِيْ مِلْكِهِ رَقَبَةٌ اَوْثِيَابٌ اَوْ طَعَامٌ فَنَسِيَهُ فَالصَّحِيْ
اَنَّهُ لاَيَجُوْزُ عِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ وَعِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ يَجُوْزُ وَيَسْتَحِبُّ لَهُ اَنْ يُؤَخِ
الصَّلٰوةِ اِلٰى اٰخِرِ الْوَقْتِ اِذَا كَانَ يَرْجُوْ وُجُوْدَ الْمَآءِ فِيْهِ ثُمَّ لاَيُفْرُطُ فِي التَّاخِّرُ حَتّٰ
لاَتَقَعَ الصَّلٰوةُ فِيْ وَقْتٍ مَكْرُوْهٍ وَلَوْ تَيَمَّمَ قَبْلَ دُخُوْلِ الْوَقْتِ جَازَ عِنْدَنَا.

ژباړه: د یو سړي په سامان کي اوبه موجودي وي مګر هغه ته نه وي معلومي نو په تیمم یې سره لمونځ وکړ که چېري دا اوبه ده خپله او یا بل چا د ده په حکم ایښي وي او د هغه ایري سي او وروسته د لمانځه یې په یاد سي نو دا مسئله په دغه خلاف ده چي ترمخه تیره سوه، که چېري د ده د حکم څخه بغیر بل چا ایښي وي نو بالاتفاق د لمانځه اعاده نسته.

او که د لڅ سړي په خپل سامان کي کپړې ایري سوي نو ځینو علماؤ دلته هم هغه هغه خلاف ذکر کړی دی کوم چي په اوبو کي دی، ځینو ویلي دي چي بالاتفاق جائز نه دی او دغه صحیح دی، د امام محمد رحمه الله څخه یو روایت دی چي هغه جائز وایي.

تشریح: د اوبو یا کپړې د ایرېدو په باره کي د احنافو علماؤ رحمهم الله اختلاف سره د دلائلو او د هغه تشریح اول تیره سوي ده، چي د هغه خلاصه داده چي د ایرېدو په صورت طرفین یعني امام ابو حنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نز لمونځ صحیح دی، د امام یوسف رحمه الله په نز بیا په دې صورت کي لمونځ نه دی جائز، البته ځینو علماؤ په دې مسئله کي د احنافو آئمه ؤ اتفاق هم نقل کړی دی چي دا ډول لمونځ جائز نه دی او دغه زیات صحیح قول دی، د احنافو آئمه ؤ او امام محمد بن ادریس الشافعی په دې خبري کي اختلاف دی چي په تیمم قبل از وقت لمونځ جائز دی که

نه، د آئمه احنافو په نز جائز دی ولې چې علیه السلام ویلي دي" الصعید الطیب طهور المسلم وفی روایة وضوء المسلم "دغه ډول یي ویلي دي چې" جعلت لی الارض مسجداً وطهوراً "یعني پاکه صافه خاوره د مسلمان پاکولو والا ده، الله تعالی مځکه زما لپاره مسجد د پاکۍ والا جوړ کړی دی نو لکه څنګه چې اوبه د پاکولو والا دي دغه ډول تیمم هم د پاکولو والا دی او په دې کې هیڅ شک نسته چې نائب د خپل د اصل عمل کوي، د نائب سره د اصل معامله کیږي نو چې کله په اودس قبل از دخول وقت لمونځ جائز وي نو تیمم هم مخکې د دخول تر وخته جائز دی .

وَلَوْكَانَ مَعَهُ مَآءٌ وَلٰكِنْ يَخَافُ عَلٰى نَفْسِهٖ اَوْ دَابَّتِهِ الْعَطْشَ يَجُوْزُ لَهُ التَّيَمُّمُ وَالْمَحْبُوْسِ فِى السِّجْنِ اِذَا مُنِعَ عَنِ الطَّهَارَةِ بِالْمَآءِ يُصَلِّىْ بِالتَّيَمُّمِ وَيُعِيْدُ مَا صَلّٰى عِنْدَ اَبِىْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ لَا يُعِيْدُ وَالْاَسِيْرُ فِىْ دَارِ الْحَرْبِ اِذَا مُنِعَ عَنِ الْوُضُوْءِ وَالصَّلٰوةِ يَتَيَمَّمُ وَيُصَلِّىْ بِالْاِيْمَآءِ ثُمَّ يُعِيْدُ مَا صَلّٰى وَالْمُسَافِرُ اِذَا خَافَ اللُّصُوصَ اَوْ قُطَّاعَ الطَّرِيْقِ وَلَا يَنْتَظِرُ رَفِيْقُهُ جَازَ لَهُ تَاْخِيْرُ الصَّلٰوةِ وَلَوْ صَلّٰى بِهٰذَا الْعُذْرَ بِالْاِيْمَاءِ جَازَ.

ژباړه: كه چېرې د چا سره اوبه وي او هغه د خپل یا د خپل د حیوان د تږې کیدو څخه بېرېږي او په جیل کې بند قیدي که چېرې د اوبو په ذریعه د پاکې حاصلولو څخه منعه کړي، نو په تیمم سره دې لمونځ وکړي او د طرفینو په نز دې د کړې لمونځو بیا وروسته اعاده وکړي، د امام یوسف رحمه الله په نز دې اعاده نه کوي .

د دار حرب (کفرستان) قیدي چې کله د اودس او لمانځه څخه منع کړل سوی وي نو تیمم دې ووهي او په اشاره دې لمونځ وکړي د خلاصیدو وروسته دې د دې

لمونځو اعاده وکړي او مسافر چي کله د غلو او ډاکوانو څخه ییریږي او نور ملګري د ده لپاره انتظار نه وکړي نو لمونځ موخر کول جائز دی او که د دغه عذر په وجه په اشارې سره لمونځ وکړي نو هم جائز دی .

تشریح: که چیري دومره اوبه موجودي وي چي د اودس او غسل لپاره کافي وي مګر د استعمال څخه تر مخه هغه د خپل ځان یا د چارپایه د تیږي کیدو په وجه د مړینه څخه ییریږي که څه هم دا حیوان سپی وي نو په دې حالت کي تیمم جائز دی، دغه ډول که چیري یو قیدي په جیل کي د طهارت حاصلولو او د لمانځه کولو څخه منع کړل سي نو دي په تیمم سره بالاشاره لمونځ وکړي او وروسته دي یې قضائي راوړي، مګر امام یوسف رحمه الله دا په هغه سړي قیاس کړی دی چي د خوف په وجه داسي وکړي نو په هغه اعاده نسته، د دې لپاره په دې قید سوي سړي هم اعاده نسته .

وَاَجْمَعُوْا عَلَى اَنَّ الْمَاشِيَ لَايُصَلِّيْ بِالْاِيْمَآءِ وَهُوَ يَمْشِيْ وَكَذَا السَّابِحُ لَايُصَلِّيْ وَهُوَ يَسْبَحُ بِخِلَافِ الْمُنْهَزِمِ وَهُوَ يُصَلِّيْ رَاكِبًا بِالْاِيْمَآءِ وَاقِفًا اَوْ تَسِيْرُ دَآبَّتُهُ اَوْ تَعْدُوْ وَلَوْ صَلّٰى بِالْاِيْمَآءِ لِخَوْفِ عَدُوٍّ اَوْ سَبُعٍ اَوْ مَرَضٍ اَوْ طِيْنٍ لَايُعِيْدُ بِالْاِجْمَاعِ وَالْمُقَيَّدُ اِذَا صَلّٰى قَاعِدًا يُعِيْدُ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ وَعِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ لَايُعِيْدُ.

ژباړه: په دې اجماع ده چي په پیاده تګ سره اشارتاً دي لمونځ نه کوي ، دغه ډول وربازي کولو والا دي د وربازۍ په وخت کي دي نه کوي، د منډي والا په خپل سوارۍ اشارةً لمونځ کولای سي که څه هم سوارۍ ولاړه وي یا په ارامه سره روانه وي یا تیزه منډه وهي، که چیري دښمن یا درنده، مرض یا د کیچړ په وجه سره اشارتاً لمونځ وکړي نو بالاتفاق د لمانځه اعاده نسته، په زنځیرو کي تړلی سړی چي کله په

ناسته لمونځ وکړي نو د طرفینو په نز اعاده ضروري ده ، د امام یوسف رحمه الله په نز بیا د دې لمانځه اعاده نسته .

تشریح: په لمانځه کي تل راتلل، وربازي او قتل مقاتله کول عمل کثیر دی، چي د هغه په موجودګی لمونځ نه کیږي، مصنف رحمه الله د اجمعوا په لفظ سره د اجماع آئمه وو طرف ته اشار کړي ده، د امام یوسف رحمه الله په نز په حالت کي د خوف د تلو په وخت کي لمونځ جائز دی ، دغه د نورو آئمه ثلاثهؤ یعني امام شافعي رحمه الله، امام مالک رحمه الله، او احمد بن حنبل رحمه الله هم قول دی .

که چېري څوک په خپل سوارۍ د منډي په حالت کي اشارتاً لمونځ وکړي نو جائز دی که څه هم سوارۍ ولاړه وي یا په ارام یا په تیزۍ سره را وان وي او دغه ډول که چېري د یو دښمن یا درنده د خوف یا د بیمارۍ په وجه د خپل سواري څخه لاندي نه سي کښته کېدی یا د کیچړ په وجه رکوع او سجده نسي کېدی، اشارتاً لمونځ وکړي نو جائز دی او بالاتفاق د دې لمانه اعاده نسته ولي چي دا سماعي آفات دي، د چا په اختیار کي د دې مدافعت نسته .

دغه ډول که چېري څوک په زنځیرانو کي داسي تړلی وي چي نه سي پورته کېدی او د ناستي په حالت کي لمونځ وکړي نو د امام ابو حنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نز د دې لمانځه اعاده ضروري ده ولي چي دا آفات سماوي نه دی، د امام یوسف رحمه الله په نز ولاړه چي کله معتذره سي نو په ناستي سره لمونځ کیږي او اعاده یي نسته .

وَيَجُوْزُ التَّيَمُّمُ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ بِكُلِّ مَاكَانَ مِنْ جِنْسِ الْاَرْضِ كَالتُّرَابِ وَالرَّمْلِ وَالْحَجَرِ وَالْمَدَرِ وَالزِّرْنِيْخِ وَالْكُحْلِ وَالْمُرَادَرْ سَنْجِ وَالنَّوْرَةِ وَالْمَغْفِرَةِ وَمَا اَشْبَهَهَا وَلَايَجُوْزُ عِنْدَنَا بِمَا لَيْسَ مِنْ جِنْسِ الْاَرْضِ كَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْحَدِيْدِ

وَالرِّصَاصِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيْرِ وَسَآئِرِ الْحُبُوْبِ وَالْاَطْعِمَةِ وَاِنْ كَانَ عَلٰى هٰذِهِ الْاَشْيَآءِ الْمَذْكُوْرَةِ غُبَارٌ يَجُوْزُ بِغُبَارِهَا عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَفِيْ اِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ مُحَمَّدٍ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَايَجُوْزُ.

ژباړه: د حضرت امام ابوحنيفه و محمد په نز په هر هغه شي سره تيمم جائز دی چي د جنس څخه د مځکي وي لکه خاوره، ريګ، ډبره، لوټه، ارتال، رانجه، مردارسنګ، چينه، ګاجر خاوره، او د دې مشابه زموږ په نز چي د مځکي د جنس څخه نه وي په هغوی تيمم نه دی جائز لکه سونا، سپين زر، اوسپنه، قلعي، غنم، جو او تمامي غلې، په دغوشيانو که ګرز پروت وي نو د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله په نز تيمم جائز دی او په يوه روايت کي د محمد څخه جواز او په بل روايت کي بيا عدم جواز منقول دی .

تشريح: مصنف رحمه الله تعالى په دې عبارت کي د هغو شيانو ذکر کوي په کومو سره چي تيمم جائز دی، د دې په باره کي د فقهاؤ کرامو اختلاف دی د طرفينو په نز په هر هغي شي سره تيمم جائز دی کوم چي د مځکي د جنس څخه شمارل کيږي لکه ريګ، ډبره يا داسي بل شی.

د مځکي د جنس څخه دکيدو نښانې دادي چي کوم شی اور نه اخلي او نه ايره کيږي او کوم شی چي اور واخلي او ايره سي لکه سونا نو هغه د مځکي په جنس کي نه شمارل کيږي، مګر کله په دغو شيانو ګرز پروت وي نو په دې ګرز باندي تيمم جائز دی ، د امام محمد رحمه الله په يو مشهور روايت کي د ګرز باجود هم په دغو شيانو تيمم نه دی جائز او د امام يوسف رحمه الله په نز په وخت د ضرورت د دغه شيانو په ګرز باندي تيمم جائز دی، چونکي ګرز باريکه باريکه نرمه خاوره يي نو ځکه په دې سره تيمم جائز دی .

ثُمَّ عِنْدَهُمَا الشَّرْطُ مُجَرَّدُ الْمَسِّ عَلَى الْاَرْضِ اَوْ عَلٰى جِنْسِ الْاَرْضِ حَتّٰى اَنَّهُ لَوْ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلٰى صَخْرَةٍ لَاغُبَارَ عَلَيْهَا اَوْ عَلٰى اَرْضٍ نَدِيَّةٍ وَلَمْ يَتَعَلَّقْ بِيَدِهٖ شَئٌ جَازَ عِنْدَ اَبِىْ حَنِيْفَةَ وَفِىْ اِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ مُحَمَّدٍ اَمَّا الْفَرْقُ بَيْنَ الصَّخْرَةِ وَبَيْنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَهُمَا خُلِقَا فِى الْاَرْضِ اَنَّ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ يَذُوْبَانِ فِى النَّارِ بِخَلَافِ الصَّخْرَةِ فَاِنَّهَا لَاتَذُوْبُ فِيْهَا فَكَانَتْ كَالتُّرَابِ وَاَمَّا التَّيَمُّمُ بِالْاٰجُرِ فَعِنْدَ اَبِىْ حَنِيْفَةَ يَجُوْزُ مُطْلَقًا وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ يَجُوْزُ التَّيَمُّمُ بِهٖ اِنْ كَانَ مَدْقُوْقًا اَوْكَانَ عَلَيْهِ غُبَارٌ وَلَوْ تَيَمَّمَ بِغُبَارِ ثَوْبِهٖ اَوْ غَيْرِهٖ مِنَ الْاَغْبَارِ الطَّاهِرَةِ اَوْ هَبَّتِ الرِّيْحُ فَاَصَابَ الْغُبَارُ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ فَمَسَحَهُ بِنِيَّةِ التَّيَمُّمِ جَازَ عِنْدَ اَبِىْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ سَوَآءٌ وَجَدَ تُرَابًا اٰخَرَ اَوْلَمْ يَجِدْ وَعِنْدَ اَبِىْ يُوْسُفَ لَايَجُوْزُ اِذَا وَجَدَ تُرَابًا اٰخَرَ.

ژباړه: بیا د طرفینو په نز صرف مځکه یا د جنس د مځکي په هغه شي باندي چي د مځکي د جنس څخه شمارل کیږي صرف لاس وهل شرط دي حتّی چي په داسي ډبره باندي چي په هغه ګرز نه وي او په نیم الوده لندې مځکي باندي لاس کښیږدي او د لاس سره هیڅ ګرز نه ولګیږي نو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نز او د امام محمد رحمه الله څخه په یوه روایت کي جائز دی.

د ډبري او سونا په مابینځ کي فرق باوجود دی چي دواړه د مځکي څخه پیدا کیږي، دادی چي سونا او سپین زر په اور کي ویلي کیږي او ډبره نه ویلي کیږي نو د خاوري په مثل سوه، په پخه خښتي سره د امام ابو حنیفه رحمه الله په نز تیمم مطلقا جائز دی د امام محمد رحمه الله په نز کله چي پخه خښته ماته کړل سي او ښه نرم کړل سي نو بیا تیمم جائز دی یا کله چي په هغه باندي ګرز پروت وي که چېري د کپړي یا

د بل شي په ګرز سره تيمم ووهي يا د هوا د رفتار سره د انسان په مخ او په لاسو باندي ګرز ولګيږي او په دې ګرز سره په نيت د تيمم مخ لاس مسح کړي نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نز جائز دی که څه هم د دې بغيره خاوره موجوده وي او د امام يوسف رحمه الله په نز که چېري د دې څخه علاوه خاوره موجوده وي نو نه دی جائز.

تشريح: د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نز صرف په مځکي يا په جنس د مځکي لاس اېښول ضروري دي او دا ضروري نه ده چي ګرز هم د دوی سره ومښلي، د دې لپاره که چېري څوک په بالکل صافه ډبره باندي د تيمم لپاره لاس کښېږدي نو تيمم جائز دی، د امام ابو يوسف رحمه الله په نز صرف په خاوره او ريګ سره تيمم جائز دی د دې بغير په يو شي هم نه دی جائز مګر په ذهن کي دا پوښتنه کله کله پيدا کيږي چي سونا، سپين زر وغيره دا ټوله شيان خو د مځکي څخه پيدا کيږي د دوی څخه يو شی هم د آسمان څخه نه ووري نو ځيني شيان ولي د مځکي د جنس څخه شمارل کيږي؟

مصنف رحمه الله د دې په وضاحت کولو سره وايي چي د مځکي اصلي خاوره ده نو کوم شی چي د خاوري سره داسي مشابه وي چي د خاوري په ډول په اور کي نه ويلي او نه اېره سي نو هغه به په منزله د مځکي د جنس څخه شمارل کيږي، د دې لپاره وايي چي ډبره د سونا او سپين زر په مثل د مځکي پيداوار دی او په اور کي نه ويلي کيږي نو د دې لپاره په ډبري تيمم جائز دی او د سونا سپين زر او د دوی مانند په نورو شيانو باندي تيمم نه دی جائز.

فقهاؤ کرامو تصريح کړی ده که چېري څوک قسم واخلي چي زه به په مځکه نه کښېنم او په ډبري کښېنستی نو حانث دی او که په سونا سپين زر باندي کښېني نو حانث نه دی، که چېري په يو کپړه يا جای نماز باندي دومره ګرز جمع سوی وي چي هغه ته لاس ورسره کړي نو پورته کيږي، نو که چېري ګرز پورته کيږي نو په هغه

باندي د دې گرز په وجه تيمم جائز دى .

دغه ډول که چېري دوره راسي د چا پر مخ يا لاس گرز ولوېږي نو دا په نيت د تيمم په خپل مخ او لاس باندي يې ومږي نو تيمم وسو مگر امام يوسف رحمه الله وايي چي گرز ته په مكمل طور خاوره نه سي ويل كېدى نو د دې لپاره صرف په وخت د ضرورت دا ډول تيمم وهل جائز دى چي د دې علاوه نوره خاوره نه وي موجوده .

وَلَوْتَيَمَّمَ بِالْمِلْحِ اِنْ كَانَ مَائِيًّا لَايَجُوْزُ وَاِنْ كَانَ جَبَلِيًّا يَجُوْزُ بِهٖ وَقَالَ شَمْسُ الْاَئِمَّةِ السَّرْخَسِيُّ الصَّحِيْحُ عِنْدِيْ اَنَّهٗ لَايَجُوْزُ سَوَآءٌ كَانَ مَائِيًّا اَوْ جَبَلِيًّا كَذَا ذَكَرَهٗ فِي الْمُحِيْطِ وَالسَّبْخَةُ بِمَنْزِلَةِ الْمِلْحِ وَذَكَرَ الْاِسْبِيْجَابِيُّ فِيْ شَرْحِهٖ يَجُوْزُ التَّيَمُّمُ بِالسَّبْخَةِ مُسَافِرٌ اَصَابَهٗ مَطَرٌ فَابْتَلَّ ثَوْبُهٗ وَسَرْجُهٗ وَلَمْ يَجِدْ تُرَابًا وَلَا حَجَرًا وَلَامَآءً فَاِنَّهٗ يُلَطِّخُ ثَوْبَهٗ بِالطِّيْنِ وَيُجَفِّفُهٗ وَيُفِرِّكُ وَتَيَمَّمُ .

ژباړه: كه چېري څوک په مالگه باندي تيمم ووهي نو كه دا مالگه د اوبو والا وي نو تيمم نه دى جائز او كه د غره وي نو جائز دى، شمس الائمه سرخسي رحمه الله وايي چي زما په نز صحيح داده چي په مالگي سره تيمم نه دى جائز كه څه هم د اوبو والا وي يا د غره، دغه ډول په محيط كي ذكر دى چي شره هم د مالگي ډول ده او اسبيجابي په خپله شرحه كي ذكر كړى دى په شرې باندي تيمم جائز دى، كه يو مسافر كېږي او سوارى زين په باران باندي لانده سي او هغه ته خاوره ، ډبره يا اوبه نه سي پيدا نو هغه دي خپلي كپړي وچي كړي او په هغه سره دي تيمم ووهي .

تشريح: په مالگي تيمم وهلو باندي د علماؤ اختلاف دى ولي چي د مالگي دوه قسمونه دي يو قسم دادى چي د سمندري اوبو ژک وچ سي او مالگه ځيني جوړېږي، دوهم قسم په غرو كي پيدا كيږي يعني معدني وي نو غر د جنس څخه د مځكي په

شمارلو سره فقهاؤ کرامو په دې د تيمم د جواز فتوىٰ کړيده .

مګر ځيني فقهاء وايي چي د غره او د اوبو د مالګي يو حکم دى په دواړو تيمم نه دى جائز ولي چي په اوبو کي حل کيږي، امام قاضي خان هم د علماؤ اختلاف په ذکر کولو سره د غره په مالګي باندي د جواز فتوىٰ کړيده .

دغه ډول د شرې والا په مځکه باندي چي کومه شره ښکاره کيږي نو په هغې باندي د تيمم په باره کي د مالګي په مثل اختلاف دى، دغه ډول که چېري يو سړى په باران کي روان وي او د هغه کپړې وغيره ګرده لندې سي ، نه د اودس لپاره اوبه او نه د تيمم لپاره څه خاوره پيداسي نو د طهارت حاصلولو لپاره مصنف دا تجويز ورکوي چي مسافر دي په يوې کپړې وغيره باندي کيچړ ولګوي او وروسته دې وچي کړي بيا دي سره وموږي په دې وچي خاوري باندي دي په تيمم سره طهارت حاصل کړي .

قَالَ شَمْسُ الْاَئِمَّةِ الْحَلْوَانِيُّ لاَيَتَيَمَّمُ بِالطِّيْنِ وَاِنْ فَعَلَ ذٰلِکَ يَجُوْزُ التَّيَمُّمُ وَکَذٰلِکَ يَجُوْزُ التَّيَمُّمُ بِالْحُصٰى وَالْکِيْزَانِ وَالْحُبَابِ وَالْغُضَارَةِ وَالْحِيْطَانِ مِنَ الْمَدَرِ وَاللَّبَنِ سَوَاءٌ کَانَ عَلَيْهِ غُبَارٌ اَوْ لَمْ يَکُنْ وَلاَ يَجُوْزُ التَّيَمُّمُ بِالْغُضَارَةِ الْمُطْلّٰى بِالْاَنُکِ ثُمَّ بَطْنُ الْغُضَارَةِ وَظَهْرُهَا عَلَى السَّوَآءِ اِلاَّ اِذَا کَانَ عَلَيْهَا غُبَارٌ وَلَوْ تَيَمَّمَ بِالْخَزَفِ فَاِنْ کَانَ مُتَّخَذًا مِنَ التُّرَابِ الْخَالِصِ وَلَمْ يَجْعَلْ فِيْهِ شَيْءٌ مِنَ الْاَدْوِيَةِ جَازَ بِهِ التَّيَمُّمُ وَاِنْ لَّمْ يَکُنْ عَلَيْهِ غُبَارٌ وَاِنْ تَيَمَّمَ بِالرِّمَادِ لاَيَجُوْزُ وَاِنْ اِخْتَلَطَ الرِّمَادُ بِالتُّرَابِ اِنْکَانَ التُّرَابُ غَالِبًا يَجُوْزُ وَاِنْکَانَ الرِّمَادُ غَالِبًا لاَيَجُوْزُ .

ژباړه: شمس الائمه حلواني وايي چي په لنده خاوره سره تيمم وهل نه دي پکار او

که چېري يي ووهي نو جائز دی، دغه ډول په باجري، کوزې، منګيانو، پيالو، ديوالو، که څه هم کچه يا پاخه وي لانده نه وي په دې شيانو باندي تيمم جائز دی، په داسي پيالو باندي تيمم نه دی جائز په کومو باندي چي قلعي لګول سوي وي، د پيالو دننی او د باندنی حصه برابره ده مګر دا چي په هغه کي ګرز پروت وي، که چا په يو توکري باندي تيمم ووهی که هغه صرف د خاوري څخه جوړ وي د نورو شيانو اختلاط نه وي نو په دې تيمم جائز دی که څه هم ګرز الود نه وي، که چا په ايرو باندي تيمم ووهی نو نه دی جائز او که چېري ايره د خاوري سره خلط سي او خاوره غالبه سي نو تيمم جائز دی او که ايره غالبه وي نو نه دی جائز .

تشريح: په ځينو نسخو کي دلته د" لايجوز التيمم بالطين "عبارت ليکل سوی دی کوم چي په وروسته عبارت باندي د نظر کولو څخه درست نه معلوميږي .

شمس الائمه حلواني رحمه الله وايي چي په لنده خاوره سره تيمم وهل مناسب نه دی که په وخت د ضرورت يي ووهي نو جائز دی، که چېري د لمانځه د قضاء کيدو ويره نه وي نو لږ انتظار دي وکړي او که د وخت د ختمېدو خطره وي نو په دغه سره دي تيمم ووهي، څه ډول چي په ډبره او خاوره باندي تيمم وهل جائز دی دغه ډول خاوري لوښي چي د خاوري په ډول سخت وي په هغوی باندي هم تيمم جائز دی مګر شرط دادی چي د خالص خاوري څخه جوړ وي د بل شي بالکل اختلاف نه وي ، نه د جوړيدلو وروسته په هغوی باندي د ښائست لپاره د قلعي نقش ونګار جوړ سوي وي ولي چي قلعه د مځکي د جنس څخه نه ده نو په دې صورت کي تيمم د مځکي د جنس څخه بغير په بل شي باندي واقع کيږي چي هغه نه دی جائز ، که چېري خاوره او ايره په خپل منځ کي سره ګډه سي نو د عنصر غالب لحاظ به کيږي که چېري ايره غالبه وي نو نه دی جائز، او که خاوره غالبه وي نو جائز دی .

وَاِنْ اَصَابَتِ الْاَرْضَ نِجَاسَةٌ فَجَفَّتْ وَذَهَبَ اَثَرُهَا جَازَتِ الصَّلٰوةُ عَلَيْهَا وَلَايَجُوْزُ التَّيَمُّمُ مِنْهَا فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَرُوِيَ عَنْ اَصْحَابِنَا اَنَّهٗ يَجُوْزُ اَيْضًا وَالْاَوَّلُ اَصَحُّ وَاِذَا تَيَمَّمَ الرَّجُلُ مِنْ مَوْضِعٍ فَتَيَمَّمَ الْاٰخَرُ مِنْ ذٰلِكَ الْمَوْضِعِ اَيْضًا جَازَ وَالتَّيَمُّمُ فِي الْجَنَابَةِ وَالْحَدَثِ سَوَآءٌ وَلَوْصَلّٰى بِالتَّيَمُّمِ ثُمَّ وَجَدَ الْمَآءَ فِي الْوَقْتِ لَايُعِيْدُ وَالصَّحِيْحُ فِي الْمِصْرِ يَتَيَمَّمُ لِصَلٰوةِ الْجَنَازَةِ اِذَا خَافَ الْفَوْتَ اِلاَّ الْوَلِيُّ وَالْاِمَامُ وَكَذَا اِذَا اَحْدَثَ الْمُتَوَضِّئُ فِيْ صَلٰوةِ الْعِيْدِ تَيَمَّمَ وَبَنٰى فِيْ قَوْلِ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَقَالَا لَايَجُوْزُ لَهُ التَّيَمُّمُ وَكَذَا اِذَا خَافَ خُرُوْجَ الْوَقْتِ تَيَمَّمَ وَبَنٰى بِلَا خِلَافٍ وَلَوْ خَافَ خُرُوْجَ الْوَقْتِ فِيْ سَائِرِ الصَّلٰوتِ لَايَتَيَمَّمُ بَلْ يَتَوَضَّأُ وَيَقْضِيْ مَا فَاتَهٗ وَكَذَا لَوْ خَافَ فَوْتَ الْجُمُعَةِ لَايَتَيَمَّمُ بَلْ يَتَوَضَّأُ وَيُصَلِّي الظُّهْرَ وَلَوْ تَيَمَّمَ لِمَسِّ الْمُصْحَفِ اَوْ لِدُخُوْلِهِ الْمَسْجِدِ عِنْدَ وُجُوْدِ الْمَآءِ وَالْقُدْرَةِ عَلَيْهِ فَذٰلِكَ لَيْسَ بِشَيْءٍ اَلْمُسَافِرُ يَطَأُ جَارِيَتَهٗ وَاِنْ عَلِمَ بِعَدَمِ الْمَآءِ يَجُوْزُ لَهُ التَّيَمُّمُ.

ژباړه: كه مځكه د نجس كېدو وروسته وچه سي او د نجاست اثر ورك سي نو په هغې باندي لمونځ جائز دى او تيمم نه دى جائز، د ظاهر روايت په مطابق، زموږ آئمه احنافو دا روايت هم كړيدى چي تيمم هم جائز دى او اول روايت زيات صحيح دى او كله چي يو سړى په يو ځاى باندي تيمم ووهي او دوهم واريىا پر هغه ځاى باندي تيمم ووهي نو جائز دى.

د حالت جنابت او بې اودسۍ تيمم يو ډول دى، كه په تيمم سره لمونځ وكړي او په دغه وخت كي اوبه پيداسي نو د لمانځه اعاده نسته صحيح داده چي په ښار كي كله

د جنازې د فوتېدو خوف وي نو تیمم دي ووهي مګر ولي او امام نه، دغه ډول چي د اودس والا سرې د اختر په لمانځه کي بې اودسه سي د امام ابوحنیفه رحمه الله په نز تیمم دي ووهي او بنادي وکړي ، صاحبین وایي چي تیمم نه دی جائز دغه ډول که چېري د وخت د ختمېدو خوف وي نو تیمم دي ووهي او بنا دي کړي په دې کي اختلاف نسته .

که چیر په جمله فرض لمونځو کي د وخت فوتیدو خطره وي نو تیمم دي نه وهي بلکي اودس دي وکړي او د فوت سوي لمونځو قضا دي راوړي، دغه ډول که چېري د جمعې لمانځه د فوتېدو خطره وي نو تیمم دي نه وهي بلکي اودس دي وکړي او لمونځ دي وکړ، که چېري قرآن پاک ته د لاس وروړلو لپاره یا مسجد ته د داخلیدو لپاره اوبه او قدرت د استعمالو سره تیمم ووهي نو دا بې معنٰی خبره ده، او که مسافر د خپلي مېنځي سره مجامعت وکړي او هغه ته اوبه نه سي پیدا نو یا د هغه لپاره تیمم روادی.

تشریح: که مځکه د نجس کېدو وروسته وچه سي د نجاست رنګ او بوی ورک سي نو په هغې باندي لمونځ جائز دی او تیمم نه دی جائز ، لکه څنګه روایت سوی دی (جفوف الارض طهورها) یعني مځکه چي وچه سي نو د هغه وروسته پر هغه مځکه باندي تیمم جائز نه دی، ولي په دغو روایاتو سره په کومو کي په وچیدو سره یي مځکه پاک ګڼلي ده دا صرف مستنبط کیږي چي هغه خپله صفا سوي ده نه دا چي د نورو صفا کونکی ده یعني صرف صفت د طهارت دی د طهوریت صفت په دې کي د مځکه په وچیدو سره نه راځي او د تیمم لپاره د مځکي د طهوریت صفت ضروري دی چي په هغه سره په ذریعه د تیمم پاکي حاصلولای سي، که چېري یو سړی د مځکي په یوه حصه باندي تیمم ووهي نو د دوهم وار پر دا ځای باندي تیمم کول جائز دی ولي چي دا ځای مستعمل نه سو او په اوبو باندي د دې قیاسېدل درست نه دی ولي

د استعمال په وخت چې د انسان د اعضاؤ څخه کومي اوبه لوېږي هغه مستعملي دي او په تيمم کي د انسان د اندامو څخه هيڅ شی نه جلا کيږي.

د جنب انسان او بې اودسه لپاره د تيمم يوه طريقه ده لکه څنګه چې د عمار بن ياسر رضي الله عنه په روايت کي دي چې نبی کريم ﷺ دی يو مهم ته واستوی نو دی جنب راغلی او بيا دی په خاورو کي ښه ورغړېدی، د دې وروسته چې يې کله د عليه السلام په حضور خپل د دې عمل ذکر وکړ نو عليه السلام چې کوم هدايت هغه ته وکړ د هغه خلاصه داده چې ستا لپاره د اودس والا تيمم جائز وو او په دې باندې اجماع د امت منعقده ده.

که يو چا د اوبو په نيستی کي په تيمم سره لمونځ وکړ نو د اوبو په پيدا کيدو باندي په هغه د لمانځه راګرځول نسته لکه څنګه چې يو فقير د روژې سره کفاره ادا کړي کله چې امير سي نو وروسته د مالي کفاري بغير هغه اوله کفاره صحيح ده او کوم سړی چې د جنازې په لمانځه کي حاضر وي مګر که هغه اودس وکړي نو د لمانځه څخه د پاته کېدو خوف وي نو دا سړی دي په تيمم سره لمونځ وکړي که څه هم اوبه موجودي وې د استعمال قدرت هم لري، لکه څنګه چې په دار قطني کي روايت دی چې حضرت عمر رضي الله عنه په يوه جنازه کي شريک سو نو د بې اودسی په وجه يې په تيمم سره لمونځ وکړ، چونکي د ولي او د سلطان په باره کي دا خوف نه سي کيدی چې د هغه بغير دي لمونځ وکړل سي نو د خوف فوت په ناموجدګی کي د دواړو لپاره تيمم کول نه دی جائز ولي چې هغوی ته حق د تقدم حاصل دی.

دغه ډول که چېري څوک په اوداسه سره د اختر په لمانځ کي شريک سي مګر د لمانځه په وخت کي بې اودسه سي نو تيمم دي ووهي او پاته لمونځ دي په دغه سره بنا کړي، ولي چې د اختر لمونځ واجب دی او د پاته کيدو په صورت کي د ده قضا په انفرادي طور نه سي کيدی، صاحبين رحمهم الله وايي چې اودس دي وکړي او

باقي لمونځ دي بنا کړي که چېري د جماعت د لمانځه څخه پاته سو نو هيڅ قباحت نسته د دې لپاره چي لاحق هم د حکم امام شاته دی نو د ده لمونځ هم په حالت اقتدا کي شمارل کيږي نه په انفرادي طور، التبه که چېري د وخت ختميدو خوف وي نو بالاتفاق دي په تيمم سره وکړي ولي چي د وخت ختميدو وروسته لمونځ باطل دی .د جنازې د لمانځه او د اخترو بغير په نورو لمونځو کي که په اودس باندي د مشغوليت په وجه د لمانځه د وخت ختمېدو خوف وي نو تيمم نه دی جائز بلکه اودس دي وکړي او قضا دي راوړي .

د امام زفر رحمه الله په نز په وختي لمونځوکي هم د فوتيدو په وجه تيمم جائز دی، ولي چي هغه وايي تيمم د دې لپاره جائز سوی دی چي لمونځ که په اوبو سره د پاکۍ حاصلولو لپاره موخر کړل سي نو به قضا سي نو دا صورت په دې کي داخل دی که يوڅوک پريوزي نو کله چي راکښيني نو دومره وخت باقي وي که چير ي په اودس باندي مشغوله سي نو د لمانځه وخت به تير سي نو د امام زفر رحمه الله په قول که دا سړی په تيمم سره لمونځ وکړي نو جائز دی، مګر د جمهورو علماؤ په نز نه دی جائز ولي چي دا نقصان خپله د لمونځ کونکي د طرفه څخه دی په دې باندي د تيمم د جواز حکم نه سي کېدی مګر بهتره صورت دادی چي په اوبو سره طهارت حاصل کړي، خو هغسي لمونځ قضا کيږي نو چي کله وخت مختصر وي نو دي اول تيمم ووهي او لمونځ دي وکړي او وروسته دي اودس وکړي د دغه لمانځه اعاده دي هم وکړي نو د جمهورو فقهاء او د امام زفر رحمه الله په ټولو اقوالو به عمل وسي .

د جمعې په لمانځه کي د امام سره د شرکت لپاره تيمم نه دی جائز بلکي د امام د پاته کيدو په صورت کي که چېري بل ځای کي د امام سره شريکېدی سي نو هلته دي ولاړ سي او که بالکل يو ځای هم د جمعې د رسيدو امکان نه وي نو د ماپښين لمونځ دي وکړي .

د اوبو او د قدرت استعمال په موجودګئ کي د قرآن پاک د را اخستلو لپاره دخول مسجد لپاره تيمم وهل لکه څنګه چي د ځينو جاهلانو عادت دی دا شرعاً نه دی معتبر بلکي دا احمقانه فعل دی، يو مسافر ته که چيري دا معلومه وي چي د غسل لپاره دلته اوبه نسته يا هم د خپل کوروالا يا د مينځي سره مجامعت کولای سي لکه څنګه چي دا ښه معلومه وي چي دلته اوبه نسته مګر يا هم د قضائي حاجت وغيره په زور دباول (نيول) پر هغه ضروري نه دي، دغه ډول جماع هم يو طبعي ضرورت دی او په دې صورت کي هم بغير د څه قباحته تيمم جائز دی.

وَيَنْقِضُ التَّيَمُّمُ كُلُّ شَيْءٍ يُنْقِضُ الْوُضُوْءَ وَيُنْقِضُهُ اَيْضًا رُؤْيَةُ الْمَاءِ اِنْ قَدَرَ عَلٰى اِسْتِعْمَالِهٖ وَاِنْ رَاٰى الْمَآءَ فِيْ خِلَالِ الصَّلٰوةِ فَسَدَتْ وَاِنْ رَاٰى سُؤْرَ الْحِمَارِ اَوْ نَبِيْذَ التَّمْرِ وَقَدَرَ عَلٰى اِسْتِعْمَالِهٖ فَسَدَتْ صَلٰوتُهٗ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَاِنْ رَاٰى سَرَابًا فَظَنَّ اَنَّهٗ مَآءٌ فَمَشٰى نَحْوَهٗ فَاِذَا هُوَ سَرَابٌ فَسَدَتْ صَلٰوتُهٗ وَاِنْ شَكَّ اَنَّهٗ مَآءٌ اَوْ سَرَابٌ فَاسْتَوَى الظَّنَّانِ فَاِنَّهٗ يَمْضِيْ عَلٰى صَلٰوتِهٖ فَاِذَا فَرَغَ مِنْهَا نَظَرَ اِنْ كَانَ مَآءً يَتَوَضَّأُ بِهٖ وَيَسْتَقْبِلُ الصَّلٰوةَ وَاِلَّا فَلَا اَلْمُسَافِرُ اِذَا مَرَّ بِمَآءٍ مَوْضُوْعٍ فِي الْجُبِّ لَايَنْتَقِضُ تَيَمُّمُهٗ اِلَّا اِذَا كَانَ الْمَآءُ كَثِيْرًا فَيُسْتَدَلُّ بِكَثْرَتِهٖ عَلٰى اَنَّهٗ وُضِعَ لِلْوُضُوْءِ وَالشُّرْبِ وَلَوْ اَنَّ الْمُتَيَمِّمَ مَرَّ بِالْمَاءِ وَهُوَ لَا يَعْلَمُ بِهٖ اَوْكَانَ نَائِمًا حَالَ الْمُرُوْرِ لَايَنْتَقِضُ تَيَمُّمُهٗ وَكَذَا لَوْ عَلِمَ بِهٖ وَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى النُّزُوْلِ وَلَا عَلَى الْوُضُوْءِ اِمَّا لِخَوْفِ عَدُوٍّ اَوْ سُبُعٍ اَوْ مَرَضٍ.

ژباړه: تيمم هر هغه شی ماته وي کوم چي اودس ماته وي دغه ډول د اوبو ليدل که په استعمال يي هم قادر وي نو تيمم ماته وي، که د لمانځه په ماينځ کي يي اوبه وليدي نو لمونځ يي فاسديږي، که د خره پسخورده يا نبيذ التمر ووينې او په

استعمال يي هم قادر وي نو د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله په نز لمونځ يي فاسديږي، او كه يې بولي وليدي د ده دا گمان وو چي اوبه دي او د هغه و طرف ته ولاړی او هغه بولي وي نو لمونځ يي فاسد سو، كه چېري يي شک وي چي اوبه دي كه بولي نو دواړه گمانونه برابر وه نو خپل د لمانځه د پوره كيدو وروسته دي وگوري، كه چېري اوبه وي نو دي اودس وكړي او دوباره دي لمونځ وكړي او كه اوبه نه وي نو دي كوي .

كه يو مسافر په منگي د اينبوولو اوبو سره تير سي نو د هغه تيمم نه فاسديږي مگر دا چي اوبه زياتي وي د اوبو د كثرت په ليدلو باندي دا ويلای سي چي دا د اودس او د څښلو لپاره اينبودل سوي دي، كه متيمم په اوبو باندي تيرسي او هغه ته نه وي معلومي يا د تيرېدلو په وخت بيده وي نو تيمم يې نه ماتيږي دغه ډول كه چېري ورته معلومي وي او په كښته كېدو يا په اودس باندي قادر نه وي د دښمن يا درنده يا د مرض په خوف سره نو هم يې تيمم نه ماتيږي.

تشريح: په دې عبارت كي مصنف رحمه الله د نواقضو د تيمم د بيان كولو سره يوه قاعده كليه بيانوي چي په كومو شيانو سره چي اودس ماتيږي هغه د تيمم ماتونكي هم دي، ولي چي اودس اصل دی او تيمم نائب، نو كوم شی چي د اصل باطل كونكی دی هغه نائب بطريقي اولی باطله وي، مگر په نواقض تيمم كي دا هم دي چي متيمم كله د طهارت لپاره اوبه ويني او قدرت د استعمال هم ولري نو د هغه تيمم باطليږي او كه چېري د لمانځه په وخت كي يې اوبه وليدي نو لمونځ يي فاسديږي .

كه يو چا په صحرا كي د لمانځه په دوران كي نظر وكړ نو بولي يي اوبه په خيال كي ورغلي او د هغه و طرف ته ولاړی مگر وروسته معلومه سوه چي دا خو اوبه نه دي بلكي بولي دي نو د هغه لمونځ فاسد سو، كه چېري د اوبو او بولو په كيدو كي

شک وي او يو طرف ته هم غالب ګمان نه وي نو لمونځ قطع کول نه دي جائز بلکې لمونځ کولو وروسته به يې ګوري که چېرې اوبه وي نو د شروع څخه دې لمونځ وکړي او که چېرې بولي وي نو د لمانځه اعاده نسته ولې چې يقين په شک سره نه زائليږي .

که يو مسافر په منګې کې اوبه ووينې نو د هغه تيمم د دې لپاره نه باطليږي چې عموماً په منګيانو کې اوبه د څښلو لپاره ايښودل کيږي، البته که چېرې په کثير مقدار منګيان ايښې وي په کوم سره چې دا خيال کولای شي چې په دومره کثير مقدار کې اوبه فقط د څښولو لپاره نه وي نو په دې سره تيمم باطليږي، په دې اوبو سره اودس کول ضروري دی .

که يو متيمم سړی د ابو څخه په داسې حالت کې تير شي چې هغه ته دا نه وي معلومه چې زه په اوبو تيريږم که څه هم د ويښتيا په حالت کې يا د خوب په حالت کې وي نو د هغه تيمم نه باطليږي، د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله څخه يو روايت داهم دی چې د خوب په حالت کې د ده تيمم باطليږي ولې چې دا سستي خپله د انسان د طرفه ده، د صاحب هدايې قول هم دغه دی، دغه ډول که چېرې چاته دا معلومه وي چې دلته اوبه سته مګر هغه د دښمن يا د درنده د خوفه څخه يا د نورو عذرو په بنا باندې د اوبو طرف ته نسوای راتلای نو د هغه تيمم نه باطليږي .

جُنُبٌ اِغْتَسَلَ وَبَقِيَتْ عَلٰى بَدَنِهٖ لُمْعَةٌ وَلَيْسَ مَعَهٗ مَآءٌ يَتَيَمَّمُ لِلُّمْعَةِ وَاِنْ وَجَدَ مَآءً بَعْدَ مَا تَيَمَّمَ وَبَعْدَ مَا اَحْدَثَ يَغْسِلُ اللُّمْعَةَ وَتَيَمَّمَ لِلْحَدَثِ اِذَا كَانَ الْمَآءُ يَكْفِيْ لِلُّمْعَةِ وَلَا يَكْفِيْ لِلْوُضُوْءِ وَاِنْ كَانَ يَكْفِيْ لِلْوُضُوْءِ وَلَا يَكْفِيْ لِلُّمْعَةِ يَتَوَضَّأُ بِهٖ وَلَا يَنْتَقِضُ تَيَمُّمُ الْجِنَابَةِ وَاِنْ كَانَ يَكْفِيْ لِاَحَدِهِمَا عَلَى الْاِنْفِرَادِ فَاِنَّهٗ يَغْسِلُ اللُّمْعَةَ

وَتَيَمَّمَ لِلْحَدَثِ وَعَلَيْهِ اَنْ يَّبْدَءَ بِغَسْلِ اللُّمْعَةِ ثُمَّ يَتَيَمَّمُ وَلَوْ كَانَ مَعَهُ ثَوْبٌ نَجِسٌ يَغْسِلُ الثَّوْبَ وَيَتَيَمَّمُ لِلُّمْعَةِ مُتَيَمِّمٌ اَمَّ قَوْمًا مُتَوَضِّئِيْنَ يُجُوْزُ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَاَبِيْ يُوْسُفَ خِلَافًا لِّمُحَمَّدٍ وَكَذَا الْقَاعِدُ اَمَّ قَوْمًا قَآئِمِيْنَ وَاَمَّا الْمَاسِحِ عَلَى الْخُفِّ اَوْ عَلَى الْجَبِيْرَةِ فَاِنَّهُ يَؤُمُّ الْغَاسِلِيْنَ بِالْاِتِّفَاقِ وَذُكِرَ فِي الْحَصْرِ وَشَرْحِ الْاِسْبِيْجَابِيْ لَاتَصِحُّ اِمَامَةُ صَاحِبِ الْجَرْحِ السَّآئِلِ لِاَصِحَّآءِ وَكَذَا اِمَامَةُ الْاُمِّيِّ لِلْقَارِئِ وَلَوْ اَمَّا مَنْ هُوَ بِمِثْلِ حَالِهِمَا جَازَ.

ژباړه: يو جنب سړي غسل وکړ او د هغه د بدن يوه حصه د پرېوللو څخه پاته سوه د هغه د پرېوللو لپاره اوبه نه وي نو د دې لپاره دي تيمم ووهي که چېري د تيمم کولو وروسته يا د بې اودسه کيدو وروسته هغه ته اوبه پيدا سوي نو هغه حصه دي پرېولي او د حدث لپاره دي تيمم ووهي که اوبه د هغه حصې لپاره کافي وي او د اودس لپاره نه وي کافي.

که د اودس لپاره کافي وي او دهغه حصې لپاره نه وي کافي نو اودس دي وکړي او د جنابت لپاره کړل سوی تيمم نه ماتيږي، که چېري فقط د يوه لپاره کافي وي نو هغه حصه دي پرېولي او د حدث لپاره دي تيمم ووهي او لازم دی چي اوله حصه پرېولي او وروسته تيمم ووهي، اؤ که د هغه سره پليته کپړه وي نو دا کپړه دي پرېولي او د هغه حصې لپاره دي تيمم ووهي.

يو تيمم کونکی سړی که چېري د با اودسه خلګو لپاره امامت وکړي نو د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله او ابويوسف رحمهم الله په نز جائز دی خلافا لمحمد رحمه الله، دغه ډول ناست سړی د ولاړو خلګو لپاره، په موزو او په خاورو مسح کولو والا سړی بالاتفاق د هغه خلګو امامت کولای سي چا چي پرېولل کړي وي او په حضر شرحه

اسیبجابي کي ذکر دي چي د جاري زخم والا د تندرستو لپاره امامت نه دی صحیح دغه ډول د لاعلمه امامت د صاحب علم لپاره صحیح نه دی، که د دواړو امامت د خپلو ډولو خلګو لپاره وکړي نو صحیح دی.

تشریح: که د اوبو د مقدار کم سي او د ټوله بدن لپاره د غسل اوبه کافي نه وي څه حصه وچه پاته سي نو د دې سړي د جنابت لپاره تیمم ضروري دی ولي چي تراوسه حالته پوري جنابت باقي دی که وروسته اوبه پیداسي مګر دا سړی د جنابت سره بې اودسه هم سو یعني حدث اصغر ورته لاحق سو نو اوبه دي وکتل سي که د دا حصې لپاره کافي وي چي د غسل په دوران کي پاته سوي وه هغه دي پرېولي او که د اودس لپاره کافي وي نو دي اودس وکړي.

که چېري فقط د یوه لپاره کافي کیږي نو د هغه حصې پرېولل ضروري دي ولي چي دا حدث اکبر دی چي د هغه دفعه کول د حدث اصغر څخه مقدم دی او د هغه حصې د پرېوللو وروسته حدث اصغر یعني د اودس په ځای دي تیمم ووهي.

که یو څوک خپله هم بې اودسه وي او د هغه کپړي هم نجسې وي او اوبه د یوه لپاره کافي کیدلای سي نو په دې اوبو سره دي خپله نجسه کپړه پرېولي ولي چي د اودس قائم مقام اودس کیدی سي او دا هم طهارت دی نو د یوه پر ځای دوه طهارتونه حاصلیږي.

که تیمم کونکی سړی د اودس کونکو امامت وکړي نو د شیخینو رحمهم الله تعالی په نز جائز دی ولي چي تیمم د دوی په نز طهارت مطلقه دی او د امام محمد رحمه الله په نز بیا تیمم طهارت ضروري دی، د دې لپاره دا اقتداء قوي خلف الضعیف دی نو جائز نه ده، دغه ډول د ناست سړي امامت د قیام والاوو لپاره په دې کي هم دغه اختلاف دی، د شیخینو په نز جائز دی او د امام محمد په نز نه دی جائز

په موزو یا په پټۍ مسح کول طهارت ضروري نه دی بلکي د ټولو په نز طهارت

مطلقه دی، بالکل دغه ډول دی لکه څنګه پرېولل نو بلا اختلاف د ده امامت صحیح دی،که چېري یو ناسُور (یو ډول ناروغي ده) داسي خراب سي چي د هغه څخه اکثره وخت ژړي اوبه نَوُونه بهیږي نو د تندرست خلګو لپاره د داسي سړي امامت صحیح نه دی دغه ډول که د یو چا دومره قرآن هم یاد نه وي په کوم سره چي د فرض قرآئت مقدار پوره کیږي نو د دې سړی لپاره د داسي خلګو امامت نه دی جائز چي هغه په فرض مقدار کي تلاوت کولای سي.

والله اعلم بالصواب

فصل في المياه

(دا فصل په بيان کي د اوبو دی)

وَيَجُوْزُ الطَّهَارَةُ بِمَآءٍ مُطْلَقٍ طَاهِرٍ كَمَآءِ السَّمَآءِ وَالْاَوْدِيَةِ وَالْعُيُوْنِ وَالْاٰبَارِ وَالْبِحَارِ وَتَزُوْلُ بِهَا النِّجَاسَةُ حُكْمِيَّةً كَانَتْ اَوْ حَقِيْقِيَّةً وَلاَ تَجُوْزُ اِزَالَةُ النِّجَاسَةِ الْحُكْمِيَّةِ بِالْمَآءِ الْمُقَيَّدِ كَمَآءِ الْاَشْجَارِ وَالثِّمَارِ وَالْبَطِيْخِ وَالْبَاقِلاَّءِ وَالْمِرَقِ وَالزَّرْدَجِ وَمَآءِ الزَّعْفُرَانِ وَكَذَا لاَ تَجُوْزُ بِمَآءِ الْوَرَدِ وَالْخِلِّ وَالْعَصِيْرِ وَنَحْوِ ذٰلِكَ وَتَجُوْزُ اِزَالَةُ النِّجَاسَةِ الْحَقِيْقِيَّةِ عَنِ الثَّوْبِ وَالْبَدَنِ بِالْمَآءِ الْمُقَيَّدِ وَبِكُلِّ مَائِعٍ طَاهِرٍ يُمْكِنُ اِزَالَتُهَا بِهِ كَاللَّبَنِ وَالْخِلِّ وَالْعَصِيْرِ وَبِمَا ذَكَرْنَا اٰنِفًا مِنَ الْمَآءِ الْمُقَيَّدِ وَاِنْ غَسَلَ النِّجَاسَه بِالْعَسَلِ اَوْ بِالسَّمَنِ اَوْ بِالدُّهْنِ لاَيَزِيْلُهَا لِاَنَّهَا لاَيَنْعَصِرُ بِالْعَصْرِ.

ژباړه: جائز ده پاکي حاصلول په خالصو پاکو اوبو سره لکه د باران، ښلو، چينو، څاګانو، او د درياب اوبه، په دغه اوبو سره حکمي او حقيقي دواړه نجاستونه ليري کيږي، د حکمي نجاست ليري کول په مقيدو اوبو (غيرخالص) سره نه دی جائز لکه د درختو، ميوو، ايندوانې، لوبيا، ښوروا، زردکي او د زعفران په اوبو سره، دغه ډول د عرق ګلاب، سُرکه، او د انګورو په راس، او په دې قسم نورو اوبو سره نه دی جائز نجاست حقيقي د خپلو کالو او بدن څخه ليري کول په مقيدو اوبو (غير خالص) سره او د بهېدونکي شي چي په هغه سره ازاله ممکنه وي لکه څنګه چي تېرسوه يعني سُرکه، عصير يا حبس او په مقيدو اوبو سره لکه بيان چي اوس تير سو په دا شانو سره

د نجاست حقیقي ازاله جائز ده، که چېري نجاست په شاتو، غوړو یا په تیلو سره پرېولی نو نه زائلیږي ولي چي دا لیري کوونکي نه دي.

تشریح: د تیمم د بیان د فراغته وروسته مصنفرحمه الله د اوبو احکام بیانوي، ولي چي اودس او غسل د اوبو په ذریعه سره ممکن دی، نو چونکي په هرو اوبو سره اودس وغسل صحیح نه دی د دې لپاره دا پېژندل ضروري دي چي په کومو اوبو باندي طهارت حاصلبدی سي.

چونکي طهارت یا خو د نجاست حکمي څخه حالیږي یا د نجاست حقیقي څخه نو مصنفرحمه الله د دې جلا جلا احکام بیان کړه.

مصنفرحمه الله وایي چي طهارت حکمي صرف په خالصو او پاکو اوبو سره حالیدی سي چي د هغه اوبو مثالونه مصنفرحمه الله په متن کي یاد کړه، لکه باران او د چینو وغیره اوبه، نجاست حکمي دادی چي یو سړی د کار په وخت کي زخمي سي نو د کوم ځای څخه چي ويني توی سي صرف په هغه ځای نجاست معلومیږي مگر د ويني په وتلو سره مکمل اودس فرض دی که څه هم د اودس په اندامو باندي ويني نه وي موښتي نو اعضاء د اوداسه حکمًا نجس سوه او د نجاست حکمي څخه چي کوم طهارت حاصلیږي هغه ته طهارت حکمي ویل کیږي.

نجاست حقیقي دادی چي واقعي یو نجاست مثلاً وينه، متیازي وغیره په یو ځای باندي ولگیږي، که په نظر راسي او که نه لکه څنگه چي متیازي د لگېدو وروسته وچي سي نو دا نجاست حقیقي دی او د ده څخه چي کوم طهارت حاصلیږي هغه ته طهارت حقیقي ویل کیږي، د نجاست حقیقي ازاله په هغه شي سره جائز ده چي بهېدونکی پاک وي مثلاً د سرکې او زعفران وغیره گډې سوي اوبه نیستېږل کیږي ولي چي په نیستېږلو سره د نجاست تمام اجزا غالباً بهیږي، نو د دې لپاره دا ضروري ده چي په داسي مائع پاک شي سره پرېولل سي چي په هغه باندي غوړګي نه وي

ولي چي په روغني شيانو سره نجاست نور غوړيږي او نه سي صفا کيدی، د دې لحاظ څخه د مصنف رحمه الله قول لپاره د طهارت په پاکو مائعو شيانو کي صحيح نه معلوميږي ولي چي په هغو کي هم غوړيزگي وي او په ښه ډول نسي نيستيږل کيږدی چي په هغه سره د نجاست جمله اجزا ختم سي .

وَتَجُوْزُ الطَّهَارَةُ بِمَاءٍ خَالَطَهُ شَيْءٌ طَاهِرٌ فَغَيَّرَ اَحَدَ اَوْصَافِهِ كَمَآءِ الْمَدِّ وَالْمَاءِ الَّذِیْ اخْتَلَطَ بِهِ الزَّعْفَرَانُ اَوِ الصَّابُوْنُ اَوِ الْاَشْنَانُ بِشَرْطِ اَنْ تَكُوْنَ الْغَلَبَةُ لِلْمَاءِ مِنْ حَيْثُ الْاَجْزَآءِ اِذَا لَمْ يَزَلْ عَنْهُ اِسْمُ الْمَاءِ وَاَنْ يَّكُوْنَ رَقِيْقًا بَعْدُ فَحُكْمُهُ حُكْمُ الْمَآءِ الْمُطْلَقِ يَجُوْزُ بِهِ الْوُضُوْءُ وَاِلَّا فَلَا وَذُكِرَ فِیْ اَجْنَاسِ النَّاطِفِيِّ اَلتَّوَضُّؤُ بِمَاءِ السَّيْلِ اِذَا لَمْ تَكُنْ رِقَّةُ الْمَاءِ غَالِبَةً لَايَجُوْزُ وَذُكِرَ فِی الْمُلْتَقَطِ اِذَا اُلْقِیَ الزَّاجُ فِی الْمَآءِ حَتّٰی اِسْوَدَّ الْمَاءُ وَلٰكِنْ لَّمْ تَذْهَبْ رِقَّتُهُ جَازَ الْوُضُوْءُ بِهِ وَكَذَا الْعَفْصُ اِذَا طُرِحَ فِی الْمَآءِ وَكَذَا الْحِمَّصُ وَالْبَاقِلَآءُ اِذَا اُنْقِعَ فِی الْمَاءِ وَلَمْ تَزَلْ رِقَّتُهُ وَاِنْ تَغَيَّرَ لَوْنُهُ اَوْ طَعْمُهُ اَوْ رِيْحُهُ وَذُكِرَ فِی الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ لَوْ طُبِخَ الْحِمَّصُ اَوِ الْبَاقِلَآءُ اِنْ كَانَ الْمَاءُ بِحَالٍ لَوْ بَرَدَ لَا يَثْخَنُ وَلَا تَزُوْلُ عَنْهُ رِقَّةُ الْمَاءِ جَازَ الْوُضُوْءُ بِهِ وَاِلَّا فَلَا وَذُكِرَ فِی الْمُحِيْطِ لَوْ تَوَضَّاَ بِمَآءٍ اُغْلِیَ بِاَشْنَانٍ اَوْ بِاٰسٍ اَوْ بِشَیْءٍ مِّمَّا يَتَعَالَجُ بِهِ النَّاسُ جَازَ الْوُضُوْءُ بِهِ مَالَمْ يَغْلِبْ عَلَيْهِ وَكَذَا لَوْ بَلَّ الْخُبْزَ فِی الْمَاءِ اِنْ بَقِيَتْ رِقَّتُهُ جَازَ وَاِنْ صَارَ الْمَاءُ ثَخِيْنًا لَايَجُوْزُ وَفِیْ شَرْحِ الْقُدُوْرِيِّ اِذَا اخْتَلَطَ الطَّاهِرُ بِالْمَاءِ وَلَمْ يَزَلْ اِسْمُ الْمَاءِ عَنْهُ فَهُوَ طَاهِرٌ وَطَهُوْرٌ سَوَآءٌ تَغَيَّرَ لَوْنُهُ اَوْلَمْ يَتَغَيَّرْ وَلَمْ يَذْكُرْ خِلَافَ

وَعَلٰى هٰذَا اِذَا تَغَيَّرَ لَوْنُ الْمَآءِ اَوْ رِيْحُهُ اَوْ طَعْمُهُ بِطُوْلِ الْمَكْثِ اَوْ بِوُقُوْعِ الْاَوْرَاقِ فِيْهِ يَجُوْزُ الْوُضُوْءُ بِهِ اِلاَّ اِغْلَبَ عَلَيْهِ لَوْنُ الْاَوْرَاقِ فَيَصِيْرُ مُقَيَّدًا.

ژباړه: طهارت په هغه اوبو سره جائز دی چي په هغو کي يو پاک شی گډ سي او د اوبو د اوصافو څخه يو متغير کړي لکه د سيلاب اوبه، زعفران، صابون، او اشنان گډي اوبه په دې شرط سره چي د اجزا په اعتبار اوبه غالبي وي، تر هغه وخت پوري چي د هغه څخه د اوبو نوم نه وي زائل او د هغه وروسته هم نرمي پاته سوی وي نو هغه حکم د خالصو اوبو دی او په دوی سره اودس جائز دی، که چېري دا ډول نه وي نو نه دی جائز.

په اجناس ناطقي کي ذکر دي چي د سيلاب اوبه چي کله نرمي نه وي نو په هغو سره اودس نه دی جائز او په ملتقط کي دي چي کله اوبو ته پتکری (يو ډول شی دی) واچول سي او د اوبو رنګ تور سي مګر نرمي پاته وي نو په دې سره اودس جائز دی، د غه ډول ګل مازو، نخود، او لوبيا چي کله اوبو ته واچول سي مګر نرمي باقي ويکه څه هم يې رنګ خوند او بوی بدل سي.

په جامع الصغير کي مذکور دي چي کله په اوبو کي نخود يا لوبيا پخه سي نو که چېري اوبه وروسته تر سړېدو ګاټه نه وي.او نرمي يي هم نه وه ختمه سوي نو په دوی سره اودس جائز دی که چېري داسي نه وي نو نه دی جائز. په محيط کي ذکر دي که ۲
چېري څوک په داسي اوبو سره اودس وکړي چي په هغو سره اشنان يا آس يا داسي شي کوم چي د علاج لپاره استعماليږي، جوشه ولی وي نو په دې سره اودس جائز دی تر هغه وخته پوري چي په دوی يې غلبه نه وي کړي، دغه ډول که چېري ډوډۍ په اوبو کي کښېښوول سي او د اوبو رقت باقي وي نو جائز دی که ګاټه وي نو نه دی جائز، کله چي يو پاک شی په اوبو کي ګډ سي مګر په ده سره د اوبو نوم نه سي

زائل نو دا پاکي دي او پاکونکي دي، که يې رنګ متغير وي او که نه وي ، په دې کي هيڅ اختلاف نه دی مذکور، دغه ډول که د اوبو رنګ، بوی او خوند د درېدو په وجه يا د پاڼو لوېدو په وجه متغير سي نو اودس جائز دی تر هغه پوري چي د پاڼو رنګ نه وي غالب سوی ولي چي بيا دا اوبه مقيدي کيږي .

تشريح: د اوبو سره که چېري يو شي ګډ سي او د اوبو رنګ، خوند او د بوی څخه يو متغير سي لکه د سيلاب اوبه د مختلفو ډولو شلو اوبه چي د هغو اوبو رنګ خړ وي نو په دې صورت کي که څه هم د اوبو يو وصف يعني رنګ بدل سو مګر په دې طهارت حاصلول جائز دی .

دغه ډول که چېري د اوبو سره اشنان، زعفران يا صابون ګډ سي نو د هغوی په ګډېدو سره اودس او غسل يا نور طهارت حاصليدی سي، اشنان يو بوټی دی چي په اوبو کي خيشتيږي او د خيرو صفا کولو کار ځيني اخستل کيږي، په تيرو زمانو کي چي به کله صابون د هر چاسره نه وو نو د اشنان څخه د صابون کار اخيستل کيدی مګر که چېري د دې شيانو په ګډېدو سره د اوبو رقت ختم سي او بهېدل کوم چي د اوبو خاصه ده داهم ختم سي او يو لېدونکی دا نه سي ويلای چي دا اوبه دي، مثلاً د صابون په ګډېدو سره زګ زيات سي او اوبه ګاټه سي نو په دې اوبو سره اودس غسل يا نوره پاکي حاصلول نه دي جائز ولي سيلان کوم چي د اوبو طبعيت دی هغه ختم سو نو دا اوبه نه سوي پاته نو په دې سره پاکي څنګه حاصليدی سي .

د فقهاء احناف رحمهم الله تعالي په متفقه طور فيصله ده که چېري يو پاک شی په دومره غالب مقدار کي نه وي چي د اوبو نوم بدل سي مثلاً د نبيذ يا په بل نوم د شربت وغيره سره ياد کړل سي نو په دې سره اودس او غسل جائز دی، که چېري مستعملي اوبه کومي چي خپله پاکي دي مګر پاکونکي نه دي د خالصو اوبو سره ګډې سوي نو په دې اوبو سره هغه وخت پاکي حاصلېدی سي کله چي خالصي اوبه

باندي زیاتي وي یعني که دوه سیره خالصي اوبه وي او یو سیر مستعملي اوبه ګډي سي نو په دې سره اودس وغیره جائز دی که بالعکس وي نو نه دی جائز، او که برابري وي نو احتیاط په دې کي دی چي د نورو اوبو په موجودګی کي په دې سره دي اودس نه کوي که نوري اوبه نسوي پیدا نو احتیاطاً د دې اودس سره تیمم دي هم ووهي، د آس شخه مراد د بېري یا د عز درخته ده.

وَكَذَا اِذَا تَيَقَّنَ بِطُهُوْرِيَّتِهِ اَوْ غَلَبَ عَلٰى ظَنِّهِ جَازَتْ بِهِ الطَّهَارَةُ حَتّٰى لَوْ وَجَدَ مَاءً قَلِيْلاً وَلَمْ يَتَيَقَّنْ بِوُقُوْعِ النِّجَاسَةِ فِيْهِ يَتَوَضَّأُ بِهِ وَيَغْتَسِلُ وَلَا يَتَيَمَّمُ وَكَذَا اِذَا دَخَلَ الْحَمَّامَ وَفِيْ حَوْضِ الْحَمَّامِ مَاءٌ قَلِيْلٌ وَلَمْ يَتَيَقَّنْ بِوُقُوْعِ النِّجَاسَةِ فِيْهِ فَاِنَّهُ يَتَوَضَّأُ بِهِ وَيَغْتَسِلُ وَلَا يَنْتَظِرُ الْمَاءَ الْجَارِيَ وَاِذَا اُلْقِيَ فِي الْمَاءِ الْجَارِيْ شَيْءٌ نَجَسٌ كَالْجِيْفَةِ وَالْخَمْرِ لَا يَتَنَجَّسُ مَالَمْ يَتَغَيَّرْ لَوْنُهُ اَوْرِيْحُهُ اَوْ طَعْمُهُ وَعَنْ مُحَمَّدٍ اِذَا صُبَّ جُبٌّ مِنَ الْخَمْرِ فِي الْفُرَاتِ وَرَجُلٌ اَسْفَلَ مِنْهُ يَتَوَضَّأُ جَازَ اِذَا لَمْ يَتَغَيَّرْ اَحَدُ اَوْصَافِهِ وَاِذَا جَلَسَ النَّاسُ صُفُوْفًا عَلٰى شَطِّ نَهْرٍ جَارٍ يَتَوَضَّئُوْنَ جَازَ وَهُوَ الصَّحِيْحُ وَذَكَرَ النَّاطِفِيُّ سَاقِيَةٌ صَغِيْرَةٌ فِيْهَا كَلْبٌ مَيِّتٌ قَدْسَدَّ عَرْضَهَا فَجَرَى الْمَاءُ عَلَيْهِ لَا بَأْسَ بِالْوُضُوْءِ اَسْفَلَ مِنْهُ اِذَا لَمْ يَتَغَيَّرْ اَحَدُ اَوْصَافِهِ وَهُوَ مَرْوِيٌّ عَنْ اَبِيْ يُوْسُفَ وَعِنْدَهُمَا لَا يَجُوْزُ وَعَنِ الْفَقِيْهِ اَبِيْ جَعْفَرٍ اِذَا كَانَ الْمَاءُ فَوْقَ الْجِيْفَةِ مِقْدَارَ ذِرَاعٍ جَازَ وَذَكَرَ فِي النَّوَازِلِ اِذَا كَانَ الْمَاءُ الَّذِيْ يُلَاقِي الْجِيْفَةَ دُوْنَ الَّذِيْ لَا يُلَاقِي الْجِيْفَةَ يَعْنِيْ اِذَا كَانَ الْغَلَبَةُ لِلْمَاءِ الَّذِيْ لَا يُلَاقِي الْجِيْفَةَ جَازَ وَاِلَّا فَلَا وَعَلٰى هٰذَا مَاءُ الْمَطَرِ اِذَا جَرٰى فِيْ

مِيزَابِ السَّطْحِ وَكَانَ عَلَى السَّطْحِ عَذِرَاتٌ فَالْمَآءُ طَاهِرٌ اَمَّا اِذَا كَانَتِ الْعَذِرَةُ عِنْدَ الْمِيزَابِ اَوْكَانَ الْمَآءُ كُلُّهُ اَوْ نِصْفُهُ اَوْ اَكْثَرُهُ يُلَاقِي الْعَذِرَةَ فَهُوَ نَجِسٌ وَاِلَّا فَهُوَ طَاهِرٌ وَاِنْ سَالَ الْمَطَرُ مِنَ السَّقْفِ اَوْ مِنَ الثُّقْبِ اِنْ كَانَ الْمَطَرُ دَآئِمًا اَيْ مُسْتَمِرًّا لَمْ يَنْقَطِعْ بَعْدُ فَهُوَ طَاهِرٌ وَاِنْ اِنْقَطَعَ الْمَطَرُ ثُمَّ سَالَ الْمَآءُ مِنَ الثُّقْبِ اِنْ كَانَتْ عَلٰى جَمِيْعِ السَّطْحِ اَوْ عَلٰى اَكْثَرِهِ نِجَاسَةٌ فَهُوَ نَجِسٌ.

ژباړه: دغه ډول که چېري د اوبو د پاکېدو يقين يا ګمان غالب وي نو طهارت کول جائز دی تر دې پوري چي کله لږ اوبه پيداسي او په هغو کي نجاست د نه واقع کيدو يقين وي نو په دې اوبو سره دي اودس او غسل وکړي او تيمم دي نه وهي، دغه ډول چي کله حمام ته داخل سي او د حمام په تالاب کي په لږ مقدار کي اوبه وي او د نجاست ليدو يقين يي نه وي نو په دې سره دي اودس او غسل وکړي د جاري اوبو انتظا دي نه کوي که چېري په جاري اوبو کي يو نجس شي واچول سي لکه وروست مردارشی يا شراب نو اوبه نه نجسي کيږي تر هغه وخته چي رنګ، بوی او خوند يي متغير نه وي، د امام محمد رحمه الله څخه روايت دی که چېري د شرابو غټ منګی د فرات په نهر کي توی کړل سي او يو انسان لاندي د جريان په طرف کي اودس وکړي نو جائز دی تر هغه وخته پوري چي يو وصف متغير نه وي.

که ډېر خلک د نهر پر کناره اودس وکړي نو جائز دی او دغه صحيح ده، ناطقي ذکر کړی دی که چېري په کوچني نهر کي مړ سپی د هغه پراخي بنده کړي او اوبه پر هغه سرپېره تيرېږي نو د لاندي طرف خلکو ته په اودس کولو کي هيڅ مضائقه نه سته تر هغه وخته پوري چي يو وصف يي متغير نه وي، دا د امام يوسف رحمه الله څخه روايت دی او د طرفينو په نزد نه دی جائز، د فقيه ابو جعفر څخه روايت دی که

چېري اوبه په مرده لاش يو ګز پورته تيرېږي او په نوازل کي مذکور دي چي اوبه د يو مردار شي سره لګيږي د هغه اوبو څخه لږ داسي اوبه وي چي نه ورسره لګيږي وروسته دا اوبه بيا د هغه اوبو سره لګيږي چي هغه د مردار شي سره لګيږي نو که د دانورو اوبو سره لګېدلي بيا جائز نه دی که نه ورسره لګېدلي نو جائز دی ، په دغه بناء که چېري د باران اوبه د چت د ناوې توی سي او په چت ګندګي پرته وي نو اوبه پاکي دي که چېري ګندګي و ناوې ته نژدې پرته وي يا اوبه ټوله يا نيمي اکثره د ګندګۍ سره يوځای تواېږي نو نجسي دي که چېري داسي نه وي نو پاکي دي، که د باران اوبه د چت د سري يا د يو سري څخه توی سي نو که چېري باران جاري وي نو پاکي دي او د باران د درېدلو وروسته که چېري د سوري څخه اوبه توی سي او په پوره چت يا په اکثره نجاست پروت وي نو نجسي دي .

تشريح: د شريعت مطهره يوه قاعده داهم ده چي يقين په شک سره نه زائليږي تر څه وخته پوري چي د يقين په مقابله کي يقين نه وي نو د دې قاعدې په نظر کي ساتلو سره که چېري د اوبو په باره کي يقين وي يا ګمان غالب وي کوم چي په منزله د يقين دی چي دا اوبه پاکي دي نو په دې سره اودس او غسل جائز دی په دې صورت کي تيمم نه دی جائز نو پر دې بنا که چېري لږ اوبه پيدا سي چي هغه د اودس يا غسل لپاره کافي وي نو د هغو په استعمال کي را وړل ضروري دي ولي چي تيمم په دې صورت کي نه دی جائز او دا ضروري نه ده چي د چا څخه پوښتنه وکړي چي دا اوبه پاکي دي که ناپاکي .

که چېري په جاري اوبو کي يو ګندګي لکه د يو ساه داره وروست جسد واچول سي نو ترڅه وخته پوري چي د اوبو رنګ، يا خوند يا په بوی کي د هغه نجاست اثر نه سي ظاهر تر هغه وخته پوري دا اوبه پاکي دي ولي چي د دې نجاست اجزا په اوبو نه دي غالب سوي نو ضرور به د نجاست بدبويي په رنګ يا په خوند کي د اوبو

محسوسېدی، مګر کله چي نه محسوسيږي نو دا د دې دليل دی چي نجاست په اوبو نه دی غالب سوی.

په دې باندي په تفريح کولو سره مصنف رحمه الله د امام محمد رحمه الله قول نقل کولو سره وايي که چېري د فرات په نهر کي په کثير مقدار کي شراب توی کړل سی او په دې اوبو کي د شراب څه رنګ، بوی او خوند نسي محسوس نو په دې سره اودس کول جائز دي، دغه ډول که چېري د نهر په غاړه ډېر خلګ کښيني په يوه وخت کي اودس وکړي نو د صحيح قول مطابق دا جائز دی ولي چي د اوبو پاکيدل يقيني دي او په فقط دا احتمال دی چي يوه به د بل مستعملي اوبه استعمال کړي وي نو فقط د دې احتمال پر بنا دي اوبو ته مستعملي اوبه ويل نه دي جائز بلکي په دې اوبو سره طهارت کول جائز دی.

دغه ډول په يوه کوچني نهر کي که يو مردار لاش دا ډول پروت وي چي اوبه د هغه پر سر تيريږي مګر د اوبو رنګ، بوی او خوند کي څه قسم تغير نه وي نو په دې سره اودس جائز دی مګر بعضو فقهاؤ کرامو دا تفصيل کړی دی چي که چېري تيرېدونکي اوبه زياتي په دې نجاست سره تيريږي نو نه دی جائز که چېري تيرېدونکي اوبه کمي وي نو په دې سره اودس جائز دی په دې قياس کولو سره فقهاء کرام وايي که چېري په چت نجاست پروت وي او د باران اوبه اکثره د نجاست څخه تيريږي نو دا هم نجسي دي، که چېري په نيم چت باندي نجاست پروت وي نو احتياطاً د نجس کېدلو حکم يي کيږي.

وَاِذَاكَانَ الْمَآءُ الْجَارِیْ يَجْرِیْ ضَعِيْفًا يَنْبَغِیْ اَنْ يَتَوَضَّاَ عَلَى الْوِقَارِ حَتّٰى يَمُرَّ عَنْهُ الْمَآءُ الْمُسْتَعْمَلُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يَجْعَلُ يَمِيْنَهُ اِلٰى اَعْلَى الْمَآءِ يَعْنِیْ مَوْرِدَ الْمَآءِ وَاِذَا سُدَّ الْمَآءُ الْجَارِیْ مِنْ فَوْقٍ وَبَقِیَ جَرْيُهٗ كَانَ جَارِيًا يَجُوْزُ التَّوَضُّؤُ بِهٖ اَمَّا الْحَدْ ذِ

جِرْيَانِ الْمَآءِ فَقَالَ بَعْضُهُمْ اِنْ ذَهَبَ بِهِ تِبْنٌ اَوْوَرَقٌ فَهُوَ جَارٍ وَقَالَ بَعْضُهُمْ اِنْ كَانَ اِنْ رُفِعَ يَنْحَسِرُ مَا تَحْتَهُ وَيَنْقَطِعُ الْجِرْيَانُ فَلَيْسَ بِجَارٍ وَاِنْ كَانَ بِخِلَافِهِ فَهُوَ جَارٍ وَفِي الْمُنْتَقٰى اِذَا كَانَ بَعْضُ بَطْنِ النَّهْرِ نَجِسًا وَجَرَى الْمَآءُ عَلَيْهِ اِنْ كَانَ بِخَلَافِهِ فَهُوَ جَارٍ وَفِي الْمُنْتَقٰى اِذَا كَانَ بَعْضُ بَطْنُ النَّهْرِ نَجِسًا وَجَرَى الْمَآءُ عَلَيْهِ اِنْ كَانَ الْمَآءُ كَثِيْرًا بِحَيْثُ لَايُرٰى مَاتَحْتَهُ لَايَتَنَجَّسُ وَاِنْ كَانَ جَمِيْعُ بَطْنِ النَّهْرِ نَجِسًا وَلَوْكَانَ فِي النَّهْرِ مَآءٌ رَاكِدٌ فَتَنَجَّسَ وَنَزَلَ مِنْ اَعْلَاهُ مَآءٌ طَاهِرٌ وَاَجْرٰهُ وَسَيَّلَهُ فَاِنَّهُ يَطْهُرُ وَلَوْ تَوَضَّاَ مِنْهُ جَازَ اِذَا لَمْ يُرٰى لَهَا اَثَرٌ.

ژباړه: كله چي اوبه كمزوري كراري بهيږي نو مناسبه ده چي اودس په آرامه سره وكړي د دې لپاره چي مستعملي اوبه تيري سي او ځينو ويلي دي خپل راسته لاس د كوم طرف څخه چي اوبه راځي و هغه طرف ته دي كړي او كله چي اوبه د پورته طرف څخه راتلل بند سي مګر جريان نافي وي نو جاري دي؛ په دې سره اودس جائز دی د جاري كېدو انداز د ځينو په نزد دادی كه خاشه او پاڼه وړی سي نو جاري دي او ځيني وايي كه چېري اوبه پورته كړل سي او لاندي سطحه ظاهره سي او جريان بند سي نو نه دي جاري، كه د دې خلاف وي نو جاري دي، په متقي كي راغلي دي كه چېري د نهر بعض اندروني حصه نجسه سي او په هغه باندي اوبه جاري سي نو كه چېري اوبه زياتي وي او لاندي يوڅه نه معلوميږي نو نه نجسي كيږي كه څه هم د نهر اندروني حصه نجسه وي، او كه په نهر كي اوبه ولاړي وي بيا نجسي سي او د پورته څخه پاكي اوبه جاري سي او د ځان څخه يوسي نو پاكيږي كه چېري په دې اوبو سره اودس وكړل سي، جائز دی تر هغه وخته چي د نجاست اثر

نه سي ښكاره .

تشريح: كله چي اوبه آهسته آهسته رواني وي نو اودس كونكي ته پكار دى چي په آرامه سره اودس وكړي د دې لپاره چي لاندي توى سوي مستعملي اوبه تېري سي او بهتره داده چي د اوبو اخيستلو په وخت كي پورته يعني د كوم طرف څخه چي اوبه جاري وي هغه اخلي د دې لپاره چي د مستعملو اوبو د استعمال احتمال هم نه سي پاته، په اوبو هغه وخت د جاري حكم كيږي چي كله خاشه يا د دې په مثال څه بل معمولي شي د وړلو قابلي وي كه چېري دومره هم نه وي نو د جاري په حكم كي نه دي، په دې سره اودس يا نور طهارت حاصلول نه دي جائز دغه قول زيات مشهور دى .

كه نهر وچ سو او اندروني حصه يي نجسه سوه او وروسته بيا اوبه جاري سي نو د دې نهر اندروني حصه د اوبو په جاري كېدلو سره په خپله پاكيږي او د نهر ولاړي نجسي اوبه چي كله د دې جاري اوبو سره رواني سي نو هغه هم پاكيږي ولي چي په هغو د پاكو اوبو غلبه وسوه مگر د دې اوبو په زيات مقدار كېدل ضروري دي، اوس د مقدار په باره كي ځيني علماء وايي چي كم از كم دومره وي چي د نهر اندروني حصه نه ښكاره كيږي مگر كله كله د اوبو د خړيدو په وجه اگرچي اوبه كمي وي مگر لاندنۍ حصه نه ښكاره كيږي نو د دې په باره كي صحيح داده چي د اوبو مقدار دومره وي چي كتونكى خپله دا د نجاست په مقابله كي زياتي تصور كړي .

فصل في الحياض

(دا فصل د تالابو د اوبو په بيان کي دی)

اَلْحَوْضُ اِذَا كَانَ عِشْرًا فِيْ عَشْرٍ بِذِرَاعِ الْكِرْبَاسِ فَهُوَ كَبِيْرٌ لَايَتَنَجَّسُ بِوُقُوْعِ النَّجَاسَةِ اِذَا لَمْ يُرَلَهَا اَثَرٌ سَوَآءٌ كَانَتِ النَّجَاسَةُ مَرْئِيَّةً اَوْ لَمْ تَكُنْ مَرْئِيَّةً وَبَعْضُهُمْ قَالُوْا يَتَنَجَّسُ مَا حَوْلَ النَّجَاسَةِ مِقْدَارُ حَوْضٍ صَغِيْرَةٍ وَبَعْضُ مَشَائِخِ بُخَارٰى جَعَلُوْهُ كَالْمَآءِ الْجَارِىْ وَتَوَسَّعُوْا فِيْهِ لِعُمُوْمِ الْبَلْوٰى وَيَبْتَنِيْ عَلٰى هٰذَا مَسَائِلُ مِنْهَا اِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ فِيْ حَوْضٍ كَبِيْرٍ فَسَقَطَ مِنْ غُسَالَتِهِ فِي الْمَآءِ فَرَفَعَ الْمَآءَ ثَانِيًا مِّنْ مَوْضِعِ الْوُقُوْعِ قَبْلَ التَّحْرِيْكِ قَالُوْا عَلٰى قَوْلِ اَبِيْ يُوْسُفَ لَايَجُوْزُ لِاَنَّ عِنْدَهُ التَّحْرِيْكَ شَرْطٌ وَمَشَائِخِ بُخَارٰى قَالُوْا يَجُوْزُ لِعُمُوْمِ الْبَلْوٰى وَعَلٰى هٰذَا الْقِيَاسِ مَا اِذَا كَانَ الرِّجَالُ صُفُوْفًا يَتَوَضَّئُوْنَ مِنْ حَوْضٍ كَبِيْرٍ جَازَ وَفِيْ اَجْنَاسِ النَّاطِفِيْ اَنَّ مَنِ اغْتَسَلَ مِنْ حَوْضٍ كَبِيْرٍ فَلِلْاٰخَرِ اَنْ يَتَوَضَّاَ فِيْ ذٰلِكَ الْمَكَانِ وَلَيْسَ لِلرَّجُلِ اَنْ يَتَوَضَّاَ اَوْ يَغْتَسِلَ فِي الْحَوْضِ الْكَبِيْرِ بِنَاحِيَةِ الْجِيْفَةِ وَالْاَصْلُ فِيْهِ مَا تَقَدَّمَ وَاِذَا لَمْ تَكُنِ النَّجَاسَةُ مَرْئِيَّةً يَجُوْزُ مُطْلَقًا.

ژباړه: تالاب چي کله لس په لس گزه کي وي نو دا لوی دی او دا نجاست په لوېدو نه مردارېږي تر هغه وخته پوري چي د هغه اثر نه وي ښکاره. که نجاست په نظر راځي او که نه، ځيني علماوو وايي چي د نجاست څخه شاوخوا د کوچني تالاب په اندازه نجس کيږي او ځينو دبخارا علماوو دا حوض کبير د جاري په حکم کي

شمارلی دی عموماً د بلوی په وجه په دې کې یې وسعت اختیار کړی دی او په دغه باندې مسائلې مبنی وي دا که چېرې په لوی تالاب کې مخ پرېولې او مستعملې اوبه په دغه ځای توی سي او د دغه ځای څخه بیا اوبه واخلې ترمخه د دې چې اوبه متحرکې سي نو وایې چې د امام یوسف رحمه الله په قول نه دې جائز ولې چې د هغه په نز حرکت شرط دی او د بخارا علماء وایې د عموم بلوی په وجه جائز دی په دې باندې قیاس کولو سره که چېرې ډېر خلک په قطار در قطار کښینې او د لوی تالاب څخه اودس وکړې نو جائز دی او په اجناس ناطقې کې دې که چېرې څوک په لوی تالاب کې غسل وکړې نو د دوهم وار لپاره په دغه ځای کې اودس کول جائز دی او د یوه سړي لپاره دا نه ده جائز چې په لوی تالاب کې نجاست ته نژدې غسل یا اودس وکړې او قاعده هغه ده چې ماقبل مذکوره سوې ده او که نجاست په نظر نه راځي نو مطلقا جائز دی.

تشریح: د اوبو د احکامو په بیان کولو سره مصنف رحمه الله په دې باب کې په خصوصې توګه د تالاب د اوبو په باره کې د احکامو آګاهي وایې، د عوامو د سهولت په خاطر متاخرین علماء په حنفي مسلک کې دا قول اختیار کړی دی چې کله تالاب لس په لس کې وي نو دا د جاري اوبو په حکم کې دی تر هغه وخته چې په دې اوبو کې د نجاست اثر نه وي په نظر راغلی نو دا اوبه پاکې دي.

په اصل کې په حنفي مسلک کې د آئمه احنافو څخه د تالاب په باره کې لس په لس کې هیڅ قول نه دی منقول، بلکې حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله دا مسئله په رایه مبتلی باندې پرې ایښېده او د آئمه احنافو په نز د قلیل او کثیر هیڅ مقدار نسته، البته صرف د امام یوسف رحمه الله څخه دا قول نقل دی چې کله د اوبو و یوه طرفته حرکت ورکړل سي نو دوهم طرف نه وي متحرک نو اوبه د ډېرو په حکم کې دي او د وقوع نجاست څخه څه اثر ښکاره کیدو بغیره نجسې نه دي، د متاخرینو علماء

احنافو په نز چي كوم لس په لس كي قول مشهور دى د هغه حقيقت صرف دومره دى چي يو وخت ابوسليمان جوزجاني د خپل استاذ امام محمد څخه پوښتنه وكړه چي څومره اوبه ډېري شمارل كيږي نو په دې باندي امام محمد رحمه الله وويل چي "كَمَسجِدِي هٰذا" ابو سليمان جوزجاني وروسته بيا هغه ناپ كى نو دننه اته په اته كي وو، او د باندي لس په لس كي وو نو احتياطاً يې لس په لس كي اختيار كړ .

اوس په اصل مذهب كي د احنافو كثيري اوبه هغه دي چي كتونكى يې خپله زياتي تصوري كړي نو دا د جاري اوبو په حكم كي سوې، كه چېري د دې تالاب په غاړه ډېر خلګ كښيني اودس وكړي نو جائز دى لكه څه ډول چي د نهر پر غاړه ډېر خلګ په يوه ځاى اودس كولاى سي، البته دومره احتياط كول پكار دي چي په كوم ځاى نجاست واقع سوى وي د هغه ځاى څخه بالكل اوبه نه واخلي بلكي په لږ فاصله باندي اودس كول پكار دي .

زراع كرباس د موجوده حساب په مطابق ۱۸ اينچه يعني يونيم فُټ دى نو په دې حساب سره كه چېري تالاب د مربع په شكل كي هرطرف ته پنځلس فُټه وي چي د هغه ټوله رقبه (سطح ۲۲۵) فُټه جوړه سوي وي نو د متاخرينو د اختيار كرده قول مطابق دا تالاب د جاري اوبو په حكم كي سو او د نجاست په لوېدو نه نجس كيږي، ترڅه وخت پوري چي د نجاست څه اثر نه وي ښكاره سوى، كه چېري په مربع شكل كي نه وي نو د هر لحاظ څخه چي د اوبو سطح ۲۲۵ فُټه پوره سي نو دا حوض كبير دى او د جاري اوبو حكم لري .

وَعَنِ الْفَقِيْهِ اَبِيْ جَعْفَرٍ لَوْ تَوَضَّاَ فِيْ اَجَمَّةِ الْقَصَبِ فَاِنْكَانَ الْمَآءُ بِحَالٍ لَايَخْلِصُ بَعْضُهُ اِلٰى بَعْضٍ لَمْ يَجُزْ وُضُوْءُهٗ وَاِنْ خَلَصَ جَازَ وَاِتِّصَالُ الْقَصَبِ بِالْقَصَبِ لَايَمْنَعُ اِتِّصَالَ الْمَآءِ وَكَذَا لَوْ تَوَضَّاَ فِيْ مَآءٍ فِيْهِ زَرْعٌ وَكَذَا لَوْ تَوَضَّاَ مِنْ غَدِيْرٍ وَعَلٰى جَمِيْعِ

وَجْهِ الْمَآءِ جُغْزُ وَارَةٌ فَقَدْ قِيْلَ اِنْكَانَ ذٰلِكَ بِحَالٍ يَتَحَرَّكُ بِتَحْرِيْكِ الْمَآءِ يَجُوْزُ الْوُضُوْءُ بِهٖ وَاِنْكَانَ لَايَتَحَرَّكُ فَلَايَجُوْزُ.

ژباړه: د فقیه ابو جعفر څخه روایت دی چي که چېري یو څوک د لرګیو په یوه پلن اودس وکړي نو که اوبه دا ډول وي چي په حرکت سره په خپل منځ کي نه جلا کیږي نو اودس نه دی جائز او که جلا کیږي نو جائز دی او یوه بناخله د بلي سره متصلي نه وي او نه د اوبو د اتصال لپاره مانع وي، دغه ډول که چېري څوک په داسي اوبو سره اودس وکړي په کومو کي چي فصل راشین سوی وي یا څوک د داسي منګي څخه اودس وکړي چي د هغه په سطحه باندي د چنګابښ ګندګي وي نو ویل سوي دي که دا د اوبو په حرکت سره متحرک کیږي نو هغه اودس جائز دی او که نه متحرک کیږي نو نه دی جائز .

تشریح: که چېري په اوبو کي د خاشو ګنه ګوڼه وي او د هغو سرونه په خپلو کي سره ګډ وي او د اوبو د ګډ ...دو لپاره مانع وي نو په دې اوبو سره اودس نه دی جائز ولي چي په دې صورت کي د مستعملي اوبو دوباره استعمال کیږي او مستعملي اوبه طاهري دي مطهري نه دي، که په یوه میدان کي فصل راشین کړل سي او په فصل کي اوبه ودریږي نو به کتل کیږي که چېري د فصل د کثر ت د وجي څخه د اوبو حرکت نه وي او د دې ځای څخه بل ځای ته نه جلا کیږي نو اودس نه دی جائز، په عبارت کي مذکور جغزوارة د فارسي لفظ دی، د چنګابښانو او د نورو آبي حیواناتو ګندګي چي هغه د اوبو په سطحه باندي په تیز زرغون رنګ کي وي هغه ته ویل کیږي، په عربي کي دې ته المخلب ویل کیږي .

وَكَذَا لَوْ تَوَضَّأَ مِنْ حَوْضٍ قَدْ اِنْجَمَدَ مَآءُهٗ وَالْجَمَدُ رَقِيْقٌ يَنْكَسِرُ بِالتَّحْرِيْكِ

يَجُوْزُ اَمَّا اِذَا كَانَ الْحَمْدُ كَثِيْرًا قِطَعًا قِطَعًا لَايَتَحَرَّكُ بِتَحْرِيْكِ الْمَآءِ لَايَجُوْزُ وَاِنْ كَانَ قَلِيْلاً يَتَحَرَّكُ بِتَحْرِيْكِ الْمَآءِ يَجُوْزُ وَالْحَوْضُ اِذَا انْجَمَدَ مَآءُهُ فَنُقِبَ فِيْ مَوْضِعٍ مِنْهُ فَوَقَعَتْ فِيْهِ نِجَاسَةٌ اَوْ وَلَغَ فِيْهِ الْكَلْبُ وَتَوَضَّاَ بِهِ اِنْسَانٌ قَالَ نَصِيْرُ بْنُ يَحْيٰى وَاَبُوْ بَكْرٍ الْاَسْكَافُ يَتَنَجَّسُ الْمَآءُ وَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ وَاَبُوْ حَفْصِ الْكَبِيْرُ الْبُخَارِيُّ لَايَتَنَجَّسُ اِذَا كَانَ الْمَآءُ تَحْتَ الْجَمَدِ عَشْرًا فِيْ عَشْرٍ وَاِنْ كَانَ الْمَآءُ مُتَّصِلاً بِالْجَمَدِ وَالْفَتْوٰى عَلٰى قَوْلِ نَصِيْرٍ وَاَبِيْ بَكْرٍ وَاَمَّا اِذَا كَانَ الْمَآءُ مُنْفَصِلاً عَنِ الْجَمَدِ فَيَجُوْزُ بِلَا خِلَافٍ وَهُوَ كَالْحَوْضِ الْمُسَقَّفِ وَاِنْ ثُقِبَ الْجَمَدُ فَعَلَا الْمَآءُ مِنْ ثُقْبٍ فَوَلَغَ الْكَلْبُ يَتَنَجَّسُ عِنْدَ عَامَّةِ الْعُلَمَآءِ فَلَمْ تَزَلْ نِجَاسَةٌ مَالَمْ يَخْرُجْ مَافِي الثُّقْبِ مِنَ الْمَآءِ وَلَوْ تَوَضَّاَ مِنْ ثُقْبِ الْجَمَدِ وَلَمْ تَقَعْ غُسَالَتُهُ فِي الْمَآءِ جَازَ عَلٰى كُلِّ حَالٍ وَلَوْ وَقَعَ فِي الثُّقْبِ شَاةٌ اَوْ غَيْرُهَا فَمَاتَتْ اِنْ كَانَ الْمَآءُ تَحْتَ الْجَمَدِ عَشْرًا فِيْ عَشْرٍ لَايَتَنَجَّسُ وَكَذَا اِنْ كَانَ اَقَلَّ مِنْ عَشْرٍ فِيْ عَشْرٍ تَنَجَّسَ جَمِيْعُ الْمَآءِ وَلَوْ مَآءُ الْحَوْضِ كَانَ عَشْرًا فِيْ عَشْرٍ فَتَسَفَّلَ فَصَارَ سَبْعًا فِيْ سَبْعٍ فَوَقَعَتِ النِّجَاسَةُ فِيْهِ تَنَجَّسَ فَاِنِ امْتَلَئَ بَعْدَ ذٰلِكَ صَارَ نَجِسًا اَيْضًا وَقِيْلَ لَايَصِيْرُ نَجِسًا.

ژباړه: دغه ډول که چېرې يو څوک د داسې تالاب څخه اودس وکړي چې د هغه اوبه يخې سوې وي مګر د نرمېدو په وجه په حرکت ورکولو سره ماتيږي نو اودس جائز دی او که چېرې په کثير مقدار کې ټکړې ټکړې سي او اوبو ته په حرکت ورکولو سره هم حرکت نه وکړي نو نه دی جائز، که چېرې کم وي او د اوبو د حرکت

سره حرکت وکړي نو جائز دی .

که د تالاب اوبه یخی سوي وي او په هغه کي سوری وي نو په دې سري کي ګندګي وولیږي یا سپي اوبه څښلي وي او چا په دې اوبو سره اودس وکړ نو نصیر ابن یحيٰی او ابوبکر اسکاف رحمهما الله وايي چي اوبه نجسي سوې، عبدالله ابن مبارک او ابوحفص الکبیر البخاري وايي چي نه دي نجسي که چیري د دې یخي لاندي اوبه ۱۰+۱۰وي که څه هم اوبه د دې یخي سره متصلي وي او فتوی د نصیر او ابوبکر په قول ده .

که اوبه د یخي څخه جلا وي نو بلا خوفه جائز دی او د چت دار تالاب په مثل دی که چیري په جوړ سوي یخي کي سری جوړ سي او اوبه د دې سري څخه را پورته سي او په دې سره یي سپی وڅښي نو د عامو علماؤ په نز نجسي کیږي او تر هغه وخته پوري چي د دې سري تېوله اوبه نه را ویستل سي نجاست یې نه ختمیږي .

دغه ډول که چیري څوک د جمد د سري څخه اودس وکړي او مستعملي اوبه په ده کي دننه نه ولیږي نو په هرحال کي جائز دی، که په دې سري کي یو پسه ولوېږي مړ سي نو که چیري اوبه د جمد لاندي لس په لس کي وي نو نه مرداریږي او که چیري کمي وي نو ټولي اوبه مرداریږي، که د تالاب اوبه لس په لس کي وي او وروسته د لاندي تلو په وجه اووه په اووه کي پاته سي او یو نجاست ورته وولیږي نو نجسي کیږي وروسته که چیري تالاب دوباره ډک سي نو دغه ډول مردار دی او ځینو ویلي دي چي نه دی نجس .

تشریح: اوبه که چیري د یخ دوجي څخه یخی سي نو به کتل کیږي که نرمي وي او په حرکت سره ماتېدلي نو په دې سره اودس نه دی جائز مګر که چیري دومره سختي وي چي د اوبو په حرکت سره متحرکي نه سي نو د ډبري په منزله دی او د اوبو د اتصال څخه مانع دی او په ده سره اودس نه دی جائز.

که په يوه تالاب کي وروسته د يخي کيدو په اوبو کي د سربيره څخه يو سوری وي نو په دې کي يو نجاست ووليږي يا يي سپي وڅښي نو د امام نصير ابن يحيٰی او ابوبکر الاسکاف د قول مطابق دا ټولي اوبه نجسي سوي ولي چي دا اوبه د يخی سره متصلي دي او لاندي د ولاړو اوبو سره نه دي متصلي، خپله د سوري اوبه کمي دي نو د نجاست په لوېدو سره نجسي کيږي، عبدالله ابن مبارک او ابو حفص الکبير البخاري رحمهما الله تعالي وايي چي په دې سوري سره اوبه نه دي نجسي که څه هم لاندي د اوبو په ځای د يخي سره متصل وي ولي چي د دې يخي اصل هم اوبه دي او لاندي لس په لس کي اوبه موجودي دي، مګر صاحب د کتاب فتوٰی د نصير ابن يحيٰی او ابو بکر الاسکاف په قول نقل کړي ده يعني د مفتی به قول مطابق نجسي دي.

دغه ډول که چيري اوبه د يخي د سطحې څخه پورته را ووزي او زياتي وي نو په دې کي نجاست ولوېږي نو دا ډول دي لکه د لوښي اوبه چي په نجاست لوېدو سره ناپاکي کيږي البته که چيري څوک په داسي احتياط سره اودس کوي چي مستعملي اوبه دوهم وار دې سوري ته نه ولويږي نو اودس جائز دی که څه هم اوبه کمي وي.

حَوْضٌ كَبِيْرٌ فِيْهِ نَجَاسَاتٌ فَامْتُلِئَ وَلَمْ يَخْرُجْ مِنْهُ شَيءٌ قِيْلَ هُوَ نَجَسٌ وَقِيْلَ لَيْسَ بِنَجَسٍ وَبِهِ اَخَذَ مَشَائِخُ بُخَارٰی وَذَكَرَهُ فِي الذَّخِيْرَةِ فَاِنْ دَخَلَ الْمَآءُ مِنْ جَانِبِ حَوْضٍ صَغِيْرٍ قَدْ تَنَجَّسَ مَآؤُهُ وَخَرَجَ مِنْ جَانِبٍ اٰخَرَ قَالَ اَبُوْبَكْرِ الْاَعْمَشُ لَايَطْهَرُ مَالَمْ يَخْرُجْ مِثْلُ مَاكَانَ فِيْهِ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ كَالْقَصْعَةِ وَقَالَ غَيْرُهُ لَايَطْهَرُ مَالَمْ يَخْرُجْ مِثْلُ مَافِيْهِ مِنَ الْمَآءِ مَرَّةً وَّاحِدَةً وَقَالَ اَبُوْ جَعْفَرٍ يُطْهَرُ وَاِنْ لَّمْ يَخْرُجْ مِثْلُ مَافِي الْحَوْضِ وَهُوَ اِخْتِيَارُ الصَّدْرُ الشَّهِيْدُ حَوْضٌ صَغِيْرٌ يَدْخُلُ الْمَآءُ فِيْهِ مِنْ

جَانِبٍ وَيَخْرُجُ مِنْ جَانِبٍ وَتَوَضَّأَ فِيْهِ اِنْسَانٌ فَوَقَعَتْ غُسَالَتُهُ فِيْهِ اِنْ كَانَ الْحَوْضُ اَرْبَعًا فِيْ اَرْبَعٍ فَمَا دُوْنَهُ يَجُوْزُ لِاَنَّ الظَّاهِرَ اَنَّ الْمَآءَ الْمُسْتَعْمَلَ لَا يَسْتَقِرُّ فِيْ مِثْلِهِ بَلْ يَدُوْرُ حَوْلَهُ ثُمَّ يَخْرُجُ فَيَكُوْنُ كَالْمَآءِ الْجَارِيْ وَاِنْ كَانَ الْحَوْضُ اَكْبَرُ مِنْ ذٰلِكَ لَايَجُوْزُ لِاَنَّ الْمَآءَ الْمُسْتَعْمَلَ يَسْتَقِرُّ فِيْهِ فَلَا يَكُوْنُ كَالْمَآءِ الْجَارِيْ فَلَا يَجُوْزُ اَنْ يَّتَوَضَّأَ فِيْهِ اِلَّا فِيْ مَوْضِعِ الدُّخُوْلِ اَوِ الْخُرُوْجِ وَكَذَا عَيْنُ الْمَآءِ اِذَا كَانَ خَمْسًا فِيْ خَمْسٍ وَكَانَ الْمَآءُ يَخْرُجُ مِنْهَا اِنْ كَانَ يَتَحَرَّكُ الْمَآءُ حَرَكَةً مِنْ جَانِبِهِ وَهُوَ يَسْتَعِيْنُ بِالْحَرَكَةِ يَجُوْزُ الْوُضُوْءُ فِيْهَا وَقَالَ الْقَاضِيْ الْاِمَامُ فَخْرُ الدِّيْنِ اِنَّ هٰذَا التَّقْدِيْرُ غَيْرُ لَازِمٍ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ اِنْ خَرَجَ الْمَآءُ الْمُسْتَعْمَلُ مِنْ سَاعَةٍ لِكَثْرَتِهِ وَقُوَّتِهِ يَجُوْزُ وَاِلَّا فَلَا.

ژباړه: يو غټ تالاب دی چي په هغه کي ګندګی پرته وه نو بيا په اوبو سره ډک سو او هيڅ ګندګي په دې اويو سره نه ووتل نو وايي چي نجس دی او دا يي هم ويلي دي چي نجس نه دی، د مشائخو بخارا عمل په دغه دی او دا يي په ذخيره کي ذکر کړي دي.

که اوبه د يو کوچني تالاب په يو طرف کي داخلي سي په دې حال کي چي د دې کوچني تالاب اوبه نجسي سوي وي او دوهم طرف ته ووزي، ابوبکر اعمش رضي الله عنه په دې په باره کي ويلي دي چي د تال په ډول ترهغه وخته پوري چي د هغه مقدار څخه دري واره اوبه نه ووزي نه پاکيږي کله چي د تالاب په مقدار اوبه نه ووزي او دغه قول صدور الشهيد هم اختيار کړی دی.

يو کوچنی تالاب دی چي د يوه طرف څخه اوبه داخليږي او د بل طرفه څخه وزي

نو يوځا په دې کي اودس وکړ او مستعملي اوبه په دې کي ولوېږي که چېري تالاب ځلور په ځلور يا د دې ځخه کم وي نو جائز دی ولي چي دغه ظاهره ده چي مستعملي اوبه په خپل مثل کي نه درېږي بلکي د چکر وهلو وروسته وزي نو دا د جاري اوبو په ډول سوې، که چېري تالاب د دې ځخه لوی وي نو نه دی جائز ولي چي مستعملي اوبه په دې کي درېږي نو دا د جاري اوبو په ډول نه دي لهٰذا اودس د دې ځخه نه دی جائز مګر دا د دننه راتلو او د وتلو په ځای کي يې وکړي.

دغه ډول د چيني اوبه که چېري پنځه په پنځه کي وي او اوبه وزي که اوبه د يوه طرفه ځخه حرکت وکړي نو هغه مدد اخلي پر حرکت باندي نو په دې کي اودس جائز دی، قاضي امام فخرالدين رحمه الله ويلي دي چي دا انداز د امام ابو حنيفه رحمه الله په نز لازم دی که چېري اوبه د کثرت او د قوت د وجي ځخه هغه وخت وزي نو جائز دی که ي نو نه دی جائز.

شرح په لحاظ سره غټ تالاب وي مګر وچ سوی وي او په هغه کي ګندګي وي نو کله چي دا تالاب د اوبو ځخه ډک سي د ځينو علماؤ په نز د اوبو اتصال د نجاست سره کيدو په وجه ټوله تالاب نجس سو او په دې سره اودس نه دی جائز او مشائخو د بخارا په ذخيره کي د عدم نجاست فتوی کړي ده مګر د دې په باره کي ځيني علماء مثلاً د قاضي خان وغيره ځخه دا قول صحيح معلومېږي که چېري اوبه د هغه طرف ځخه تالاب ته داخلي سي په کوم طرف کي چي ګندګي پرته وي نو دا اوبه د کثرت ځخه تر مخه د اتصال سره پخپله نجسي سوې اوس چي دا ځومره کثرت اختياره وي مرداري دي مګر که چېري اوبه د هغه طرف ځخه داخلي سي په کوم طرف چي نجاست نه وي او قبل از اتصال نجاست اوبه لس په لس کي ورسيږي نو نجسي نه دي، که د يو کوچني تالاب اوبه نجسي سي نو د دې د طهارت په باره کي د فقهاؤ په مابينځ کي اختلاف دی.

ابوبکر بن سعید الاعمش رحمه الله کوچنی تالاب په لوښي قیاس کولو سره ویلي دي لکه څنګه چي د یوه لوښي د طهارت په حاصلولو لپاره درې واره یې پرېولل ضروري دی، ځینو د موجودو نجسو اوبو په مقدار د یو وار ایستلو حکم کړی دی او ابو جعفر هندواني ویلي دي چي کله اوبه د یوه طرفه څخه داخلي او بل طرف ته ووزي نو پاکیږي مګر د ابوبکر سعید الاعمش رحمه الله په قول کي د زیات احتیاط په وجه په دغه باندي عمل کول پکار دي، د کوچني تالاب په احکامو کي په کورو کي د موجوده دور په ټینکیانو هم قیاس کولی سي ولي چي د دوی څخه موجودي نجسي اوبه را وباسي درې واري یې پرېولي نو پاکیږي.

التَّوَضُّؤُ بِالثَّلْجِ إِذَا كَانَ ذَائِبًا بِحَيْثُ يَتَقَاطَرُ عَلَى الْعُضْوِ يَجُوْزُ وَلَا يَتَيَمَّمُ وَإِلَّا يَتَيَمَّمُ حَوْضٌ صَغِيْرٌ كَرٰى رَجُلٌ مِّنْهُ نَهْرًا وَأَجْرَى الْمَاءَ فِيْهِ فَتَوَضَّأَ مِنْ ذٰلِكَ النَّهْرِ جَازَ وُضُوْءُهٗ وَإِنِ اجْتَمَعَ ذٰلِكَ الْمَاءُ فِيْ مَوْضِعٍ اٰخَرَ وَكَرٰى رَجُلٌ مِّنْهُ نَهْرًا فَأَجْرَى الْمَاءَ فِيْهِ فَتَوَضَّأَ مِنَ النَّهْرِ جَازَ وُضُوْءُ الْكُلِّ إِذَا كَانَ بَيْنَ الْمَكَانَيْنِ مَسَافَةٌ وَإِنْ قَلَّتْ ذَكَرَهٗ فِي الْمُحِيْطِ.

ژباړه: په یخي سره اودس هغه وخت جائز دی چي کله نرم او ویلي سي په اندام قطره قطره توی سي نو په دې حالت کي دي تیمم نه وهي که چېري داسي نه وي نو دي تیمم ووهي.

د یو کوچني تالاب څخه که یوچا واله ویسته او په هغه کي یې اوبه جاري کړي نو د دې والې څخه یې اودس وکړ اودس یې جائز دی که چېري دا اوبه په بل ځای کي جمعه سي او د دوی سره یوه واله جوړه کړي او په دې کي اوبه جاري کړي نو د ټولو اودس جائز دی په دې شرط چي د دواړو په مابینځ کي لږ فاصله وي که څه هم کمه

وي، دا په محيط کي مذکور دي .

تشريح: که چېري په يخي کي دومره نرمي وي چي اودس په اندامو باندي قطره قطره توايږي يا په اندام سره مښلو سره اوبه سي نو په دې سره اودس جائز دی ولي چي دا خالص اوبه دي، که د يخ د وجي د دې يخو اوبو څخه د مرض د زياتېدو يا د هلاکيدو خطره نه وي او په استعمال يي قدرت وي نو د دې نرمی يخی په موجودګي کي تيمم نه دی جائز البته که چېري ډېر زيات سخت وي نه د قطرې په شان بهيږي او نه په اندام باندي په مښلو سره د اوبو په مثل اندام لنده وي نو په دې صورت کي دي تيمم ووهي .

که د کوچني تالاب څخه يوچا واله ويسته د تالاب اوبه يي په دې نهر کي جاري کړي نو اودس د اوبو د جاري په حکم کي سوی دی په دوی سره اودس جائز دی، دغه طرح که چېري د دې نهر څخه بل نهر يو چا ويستی نو په هغه باندي اودس جائز دی ولي د اول تالاب څخه اوبه چي کله د جاري په حکم کي دي نو ناپاکي نه دي نو د دې اوبو دوهم وار بل ځای درېدل د پاکو اوبو درېدل دي .

وَفِي نَوَادِرِ اَبِي الْمُعَلّٰى عَنْ اَبِيْ يُوْسُفَ مَآءُ الْحَمَامِ بِمَنْزِلَةِ الْمَآءِ الْجَارِيْ حَتّٰى اِذَا اَدْخَلَ رَجُلٌ يَدَهُ فِيْهِ وَفِيْ يَدِهٖ قِذْرٌ لَمْ يَتَنَجَّسْ وَاخْتَلَفَ الْمُتَاَخِّرُوْنَ فِيْ بَيَانِ هٰذَ الْقَوْلِ قَالَ بَعْضُهُمْ مُرَادُهُ حَالَةٌ مَخْصُوْصَةٌ وَهُوَ مَا اِذَا كَانَ الْمَآءُ يَجْرِيْ مِنَ الْاَنْبُوْبِ اِلٰى حَوْضِ الْحَمَّامِ وَالنَّاسُ يَغْتَرِفُوْنَ مِنْهُ غُرْفًا مُتَدَارِكًا وَمِنْهُمْ مَّنْ قَالَ هُوَ عِنْدَهُ بِمَنْزِلَةِ الْمَآءِ الْجَارِيْ عَلٰى كُلِّ حَالٍ لِاَجْلِ الضَّرُوْرَةِ اَلَا يَرٰى اَنَّ الْحَوْضَ الْكَبِيْرَ الْحَقِّ بِالْمَآءِ الْجَارِيْ عَلٰى كُلِّ حَالٍ لِاَجْلِ الضَّرُوْرَةِ وَلَوْ اَدْخَلَ الْجُنُبُ يَدَهُ فِيْ

حَوْضِ الْحَمَّامِ لِطَلَبِ الْقَصْعَةِ وَلَيْسَ عَلٰى يَدِهِ نِجَاسَةٌ حَقِيْقَةٌ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ يَتَنَجَّسُ مَآءُ الْحَوْضِ وَعِنْدَهُمَا الْمَآءُ طَاهِرٌ وَمُطَهِّرٌ وَهُوَ الْاَصَحُّ وَلَوْ اَدْخَلَ الْكُفَّارُ اَوِ الصِّبْيَانُ اَيْدِيَهُمْ فِي الْاِنَآءِ لَايَتَنَجَّسُ اِذَا لَمْ عَلٰى اَيْدِيْهِمْ نَجَاسَةٌ حَقِيْقِيَّةٌ وَلَوْ اَدْخَلَ الصَّبِيُّ يَدَهُ فِي الْاِنَآءِ لَايَتَوَضَّأُ بِهِ اِسْتِحْسَانًا وَلَوْ تَوَضَّأَ بِهِ جَازَ حَوْضُ الْحَمَّامِ اِذَا تَنَجَّسَ يَطْهُرُ اِذَا خَرَجَ مِثْلُ مَاكَانَ فِيْهِ مَرَّةً وَلَوْ اَدْخَلَ الْمُتَوَضِّئُ رَاْسَهُ فِي الْاِنَآءِ بِنِيَّةِ الْمَسْحِ اَوْ خُفَّيْهِ يَجُوْزُ بِالْاِتِّفَاقِ وَلَايَصِيْرُ الْمَآءُ مُسْتَعْمَلاً عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَاَبِيْ يُوْسُفَ خِلَافًا لِّمُحَمَّدٍ.

ژباړه: په نوادر ابو معلی کي د ابویوسف رحمه الله څخه روایت دی چي د حمام اوبه د جاري اوبو په حکم کي دي تر ديې پوري که چیري یو څوک په دې اوبو کي لاس داخل کړي او په لاس کي يې کندګي وي نو نه مرداريږي د دې قول په وضاحت کي د متاخرينو علماؤ اختلاف واقع سوی دی، ځينو ويلي دي چي د دې څخه مراد خالص حالت دی او هغه دا چي کله اوبه د نهرو څخه د حمام په تالاب کي ولويږي او خلګ د دې څخه چلې ډکه وي، نو د دوی څخه ځينو ويلي دي چي دا اوبه د ضرورت په بنا باندي په هر حال کي د جاري اوبو په ډول دي ولي دوی نه ويني چي لوی تالاب په حکم کي د جاري سره لاحق دی د ضرورت په بنا باندي په هر حال کي.

که جنب انسان د جنابت په حالت کي خپل لاس د حمام په تالاب کي د لوښي پيدا کولو لپاره داخل کړي او د هغه په لاس باندي څه نجاست نه وي نو د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله په نز د تالاب ټولي اوبه نجسي دي او د صاحبينو په نز پاکي دي او پاکونکي دي او دا زياته صحيح ده.

که کفار او کوچنيان خپل لاس د اوبو په لوښي کي داخل کړي نو نجسي نه دي تر هغه وخته چي د دوی په لاس باندي حقيقي نجاست نه وي، که يو کوچني خپل لاس په لوښي کي داخل کړ نو استحساناً دي په دې اودس نه کوي که چېري اودس باندي وکړي نو جائز دی .

که د حمام تالاب نجس سي نو چي په هغه کي د موجودو اوبو په مقدار دا اوبه يو وار وباسل سي نو پاکيږي ،که چېري اودس کونکی د سر د مسحي يا د موزو د مسحي په نيت خپل لاس لوښي ته داخل کړ نو بالاتفاق جائز دی، د حضرت ابو حنيفه رحمه الله او دِ ابو يوسف رحمه الله په نز نه مستعمليږي، خلافا لمحمد رحمه الله .

تشريح: نن صبا د موجوده دور په بازارونو کي د حجامو په دوکانو کي د حمام انتظام وي مګر په تېرو زمانو کي د حمامونو انتظام دا ډول به وو چي د ښار د لروبر څخه به يې يو لوی نهر (واله) ايستله او د هغې لپاره به يي کوچني کوچني تالابونه جوړول چي هغه به يې د دې ولې په ذريعه سره د نهر څخه ډکوله او دا تالابونه به لس په لس کي کم وه.

اوس د دې حمامو د کوچني تالابو په باره کي د امام يوسف رحمه الله څخه دا قول منقول دی چي دا د جاري اوبو په حکم کي دي تر دې پوري که چېري يوڅوک په دې کي په نجاست لړلی لاس داخل کړي او په دې اوبو کي د نجاست اثر نه سي ښکاره تر هغه وخته پوري دا اوبه پاکي دي .

د امام يوسف رحمه الله د دې قول په وضاحت کي د متاخرينو علماؤ اختلاف واقع سوی دی، ځينو علماؤ د دې قول اطلاق صرف په دې صورت کي کړی دی چي کله د حمام په نهرو کي اوبه جاري وي او د دې څخه خلک پرله پسې په ډکو چلو سره اوبه اخلي نو په دې دوران کي د يوچا لاس ګنده وي نو د حمام طرف ته رواني دا اوبه نه نجسي کيږي مګر د دې برخلاف ځيني فقهاء کرام وايي چي د امام

یوسف رحمه الله دا قول بغیر د څه خاص صورت څخه عام دی او دا قول ده د ضرورت په بنا کړی دی، که چېري یو سړي د لوښي پیدا کولو لپاره د حمام په تالاب کي لاس داخل کړي نو د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نز د دې روایت په بنا باندي چي مستعملي اوبه نجسي دي د تالاب ټوله اوبه نجسي سوې، د صاحبینو په نز دا اوبه په خپل حالت باندي پاکي دي او پاکونکي دي ،دغه قول زیات صحیح دی او د مستعملو اوبو تفصلي بیان به انشاء الله العزیز د نجاست په بیان کي راسي .

که یو کوچنی په اوبو کي لاس واچوي او دا خبره یقیني وي چي د هغه لاس پاک وو نو په هغو باندي بلا تردد اودس کول جائزدی که چېري د لاس مرداربدل یقیني وي نو اودس کول نه دی جائز البته که چېري د شک په صورت کي وي او د دې بغیره هم اوبه موجودي وي نو د شک د دفعي کولو لپاره استحساناً یعني احتیاطاً دي په دې اوبو سره اودس نه کوي او که یي وکړي نو جائز دی، فقط د شک په بنا باندي اوبه نه نجسي کیږي .

فصل في المسح علي الخفين

(دا فصل د موزو د مسحي په بيان کي دی)

اَلْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ جَآئِزٌ بِالسُّنَّةِ مِنْ كُلِّ حَدَثٍ مُوْجِبٍ لِلْوُضُوْءِ اِذَا لَبِسَهُمَا عَلٰى طَهَارَةٍ كَامِلَةٍ وَقْتَ الْحَدَثِ فَاِنْ كَانَ مُقِيمًا يَمْسَحُ يَوْمًا وَّلَيْلَةً وَاِنْكَانَ مُسَافِرًا يَمْسَحُ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ وَّلَيَالِيْهَا وَابْتِدَآؤُهَا عَقِيْبُ الْحَدَثِ وَلَايُعْتَبَرُ وَقْتُ الطَّهَارَةِ وَلَا وَقْتُ اللُّبْسِ وَلَوْ غَسَلَ رِجْلَيْهِ وَلَبِسَ خُفَّيْهِ ثُمَّ اَكْمَلَ الطَّهَارَةَ قَبْلَ اَنْ يَّحْدِثَ جَازَ الْمَسْحُ عَلَيْهِمَا عِنْدَ نَا خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ لِاَنَّ عِنْدَنَا يَكْفِيْهِ اَنْ يَّكُوْنَ الْخُفُّ مَلْبُوْسًا عَلٰى طَهَارَةٍ كَامِلَةٍ عِنْدَ اَوَّلِ الْحَدَثِ وَالطَّهَارَةُ النَّاقِصَةُ هِيَ طَهَارَةُ صَاحِبِ الْعُذْرِ حَتّٰى اَنَّ الْمُسْتَحَاضَةَ وَمَنْ فِيْ مَعْنَاهَا اِذَا تَوَضَّاَتْ وَلَبِسَتْ خُفَّيْهِ قَبْلَ اَنْ يَّظْهَرَ مِنْهَا شَيْءٌ كَالْاَصِحَّآءِ وَلَوْ لَبِسَتْ بِطَهَارَةِ الْعُذْرِ تَمْسَحُ فِي الْوَقْتِ فَقَطْ عِنْدَنَا وَعِنْدَ زُفَرَ تَمْسَحُ تَمَامَ الْمُدَّةِ.

ژباړه: د بې اودسۍ څخه په موزو باندي مسح جائز ده د هر هغه بې اودسۍ څخه چي د اودس واجب کونکی وي چي په وخت د طهارت کامله په پښوسي، که مقيم سړی وي نو يوه ورځ او يوه شپه به مسح کوي او که مسافر وي نو درې ورځي او درې شپې به مسح کوي، د مسح ابتداء د بې اودسۍ وروسته ده نه د وخت څخه د طهارت او نه د په پښو کولو وخت معتبر دی.

که پښې پرېولي او موزې واغوندي د هغه وروسته طهارت کامل کړي او د هغه څخه د مخه بې اودسه سي نو جائز دی په خلاف د امام شافعي رحمه الله ولي چي زموږ

په نز دا کافي دی چې موزې د اول حدث په وخت د طهارت کامله په وخت
پښبوسي او طهارت ناقصه خو د صاحب عذر دی یعني که چېرې مستحاضه یا
هغې په مثل بل معذو کله چې اودس وکړي او موزې واغوندي تر دې ترمخه چې
هغه څخه یو شی ظاهر سي نو د تندرسته په ډول دي مسح وکړي او که چېرې
طهارت د عذر سره یې په پښو کړي وي نو زموږ په نز صرف په هغه وخت کي دې
مسح وکړي او د امام زفر رحمه الله په نز د کامل مدت مسح دي وکړي.

تشریح: مصنف رحمه الله د اوبو د احکاماتو د فراغت څخه وروسته په موزو د مسح
کولو بیان کوي په موزو باندي مسح د معتبرو حدیثونه څخه ثابته ده، امام حسن
بصري رحمه الله به ویل چې اویا صحابه کرامو رضي الله عنهم ماته بیان کړی دی چې علیه السلام
په موزو مسح کوله، امام کرخي رحمه الله وایي چې څوک په موزو باندي مسحي ته جائز
نه وایي ماته د هغه د کافر کېدلو بیره او خوف دی.

امام احمد بن حنبل رحمه الله وایي چې په موزو باندي د مسح په جواز کي ماته هیڅ
شک نسته ولي چې د علیه السلام څخه په دې باره کي څلویښت حدیثونه مروي
دي، د حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله څخه چا د اهل السنت والجماعت د مذهب په
باره کي پوښتنه وکړه نو ده ورته وویل چې فضیلت د شیخینو یعني د ابوبکر او عمر
رضي الله تعالی عنهما فضیلت پر ټولو صحابهؤ باندي او د زومانو یعني د حضرت
عثمان وعلي رضی الله تعالی عنهما محبت په زړه کي ساتل، او دا چې ته دي په
موزو باندي د مسحي قائل یي ولي ستا تعلق د اهل سنت والجماعت سره دی
چونکي په موزو باندي د مسحي ثبوت د حدیثو څخه دی، د دې لپاره مصنف رحمه الله
ویلي دي جائز بالسنة او په موزو باندي مسح په داسي حدث کي کېدی سي په کوم
حدث سره چې اودس واجب کیږي نه لکه غسل، احتلام، حیض، ونفاس وغیره او
داهم ضروري نه ده چې د موزو اغوستلو په وخت کي طهارت کامله وي مثلاً چا د

اودس کولو په وخت کي تر ټولو اول ښني پرېولې او د يخ د وجي څخه د کامل اودس کولو ترمخه يې موزې واغوستي او وروسته يې اودس مکمل کړ نو د حدث لاحق کېدو سره په دې موزو مسح کول جائز ده .

د مقيم لپاره د مسحي مده څلورويشت (۲۴) ساعته ده، او د مسافر لپاره دوو اويا (۷۲) ساعته ده، مګر دا مده د بې اودسه کېدو څخه شمارل کيږي يعني که چېري چا د سهار د لمانځه لپاره اودس وکړ او دغه اودس يې وي او ماپښين لمونځ يې هم په دغه اودس سره وکړ وروسته يې موزې واغوستي او د ماځيګر په وخت کي حدث ورته لاحق سو نو که چېري مقيم وي نو د را روان ماځيګره پوري مسح کولای سي او که چېري مسافر وي نو تردرو ورځو او د درو شپو پوري مسح کولی سي، په مسح کي د انسان د اخري وخت اعتبار دی مثلاً چا په خپل وطن کي موزې واغوستي مسح يې شروع کړه مګر د مدې مسح يوه ورځ او شپه ختمېدل ترمخه مسافر سو نو د درو ورځو پوري مسح کولای سي .

که مسافر په حالت کي د سفر مسح شروع کړه او وروسته بيا مقيم سو نو که چېري يې يوه ورځ او شپه مسح کړي وي نو په را روان اودس کي دي موزې وکاږي ښپې دي پرېولي او که څلورويشت ساعته نه وه پوره نو پوره کوی يې سي .

وَلَايَجُوْزُ الْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ لِمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْغُسْلُ وَالرَّجُلُ وَالْمَرْاَةُ فِيْهِ سَوَآءٌ وَالْمَسْحُ عَلٰى ظَاهِرِهِمَا دُوْنَ بَاطِنِهِمَا وَيَسْتَحِبُّ اَنْ يَّكُوْنَ الْمَسْحُ خُطُوْطًا بِالْاَصَابِعِ وَاَنْ يَّبْدَءَ مِنْ قِبَلِ الْاَصَابِعِ وَيَمُدُّ اِلَى السَّاقِ اِعْتِبَارًا بِالْغُسْلِ وَفَرْضُ ذٰلِكَ مِقْدَارُ ثَلٰثَةِ اَصَابِعِ الْيَدِيْنِ وَلَوْ وَضَعَ يَدَيْهِ مِنْ قِبَلِ السَّاقِ وَمُدَّهُمَا اِلٰى رُءُوْسِ الْاَصَابِعِ جَازَ وَلَوْ مَسَحَ بِثَلٰثَةِ اَصَابِعَ مَوْضُوْعَةً غَيْرَ مَمْدُوْدَةٍ يَجُوْزُ وَلَوْ مَسَحَ عَلَيْهِمَا عَرْضًا

جَازَ وَلٰكِنْ يَكُوْنُ مُخَالِفًا لِلسُّنَّةِ فِيْ جَمِيْعِ ذَالِكَ.

ژباړه: د هغه سړي لپاره په موزو مسح نه ده جائز پر چا چي غسل واجب وي، سړی او ښځه په دې مسح على الخفين كي سره برابر دي ، مسح د موزو د لاندني حصې څخه علاوه په ظاهر يعني پورته حصه باندي ده او مستحب دی چي مسح د ګوتو خطوط چي دړې دي او دا چي د ګوتو د طرفه څخه يې شروع کړي د پنډيو طرف ته يې كش کړي د پرېوللو په اعتبار كولو سره .

فرض مقدار د لاس په ګوتو كي درې ګوتي دي كه چېري د پنډيو له طرفه څخه لاس د ګوتو وخوا ته كش کړي نو جائز دی كه صرف درې ګوتي بغير د كشولو كښېږدي نو جائز دی، او كه په پراخوالي يې مسح وكړه نو هم جائز ده مګر دا ټوله صورتونه د سنت خلاف دي.

تشريح: په موزو مسح صرف هغه وخت جائز ده چي كله څه داسي حدث نه وي لاحق په كوم سره چي غسل واجبيږي لكه څنګه چي د صفوان بن غسال رضی الله تعالى عنه څخه روايت دی چي نبي كريم صلى الله عليه وسلم موږ ته ويلي وه چي كله موږ په سفر كي يو نو درې ورځي او شپې موزي مه كاږئ مګر دا چي تاسي په حالت كي د جنابت ياست .

نارينه او ښځي د مسحي په حكم كي سره برابر دي يعني څه ډول چي د نارينه وو لپاره په موزو باندي مسح كول جائز ده بالكل دغه ډول ښځه هم كولای سي ولي چي دا حكم عام دی د نارينه وو سره د دې هيڅ تخصيص نسته، مسح د موزو په پورتنی حصه كيږي لكه څنګه چي حضرت علي رضي الله عنه په ويل كه چېري د دين احكام صرف د عقل تابع وای نو عقلاً د موزو په لاندني حصې باندي مسح كول بهتر دي مګر ما رسول الله ﷺ ليدلی وو چي د موزو د لاندني حصې پر ځای به يې په پورته حصه

باندي مسح کوله .

په موزو باندي د مسحي فرض مقدار د لاس درې ګوتي دي که چېري صرف درې ګوتي کښېږدي او د اېښوولو سره د پنډيو طرف ته يې کش کړي يا د ورغوو سره پوره يې کښېږدي نو په دې کي هيڅ مضائقه نسته ، د ځينو علماؤ دا خيال دی چي ګوتي د ايښوولو وروسته ممسوح کيږي اوس د کشولو سره هيڅ فائده نه کيږي، بهر حال په مکمل طور باندي د درو ګوتو ايښوولو سره د مسحي فرض مقدار ادا کېږي البته که چېري څوک د پنډۍ د طرفه څخه مسح شروع کړي يا عرضاً يعني د قدم په پراخواله باندي درې ګوتي کښېږدي نو د فرض مقدار پوره کېدلو په وجه مسح کيږي مګر د عليه السلام څخه داسي هيڅ روايت نه کېدو په وجه په دې کي د سنت مخالفت دی لکه څنګه چي د اودس شروع د پښو له طرفه څخه وکړي .

وَكَيْفِيَّةُ الْمَسْحِ اَنْ يَّضَعَ يَدَيْهِ عَلٰى مُقَدَّمِ خُفَّيْهِ وَيُجَافِيْ بَطْنَ كَفَّيْهِ وَيَمُدُّهُمَا اِلَى السَّاقِ اَوْ يَضَعَ كَفَّيْهِ مَعَ الْاَصَابِعِ وَيَمُدُّهُمَا اِلَى السَّاقِ جُمْلَةً وَلَوْ مَسَحَ بِرُءُسِ الْاَصَابِعِ وَجَافٰى اُصُوْلَ الْاَصَابِعِ وَالْكَفَّ لَايَجُوْزُ اِلاَّ اَنْ يَكُوْنَ الْمَآءَ مُتَقَاطِرًا وَالْمُسْتَحَبُّ اَنْ يَّمْسَحَ بِبَاطِنِ كَفَّيْهِ وَلَوْ مَسَحَ بِظَاهِرِ كَفَّيْهِ يَجُوْزُ وَلَوْ مَسَحَ بِرُءُوْسِ الْاَصَابِعِ عَلٰى بَطْنِ خُفَّيْهِ اَوْ مِنْ قِبَلِ الْعَقِبَيْنِ اَوْ مِنْ جَوَانِبِهِمَا لَايَجُوْزُ.

ژباړه: د مسحي طريقه داده چي د موزو په اولني طرف به لاس کښېږدي او ورغوی د موزو څخه پورته کښېږدي او د پنډيو وطرف ته به يې کش کړي يا دواړه لاسونه دي د ګوتو د سرو سره کښېږدي د پنډيو طرفه ته دي کش کړي ، که چېري صرف د ګوتو په سرو سره بغير پوره ګوتو د ورغوو مسح يې وکړه نو جائز ده مګر دا چي اوبه به يې د ګوتو د سرو سره مسلسلي څاڅکی څاڅکی بهيږي .

مستحب داده چې د لاسو د لاندني حصې څخه مسح وکړل سي او که چېرې د پورته طرف سره وکړي نو جائز ده که د ګوتو په سروسره يې د موزو د لاندني حصې وطرف ته يا د پونډيو و طرف ته په کنارو مسح وکړه نو جائز نه ده .

تشريح: په موزو د مسح کولو مسنونه طريقه داده چې د راسته لاس ګوتي په راسته موزو کښيږدي دغه ډول د چپه لاس ګوتي په چپه موزي کښيږدي مسح يې کړي، د مصنف رحمه الله په متن کي د يَدَين څخه مراد د لاس ګوتي دي، که فقط د ګوتو سرونه په موزو باندي کښيښودل سي نو مسح صرف په هغه صورت کي جائز ده چې ګوتي دومره لندې وي چې مسلسلي اوبه څيني بهيږي ولي په دې صورت که څه هم اول وار په ګوتو ايښوولو سره مستعمل کيږي مګر دوهمه قطره غير مستعمل کيږي نو فقط د ګوتو د سرونو په کښولو سره د درو ګوتو مقدار فرض مسح پوره کيږي مګر که چېري د اوبو د قطرو تسلسل نه وي نو د ګوتو سرونه کښول بې معنى دي، که په موزو باندي د پورته پر ځای د لاندي طرفه څخه يا د پښو د دواړو کنارو له طرفه څخه مسح وکړل سي نو نه ده جائز، ولي چې دا د احاديثو مشهوره وو څخه نه ده ثابته .

وَذَكَرَ فِي الْمُحِيْطِ لَوْ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ خُفَّيْهِ بِبَلَّةٍ بَقِيَتْ عَلٰى كَفَّيْهِ بَعْدَ الْغُسْلِ يَجُوْزُ وَلَوْ مَسَحَ رَأْسَهُ ثُمَّ خُفَّيْهِ بِبَلَّةٍ بَقِيَتْ عَلٰى كَفَّيْهِ بَعْدَ الْمَسْحِ لَايَجُوْزُ وَلَوْ لَمْ يَمْسَحْ عَلٰى خُفَّيْهِ وَخَاضَ فِي الْمَآءِ لَابِنِيَّةِ الْمَسْحِ أَوْمَشٰى فِي الْحَشِيْشِ الْمُبْتَلِّ بِالْمَآءِ أَوْ بِالْمَطَرِ يَجْزِيْهِ وَكَذَا إِذَا أَصَابَهُ الْمَطَرُ يَنُوْبُ عَنِ الْمَسْحِ وَلَايَحْتَاجُ إِلَى النِّيَّةِ فِيْ مَسْحِ الْخُفِّ خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ وَفِيْ بَعْضِ الرِّوَايَاتِ لَايَجْزِيْهِ لِأَنَّهُ خَلَفٌ كَالتَّيَمُّمِ .

ژباړه: په محيط کي ذکرسوي دي که يو سړی اودس وکړي او په موزو باندي په

لندوالي سره مسح وکړي کوم چي د پړپوللو وروسته په لاسو باندي باقي وي نو مسح يې جائز ده، که چېري د سر د مسح کولو وروسته په باقي لندوالي باندي يې د موزو مسح وکړه يا يې د موزو د مسحي د نيت بغير په اوبو کي غوټه ووهله، په وښو کي چي په اوبو يا په باران لانده وي روان سو او په هغه باران وښو نو دا د مسحي قائم مقام دي ،او د موزو په مسح کي د نيت ضرورت نسته، خلافا للشافعي رحمه الله او په ځينو رواياتو کي راغلي دي چي کافي نه ده ولي چي مسح د تيمم په ډول نائبه ده .

تشريح: مصنف رحمه الله دلته د محيط کتاب په حواله ورکولو سره دا مسئله ښه يي چي د اودس کولو وروسته په لاس موجودي اوبه د موزو د مسحي لپاره کافي دي د نوو اوبه اخيستل ضروري نه دي ولي چي دا اوبه غيري مستعملي دي او په دې سره طهارت حاصلول جائز دي البته که چېري د مسحي وروسته په لاسو باندي نيمي اوبه موجودي وي او په دې سره د موزو مسح وکړي نو جائز نه ده د دې لپاره چي اوس دا نيمي مستعملي سوي دي ، په دې سره دوهم وار طهارت نه حاصل کيږي، د احنافو او شوافع رحمهم الله تعالی په مابينځ کي دا مسئله مختلف فيه ده چي د موزو په نيت کي د مسحي نيت کول ضروري دي .

چونکي د امام شافعي رحمه الله حافظ محمد بن ادريس رحمه الله په نز د اودس لپاره هم نيت فرض دی نو د موزو مسح د اودس يو جز دی د دې لپاره په دې کي هم نيت ضروري دی بنا پردغه باندي، که چېري څوک بغير د نيت څخه په لندو وښو روان سي يا په موزو باندي باران وسي نو د دوهم وار مسح کولو ضرورت نسته، زموږ په نز د موزو بغير د نيته لندېدل د مسحي په ځای کافي دي، په ځينو شاذ او نادر رواياتو کي د احنافو علماؤ څخه د غير جواز قول نقل دی چي هغه قابل د التفات نه دي .

وَمَنْ اِبْتِدَاءِ الْمَسْحِ وَهُوَ مُقِيْمٌ فَسَافَرَ قَبْلَ تَمَامِ يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ مَسَحَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ وَّلَيَالِيْهَا وَمَنِ ابْتَدَءَ الْمَسْحَ وَهُوَ مُسَافِرٌ ثُمَّ اَقَامَ اِنْ كَانَ مَسَحَ يَوْمًا وَّلَيْلَةً اَوْ اَكْثَرَ يَلْزِمُهُ نَزْعُهُمَا وَغَسْلُ رِجْلَيْهِ وَاِنْ كَانَ مَسَحَ اَقَلَّ مِنْ يَّوْمٍ وَّلَيْلَةٍ اَتَمَّ مَسْحَ يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ وَمَنْ لَبِسَ الْجَرْمُوْقَ فَوْقَ الْخُفِّ قَبْلَ اَنْ يَّمْسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ مَسَحَ عَلَيْهِ فَاِنْ اَحْدَثَ ثُمَّ لَبِسَ الْجَرْمُوْقَيْنِ لَايَمْسَحُ عَلَى الْجَرْمُوْقَيْنِ وَلَوْنَزَعَ اَحَدَ الْجَرْمُوْقَيْنِ فَلَهُ اَنْ يَّنْزِعَ الْاٰخَرَ وَيَمْسَحَ عَلٰى خُفَّيْهِ.

ژباړه: يو چا د مقيم والي په حالت کي مسح شروع کړه، بيا د يوې ورځي او شپې تېرولو څخه ترمخه مسافر سو نو دی دي درې ورځي او شپې مسح وکړي، او چا شروع وکړه په داسي حالت کي چي هغه مسافر وو بيا وروسته مقيم سو که چېري يوه ورځ او شپه يا زيات يې مسح کړي وي نو په هغه باندي د موزو ايستل او د پښو پرېولل لازم دي که چېري د يوې ورځي او شپې څخه کم يې مسح کړې وي نو دي يوه ورځ او شپه پوره کړي، يوچا په موزو باندي د مسح کولو څخه ترمخه جرموقين واغوستلې نو په دې جرموقينو باندي مسح کولای سي که چېري د بې اودسه کېدلو وروسته يې جرموقين په پښو کړي نو په جرموقينو باندي مسح نسي کولای، او که يو جرموق يې ويستی نو هغه ته پکار ده چي دوهم هم وباسي او پر موزو باندي مسح وکړي.

تشريح: هر څوک چي په حالت کي د اقامت په موزو باندي مسحه وکړي نو چونکي د مقيم لپاره د مسحي مده يوه ورځ اوشپه يعني ۲۴ ساعته ده، که د دې مدې د ختمېدو ترمخه مسافر سي نو د حالتِ سفر مده تر درو ورځو او شپو پوري دی په موز باندي مسح کولای سي، احناف رحمهم الله تعالی وايي چي کوم احکام د

وخت سره متعلق وي په هغوی کي د اٰخري وخت اعتبار کيږي لکه څنګه چي څوک د لمانځه په اٰخري وخت کي مسافر وي او په اول وخت کي مقيم وي نو د اٰخري وخت په اعتبار کولو سره به په لمانځه کي قصر کوي مګر که چيري يو مسافر راسي مقيم سي نو دي وکتل سي که چيري يوه ورځ او شپه يي مسحه کړي وي نو اوس د موزو ايستل او د پښو پرېولل فرض دي که يوه ورځ او شپه نه وي پوره نو مده پوره کولای سي.

که چا پر موزو سربېره جرموقين واغوستلي جرموق په موزو سربېره د حفاظت لپاره اغوستل کيږي نو په دې جرموق باندي زموږ په نز مسح کول درسته ده او د امام مالک او شافعي رحمهم الله تعالى په نز نه ده درسته، البته که چيري د موزو اغوستلو څخه ترمخه څوک بې اودسه سي نو اوس په جرموق زموږ په نز مسحه نه ده درسته، دغه ډول که يو جرموق يې خپله ويستی يا بلا اختياره ووتی نو صرف د يوه مسحه نه ده درسته بلکي دواړه دي وباسي او په موزو دي مسحه وکړي.

وَلَايَجُوْزُ الْمَسْحُ عَلَى الْجَرْمُوْقَيْنِ الْمُنْخَرِقَيْنِ وَاِنْ كَانَ خُفَّاهُ غَيْرَ مُنْخَرِقَيْنِ وَكَذَا لَايَجُوْزُ الْمَسْحُ عَلٰى خُفٍّ فِيْهِ خِرْقٌ كَبِيْرٌ مَا تَبَيَّنَ مِنْهُ مِقْدَارُ ثَلٰثِ اَصَابِعِ الرِّجْلِ فَاِنْ كَانَ اَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ جَازَ وَاِنْ كَانَ الْخِرْقُ فِيْ خُفٍّ وَاحِدٍ قَدْرَ اِصْبَعَيْنِ فِيْ مَوْضِعٍ اَوْفِيْ مَوْضِعَيْنِ وَفِي الْاٰخَرِ قَدْرَ اِصْبَعٍ وَاحِدٍ جَازَ الْمَسْحُ وَاِنْ كَانَ فِيْ خُفٍّ وَاحِدٍ يُجْمَعُ فَلَا يَجُوْزُ الْمَسْحُ وَيُشْتَرَطُ ظُهُوْرُ الْاَصَابِعِ بِكَمَالِهَا وَلَوْ ظَهَرَ الْاِبْهَامُ وَهِيَ مِقْدَارُ ثَلٰثِ اَصَابِعَ مِنْ غَيْرِهَا جَازَ وَلَوْ كَانَ طُوْلُ الْخِرْقِ اَكْثَرَ مِنْ قَدْرِ ثَلٰثِ اَصَابِعَ وَانْفِتَاحُهُ اَقَلُّ مِنْ ذٰلِكَ لَايَمْنَعُ جَوَازَ الْمَسْحِ وَكَذَا لَوِ انْفَتَقَ خِرْزُهُ اِلَّا اَنَّهُ لَايُرٰى

شَيْءٌ مِنْ قَدَمِهٖ يَجُوْزُ وَلَوْ كَانَ يَبْدُوْ حَالَةَ الْمَشْيِ وَلاَيَبْدُوْ حَالَةَ الْوَضْعِ يَمْنَعُ كَذَ ذَكَرَهُ فِي الْمُحِيْطِ وَاِنْ كَانَ عَلَى الْعَكْسِ لاَيَمْنَعُ الْمَسْحَ وَالْخِرْقُ اِذَا كَانَ فَوْقَ الْكَعْبِ لاَيَمْنَعُ.

ژباړه: په څيري سوو جرموقينو باندي مسحه نه ده جائز كه څه هم موزې جوړې وي دغه ډول په هغو موزو باندي مسحه نه ده جائز چي دومره زياتي څيري وي چي د پښو د درو ګوتو په مقدار وي، اوكه د دې څخه كم وي نو جائز ده، كه څيريوالى په يوه موزه كي يو ځاى يا دوه ځايه وي د دوو ګوتو په مقدار او په بلي كي د يوې ګوتي په مقدار وي نو مسح جائز ده كه په يوه موزه كي دومره څيروالى وي نو مسحه نه ده جائز، د ګوتو په مكمل طور ښكاره كېدل په عدم جواز كي شرط دى كه چېري صرف يوه ګوته ښكاره سي چي د دې علاوه د درو ګوتو برابر وي نو بيا هم مسحه جائز ده .

كه د څيروالي اوږدوالى د درو ګوتو د مقدار څخه زيات وي او پراخوالى يې د دې څخه كم وي نو د مسحې په جواز كي مانع دى، دغه ډول كه د موزو سپېنې ووزي مګر دننه د قدم هيڅ حصه هم په نظر نه راځي نو مسحه جائز ده، كه د تګ په وخت كي ښكاره كيږي او د اېښوولو په حالت كي نه ښكاره كيږي نو مسحه جائز ده دغه ډول په محيط كي ذكر دي، كه چېري برعكس وي نو مسحه جائز نه ده او څيريوالى كه چېري د پوندو له طرفه څخه وي نو مسح جائز ده .

تشريح: كه د موزو څخه علاوه صرف جرموقين څيري وي نو بيا هم مسحه نه ده جائز ولي چي دا حكمًا داسي دى لكه موزې چي څيري وي دغه ډول كه چېري موزې په داسي مقدار كي څيري وي چي كم از كم د پښي د كوچنى ګوتي سره درې ګوتي ښكاره سي نو مسحه نه ده جائز، مګر كه چېري د دې درو ګوتو مقدار په دواړو

موزو کي په مختلو ځايو کي پوره کيږي نو مسحه جائز ده البته که چېري په يوه موزه کي په مختلف ځايو باندي وي نو نه ده جائز .
دغه ډول که چېري موزې د بجلکو پورته څيري وي نو بيا هم مسحه جائز ده ولي چي د پښو پرېولل تربجلکو پوري دي دغه ډول مسح هم ده، نو د بجلکو څخه پورته که چېري بالکل موزې نه وي نو بيا هم مسح کول جائز دي .

وَاِنْ اَرَادَ اَنْ يَّخْلَعَ خُفَّيْهِ فَنَزَعَ الْقَدَمَ مِنَ الْخُفِّ غَيْرَ اَنَّ الْقَدَمَ فِي السَّاقِ بَعْدُ اِنْتَقَضَ مَسْحَهُ وَاِنْ نَزَعَ الْقَدَمَ عَنْ مَكَانِهِ رُوِىَ عَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ اِذَا خَرَجَ اَكْثَرُ الْعَقِبِ عَنْ عَقِبِ الْخُفِّ اِنْتَقَضَ الْمَسْحُ وَفِيْ بَعْضِ الرِّوَايَاتِ اِذَا صَارَ بِحَالٍ تَعَذَّرَ الْمَشْيُ الْمُعْتَادُ مَعَهُ اِنْتَقَضَ وَفِيْ بَعْضِ الرِّوَايَاتِ اَيْضًا اَلْمُعْتَبَرَانِ بَقِيَ فِيْ مَوْضِعِ قَرَارِ الْقَدَمِ مِقْدَارُ ثَلٰثِ اَصَابِعَ لَايَنْتَقِضُ وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ مُحَمَّدٍ وَبِهِ اَخَذَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ.

ژباړه: که يې اراده وکړه چي موزې وکاږي نو پښه يې ځيني ويستله مګر موزې په بجلکو کي وي نو مسحه يې ماته سوه او که د پښې يوڅه حصه يې د خپل ځای څخه ويستله نو د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله څخه روايت سوی دی چي کله اکثره پونده د موزې د پوندي څخه وباسي نو مسحه ماته سوه او په ځينو رواياتو کي دي چي کله داسي وسي چي د عادت مطابق تګ مشکل سي نو اودس مات سو او په ځينو رواياتو کي دي چي کله قدم په مواضع قرار کي د درو ګوتو په مقدار وي نو مسحه نه ماتيږي دا د امام محمد رحمه الله روايت دی او په دغه باندي ځينو علماؤ فتوٰی هم کړي ده .

تشريح: کله چي ماسح د خپل قدم څخه د موزو ايستلو نيت وکړي او خپل قدم ته

د ايستلو په غرض حرکت وکړي مګر په مکمل طور د ايستلو څخه ترمخه يې اراده بدله سوه نو صرف د قدم په لږ حصې ايستلو سره مسحه ماته سوه که نه؟

په دې باره کې د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله د شاګردانو څخه مختلف روايات نقل سوي دي شيخ الاسلام علامه سرخسي رحمه الله ويلي دي چي کله زياته پونده د موزې د پوندې وطرف ته راسي نو مسحه ختم سوه، او حسن ابن زياد رحمه الله روايت کړی دی چي کله اکثره قدم د موزې د پوندې و طرف ته راسي نو مسح ماته سوه.

صاحب د هدايې دغه قول ته صحيح ويلي دي ولې چي اکثره د کل حکم لري او امام محمد رحمة الله تعالى عليه وايي چي کله قدم د درو ګوتو په مقدار په موزو کي پاته سي نو مسحه باقي ده ولې چي د موزو په مسحه کي د فرض مقدار د درو ګوتو برابر دی نو کله چي فرض مقدار په موزه کي باقي دی نو مسحه هم باقي ده او اکثرو علماؤ دا قول اختيار کړی دی.

وَفِيْ كِتَابِ الصَّلٰوةِ لِاَبِيْ عَبْدِاللهِ الزَّعْفَرَانِيْ رَجُلٌ مَسَحَ عَلٰى خُفَّيْهِ ثُمَّ دَخَلَ الْمَآءَ فِيْ خُفِّهٖ اِنِ ابْتَلَّ جَمِيْعُ اِحْدَى الْقَدَمَيْنِ يَنْتَقِضُ مَسْحُهٗ رَجُلٌ اَخْرَجَ عَقِبَهٗ مِنْ عَقِبِ الْخُفِّ اِلَّا اَنَّ مُقَدَّمَ قَدَمِهٖ فِي الْخُفِّ مَوْضِعَ الْمَسْحِ لَهٗ اَنْ يَّمْسَحَ مَالَمْ يَخْرُجْ صُدُوْرَ قَدَمَيْهِ عَنِ الْخُفِّ اِلَى السَّاقِ وَذَكَرَ فِيْ بَعْضِ الْمَوَاضِعِ اِنْ كَانَ صُدُوْرَ الْقَدَمِ فِيْ مَوْضِعِهٖ وَالْعَقِبُ يَخْرُجُ وَيَدْخُلُ لَايَنْتَقِضُ مَسْحُهٗ وَلَوْكَانَ الْخُفُّ وَاسِعًا اِذَا رَفَعَ الْقَدَمَ يَرْفَعُ الْعَقِبُ حَتّٰى يَخْرُجُ الْعَقِبُ وَاِذَا وَضَعَ الْقَدَمَ عَلَى الْاَرْضِ عَادَ الْعَقِبُ اِلٰى مَوْضِعِهَا لَايَنْتَقِضُ الْمَسْحُ وَعَنْ مُحَمَّدٍ خُفٌّ فِيْهِ فِتْقٌ وَبِطَانَةُ الْخُفِّ مِنْ خِرْقَةٍ اَوْ مِنْ غَيْرِهَا غَيْرُ مُنْفَتِقٍ مَخْرُوْزًا فِي الْخُفِّ جَازَ الْمَسْحُ كَذَا ذَكَرَهٗ فِي الذَّخِيْرَةِ.

ژباړه: د ابوعبدالله الزعفراني رحمه الله په کتاب الصلوٰة کي دي چي یو سړي په موزو باندي مسحه وکړه د دې وروسته بیا په دې موزو کي اوبه داخلي سوې نو که په دوو قدمو کي یو قدم پوره لوند سو نو مسحه ختمه سوه، که یو سړي خپله پونده د موزې د پوندي څخه ویسته مګر د قدم اولني حصه د مسحي په ځای کي وه نو د ده لپاره مسح جائز ده تر څو پوري چي د قدمونو سینې د موزو د پوندو له طرف څخه نه وي وتلي، او په ځینو ځایو کي مذکور دي چي که چېري د قدمو سینې په خپل ځای وي او پونده ځي راځي نو مسحه نه ماتیږي او که موزه لویه وي چي د قدم پورته کولو په وخت کي پونده پورته کیږي حتّٰی چي د موزو پونده ووزي او چي کله قدم کښېږدي بیرته خپل ځای ته راځي نو په دې سره مسحه نه ماتیږي .

د امام محمد رحمة الله تعالی علیه څخه روایت دی که چېري په موزو کي خلاص سوری وي او د موزې کانچي د استر کپړې وي یا د یو بل شي وي کوم چي نه څیرېږي او په موزه کي ګنډل سوی وي نو مسحه جائز ده، دغه ډول په ذخیره کي ذکر سوي دي .

تشریح: که چېري د دواړو قدمونو څخه د یوه قدم پوره یا اکثره حصه لنده سي نو دوهم قدم به هم پرېولي ولي چي د غسل او مسحي اجتماع ممنوع ده نو کله چي یو قدم لوند سو نو هغه مغسول سو او دوهم قدم ممسوح پاتیږي نو د دې لپاره نه دي جائز بلکي موزه دي وکاږي او دوهم قدم دي هم پرېوللي او کله چي د اولني قدم حصه په موزه کي د درو ګوتو په مقدار باقي یي او په تنګ راتګ کي د وسعت په وجه ځي راځي نو په مسحي باندي هیڅ فرق نه راځي ولي چي فرض مقدار اوس هم په موزه کي باقي دی لکه څنګه چي تېر سوي دي، دغه ډول که په موزه کي سوری جوړ سي مګر د درو ګوتو مقدار نه سي ښکاره نو مسحه جائز ده .

وَلَايَجُوْزُ الْمَسْحُ عَلَى الْعِمَامَةِ وَالْقَلَنْسُوَةِ وَالْبُرْقَعِ وَالْقُفَّازَيْنِ وَيَجُوْزُ الْمَسْحُ عَلَى الْجَبَآئِرِ وَنَحْوِهَا وَاِنْ شَدَّهَا غَيْرِ وُضُوْءٍ فَاِنْ سَقَطَتْ عَنْ غَيْرِ بُرْءٍ لَمْ يَبْطُلِ الْمَسْحُ وَاِنْ سَقَطَتْ عَنْ بُرْءٍ بَطَلَ الْمَسْحُ حَتّٰى لَوْكَانَ فِي الصَّلٰوةِ اِسْتَقْبَلَ الصَّلٰوةَ.

ژباړه: په لنګوټه، خولۍ، نقاب او په دستکلو (دستانو) باندي مسحه نه ده جائز په پټۍ یا د دې په مثل سره پر نورو جائز ده که څه هم یې بغیر اودس تړلي وي، که بغیر د جوړتیا څخه دا پټۍ ولوېږي نو مسحه نه ده باطله او که د جوړتیا د وجې څخه ولوېږي نو مسحه باطله ده که په لمانځه کي وو نو لمونځ دې د سره څخه شروع کړي.

تشریح: د سر پرځای په لنګوټه باندي مسحه یا د پړېوللو پر ځای باندي په نقاب مسحه دغه ډول د لاسو پر ځای په دستکلو باندي مسحه نه ده جائز ولي چي په قرآن پاک کي د مخ او د لاسو پرېوللو حکم دی نو از خود د هغه بدل پیدا کول نه دي جائز، البته د پښو د پرېوللو سره سره په مسح علي الخفين باندي احادیث مشهوره او متواتر موجود دي چي په هغه سره کتاب الله مقید کیږي، د زخم په پټیانو باندي هم د دفعي حرج لپاره مسحه جائز ده چي د هغه تفصیلي احکام په را روان عبارت کي راځي.

وَالْمَسْحُ عَلَى الْجَبِيْرَةِ عَلٰى وُجُوْهٍ اِنْ كَانَ لَا يَضُرُّهٗ غَسْلُ مَا تَحْتَهٗ يَلْزَمُهُ الْغَسْلُ بِالْاِجْمَاعِ وَاِنْ كَانَ يَضُرُّهُ الْغَسْلُ بِالْمَآءِ الْبَارِدِ وَلَايَضُرُّهٗ بِالْمَآءِ الْحَارِّ يَلْزَمُهُ الْغَسْلُ بِالْمَآءِ الْحَارِّ وَاِنْ كَانَ يَضُرُّهُ الْغَسْلُ وَلَايَضُرُّهُ الْمَسْحُ مَاتَحْتَ الْجَبِيْرَةِ يَمْسَحُ مَاتَحْتَ الْجَبِيْرَةِ وَلَايَمْسَحُ فَوْقَ الْجَبِيْرَةِ هٰذَا لَفْظُ قَاضِيْخَانَ وَالْمَسْحُ عَلَى الْجَبَائِرِ اِنَّمَا يَجُوْزُ اِذَا لَمْ يَقْدِرْ عَلَى الْمَسْحِ عَلَى الْقُرْحَةِ بِاَنْ كَانَ يَضُرُّهَا الْمَآءُ وَاَمَّا

إِذَا كَانَ يَقْدِرُ عَلَى الْمَسْحِ عَلَى الْقُرْحَةِ فَلَا يَجُوزُ لَهُ الْمَسْحُ عَلَى الْجَبِيْرَةِ قَالَ بُرْهَانُ الدِّيْنِ يَنْبَغِيْ اَنْ يُّحْفَظَ هٰذِهِ الْمَسْئَلَةُ فَاِنَّ النَّاسَ عَنْهَا غَافِلُوْنَ وَاِنْ تَرَكَ الْمَسْحَ عَلَى الْجَبِيْرَةِ وَالْمَسْحُ لَا يَضُرُّهُ جَازَ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ خِلَافًا لَّهُمَا وَاَمَّا الْاِسْتِيْعَابُ فَشَرْطٌ عِنْدَ الْبَعْضِ وَبَعْضُهُمْ قَالُوْا اِذَا مَسَحَ عَلٰى اَكْثَرِهَا جَازَ وَاِنْ مَسَحَ عَلَى النِّصْفِ اَوْ دُوْنَهُ لَا يَجُوْزُ وَيَكْتَفِيْ بِالْمَسْحِ مَرَّةً وَاحِدَةً هُوَ الصَّحِيْحُ وَلَوْ كَانَتِ الْجَرَاحَةُ فِيْ مَوْضِعِ الْغَسْلِ وَلَيْسَ تَحْتَ جَمِيْعِ الْجَبِيْرَةِ جَرَاحَةٌ جَازَ لَهُ الْمَسْحُ عَلٰى كُلِّ الْجَبِيْرَةِ تَبْعًا لِّمَوْضِعِ الْجَرَاحَةِ.

ژباړه: د پټۍ مسحه په يوڅو اقسامو مشتمله ده که د پټۍ لاندي زخم ته پرېولل ضرر نه رسوي نو بالاتفاق يې پرېولل فرض دي که د يخو اوبو څخه تکليف او د ګرمو اوبو څخه نه وي نو په ګرمو اوبو سره پرېولل ضروري دي که د پرېوللو څخه ضرر وي مګر د پټۍ لاندي زخم په مسحي کولو سره ضرر نه وي نو د پټۍ لاندي دي مسحه وکړي، د پټۍ سربېره دي مسحه نه کوي دا د قاضي خان الفاظ دي په پټيانو باندي هغه وخت مسحه جائز ده چي کله دی په مسحه کولو د دې زخم قدرت نه ري يعني هغه ته اوبه ضرر رسوي چي کله په زخم باندي مسحه کولای سي نو په پټۍ باندي مسحه نه ده جائز .

برهاالدين رحمه الله ويلي دي مناسب دی چي دا مسئلې يادي سي ولي چي بېشکه انسان د دې څخه ناخبره دی، که په پټۍ باندي مسحه پرېښودل سي او هغه ته مسحه ضرر نه رسوي نو د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نز جائز دی بخلاف د صاحبينو. پوره احاطه کول د ځينو په نز شرطه دی او ځيني وايي چي کله په اکثره

مسح وکړي نو جائز دی که په نیم یا د دې څخه هم په کم باندې مسح وکړي نو جائز نه دی، د صحیح قول مطابق مسحه یو وار کافي ده، که زخم د پرېوللو په ځای کې وي او د ټولي پټۍ لاندي زخم نه وي نو د زخم په تابع کېدو سره د ټولي پټۍ مسح جائز ده.

تشریح: مصنف رحمه الله وايي چې په پټۍ باندي هغه وخت مسحه جائز ده کله چې زخم پرېوللو یا په زخم مسحي کولو سره ضرر لاحق کېږي که په زخم باندي د مسحي کولو سره څه تکلیف نه رسیږي نو په زخم باندي مسحه کول ضروري ده، د دې لپاره صاحب محیط امام برهان الدین رحمة الله تعالی علیه وویل چې دا مسئله ښه ایزده کول ضروري ده ولي چې اکثره خلک په دې غلطۍ کې دي چې کله د زخم په پرېوللو سره ضرر رسیږي نو فوراً پر پټۍ سربېره مسحه کوي، حالانکي داسې نه دي کول پکار بلکې ودې کتل سي چې په زخم باندي فقط په مسحي کولو سره څه تکلیف نه رسیږي نو پر زخم باندي مسحه کول پکار دي او په پټۍ باندي مسح نه ده جائز، او د مسحي کولو په وخت کې په ټولي پټۍ باندي لاس تېرول د ځینو علماؤ په نز فرض دي او د ځینو په نز د للاکثر حکم الکل د قاعدی موافق دي. که چېري په اکثره د پټۍ مسحه وکړل سي نو کافي ده، د هدايې د صاحب میلان هم دغه طرفته دی ولې چې د استیعاب د شرط څخه حرج لازمیږي، د نورو مسحو په مثل د پټۍ مسحه هم صرف یو وار ده چونکې اکثره داسې کیږي، د پټۍ د تړلو په وخت کې د زخم شاوخوا جوړ ځای هم پټیږي نو د زخم په متابعت سره هغه ځای هم په مسحي سره پاکیږي، د پټۍ مسحه د پرېوللو په حکم کې ده د دې لپاره که چېري یوه پښه په پټۍ تړلو سره مسحه کړل سي نو د دوهمي جوړي پښې پرېولل ضروري دي او د دې حکم د موزو د مسحي په ډول نه دی چې په دواړو باندي مسحه وکړي یا دې پرېولل سي.

وَلَوْ كَانَ مَقْطُوْعَ اِحْدَى الرِّجْلَيْنِ مِنَ الْكَعْبِ اَوْ دُوْنَهَا فَاِنَّ غَسْلَ مَوْضِعَ الْقَطْعِ

نَزْعٌ فَلَوْ غَسَلَ مَوْضِعَ الْقَطْعِ وَلَبِسَ خُفَّيْهِ يَنْظُرُ إِنْ كَانَ بَقِيَ مِنْ ظَهْرِ الْقَدَمِ مِقْدَارُ ثَلٰثِ اَصَابِعَ اَوْ اَكْثَرَ مِنْهُ يَمْسَحُ وَإِلاَّ يَغْسِلُهُمَا لِاَنَّهُ وَجَبَ غَسْلُ الْمَقْطُوعِ وَإِنْ كَانَ مَقْطُوعُ الْاَصَابِعِ وَبَعْضُ خُفِّهِ خَالٍ عَنِ الْقَدَمِ فَإِنْ وَقَعَ الْمَسْحُ عَلَى الْمَغْسُوْلِ مِقْدَارِ ثَلٰثِ اَصَابِعَ جَازَ الْمَسْحُ وَإِلاَّ فَلاَ وَكَذٰلِكَ الْحُكْمُ عَلٰى هٰذَا التَّفْصِيْلِ إِذَا كَانَ الْخُفُّ وَاسِعًا وَبَعْضُهُ خَالٍ عَنِ الْقَدَمِ رَجُلٌ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى الْجَبِيْرَةِ وَلَبِسَ خُفَّيْهِ ثُمَّ اَحْدَثَ قَبْلَ مَابَرِءَتِ الْجَرَاحَةُ فَتَوَضَّأَ يَمْسَحُ عَلَى الْجَبِيْرَةِ وَالْخُفَّيْنِ فَإِنْ اَحْدَثَ بَعْدَ مَابَرِءَتْ لاَ يَمْسَحُ لِاَنَّهُ لَبِسَ الْخُفَّيْنِ عَلٰى طَهَارَةٍ نَاقِصَةٍ ذَكَرَهُ فِيْ شَرْحِ الْاِسْبِيْجَابِيِّ.

ژباړه: که د دواړو پښو څخه يوه پښه تر بجلکي پوري پرې وي نو د پرې سوي ځای پرېولل فرض دي، که چېري يې پرې سوی ځای پرې وی او موزې يې واغوستې نو دي وګوري که ظاهر قدم (ظهرقدم) څخه د درو ګوتو برابر يا د دې څخه زيات باقي وي نو دي مسح وکړي که نه وي نو دي دواړي پرېولي ولې چي پرې سوی ځای پرېول ضروري دی که ګوتي پرې سوي وي او يوڅه ځای د موزې خالي وي د قدم څخه نو که چېري مسح په مغسول باندي د درو ګوتو په مقدا ر واقع کيږي نو جائز دی که نه وي نو نه ده جائز، د دغه تفصيل مطابق حکم دی چي کله موزه لويه وي او يوڅه حصه د قدم څخه خالي وي.

يو سړي اودس وکړ او په پټۍ باندي يې مسحه وکړه موزې يې په پښو کړي نو د زخم د جوړوالي څخه ترمخه بې اودسه سو تر هغه وروسته دي اودس وکړي په پټۍ او موزو دي مسح جاري ساتي که د صحت څخه وروسته بې اودسه سو نو مسحه دي

نه کوي ولي چي موزې په ناقص طهارت باندي په پښو سوي دي دغه ډول په شرح اسبيجابي کي مذکور دی.

تشريح: که د يوچا پښه کاټ سي نو د کاټ سوي ځای پرېولل فرض دي، د دې پرېوللو وروسته که چېري څوک په موزو باندي مسحه کول وغواړي نو دي وکتل سي که چېري د کاټ سوي قدم څخه درې ګوتي يا د دې سره زياتي باقي پاته وي نو په دې مسحه کول جائز ده که نه وي نو نه ده جائز، نو د دواړو قدمو پرېولل فرض دي ولي چي په داسي صورت کي د درو ګوتو فرض مقدار لپاره محل مسح نه دی موجود نو چي کله په يوې باندي مسح نه سي کېدی نو د دوهم قدم پرېولل هم ضروري دی د دې لپاره چي د مسحي او غسل دواړو اجتماع نسي را، دغه ډول دا مسئله هم ده که موزه لويه وي اويوځه ځای د قدم څخه خالي وي نو که چيري د درو ګوتو مقدار مسحه په قدم باندي وسي نو جائز دی که د دې څخه په کم قدم باندي راسي او باقي په خالي موزې باندي واقع سي نو نه ده جائز.

دغه ډول که چېري چا په پټۍ باندي د مسحي کولو وروسته موزې په پښو کړي نو مسحه جائز ده ولي چي په پټۍ باندي د مسحي کېدلو وروسته طهارت کامل کيږي، اوس د حدث لاحق کېدو وروسته پر موزو مسحه کولای سي البته که چېري د پټۍ لاندي زخم جوړ سي او د هغه وروسته حدث لاحق سي نو چونکي اوس د پټۍ لاندي ځای پرېولل فرض سوه نو طهارت اوس ناقص سو او کامل نه دی، د موزې د مسحي لپاره بيا د حدث لاحق کېدو څخه ترمخه طهارت کامله شرط دی نو د انتقاء د شرط څخه انتقاء مشروط لازم دی د دې لپاره په موزو باندي مسحه نه ده جائز.

وَإِذَا كَانَ الشِّقَاقُ فِيْ رِجْلِهِ أَوْ يَدِهِ فَجَعَلَ فِيْهِ الدَّوَآءَ أَوِ الشَّحْمِ يُمِرُّ الْمَآءَ فَوْقَ الدَّوَآءِ أَوِ الشَّحْمِ وَلَايَكْفِيْهِ الْمَسْحُ وَإِنْ كَانَ الشِّقَاقُ فِيْ يَدِهِ وَقَدْ عَجَزَ عَنِ

الْوُضُوْءِ يَسْتَعِيْنُ بِغَيْرِهٖ حَتّٰى يُوَضِّيَهُ فَاِنْ لَّمْ يَسْتَعِنْ وَتَيَمَّمَ جَازَتْ صَلٰوتُهُ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ خِلَافًا لَّهُمَا فَاِنْ لَّمْ يَجِدْ مَنْ يُّوَضِّيَهُ جَازَتْ بِلَاخِلَافٍ وَاَمَّا الْمَسْحُ عَلَى الْجَوَارِبِ فَلَايَجُوْزُ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ اِلَّا اَنْ يَّكُوْنَا مُجَلَّدَيْنِ اَوْ مُنَعَّلَيْنِ وَقَالَا يَجُوْزُ اِذَاكَانَا ثَخِنَيْنِ لَايَشِفَّانِ الْمَآءِ وَعَلَيْهِ الْفِتْوٰى قَالَ فِي الذَّخِيْرَةِ وَقِيْلَ رَجَعَ اَبُوْحَنِيْفَةَ اِلٰى قَوْلِهِمَا فِيْ اٰخِرِ عُمْرِهٖ وَحَدُّ الثَّخِيْنَيْنِ اَنْ يَّسْتَمْسِكَ عَلَى السَّاقِ مِنْ غَيْرِ اَنْ يَّشُدَّهُمَا بِشَيْءٍ وَيَجُوْزُ الْمَسْحُ عَلَى الْخِفَافِ الْمُتَّخِذَةِ مِنَ اللُّبُوْدِ التُّرْكِيَّةِ لِاِمْكَانِ قَطْعِ الْمَسَافَةِ بِهَا وَاللّٰهُ تَعَالٰى اَعْلَمُ.

ژباړه: که چېرې په پښو يا په لاسو کې چاودې وي او په دې کې دوا يا غوړزګي واچوي نو په دوايي يا په غوړزګي باندې اوبه واچوي د دې لپاره مسحه نه ده کافي، او که چاودې په لاسو کې وي د اودس کولو څخه عاجزه وي نو دې د بل څخه کومک طلب کړي چې د ده اودس ور وکړي که چېرې يې کومک نه وغوښتى او په تيمم سره يې لمونځ وکړ نو د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله په نز جائز دی په خلاف د صاحبينو که يو څوک د اودس ورکولو والا نه سي پيدا نو بلا خوف جائز دی، په جرابو باندې مسحه د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله په نز جائز نه ده مګر چې کله د چمړې څخه جوړې سوي وي يا د چمړې په مثل لاندې چمړه داري وي، صاحبين وايي چې کله سختې وي او اوبه نه جذب کوي نو جائز ده او په دغه باندې فتوی ده دا په ذخيره کې ويل سوي دي چې حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله په اخر عمر کې د دې دواړو قولو وطرف ته رجوع کړې وه او د سختېدو حد دادی چې په بجلکو باندې د ترلو څخه بغير ټينګې وي، په هغه موزو باندې هم مسحه کول جائز ده کوم

چي د ترکي نبوړ (جماهوا اُون) څخه جوړي سوي وي ولي چي په دې کي هم مسافه قطعه کېدی سي. والله تعالی اعلم

تشريح: که چېري د چا په پښو يا په لاسو کي د يخ يا د مرض د وجي څخه چاودي پيدا سي او په هغو باندي مرهم وغيره ولګوي نو په دې زخمو کي په دوايي باندې اوبه تيرول ضروري دي او په دې صورت کي مسحه نه ده کافي.

که يو څوک د لاسو د خرابی د وجي څخه د خپل اودس کولو څخه معذوره سي نو د حضرت امام ابوحنيفهؒ په نز استحباباً د بل چا څخه دي کومک طلب کړي هغه ته دي د اودس ورکولو ووايي، د صاحبينو په نز وبل چاته ويل واجب دي، که چېري څوک نه وي نو په تيمم سره لمونځ کولای سي.

د حضرت امام ابو حنيفهؒ په نز صرف پر هغو جرابو باندي مسحه جائز ده چي مجلد ديني وي يعني چي چمړه باندي اغوستل سوي وي يا منعليني وي يعني کم از کم د لاندي وطرف ته چمړه وي، د صاحبينو په نز بيا د چمړې بغيره هم که چېري دومره سختي وي چي په هغو کي اوبه نه جذب کېږي او اوبه و قدم ته نه رسيږي نو په دغو جرابو باندي مسحه کول جائز ده ، صاحب ذخيره د حضرت امام ابو حنيفهؒ څخه د صاحبينو د قول و طرف ته رجوع نقل کړي ده ولي چي وروسته چي بيا حضرت امام ابو حنيفهؒ ناروغه سو نو په جرابو باندي به يې مسحه کوله چي هغه د رجوع دليل دی، د غه ډول د لبود ترکيه څخه د جوړو سوو موزو باندي هم مسحه جائز ده لبود جمع ده د لبدة، تهه دړ تهه جمع سوي اُون ته ويل کيږي، د دې لبودو څخه چي کومي موزې تيارېدلي هغه به هم د چمړې ډول سختي وي د دې لپاره يي دغه حکم درلود.

فصل في نواقض الوضوء

(دا فصل د اوداسه د ماتولو شیانو په بیان کي دی)

اَلْمَعَانِي النَّاقِضَةِ لِلْوُضُوْءِ كُلُّ مَاخَرَجَ مِنَ السَّبِيْلَيْنِ وَاِنْ خَرَجَ مِنْ قُبُلِ الرَّجُلِ وَالْمَرْءَةِ رِيْحٌ مُّنْتَنَةٌ اَلصَّحِيْحُ اَنَّهُ لَايَنْتَقِضُ كَذَا ذَكَرَهُ فِي الْمُحِيْطِ وَاِنْ خَرَجَ مِنَ الْمُفْضَاةِ يَجِبُ عَلَيْهَا الْوُضُوْءُ وَذُكِرَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ لِقَاضِيْ خَانَ يَسْتَحِبُّ لَهَا اَنْ تَتَوَضَّاَ وَكَذَا الدَّوْدُ وَالْحَصَاةُ اِذَا خَرَجَ مِنْ اَحَدِ هٰذَيْنِ السَّبِيْلَيْنِ فَعَلَيْهِ الْوُضُوْءُ وَاِذَا خَرَجَ الدَّوْدُ مِنَ الْفَمِّ اَوْ مِنَ الْاُذُنِ اَوْ مِنَ الْاَنْفِ اَوْ مِنَ الْجَرَاحَةِ لَايَنْتَقِضُ وَاِنْ اَدْخَلَ الْحُقْنَةَ ثُمَّ اَخْرَجَهَا اِنْ لَّمْ يَكُنْ عَلَيْهَا بَلَّةٌ لَايَنْقِضُ وَالْاَحْوَطُ اَنْ يَّتَوَضَّاَ وَاِنْ اَقْطَرَ الدُّهْنَ فِيْ اِحْلِيْلِهِ فَعَادَ فَلَاوُضُوْءَ عَلَيْهِ اَبِيْ حَنِيْفَةَ خِلَافًا لَّهُمَا وَاِذَا صَبَّ دُهْنًا فِيْ اُذُنِهِ فَمَكَثَ فِيْ دِمَاغِهِ يَوْمًا ثُمَّ خَرَجَ مِنْ اَنْفِهِ اَوْ اُذُنِهِ فَلَاوُضُوْءَ عَلَيْهِ وَاِنْ عَادَ مِنَ الْفَمِّ نَقَضَ وَاِنْ دَخَلَ فِيْ اُذُنِهِ مَاءٌ عِنْدَ الْاِغْتِسَالِ ثُمَّ خَرَجَ مِنْ اَنْفِهِ فَلَا وُضُوْءَ عَلَيْهِ وَاِنْ خَرَجَ مِنَ الْفَمِّ فَعَلَيْهِ الْوُضُوْءُ اِنِ احْتَشٰى فِيْ اِحْلِيْلِهِ بِقُطْنَةٍ خَوْفًا مِنْ خُرُوْجِ الْبَوْلِ وَلَوْلَا الْقُطْنُ لَكَانَ يَخْرُجُ مِنْهُ الْبَوْلُ فَلَا بَاْسَ بِهِ وَلَا يَنْتَقِضُ وُضُوْءُهُ مَالَمْ يَظْهَرِ الْبَوْلُ عَلَى الْقُطْنَةِ وَاِنْ غَابَتِ الْقُطْنَةُ ثُمَّ اَخْرَجَهَا اَوْ خَرَجَتْ رَطْبَةً اِنْتَقَضَ وَاِنِ ابْتَلَّ الطَّرْفُ الدَّاخِلُ وَلَمْ يَنْفُذْ اِلَى الطَّرْفِ الْخَارِجِ لَمْ يَنْتَقِضْ وُضُوْءُهُ وَاِنْ سَقَطَتْ اِنْ كَانَتْ رَطْبَةً اِنْتَقَضَ وَاِنْ كَانَتْ يَابِسَةً لَمْ يَنْتَقِضْ وَكَذٰلِكَ

اَلْحُكْمُ فِيْ كُرْسَفِ الْمَرْءَةِ اِذَا سَقَطَتْ سَوَآءٌ كَانَ الْكُرْسَفُ فِي الْفَرْجِ الدَّاخِلِ اَوْ فِي الْفَرْجِ الْخَارِجِ وَاِنْ كَانَتْ اِحْتَشَتْ فِي الْفَرْجِ الْخَارِجِ فَابْتَلَّ دَاخِلُ الْحَشْوِ اِنْتَقَضَ نَفَذَ اَوْ لَمْ يَنْفَذْ وَاَمَّا اِذَا احْتَشَتْ فِي الْفَرْجِ الدَّاخِلِ اِنْ نَفَذَ الْبَلَلُ اِلٰى خَارِجِهِ اِنْتَقَضَ وَاِلاَّ فَلاَ.

ژباړه: د اوداسه ماتوونکی معناګاني: هرهغه شی چي د دې دوو لارو څخه ووزي د مخ د خوا يا د شا د خوا نو اودس يې ماتيږي، که چيري د سړي د مخ د خوا څخه يا د ښځي د مخ د خوا څخه باد ووزي نو صحيح خبره داده چي اودس يې نه ماتيږي، دغه ډول ذکرسوي دي په محيط کي.

که چيري ووتی د مفضاة څخه نو واجب دی پر دې ښځي باندي اودس، او ذکرسوي دي په جامع الصغير کي د قاضي خان چي مستحب دی د دې لپاره اودس، دغه ډول که يو چينجی يا يوبل شی ووځي د دې دوو لارو څخه نو پرده باندي اوس دی، او که ووتی چينجی د خولې څخه يا د غوږو څخه يا د پوزي څخه يا د يوزخم څخه نو د ده اودس نه ماتيږي، که چيري داخله کړي پيچکاري او بيرته يې راوباسي نو که لوندوالی باندي نه وو اودس يې نه ماتيږي، او ښه خبره داده چي اودس وکړي، که چيري د ذکر په سرکي غوړي وڅڅوي او بيرته را توی سي نو پرده باندي اودس نسته د امام ابو حنيفه رحمه الله په نز باندي، خلاف ثابت دی يارانو لره، څه وخت چي توی کړه سي غوړي په غوږو بيا ولاړ سي دماغ ته يوه ورځ درنګ وکړي د هغه وروسته بيا راووځي ترپوزي يا د غوږو نو پرده باندي اودس نسته، که چيري راووتل تر خولې نو اودس يې مات دی، څه وخت چي ولوېږي اوبه غوږوته په وخت کي د غسل بيرته راووزي ترپوزي نو پرده باندي اودس نسته، او که ترخولې راووتل نو بيا اودس باندي سته.

که یوڅوک پمبه د ذکر په سرکي کښیږدي د دې لپاره چي بولي را ونوځي، او که پمبه نه یې نو بولي یې راوځي نو په دې باندي پاک نسته اودس یې نه ماتیږي ترڅو وخته پوري چي ښکاره نسي بولي پر پمبې، سربیره، که چېري پټه سي پمبه یا راووځي خو لنده بې نو اودس یې مات دی، که چېري داخله سي دا پمبه طرف داخل ته او وې نه باسي د طرف خارج څخه اودس یې نه ماتیږي، او که چېري ولوېده دا پمبه لنده وه نو اودس یې مات دی، او که وچه وه اودس یې نه دی مات، دغه ډول حکم د کرسف دی د ښځي لپاره. هغه وخت چي داخل سي دغه کرسف وفرج ته که دننه وي او که د باندي. او که چېري پټ سو په فرج الخارج کي که لوند یې او که نه یې لوند نو اودس یې مات دی. کرسف یوټوکرته وایي.

اَمَّا الْخَارِجُ مِنْ غِيْرِ السَّبِيْلَيْنِ فَيُوْجِبُ اِنْتِقَاضُ الطَّهَارَةِ عِنْدَنَا عَلَى التَّفْصِيْلِ خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ كَالْقَيْءُ وَالدَّمِ وَنَحْوِهِمَا اَمَّا الْقَيْءُ اِنْكَانَ مَلأُ الْفَمِ يَنْقِضُ سَوَآءٌ كَانَ طَعَامًا اَوْمَآءً اَوْمُرَةً فَاِنْكَانَ بَلْغَمًا لَايَنْقِضُ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ سَوَآءٌ نَزَلَ مِنَ الرَّأْسِ اَوْصَعِدَ مِنَ الْجَوْفِ وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ اِنْ صَعِدَ مِنَ الْجَوْفِ يَنْقِضُ وَاِنْ قَآءَ دَمًا اِنْ كَانَ سَآئِلًا نَزَلَ مِنَ الرَّأْسِ يَنْقِضُ بِالْاِتِّفَاقِ وَاِنْ كَانَ عَلَقًا لَايَنْقِضُ بِالْاِتِّفَاقِ وَاِنْ صَعِدَ مِنَ الْجَوْفِ اِنْ كَانَ عَلَقًا لَايَنْقِضُ اَيْضًا بِالْاِتِّفَاقِ اِلَّا اَنْ يَمْلَأَ الْفَمُ وَاِنْكَانَ سَآئِلًا فَعَلَى قَوْلِ اَبِيْحَنِيْفَةَ يَنْقِضُ وَاِنْ لَمْ يَكُنْ مِلَأَ الْفَمِ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ لَا يَنْقِضُ مَالَمْ يَكُنْ مِلأُ الْفَمِ فَاِنْ قَآءَ طَعَامًا قَلِيْلًا قَلِيْلًا اِنِ اتَّحَدَ الْمَجْلِسُ يُجْمَعُ عِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ وَقَالَ مُحَمَّدٌ يُجْمَعُ اِنِ اتَّحَدَ السَّبَبُ وَاِلَّا فَلَا

وَتَفْصِيْلُ اِتِّحَادِ السَّبَبِ اَنَّهُ اِذَا قَآءَ ثَانِيًا قَبْلَ يَكُوْنِ النَّفْسِ عَنِ الْغَثْيَانِ وَالْهِيْجَانِ.

ژباړه: څه وخت چې يوشي ووځي ماسواى د سبيلينو څخه نو اودس يې مات دى زموږ په نز باندي، خلاف دى امام شافعي رحمه الله، لکه قى، وينه يا بل داسي شى، که چېرې وو دغه قى په ډکه خوله سره نو اودس يې ماتيږي که طعام وي او که اوبه وي. او که بلغم وه بيايې اودس نه ماتيږي د امام ابو حنيفه رحمه الله په نز او د امام محمد رحمه الله په نزد، که د غه بلغم د سر څخه وي او که د نس څخه وي، امام يوسف رحمه الله ويلي دي که چېرې د نس څخه وو نو اودس يې ماتيږي، که يې قى روهي د وينو نو که دغه وينه بهېدونکي وه او راکښته سوي وه د سر څخه نو اودس يې مات دى په اتفاق سره، که دغه وينه يوه توته وه بيايې اودس نه ماتيږي په اتفاق سره، که د نس د خوا څخه يې توته وينه راقى کړه اودس يې نه ماتيږي په اتفاق سره، مګر هغه وخت چې قى ووهي په ډکه خوله يا لږ ووهي او بهېدونکي وي نو د امام صاحب په نز اودس ماتيږي، د امام محمد رحمه الله په نز اودس نه ماتيږي ترهغه وخته پوري چي په ډکه خوله قى ونه وهي که يې قى ووهى لږ لږ په يوه مجلس کي نو دا را جمع کيږي د امام يوسف رحمه الله په نز او امام محمد رحمه الله وايي راجمع کيږي که چېري يې سبب يو وو نو اودس يې مات دى که نه وو نو اودس يې نه دى مات، وضاحت د اتحادِ سبب دا ډول دى يعني سبب د يو والي دادى چي يووار قى ووهي د هغه وروسته يې طبيعت او نفس لا نه وي سم سوى بيا قى ووهي.

وَاَمَّا الدَّمُ وَنَحْوُهُ اِذَا خَرَجَ مِنَ الْبَدَنِ اِنْ سَالَ عَنْ رَاْسِ الْجَرْحِ نَقَضَ وَاِلَّا فَلَا خِلَافًا لِزُفَرَ وَعَلٰى هٰذَا مَسَآئِلُ كَثِيْرَةٌ مِنْهَا نِفْطَةٌ قُشِرَتْ فَسَالَ مِنْهَا مَآءٌ اَوْدَمٌ

أَوْصَدِيْدٌ اِنْ سَالَ عَنْ رَأْسِ الْجَرْحِ نَقَضَ وَاِنْ لَمْ يَسَلْ لَايَنْقِضُهُ وَتَفْسِيْرُ
السَّيْلَانِ اَنْ يَتَجَاوَزَ عَنْ رَأْسِ الْجَرْحِ وَاَمَّا اِذَا عَلَا عَلٰى رَأْسِ الْجَرْحِ وَلَمْ يَتَجَاوَزْ
لَايَكُوْنُ سَآئِلًا وَقَالَ بَعْضُهُمْ اِذَا خَرَجَ وَتَجَاوَزَ اِلٰى مَوْضِعٍ يَلْحَقُهُ حُكْمُ التَّطْهِيْرِ
وَلِذَا قَالَ اِذَا خَرَجَ الدَّمُ مِنَ الرَّأْسِ اِلٰى اَنْفِهٖ اَوْ اُذُنِهٖ اِنْ سَالَ اِلٰى مَوْضِعٍ يَجِبُ
تَطْهِيْرُهٗ عِنْدَ الْاِغْتِسَالِ نَقَضَ وَاِلَّا فَلَا وَاِنْ مَسَحَ الدَّمَ عَنْ رَأْسِ الْجَرْحِ بِقُطْنَةٍ ثُمَّ
خَرَجَ فَمَسَحَ ثُمَّ وَثُمَّ اَوْ اَلْقَى التُّرَابَ عَلَيْهِ يَنْظُرُ اِنْ كَانَ بِحَالٍ لَوْ تَرَكَهٗ لَسَالَ نَقَضَ
وَاِلَّا فَلَا وَلَوْ اَلْقَى الْبُزَاقَ وَفِيْ بُزَاقِهٖ دَمٌّ اِنْ كَانَ الْبُزَاقُ غَالِبًا فَلَا وُضُوْءَ عَلَيْهِ وَاِنْ كَانَ
الدَّمُ غَالِبًا فَعَلَيْهِ الْوُضُوْءُ وَاِنِ اسْتَوَيَا يَتَوَضَّأُ اِحْتِيَاطًا وَلَوْ عَضَّ شَيْئًا فَرَاٰى عَلَيْهِ
اَثَرَ الدَّمِ فَلَا وُضُوْءَ عَلَيْهِ وَقَالَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ يَنْبَغِيْ اَنْ يَضَعَ كُمَّهٗ اَوْ اِصْبَعَهٗ فِيْ
ذٰلِكَ الْمَكَانِ اِنْ وَجَدَ الدَّمَ فِيْهِ نَقَضَ وَاِلَّا فَلَا وَعَنْ مُحَمَّدٍ اَنَّهٗ قَالَ الشَّيْخُ اِذَا كَانَ
فِيْ عَيْنَيْهِ رَمَدٌ وَيَسِيْلُ الدُّمُوْعُ مِنْهَا اٰمُرُهٗ بِالْوُضُوْءِ لِكُلِّ صَلٰوةٍ لِاَنِّيْ اَخَافُ اَنْ يَكُوْنَ
مَايَسِيْلُ مِنْهُ صَدِيْدًا فَيَكُوْنُ صَاحِبَ الْعُذْرِ وَفِي الْفَتَاوٰى الْغَرْبُ فِي الْعَيْنِ بِمَنْزِلَةِ
الْجَرْحِ الَّذِيْ لَايَرْقَأُ وَمَا يَسِيْلُ مِنْهُ فَهُوَ نَجَسٌ.

ژباړه: وينه يا د هغه په مثل بل شی که چېري د بدن څخه ووزي او د زخم د سر
څخه وبهيږي نو اودس مات سو که نه وي نه دی مات په خلاف د امام زفر رحمه الله، په
دې باندي ډېري مسئلې مبنی کيږي، ځيني د هغوی څخه دادي چي د يوې تنې کي
څخه خور واړوي نو د هغه څخه وينه يا نو توی سو که چېري د زخم د سر څخه توی

سو نو اودس مات سو او که نسو توی نه دی مات، د بهېدلو مطلب دادی چې د زخم د سره څخه تجاوز وکړي که چېرې صرف د زخم پر سر راپورته سي او تجاوز نه وکړي نو بهېدونکی نه دی، ځينو ويلي دي چې کله وداسي ځای ته تجاوز وکړي چې هغه ځای د پاک حکم لري، د دغه وجې څخه يې ويلي دي چې کله د سر څخهويني د پوزي يا د غوږو هغه ځای ته توی سي کوم چې د غسل کولو په وخت کې پرېولل واجب دي نو اودس مات دی که نه وي نو نه دی مات، که د زخم د سر څخه په پُومبې سره ويني صافي کړل سي بيا راووتلې نو بيايې صافي کړي او دا وينه يې په وار وار وکړه، يا په هغه باندي يې خاوري واچولي نو به کتل کيږي که چېرې د پرېښوولو په حالت کي بهېدلي نو اودس مات سو که نه وي نو نه دی مات، که توی کړي په ناره کي يې وينه وي نو که چېرې ناړي غالبې وي نو په هغه اودس نسته او که وينه غالبه وي نو اودس سته او که دواړه سره برابر وي نو احتياطاً دي اودس وکړي، که يوشی يې په غاښو کي وژووی او په هغه يې دويني اثر وليدی نو په دې اودس نسته او ځينو مشائخو ويلي دي چې خپل نيستوړی يا ګوته دې پر هغه ځای کښيږدي که چېرې وينه وي نو اودس مات سو که نه وي نو نه دی مات. د امام محمد رحمه الله څخه روايت دی چې کله د يوه بوډا انسان د آشوب چشم ناجوړي وي چې په هغه سره وښکې جاري وي نو زه به هغه ته په هر لمانځه کي د اودس حکم وركوم ولې چې زه ېيرېږم چې دا بهېدونکی شی به نَوُونه وي، نو صاحب د عذر به وي، په فتاوىٰ کي راغلي دي چې د سترګو پاړسوب يا د دې په ډول نور زخمونه چې نه جوړېږي نو څه چې د دوی څخه توايږي هغه نجس دي.

تشريح: د زخم څخه چې هره وينه وي نو يا به بهېدونکې وي يا نه که چېرې بهېدونکې وي نه به کتل کيږي او که خپله وبهيږي او د زخم د سر څخه تجاوز وکړي نو اودس ماتيږي په دې باندي ځيني نوري مسئلې هم قياس کيږي لکه څنګه چې:

او وغیره په سوزېدو سره تناکه جوړه سي او د تناکي څخه چي کله خور واوړي او د هغې څخه اوبه، وینه یا نوو وغیره وبهېږي نو اودس مات سو او که چېري نه سي نوی او صرف د زخم دنن وینه، اوبه وغیره وي نو صرف په خور اووښتو سره اودس نه ماتیږي، د فقهاؤ کرامو په نز بهېدل هغه معتبر دي چي د زخم پر سر راپورته سي او د بدن په داسي حصه باندي وموښلي کوم چي د اودس یا غسل کولو په وخت کي یې پاکول فرض دي.

دغه مطلب د مصنف رحمه الله په دې عبارت کي دی " خَرَجَ وَتَجَاوَزَ اِلی مَوضِعَ یَلحِقهُ حُکمُ التَّطهِیرِ " او په دغه باندي په تفریح کولو سره مصنف رحمه الله وایي که چېري د سر څخه وینه راسي د پوزي لاندي د نرمې پوري او د غوږو سوریو څخه دباندي راسي نو اودس مات سو ولي دغه ځایونه په غسل کي پاکول فرض دي او د پوزي پورته دننه حصه یا د غوږو د سریو دننه پوري وینه راسي نو اودس باقي دی ولي چي د دغه ځایو پاکول نه د اودس او نه د غسل په وخت کي فرض دي.

که چېري څوک توه کړي او په تاره کي یې وینه ښکاره سي نو ودي کتل سي که چېري وینه غالبه وي نو اودس مات سو که تاره غالبه وي نو اودس نه ماتیږي او د برابری په وخت کي احتیاط د اود ماتېدو حکم کیږي، د دغه مسئلو څخه دا هم ده چي د یوشي ژوولو په وخت کي په هغه شي باندي د ویني سرخي ښکاره سي مثلاً ژاولي یایې بل شی ژووی او په هغه باندي د ویني اثرات ښکاره سوه نو په دې سره اودس نه ماتیږي ولي چي دا قلیل مقدار دی د بهیدونکی ویني په حکم کي نه دی، ځیني علماء وایي چي د ویني اثرات د ظاهریدو وروسته دوباره دي په ګوته سره وګوري که چېري دوباره په ګوته هم ظاهر سي نو څرګنده سوه سوه چي وینه زیاته ده او بهېدونکي ده او دبهېدونکي په حکم کي اودس ماتیږي، د دغه مسئلو څخه امام محمد بن حسن شیباني رحمة الله تعالی علیه دا قول هم دی که چېري د

يوچا د آشوب چشم ناجوړي وي چي په هغه کي د سترګو څخه مسلسلي اوښکې بهيږي نو هغه ته به د نورو اصحاب عذر په مثل په هر لمانځه کي د نوي اودس حکم کوي ولي چي قوي امکان دی چي دا بهېدونکی اوښکي به د زخم نوونه وي نو دی صاحب عذر دی ، د ځينو علماؤ قول دی چي د سترګو په اړخو پيدا سوي دانو حکم دا هغه زخم دی چي هميشه بهېدونکی وي ولي چي کله د سترګو اوښکي او اوبه په دې دانې باندي لګيږي نو دا د هميشه لپاره وي يعني په دې سره هم يو انسان صاحب عذر جوړيږي .

وَاَمَّا صَاحِبُ الْجَرْحِ الَّذِیْ لَایَرْقَاُ كَالنَّاسُوْرِ اَوِ الْاِسْتِطْلَاقِ الْبَطْنِ اَوِانْفِلَاتِ الرِّيْحِ وَمَنْ بِهٖ سَلْسُلُبَوْلِ اَوِ الْمُسْتَحَاضَةُ وَمَنْ بِهِ الرُّعَافُ الدَّائِمُ يَتَوَضَّئُوْنَ لِوَقْتِ كُلِّ صَلٰوةٍ فَيُصَلُّوْنَ بِذٰلِكَ الْوُضُوْءِ فِي الْوَقْتِ مَاشَاءُوْا مِنَ الْفَرَائِضِ وَالنَّوَافِلِ فَاِذَا خَرَجَ الْوَقْتُ بَطَلَ وُضُوْئُهُمْ وَكَانَ عَلَيْهِمْ اِسْتِيْنَافُ الْوُضُوْءِ لِصَلٰوةٍ اُخْرٰى وَاِنْ تَوَضَّاَتِ الْمُسْتَحَاضَةُ حِيْنَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ تَبْقٰى طَهَارَتُهَا حَتّٰى يَذْهَبَ وَقْتُ الظُّهْرِ خِلَافًا لِاَبِيْ يُوْسُفَ وَزُفَرَ وَيَنْبَغِيْ لِلْمَجْرُوْحِ اَنْ يَّرْبِطَ جَرْحَهٗ لِتَقْلِيْلِ النَّجَاسَةِ وَاِنْ اَصَابَ الثَّوْبَ مِنْ ذٰلِكَ الدَّمِ اَكْثَرُ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ لَزِمَهٗ غَسْلُهٗ اِذَا عَلِمَ اَنَّهٗ لَوْغَسَلَهٗ لَايَتَنَجَّسُ ثَانِيًا وَلَوْكَانَ بِحَالٍ يَتَنَجَّسُ قَبْلَ الْفَرَاغِ مِنَ الصَّلٰوةِ ثَانِيًا جَازَ لَهٗ اَنْ لَّايَغْسِلَهٗ هُوَ الْمُخْتَارُ وَصَاحِبُ الْعُذْرِ اِذَا مَنَعَ الدَّمَ عَنِ الْخُرُوْجِ بِالْعِلَاجِ يَخْرُجُ مِنْ اَنْ يَّكُوْنَ صَاحِبَ الْعُذْرِ وَلِهٰذَا الْمَعْنٰى الْمُفْتَصِدُ لَايَكُوْنُ صَاحِبَ الْعُذْرِ بِخِلَافِ الْحَائِضِ اِذَا احْتَشَتْ لَاتَخْرُجُ مِنْ اَنْ تَكُوْنَ حَائِضًا رَجُلٌ بِهٖ جُدَرِيٌّ

يَخْرُجُ مِنْهَا مَآءٌ وَهُوَ سَآئِلٌ فَتَوَضَّاَ مِنْهُ ثُمَّ سَالَ الْقُرْحَةُ الَّتِيْ لَمْ تَكُنْ سَآئِلَةً نَقَضَ وُضُوْءُهُ لِاَنَّ الْجُدْرِيَّ قُرُوْحٌ مُتَعَدَّدَةٌ وَعَلٰى هٰذَا مَسْئَلَةُ الْمُنْخَرَيْنِ اِذَا سَالَ فَهِيَ لَاتَكُوْنُ بِمَنْزِلَةِ الْجَرْحِ الْوَاحِدِ وَصَاحِبُ الْحَدَثِ الدَّآئِمِ مَنْ لَايَمْضِيْ عَلَيْهِ وَقْتُ صَلٰوةٍ كَامِلٍ اِلَّا وَالْحَدَثُ الَّذِيْ اِبْتَلٰى بِهٖ يُوْجَدُ مِنْهُ فِيْهِ وَاِذَا تَوَضَّاَ صَاحِبُ الْعُذْرِ لِحَدَثٍ اٰخَرَ وَالدَّمُ مُنْقَطِعٌ ثُمَّ سَالَ فَعَلَيْهِ الْوُضُوْءُ ذَكَرَهُ فِيْ اَحْكَامِ الْفِقْهِ وَاِذَا انْقَطَعَ الدَّمُ وَقْتًا كَامِلًا يَخْرُجُ مِنْ اَنْ يَّكُوْنَ صَاحِبِ الْعُذْرِ.

ژباړه: د هغه زخم والا چي د هغه زخم نه جوړيږي لکه ناسور يا د نس بهېدل يا د هوا جاري کيدل يا هغه سړی چي د هغه بولي ځاځکی ځاځکی تواېږي او مستحاضه او د چا د پوزي څخه چي هميشه وينه بهيږي نو دوی به د هر لمانځه په وخت کي نوی اودس کوي او په هغه باندي د وخت دننه چي هر څومره فرض او نفل لمونځ کول وغواړي ودي کړي چي کله وخت ووتی نو د ټولو اودس ماتيږي او د شروع څخه د بل لمانځه لپاره په دوی اودس کول ضروري دي، که چېري مستحاضه د طلوع افتاب په وخت کي اودس وکړي نو د اودس وخت د ظهر ختمېدلو پوري باقي دی په خلاف د امام يوسف رحمه الله او امام زفر رحمه الله .

د زخمي لپاره مناسبه ده چي د خپل نجاست د کمولو لپاره يې په يوشي سره وتړي که چېري کيږی ته د دې نجاست څخه د يوه درهم د مقدار څخه زيات ورسيږي نو که دا معلومه وي چي دوباره به نه نجسه کيږي نو پرېولل يې لازم دي او که داسي وي چي د لمانځه څخه د فراغت ترمخه نجس کيږي نو نه دي پرېوللي او دغه قول مختار دی، صاحب د عذر چي کله وينه په ذريعه دعلاج د بهېدلو څخه بنده کړي نو هغه د صاحب عذر څخه وزي او په دغه وجه سره د رګ وهلو والا صاحب عذر نه دی په

خلاف د حائضې که کله په فرج کې پومبه کښېږدي نو د حائضې د حکم څخه
وزي.

په يو سړي باندې چيچک وي چې د هغه څخه اوبه جاري وې نو هغه اودس
وکړي د شغه وروسته نوري اوبه توی سوې چې اول نه وي بهېدلې نو د هغه اودس
مات سو ولې چې چيچک ډېر زخمونه دی بنا پر دې د پوزې د بانسو مسئله ده چې
کله وبهيږي نو د يو زخم ډول نه ده، د هميشه حدث والا سړی هغه دی په چا چې
يوه کامل لمانځه وخت دا ډول نه تېريږي چې په هغه کې هغه حدث نه وي راغلی په
کوم کې چې هغه مبتلا دی، او کله چې صاحب عذر د دوهم حدث لپاره اودس وکړي
او وينه بنده سي بيا وبهيږي نو په هغه باندې اودس دی دا ذکر سوی دی په احکا
فقهه کې، چې کله يو وخت کامل وينه بنده سي نو د صاحب عذر کېدلو څخه وزي.

تشريح: د هغه چې زخم ناسور سي د کوم څخه چې هميشه نوونه وغيره بهيږي يا
د چا هوا بې اختياره وزي يا د چا بولې نه دريږي د يوې ښځې د حيض څخه علاوه د
بلې ناجوړی په وجه وينې بهيږي چې هغه ته استحاض ويل کيږي او د يوه لمانځه
مکمل وخت په دا خلکو باندې دا ډول تېر سي چې حصول د طهارت او لمونځ کولو د
دې راتلونکي نجاسته بغير نه سي کېدی نو دا سړی صاحب عذر سو او دا سړی د
دې نجاستو باوجوده لمونځ کولای سي، البته د احنافو او مالکيه رحمهم الله تعالی
په نز د هر لمانځه لپاره په دغه وخت کې نوی اودس کول دي او صرف په دغه وخت
کې د نون په دې اودس باندې فرائض او نوافل ټوله کولای سي چې کله د موجوده
لمانځه وخت ختم سو نو د دې معذر ... اودس هم ماتيږي، د بل وخت لپاره نوی
اودس کول ضروري دي که څه هم په دې وخت کې د دوهم حدث نه يې لاحق سوی
صرف د وخت په وتلو سره د دوی اودس ماتيږي چې کله يو سړی شرعاً صاحب عذ
وګڼل سي يعني وروسته بيا - هميشه لپاره د حدث جاري کېدل ضروري نه دي بلکې

که چیري د لمانځه په مکمل وخت کي صرف یو وار هم د نجاست ظهور وسي نو دا سړي ته شرعاً صاحب عذر ویل کیږي البته که چیر ي په ټوله وخت کي د عذر نجاست نه سي ظاهر نو دا سړی د صاحب عذر څخه ووتی، صاحب عذر ته پکار ده چي څومره ممکنه وي خپل نجاست دي د لمانځه په وخت کي ونیسي چي د لمانځه په وخت کي د نجاست خروج د کم څخه کم وي که چیري دغه نجاست په کالو ومبتلي او یقین یي وي چي که زه دا کالي پاک کړم نو دوهم وار په لمانځه کي نه نجس کیږي نو د دې کالو پرېولل ضروري دی که چیري دوباره نجس کیږي نو بې کاره دي لهذا نه دې پرېولل او د دغه سره دي صاحب عذر سړی لمونځ وکړي.

رَجُلٌ اَنْتَثَرَ فَسَقَطَتْ مِنْ اَنْفِهِ كُتْلَةُ دَمٍ لَمْ يَنْقِضْ وَاِنْ قَطَرَتْ اِنْتَقَضَ اَلْقِرَادُ اِذَا مَصَّ عُضْوَ اِنْسَانٍ وَامْتَلَا دَمًا كَانَ كَبِيْرًا اِنْتَقَضَ وَاِنْكَانَ صَغِيْرًا لَايَنْقِضُ وَاَمَّا الْعَلَقُ اِذَا مَصَّتْ حَتّٰى امْتَلَاَتْ بِحَيْثُ لَوْ سَقَطَتْ لَسَالَ الدَّمُ انْتَقَضَ وَاَمَّا الذُّبَابُ اَوِ الْبَعُوْضُ فَاِنَّهُ اِذَا مَصَّ وَامْتَلَاَ لَايَنْقُضُ اَمَّا الدَّمُ الْقَلِيْلُ اَوِالْقَيْءُ الْقَلِيْلُ مَالَمْ يَكُنْ حَدَثًا لَمْ يَكُنْ نَجِسًا حَتّٰى اِذَا اَصَابَ الثَّوْبَ لَايَمْنَعُ الصَّلٰوةَ بِهِ وَاِنْ فَحَشَ وَكَذَا النَّوْمُ نَاقِضٌ اِذَاكَانَ مُضْطَجِعًا اَوْ مُتَّكِأً اَوْمُسْتَنِدًا اِلٰى شَيْءٍ لَوْاُزِيْلَ عَنْهُ لَسَقَطَ وَاِنْ نَامَ فِي الصَّلٰوةِ قَائِمًا اَوْرَاكِعًا اَوْقَاعِدًا اَوْسَاجِدًا فَلَا وُضُوْءَ عَلَيْهِ وَاِنْكَانَ خَارِجَ الصَّلٰوةِ فَنَامَ عَلٰى هَيْئَةِ السَّاجِدِ فَفِيْهِ اِخْتِلَافٌ فَظَاهِرُ الْمَذْهَبِ اَنَّهُ يَكُوْنُ حَدَثًا وَاِنْ نَامَ قَاعِدًا اَوْ وَاضِعًا اِلْيَتَيْهِ عَلٰى عَقِبَيْهِ اَوْ وَاضِعًا بَطْنَهُ عَلٰى فَخِذَيْهِ لَايَنْقِضُ ذَكَرَهُ مُحَمَّدٌ فِيْ كِتَابِ الْاٰثَرِ وَلَوْنَامَ مُحْتَبِيًا لَا وُضُوْءَ عَلَيْهِ وَكَذَا لَوْ وَضَعَ فِيْ هٰذِهِ

الْحَالَةِ رَأْسَهُ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَلَوْ نَامَ مُرَبَّعًا لَايَنْتَقِضُ وُضُوْءُهُ وَكَذَا لَوْنَامَ مُتَوَرِّكًا وَإِنْ سَقَطَ النَّائِمُ اِنِ انْتَبَهَ بَعْدَ مَاسَقَطَ عَلَى الْاَرْضِ فَعَلَيْهِ الْوُضُوْءُ وَاِنِ انْتَبَهَ قَبْلَ السُّقُوْطِ فَلَا وُضُوْءَ عَلَيْهِ.

ژباړه: یو سړي پوزه سوړ کړه نو د ویني ټوکړه ځیني ولویده نو اودس یې نه سو مات که چېري وبهیده نو اودس یې مات دی، چي کله منګوړ د انسان یو اندام وخوري او دی د وینو څخه ډک سي که چېري غټ وي نو اودس مات سو که کوچنی وي نو اودس نه سو مات، کیکه چي کله د ویني څخه ډکه سي دا ډول که چېري لیدلي وه نو وینه بهیده او مچر (غوماشه) چي کله وینه کش کړي او ډکه سي نو اودس نه ماتیږي او معمولي وینه او اولټی (قی) چي کله حادث نه وي نو نجس هم نه دي تر دې پوري که چېري په کالو باندي ولګیږي نو لمونځ نه منعه کوي که څه هم زیاتي وي.

دغه ډول خوب هم ناقض د اودس دی چي کله بیده وي یا یې تکیه وهلي وي یاداسي شي ته کوږ وي که چېري هغه شی لیري کړل سي نو غوځاریږي، که چېري په لمانځه کي په ولاړه، رکوع یا په سجده کي بیده سو نو په هغه باندي اودس نسته که چېري د لمانځه څخه د باندي د سجدې په شکل کي بیده سو نو په دې کي اختلاف دی، ظاهر مذهب دادی چي دا حدث دی او که چېري په ناسته یا دا ډول چي سر یې په خپل بجلکو باندي ایښی وي یا یې خپل نس په خپل ورنو باندي ایښی وي نو نه ماتیږي، امام محمد رحمه الله په کتاب الاثر کي دا ذکر کړی دی او که چېري د احتباء په شکل بیده سي نو په هغه باندي اودس نسته دغه ډول که څه هم په دې حالت کي په ګوډو باندي یې سر ایښی وي، که چېري په چار ځانو ناسته کي بیده سو نو اودس نه ماتیږي دغه حکم دی که د تورک په شکل کي بیده سو، که بیده ولویږي او ...

ځکه د لوېدو وروسته خبر سي نو په هغه اودس ستهٔ او که چېري په ځکه تر لوېدو ترمخه خبر سي نو په هغه باندي اودس نسته.

تشريح: که چېري د يو سړی د پوزي څخه د غټې ويني يوه ټکړا شوه سي نو ناقض د اودس نه ده ولې چي په دې کي سيلان نسته که چېري په څاڅکی شوه سي نو اودس ماتيږي ولې چي په قطرو کي سيلان موجود دی، دغه ډول که چېري څوک منګوږ وخوري او دومره وينه يې کش کړه چي که چېري دا وينه د دې علاوه ووتله نو بهېدله نو اودس يې ماتيږي، که په چاباندي کيکه ومښلي او دومره وينه يې کش کړي که چېري دا کيکه پټاو سي نو په دې سره به وينه وبهيږي نو اودس ماته وي که چېري په دومره مقدار کي نه وي نو اودس نه ماتيږي دغه ډول که چېري څوک غوماشه وخوری نو چونکي وينه په ډېر کم مقدار کي وي لهٰذا په دې سره اودس نه ماتيږي او لږ وينه تر هغه وخته پوري چي په دې کي د سيلان قوت نه وي ناقض د اودس نه ده ترکومه وخته پوري چي ناقض د اودس نه وي تر هغه وخته پوري نجسه هم نه ده يعني که چېري لږ وينه پې کالو ولګيږي نو کالي نه مرداريږي او قی هم تر هغه وخته چي په ډکه خوله نه وي نو نجس نه دی يعني د لږ قي وهلو په وخت کي چي په کالو باندي د دې څاڅکی وموښلي نو په دغو کالو کي لمونځ جائز دی.

د خوب په حالت کي د انسان اعضاء (اندامونه) خلاصيږي او انسان د خپل ځان څخه ناخبره کيږي اګرچي خوب خپله څه نجس شی نه دی مګر د استرخاء مفاصل په وجه خوب ناقض د اودس دی، البته په هغو حالاتو کي چي کله دا يقين کېدی سي چي په مکمل ډول د استرخاء مفاصل نه کېدږ په وجه د هوا د خروج امکان ډېر کم دی نو په دې حالت کي د خوب کولو په صورت کي اودس واجب نه دی لکه څنګه چي څوک په لمانځه کي د قيام، رکوع، سجدې او د قعدې په حالت کي بيده سي نو پرده باندي اودس نسته.

وَاِنْ نَامَ عَلٰى دَابَّةٍ عُرْيَانَةٍ اِنْ كَانَ حَالَةَ الصُّعُوْدِ اَوِالْاِسْتِوَآءِ لَايَنْتَقِضُ وَاِنْ كَانَ فِيْ حَالَةِ الْهُبُوْطِ يَنْتَقِضُ وَلَوْكَانَ رَاكِبًا فِي الْاَكَافِ اَوْفِي السَّرْجِ لَايَنْتَقِضُ فِي الْحَالَيْنِ.

ژباړه: كه چېري د يوې سوارلۍ په شا باندي بيده سي كه د ختلو يا د برابرۍ ناستي په حالت كي وي نو اودس نه ماته وي كه چېري د كښته كېدو په حالت كي وي نو يې ماته وي، كه د سوارلۍ په پالان په زين باندي سپور وي نو په دواړو حالتو كي يې نه ماته وي .

تشريح: كه يوڅوک په داسي سوارلۍ باندي ناست وي چي د هغه ملا بالكل لڅه وي او په هغه باندي څه زين وغيره نه وي، او بيده سي نو دا خوب كه چېري په سوارلۍ باندي د ناستي يا د ختلو په حالت كي وي نو اودس د دې لپاره نه ماتيږي چي د انسان مقعده په يو ځاى برقراره اوسي او د كښته كېدو په وخت كي بيا هر انسان د لوېدو په خوف سره ګډوډ كيږي البته كه چېري په يو پالان يا زين اوكجاوه وغيره كي ناست وي نو د لوېدو د يري څخه د لاحقيدو په وجه په هر حالت كي كه ختل وي كه كښته كېدل اودس نه ماتيږي .

وَكَذَا الْاِغْمَاءُ وَالْجُنُوْنُ نَاقِضٌ وَاِنْ قَلَّ وَكَذَا السُّكْرُ وَحَدُّ السُّكْرِ اَنْ لَّا يَعْرِفَ الرَّجُلَ مِنَ الْمَرْءَةِ اَنْ لَّايَعْرِفَ السَّمَآءَ مِنَ الْاَرْضِ وَقَالَ فِي الْمُحِيْطِ اِنَّهُ اِذَا دَخَلَ فِيْ بَعْضِ مَشْيِهِ تَحَرُّكٌ فَهُوَ سُكْرَانٌ يُحْكَمُ بِنَقْضِ وُضُوْءِهٖ وَكَذَا الْقَهْقَهَةُ فِيْ كُلِّ صَلٰوةٍ ذَاتِ رُكُوْعٍ وَسُجُوْدٍ تَنْقُضُ الْوُضُوْءُ وَالصَّلٰوةَ جَمِيْعًا سَوَآءٌ كَانَ عَامِدًا اَوْنَاسِيًا وَاِنْ قَهْقَهَ فِيْ صَلٰوةِ الْجَنَازَةِ اَوْفِيْ سَجْدَةِ التِّلَاوَةِ لَايَنْقُضُ وُضُوْءَهُ وَاِنْ نَامَ فِيْ صَلٰوتِهٖ ثُمَّ قَهْقَهَ فَسَدَتْ صَلٰوتُهُ وَلَايَنْقُضُ وُضُوْءُهُ ذَكَرَهُ فِي الْاَصْلِ وَقَالَ فِي الْمُحِيْطِ فَسَدَتْ

صَلٰوتُهُ وَوُضُوْئُهُ وَبِهٖ اَخَذَ عَامَّةُ الْمُتَاَخِّرِيْنَ وَاِنْ قَهْقَهَ صَبِيٌّ فِيْ صَلٰوتِهٖ لَايَنْقُضُ وُضُوْءُهُ وَاَمَّا التَّبَسُّمُ فَلَايَنْقُضُ الْوُضُوْءَ وَالصَّلٰوةَ وَحَدُّ الْقَهْقَهَةِ قَالَ بَعْضُهُمْ هُوَ مَايَظْهَرُ فِيْهِ الْقَافُ وَالْهَاءُ وَيَكُوْنُ مَسْمُوْعًا لَهُ وَلِجِيْرَانِهٖ وَقَالَ بَعْضُهُمْ اِذَا بَدَتْ نَوَاجِذُهُ وَمَنَعَهُ عَنِ الْقِرَآءَةِ وَحَدُّ التَّبَسُّمِ مَالَايَكُوْنُ مَسْمُوْعًا لَهُ وَلَالِجِيْرَانِهٖ وَذُكِرَ فِي الْخَاقَانِيَّةِ التَّبَسُّمُ لَايُبْطِلُ الْوُضُوْءَ وَالصَّلٰوةَ وَالضِّحْكُ يُفْسِدُ الصَّلٰوةَ لَا الْوُضُوْءَ وَحَدُّ الضِّحْكِ اَنْ يَّكُوْنَ مَسْمُوْعًا لَهُ دُوْنَ جِيْرَانِهٖ.

ژباړه: دغه ډول بې هوښي او ليونتوب اودس ماته وي چې څه هم کم وي او دغه ډول د نشې او د نشه کېدو حد دادی چې نر او ښځې يا د آسمان او مځکې فرق نه سي کولای او په محيط کې يې ويلي دي چې کله د هغه په تګ کې بې اختياره حرکت راسي نو هغه نشه دی د هغه د اودس د ماتېدو حکم به کول کيږي او دغه ډول هر هغه لمونځ په کوم کې چې رکوع او سجده وي په قهقه سره اودس او لمونځ دواړه ماتيږي که په قصداً سره وي يا په ايره، که چېري د جنازې په لمانځه يا په سجده تلاوت کې قهقه وکړي نو اودس نه ماته وي، که په لمانځه کې په خوب کې قهقه وکړي نو لمونځ فاسد سو او په دغه باندې د متاخرينو علماؤ عمل جاري دی.

که چېري کوچنۍ هلک په لمانځه کې قهقه وکړي نو اودس يې نه ماتيږي او تبسم نه اودس ماته وي نه لمونځ، د قهقهې په حد کې ځيني وايي چې په کوم کې قاف او ها ظاهره سي او خپله هم او ملګری يې هم واوري، ځينو ويلي دي چې کله هغه غاښونه ظاهر سي او هغه د قرائت څخه ونيسي بند يې کړي ،د تبسم حد دا دی چې نه يې خپله واوري او نه يې د نژدې والا واوري او په خاقانيه کې مذکور دی چې تبسم اودس او لمونځ دواړه نه باطل کوي او ضحک لمونځ فاسده وي اودس نه، د

ضحک تعریف دادی چي هغه يي خپله اورېدی سي او ملګری يې نه سي اورېدی.

تشریح: په بې هوښۍ سره هم اودس ماتيږي، د بې هوښۍ څخه د انسان قوت مدرکه ډېر ضعيفه يا ځيني وخت بالکل معطله کيږي ځکه چي انسان خپله د خپل ځان څخه بې خبره سي نو چي کله د خوب څخه اودس ماتيږي نو د بې هوښۍ څخه په طريقي اولٰی ماتيږي ولي چي بيده انسان را پورته کوی سي او بې هوښه بيا د چا په بيداره کولو سره په هوښ کي نه راځي، بې هوښي يو دماغي مرض دی چي هغه په دماغ کي د غليظ رطوباتو په جمع کېدو سره پيدا کيږي، چونکي دا يوه ناروغي ده نو په انبياء عليهم الصلوٰة والسلام باندي د بې هوښۍ راتلل صحيح دي او انبياء عليهم السلام د جنون څخه پاک دي.

په نشه کولو سره هم اودس ماتيږي مګر د نشې ځيني قسمونه په اثر کي سخت دي او ځيني کم دي، ځکه پوښتنه پيدا کيږي چي نشه کله يو حد ته ورسيږي نو ناقض د اودس ده؟ مصنف رحمه الله په دې باره کي يو څو قولونه نقل کړي دي په هغو کي مفتٰی به قول دادی چي د هغه په تګ کي د رفتار په وخت غير اختياري حرکت يعني قدم يي ګډوډ سي، د غه ډول په کلام کي يې اختلاف واقع سي نو د هغه اودس مات سو، دغه ډول يو داسي لمونځ چي په هغه کي رکوع وسجده وي نو قهقه وکړي نو د هغه اودس او لمونځ دواړه ماتيږي، د امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نز قهقه ناقض د اودس نه ده زموږ دليل د معبد بن ابی معبد الخزاعی رضی الله تعالی عنه د حديث څخه وايي چي نبی کريم عليه السلام لمونځ ورکوی نو يو ړوند په لمانځه کي د شموليت په اراده را روان وو چي په يوه کنده کي ولوېدی په دې باندي ځينو خلګو په لمانځه کي وخندل نو عليه السلام وروسته د لمانځه وويل ستاسو څخه چي چا په قهقه وخندل نو هغه دي دوباره اودس او لمونځ را وګرځوي.

ځينو خلکو په دې حديث باندې دا اشکال وارد کړی دی چې نه په مسجد نبوي کې څه کېدی وو او نه د صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين په شان کې دا تصور کېدی سي چې هغوی د عليه السلام شاته د لمونځ کولو سره بلې خواته کتلی او خندلای سي، مګر په لږ سوچ او فکر کولو سره دا اشکال په خپله دفعه کيږي چې په دې حديث کې داهم نه دي مذکور چې دا لمونځ په مسجد نبوی کې کېدی او د خندا والاسړی کېدی سي منافق وو يا يو نوی مسلم صحرايي سړی وو چې د لمانځه د ادب څخه په مکمل طور خبر نه وو نو په دې سره د صحابه کرامو ﷺ په شان کې هيڅ رد نه راځي، د خندا درې قسمه دي:

۱-تبسم : چې نه يې خپله اورېدلی سي او نه يې ملګری اورېدی سي، په دې سره اودس او لمونځ دواړه نه ماتيږي، ۲- ضحک: چې خپله يې واوري او ملګری يې نه واوري په دې سره فقط لمونځ فاسديږي او اودس نه ماتيږي ولې چې دا د کلام په مرتبه کې دی په لمانځه کې او په کلام کولو سره فقط لمونځ فاسديږي اودس نه ماتيږي، ۳- قهقه: چې خپله يې هم واوري او ملګری يې هم واوري نو په دې سره لمونځ او اودس دواړه ماتيږي .

وَكَذَا الْمُبَاشَرَةُ الْفَاحِشَةُ نَاقِضَةٌ لِلْوُضُوْءِ عِنْدَ اَبِيْحَنِيْفَةَ وَاَبِىْ يُوْسُفَ خِلَافًا لِمُحَمَّدٍ وَهِيَ اَنْ يَّمَسَّ بَطْنُهُ بَطْنَهَا اَوْظَهْرَهَا وَفَرْجُهُ مُنْتَشِرًا فَرْجَهَا مِنْ غَيْرِ حَائِلٍ وَاَمَّا مَسُّ الذَّكَرِ اَوْكُلُ شَيْءٍ مِّمَّا مَسَّتْهُ النَّارُ لَايَنْقِضُ الْوُضُوْءَ عِنْدَنَا خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ وَلَوْ حَلَقَ الشَّعْرَ اَوْقَلَّمَ الْاَظْفَارَ بَعْدَ مَاتَوَضَّاَ لَايَجِبُ عَلَيْهِ اِعَادَةُ الْوُضُوْءِ وَلَا اِمْرَارُ الْمَآءِ عَلَيْهِ وَمَنْ تَيَقَّنَ فِي الْوُضُوْءِ وَشَكَّ فِي الْحَدَثِ فَلَا وُضُوْءَ عَلَيْهِ وَمَنْ شَكَّ فِي

الْوُضُوْءِ وَتَيَقَّنَ فِي الْحَدَثِ فَعَلَيْهِ الْوُضُوْءُ وَمَنْ شَكَّ فِيْ خِلَالِ الْوُضُوْءِ فَعَلَيْهِ غَسْلُ مَاشَكَّ فِيْهِ وَاِنْ شَكَّ بَعْدَ تَمَامِ الْوُضُوْءِ فَلَا يَلْتَفِتُ مَالَمْ يَتَيَقَّنَ.

ژباړه: دغه ډول مباشرت فاحشه د امام ابوحنیفه رحمه الله او د امام یوسف رحمه الله په نز داودس ماتونکي ده په خلاف د امام محمد رحمه الله او هغه مباشرت فاحشه دادی چې نس یې د هغې په نس یا په ملا یې، یا دوه فرجونه سره یوځای سي بېله پردې، یا د ذکر مسحه کېدل، او هرهغه شی چې اور مسحه کړی وي په هغه سره اودس نه ماتیږي زموږ په نز خلاف ثابت دی امام شافعي رحمه الله، که چېري یوسړي اودس درلودی نو یې سر وخره وی یایې نوکان کوچني کړي نو پرده باندي د اوداسه راګرځول نسته، او نه تویدل د اوبو سته، هغه څوک چې یقین یې وي د اوداسه مګر شک یې وي په ماتوالي کي چې ما اودس مات کړی دی که نه، نو پرده باندي اودس نسته، او هغه څوک چې شک یې وي په اوداسه کي مګر یقین یې وي په ماتولوکي نو پرده باندي اودس سته، او هغه څوک چې شک یې سي د اوداسه په منځ کي نو پرده باندي د هغه پرېولل دي چې شک یې وي، که یې د اوداسه تر ختمېدو وروسته شک سي نو پرواه نه که یې ترهغه پوري چې یقین یې نسي.

فصل في النجاسة الحقيقة

(دا فصل دِ نجاستِ حقيقي په بيان کي دی)

اَلنِجَاسَةُ عَلٰى ضَرْبَيْنِ نِجَاسَةٌ غَلِيْظَةٌ وَنِجَاسَةٌ خَفِيْفَةٌ اَمَّا النِّجَاسَةُ الْغَلِيْظَةُ كَالْعَذْرَةِ وَالْبَوْلِ وَالدَّمِ وَالْخَمْرِ وَنَجْوِ الْكَلْبِ وَلَحْمِ الْخِنْزِيْرِ وَجَمِيْعِ اَجْزَائِهِ وَلُحُوْمِ مَالَايُؤْكَلُ لَحْمُهُ اِذَا لَمْ يَكُنْ مَذْبُوْحًا بِالتَّسْمِيَةِ وَاَمَّا اِذَا ذُبِحَ بِالتَّسْمِيَةِ وَصَلّٰى مَعَ لَحْمِهِ اَوْجِلْدِهِ قَبْلَ الدِّبَاغَةِ فَيَجُوْزُ اِلَّا جِلْدُ الْخِنْزَيْرِ وَالْاٰدَمِيِّ فَاِنَّهُ اِذَا ذُبِحَ بِالتَّسْمِيَةِ لَايَطْهَرُ لَحْمُهُ وَلَاجِلْدُهُ وَلَوْ دُبِغَ جِلْدُهُ فَفِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ عَنْ اَصْحَابِنَا اَنَّهُ لَايَطْهَرُ وَعَلَيْهِ عَآمَّةُ الْمَشَايِخِ وَرُوِيَ عَنْ اَبِيْ يُوْسُفَ اَنَّهُ يَطْهَرُ وَيَجُوْزُ بَيْعُهُ اَمَّا الْاَرْوَاثُ وَالْاَخْشَاءُ فَكُلُّهَا نَجَسٌ نَجَاسَةً غَلِيْظَةً عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَعِنْدَهُمَا نِجَاسَةٌ خَفِيْفَةٌ وَفِيْ غُنْيَةِ الْفُقَهَآءِ بَوْلُ الْحِمَارِ وَخَرْءُ الدُّجَاجَةِ وَالْبَطِّ نَجَسٌ غَلِيْظَةٌ.

ژباړه: د نجاست دوه قسمونه دي ۱ نجاست غليظ، ۲ نجاسته خفيفه، غليظه لکه ګندګی، بولي، وينه، شراب، د سپي باقی، د خنزير خوښه، او د ده د تمام اجزاء او د هغو حيوانانو غوښي چي ماکول اللحم نه وي که چېري په بسم الله سره نه وي ذبحه، او چي کله په بسم الله سره ذبحه سي او څوک چي د دې غوښه يا د چمړې يا د دباغت څخه ترمخه لمونځ وکړي نو لمونځ يې جائز دی مګر خنزير او انسان چي کله په بسم الله سره ذبحه کړل سي نو هم د دوی غوښه او چمړه نه سي حلالېدی، که چېري د دې چمړې دباغت يې کړی وي نو زموږ د اصحابو په ظاهر روايت کي دی چي هغه نه پاکيږي او په دغه قول باندي عام فقهاء دي، د امام يوسف رحمه الله څخه

روایت کړل سوي دي چي پاکیږي او د دې بیعه جائز ده، خوشائي او ګوبر وغیره ټول د حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله په نز نجاست غلیظه دي او د دوی دواړو صاحبینو په نز نجاست خفیفه دي، په غنیة الفقهاء کي دی چي د خره بولي، د چرګي او ایلی ګندګي ټول نجاست غلیظه دي.

تشریح: مصنف رحمه الله چي کله د نجاست حکمي د بیان څخه فارغه سو نو د نجاست حقیقي په بیان کولو سره وایي چي د نجاست حقیقي دوه قسمونه دي ا نجاست غلیظه چي د هغه مختلف مثالونه په متن کي پیش کړه سوه، په عربي لغت کي نجاست د موټه پند، او د سخت په معنٰی کي مستعملیږي، په کتب فقهه کي د غلاظت سره چي کله د نجاست صفت راسي نو د شدت او سختۍ په معنٰی کي وي یعني هغه نجاست چي په شدت سره د لمانځه کول منعه کوي لکه بولي وینه او یا داسي بل شی د نجاست غلیظه په مثالو کي دي، د مصنف رحمه الله څخه یې نجو الکلب بیان کړی دی نجو په لغت کي پاخانه او ګوز ته ویل کیږي او دلته مراد قی وهل دي ولي چي د سپي پاخانه، بولي وبیزار د ګندګی په عموم په خپله اول راغلي دي.

دغه ډول د هغه حیوانانو غوښه هم د نجاست غلیظه په حکم کي ده چي د هغه غوښه خوړل حلال نه وي البته که چېري د بسم الله په ویلو سره یې ذبحه کی نو صرف د جواز لمانځه تر حد پوري پاکیږي او خوړل یې بیا هم حرام دي، که چېري د چا په جیب کي د داسي خره غوښه پرته وي چي هغه په بسم الله ویلو سره په شرعی طریقه سره ذبح کړل سوی وي او لمونځ وکړي نو لمونځ یې جائز دی ولي چي د پاکېدو لپاره دا ضروري نه ده چي هغه د خوراک لپاره هم حلال وي لکه څنګه چي خاوره پاکه ده مګر خوراک یې جائز نه دی.

وَاَمَّا النَّجَاسَةُ الْخَفِيْفَةُ كَبَوْلِ مَايُؤْكَلُ لَحْمُ وَخُرْءِ مَالَايُؤْكَلُ لَحْمُهُ مِنَ الطُّيُوْرِ فِيْ رِوَايَةِ الْهِنْدَوَانِيِّ عَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَقَالَ مُحَمَّدٌ كِلَاهُمَا طَاهِرَانِ وَاَمَّا بَوْلُ الْهِرَّةِ فَفِيْ ظَاهِرِ الْمَذْهَبِ نَجَسٌ نِجَاسَةٌ غَلِيْظَةٌ وَاَمَّا خُرْءُ مَايُؤْكَلُ لَحْمُهُ مِنَ الطُّيُوْرِ سِوَى الدُّجَاجَةِ وَالْبَطِّ وَالْاَوْزِ فَطَاهِرٌ كَالْحَمَامَةِ وَالْعَصْفُوْرِ وَنَحْوِهَا بِالْاِجْمَاعِ وَلَوْ وَقَعَ فِي الْمَآءِ لَايُفْسِدُهُ وَكَذَا بِعْرَةُ الْفَارَةِ اِذَا وَقَعَ فِي الدُّهْنِ لَا يُفْسِدُهُ اِذَاكَانَ قَلِيْلًا لِعُمُوْمِ الْبَلْوٰى الْبِيْضَةُ اِذَا وَقَعَتْ مِنْ بَطْنِ الدُّجَاجَةِ فِي الْمَآءِ اَوْفِي الْمِرْقَةِ لَايُفْسِدُهُ وَكَذَا السُّخْلَةُ وَالْاِنْفَحَةُ اِذَا خَرَجَتْ مِنْ شَاةٍ مَيْتَةٍ لَايُفْسِدُهُ.

ژباړه: نجاست خفيفه چي کوم دی لکه څنګه چي د هغه حيوانانو بولي چي د هغه غوښه خوړل کيږي او د دغه مرغانو ګندګي چي د هغه غوښه نه خوړل کيږي په روايت د هندواني د امام ابو حنيفه رحمه الله څخه، او امام محمد رحمه الله وايي چي دواړه پاک دي، د پيشي بولي په ظاهر مذهب کي نجاست غليظه دي، د هغه مرغانو ګندګي د کوم چي غوښه خوړل کيږي ماسوای د چرګي څخه، ايلۍ او مرغابي پاک دي لکه څنګه چي کوتره او چوغکه او د دوی په مثل نور مرغان بالاتفاق که چيري په اوبو کي ولوېږي نو نه يې فاسده وي، دغه ډول که چيري د موږک بچی په غوړو کي ولوېږي نو نجس نه دي چي کله کم وي د عموم بلوٰی په وجه، اګی چي کله د چرګي څخه په اوبو يا په ښوروا کي ولوېږي نو نه يي نجسه وي دغه ډول د بزې سيرلی او دهغه د معدې ورږه چي کله د مړې بزې څخه ووزي نو نه يي مرداره وي.

تشريح: د نجاست حقيقي دوهم قسم نجاست خفيفه دی، د خفيف معنٰی دد د سپک او دا نجاست هم د غليظه په مقابله کي د اثر کولو په اعتبار سره سپک دی.

نجاست خفيفه لکه د هغه حيوانانو بولي د کومو غوښه چي حلاله ده لکه غوا غوايي او پسه وغيره او دا د شيخينو رحمهم الله قول دی د امام محمد رحمه الله په نزد دوی بولي پاکي دي او د هغوی دليل د عرنيينو حديث دی چي عليه السلام هغوی ته د صدقې د حيوانانو د متيازو څښلو حکم کړی وو، شيخين وايي چي د عرنيينو علاج عليه السلام ته د وحي په ذريعه معلوم سوی وو او د علاج په طور يي د متيازو څښلو حکم ورکړی وو ، عليه السلام د عام حکم د ميتازو څخه د ځان شغورلو حکم کړی دی او ويلي يې دي چي د ميتازو څخه ليري اوسئ ولي چي عام عذاب د قبر د دې څخه پيدا کيږي .

دا حديث په امام محمد رحمه الله باندي حجت دی ولي چي محرم مقدم وي پر محلل او د دې ميتازو څخه اعراض هم ممکن دی ځکه چي په عموم بلوی کي هم نسته او د پيشي بولي هم د نورو حيوانانو په مثل مرداري دي، ځينو علماء وو د عموم بلوی په تحت د پيشي بولي پاکي شميري، صاحب د فتح القدير وايي چي د وچوولپاره په غوړولو کپړو باندي که چېري پيشي بولي وکړي نو د عموم بلوی په تحت به پاکي وګڼل سي، په نورو لوښو کي که چېري متيازي وکړي نو نجسي کيږي ولي چي د لوښو په پوښي سره پټول محفوظول ممکن دي، نو د دې لپاره په عموم بلوی کي نه دي .

دغه ډول د هغه مرغانو ګندګي د کومو غوښه چي حلاله ده لکه کوتره وغيره پاکه ده ولي چي د ډېر وخت څخه کوتري په مسجدو او په نورو مقدسو مقاماتو کي پالل کيږي، په حرمينو شريفينو کي هم کوتري په ډېر تعداد کي دي او د هغوی د ګندګی څخه اعراض ممکن نه دی، دغه ډول که چېري په طعام کي د موږک ګندګي ولوېږي او دومره زياته نه وي چي په طعام کي د هغو بوی او ذائقه محسوسه سي نو د عموم بلوی په وجه پاک دی. په متن کي مصنف رحمه الله دوه نومونه ۱ سخله او ۲ انفخه

ذکرکړي دي، سخله د بزې نوزايده بچي ته ويل کيږي اوس مصنف رحمه الله وايي چي که چيري د بزي دا تازه پيدا سوی بچی د يوې مړې بزي څخه په راوتلو سره په اوبو کي ولوېږي نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نز دا اوبه نه دي مرداري که څه هم په دې بچي باندي څه رطوبت موجود وي دغه ډول چي کله د بزې کوچني بچي تازه شدې خوري او د څه بل شي د خوړلو قابل نه وي نو صرف دا شدې په معده کي جمع کيږي او د پوچو پر ځای دغه د شيدو اجزاء په مجتمع شکل کي راوزي چي هغه ته په عربی کي انفخه ويل کيږي، چي د هغه اُردو معنٰی موږ د کتب لغت په مدد سره په ورږو باندي کړيده نو دا د معدې څخه راوتلي ورږه د امام ابوحنيفه رحمه الله په نز نجس نه دي او اوبه نه پاکه وي .

وَاَمَّا الْمَآءُ الْمُسْتَعْمَلُ فَنَجِسٌ نِجَاسَةً غَلِيْظَةً عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَعِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ نَجِسٌ نِجَاسَةً خَفِيْفَةً وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ طَاهِرٌ غَيْرُ طُهُوْرٍ وَبِهٖ اَخَذَ اَكْثَرُ الْمَشَايِخِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى وَالْمَآءُ الْمُسْتَعْمَلُ كُلُّ مَا اُزِيْلَ بِهٖ حَدَثٌ اَوِاسْتُعْمِلَ فِي الْبَدَنِ عَلٰى وَجْهِ الْقُرْبَةِ لَاعَلٰى وَجْهِ تَبَرُّدِ الْاَعْضَآءِ اِمْرَءَةٌ غَسَلَتِ الْقِدْرَ اَوِ الْقِصَاعَ اَوْيَدَهَا مِنَ الْوَسْخِ اَوِ الْعَجِيْنِ لَايَصِيْرُ الْمَآءُ مُسْتَعْمَلاً .

ژباړه: مستعملي اوبه د امام ابوحنيفه رحمه الله په نز نجاست غليظه او د ابويوسف رحمه الله په نز نجاست خفيفه دی، د امام محمد رحمه الله په نز خپله پاکي دي او پاکونکي نه دي ، په دغه باندي د اکثرو علماؤ عمل او په دغه باندي فتوی ده او مستعملي هر هغه اوبه دي چي په هغه سره يو حدث ليري کړل سوی وي يا په جسم باندي لپاره د حصول د ثواب استعمال سوی وي نه د ګرمی ليري کولو لپاره استعمال سوی وي، يوې ښځي په ديګ يا تالی کي خپل لاسونه د خيرې يا د وړو

ځخه پرېولل نو په دې سره اوبه نه مستعملي کيږي .

تشريح: په کومو اوبو سره چي بې اودسه سړی اودس وکړي يا د جنابت ځخه پاکي حاصله کړي نو دا اوبه مستعملي ګڼل کيږي چي کله يو سړی مثلاً د لاس پرېوللو په وخت کي د ګوتو د سرو ځخه د ځنګلو و طرف ته اوبه توی کړي نو دا د لاسو ځخه ولويږي او په مځکه ولاړي سي نو د مستعملي کيدو حکم يي کيږي تر هغه وخته پوري چي په انساني جسم باندي وي مستعملي نه دي نو د دې لپاره که چېري په لاسو باندي موجودو اوبو باندي د سر مسحه وکړل سي نو جائز ده، دغه ډول که چېري څوک يو لوښی پرېولي او د لوښي پرېولو وروسته د لاسو خيري پرېولي او په لاسو په لوښو باندي ترمخه څه نجاست نه وو موجود او نه د لاس پرېوللو والا محدث وي نو په دې سره هم اوبه نه مستعمليږي دغه ډول که چېري جنب يا محدث سړی د لټولو لپاره په لوښي کي لاس داخل کړي او په لاسو باندي يي حقيقي نجاست نه وي نو اوبه پاکي دي دغه ډول که چېري يو بې اودسه سړی د اودس بغيره نور اعضاء پرېولل نو د صحيح قول مطابق په دې سره اوبه نه مستعملي کيږي او په دې سره اودس کول جائز دي، که چېري د غسل کولو په وخت کي په لوښي کي د جسم ځخه د مستعملو اوبو څاڅکي ولويږي نو په دې سره اوبه نه نجسي کيږي البته که چېري دا اوبه په زيات مقدار کي په لوښي کي ولويږي نو په دې اوبو سره دي غسل نه کوي د مستعملو اوبو څښل مکروه دي البته مستعملي او نجسي اوبه حيوانانو ته د ورکولو يا فصلوته د ورکولو لپاره په استعمال کي را وړل جائز دي، د مفتٰی به قول مطابق مستعملي اوبهٔ خپله پاکي دي او پاکونکي نه دي .

وَكُلُّ اِهَابٍ دُبِغَ فَقَدْ طَهَرَ جَازَتِ الصَّلٰوةُ مَعَهُ اِلَّاجِلْدُالْخِنْزِيْرِ وَالْاٰدَمِيِّ وَذُكِرَ فِي الشَّرْحِ كُلُّ حَيْوَانٍ اِذَا ذُبِحَ بِالتَّسْمِيَةِ طَهَرَ جِلْدُهٗ وَلَحْمُهٗ وَشَحْمُهٗ وَجَمِيْعُ اَجْزَائِهٖ

سِوَى الْخِنْزِيْرِ وَالْاٰدَمِيِّ سَوَاءٌ كَانَ مَاكُوْلُ اللَّحْمِ اَوْغَيْرَ مَاكُوْلِ اللَّحْمِ وَجِلْدُ الْاٰدَمِيِّ اِذَا وَقَعَ مِقْدَارُ ظُفْرٍ فِي الْمَاءِ يُفْسِدُ الْمَآءَ وَالظُّفْرِ اِذَا وَقَعَ بِنَفْسِهٖ لَايُفْسِدُ وَفِي الْخَاقَانِيَّةِ كُلَّمَا كَانَ سُؤْرُهٗ نَجِسًا لَايَطْهَرُ لَحْمُهٗ وَشَحْمُهٗ وَجِلْدُهٗ بِالزَّكوٰةِ وَعَنْ مُحَمَّدٍ جِلْدُ الْكَلْبِ وَالذِّئْبِ يَطْهَرُ وَعَصَبُ الْمَيْتَةِ وَعَظْمُهَا وَقَرْنُهَا وَرِيْشُهَا وَصُوْفُهَا وَظُفْرُهَا وَشَعْرُهَا طَاهِرٌ اِذَالَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا دُسُوْمَةٌ وَاَمَّا جِلْدُ الْفِيْلِ فَيَطْهَرُ بِالدِّبَاغَةِ وَعَظْمُهٗ طَاهِرٌ يَجُوْزُ بَيْعُهٗ اِلَّا عِنْدَ مُحَمَّدٍ وَرُوِيَ عَنْ مُحَمَّدٍ اِمْرَءَةٌ صَلَّتْ وَفِيْ عُنُقِهَا قِلَادَةٌ عَلَيْهَا سِنُّ اَسَدٍ اَوْكَلْبٍ اَوْثَعْلَبٍ جَازَتْ صَلٰوتُهَا بِخِلَافِ الْاٰدَمِيِّ وَالْخِنْزِيْرِ وَذَكَرَ الشَّيْخُ الْاِمَامُ الْاَسْبَانْكَتِيُّ فِيْ شَرْحِهِ السِّنْجَابُ اِذَا اُخْرِجَ مِنْ دَارِ الْحَرْبِ اِلَيْنَا وَعُلِمَ اَنَّهٗ مَدْبُوْغٌ بِوَدَكِ الْمَيْتَةِ لَاتَجُوْزُ الصَّلٰوةُ بِهٖ مَالَمْ يُغْسَلْ وَاِنْ عُلِمَ اَنَّهٗ مَدْبُوْغٌ بِشَيْءٍ طَاهِرٍ جَازَتِ الصَّلٰوةُ بِهٖ وَاِنْ لَّمْ يُغْسَلْ وَاِنْ شَكَّ فَالْاَفْضَلُ اَنْ يُّغْسَلَ.

ژباړه: هرهغه پوست چي رنګ سي حلال دی او لمونځ ورسره روا دی، مګر نه د خنزير او انسان پوست، په شرحه اسبيجابی کي ذکرسوي دي چي هر حيوان کله په بسم الله سره ذبحه کړل سي نو د هغه پوست، غوښه، وازګه او ټوله اعضائي پاکيږي بغير د خنزير او انسان څخه، که د هغه غوښه خوړل کيږي او که نه، د انسان پوست که چيري د يو نوک په مقدار په يولوښي کي ولويږي نو اوبه ناپاکي کوي، که چيري نوک خپله ولويږي نو نه ناپاکي کيږي، په خاقانيه کي ذکر دي چي د هرهغه شي پسخورده ناپاکه وي نو په ذبحي کولو سره د هغه پوست، غوښه او وازګه نه

پاکیږي، د امام محمد رحمه الله څخه روایت دی چي د سپي یا د لیوه پوست په ذبح بسم الله سره پاکیږي، د مردار سوي حیوان پلې ، هډوکي، شکر، وزر، وړی، نوکان او وریښتان پاک دي تر هغه وخته پوري چي په هغو باندي غوړیزګي نه وي، د فیل پوست په رنګ سره پاکیږي، د امام محمد رحمه الله څخه ماسوای نور د ټولو په نز د هغه هډوکي پاک دي او د دوی بیعه جائز ده، د امام محمد رحمه الله څخه روایت سوی دی چي یوه ښځه لمونځ وکړي او د هغې په غاړه کي داسي هار وي چي هغه د شیر، پېي یا د ګیدړي غاښونه وي نو د هغې لمونځ جائز دی په خلاف د انسان او خنزیر. شیخ الامام الاسبانکتی په خپله شرحه کي ذکر کړي دي چي د موژې پوست چي کله د دارالکفر څخه زموږ وطرف ته درآمد کړل سي او دا څرګنده وي چي مردار په سپیدو سره د دې دباغت کړل سوی دی نو په دې باندي لمونځ نه دی جائز تر هغه وخته پوري چي پرې نه وي او چي کله دا معلومه وي چي په پاک شي سره یې د دې دباغت کړی دی نو پر هغه بغیر د پرېوللو لمونځ جائز دی که چېري مشکوک وي نو بهتره ده چي پرېولل سي.

تشریح: د انسان او خنزیر بغیره نورد ټولو حیوانانو پوستونه په دباغت سره پاکیږي او په دوی سره لمونځ کول جائز دي که څه هم د اغوستلو په حالت کي وي یا د مصلی په طور استعمال کړل سي او د پوست دباغت دادی چي هغه داډول وچ کړل سي چي د هغه بوی او مردار رطوبات یې ټوله ختم سي، چي د هغه طریقه په آئنده عبارت کي به بیان سي، چونکي خنزیر نجس العین دی نو د دې لپاره د هغه پوست په دباغت سره هم نه پاکیږي ، انسان اشرف او عزتمند دی د دې لپاره د هغه د یوه جزء څخه ګټه اخیستل نه ده جائز، که چېري یو حیوان مردار سي نو د هغه وریښتان، وزرونه، وړی، هډوکي نوکان او پوست په استعمال کي راوړل کېدی سي لکه چي د عبدالله بن عباس رضی الله عنه په روایت کي دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم

مرداره غوښه حرامه کړي ده او د هغه په وريښتانو او وړي کي هيڅ قباحت نسته، ږغه دول د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي عليه السلام به د فيل دْ هډوکو ځخه په جوړي سوي ږمونږي باندي خپل سرمبارک ږمونږ کوی او په دې احاديثو کي دا مسئله اظهر من الشمس ده چي د مردارو حيوانانو د دغو اجزاء وو څخه ګټه اخستل روادي چي په هغه کي په حالت د ژوند هم د زندګی حلول نه وي جائز.

وَالدِّبَاغَةُ عَلٰى ضَرْبَيْنِ حَقِيْقِيَّةٌ وَحُكْمِيَّةٌ فَالْحَقِيْقِيَّةُ اَنْ يُّدْبَغَ بِشَيْءٍ طَاهِرٍ كَالْعَفْصِ وَالسَّبْخَةِ وَغَيْرِهِمَا وَلَوْ اَصَابَهُ الْمَآءُ بَعْدَ الدِّبَاغَةِ الْحَقِيْقِيَّةِ فَابْتَلَّ لَايَعُوْدُ نَجَسًا اَمَّا الْحُكْمِيَّةُ فَاَنْ يُّخْرَجَ الْجِلْدُ عَنْ حُكْمِ الْفَسَادِ اِمَّا بِالتَّتْرِيْبِ اَوْبِالتَّشْمِيْسِ اَوْ بِالْقَآئِهِ فِى الرِّيْحِ وَلَوْ اَصَابَهُ بَعْدَ الدِّبَاغَةِ الْحُكْمِيَّةِ مَآءٌ فَابْتَلَّ فَعَنْ اَبِىْ حَنِيْفَةَ فِيْهِ رِوَايَتَانِ رِوَايَةٌ يَعُوْدُ نَجَسًا وَفِىْ رِوَايَةٍ لَايَعُوْدُ نَجَسًا وَكَذَا الثَّوْبُ اِذَا اَصَابَهُ الْمَنِىُّ فَفُرِكَ وَكَذَا الْاَرْضُ اِذَا اَصَابَهَا نِجَاسَةٌ وَجَفَّتْ وَكَذَا الْبِئْرُ اِذَا تَنَجَّسَتْ فَغَارَتْ ثُمَّ عَادَمَآئُهَا وَفِىْ فَتَاوٰى قَاضِيْخَانَ اَنَّ الْاَظْهَرَ فِى الْبِئْرِ اَنْ يَّعُوْدَ نَجَسًا وَذُكِرَ فِى الْمُحِيْطِ الْاَظْهَرُ اَنْ لَّايَعُوْدَ نَجَسًا.

ژباړه: دباغت پر دوه قسمه حقيقي او حکمي باندي مشتمل دی، دباغت حقيقي دادی چي په يو پاک شي لکه ګل مازو او شوره وغيره سره دباغت وکړل سي که چېري د دباغت حقيقي وروسته پوست په اوبو سره لوند سي نو دوباره نه پ کيږي او حکمي دادی چي پوست د نجاست څخه په خاوري مږلو سره يا په لمر کي وچېدو يا په هوا کي اچولو سره وچ کړل سي که چېري د دباغت حکمي وروسته په اوبو سره لوندسي نو د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله څخه په دې باره کي دوه روايت دي. په

یوه روایت کي پاک او په دوهم کي ناپاکیږي، د غه ډول په کالو باندي د منې
لګیدو وروسته وموږل سي، او مځکي ته چي کله نجاست ورسیږي او وچ سي، دغه
ډول څاه د ناپاکیدو وروسته چي کله د هغه اوبه لاندي سي او بیا را وګرځي، په
فتاوٰی قاضیخان کي دي چي په څاه کي ډېر ظاهرقولونه دادي چي ناپاکیږي او په
محیط کي دی چي ډېر قولونه دادي چي دوباره نه پاکیږي.

تشریح: مصنف رحمه الله په دې عبارت کي د دباغت د اقسامو بیانولو سره وایي چي
د باغت پر دوه قسمه دي، د پوست رنګول او وچول د پاکو دوایانو په ذریعه سره چي
کیږي لکه د کیکر بیج او پاڼوسره، په مالګي سره، یا د شوره وغیره سره چي کیږي نو
دا دباغت حقیقي دی که چېري بغیر د دوایانو صرف په خاوري وهلو سره یا د لمر په
ذریعه سره کیږي نو دا دباغت حکمي دی، دباغت صرف د احنافو رحمهم الله په نز
معتبر دی، په کالو باندي د مني لګیدو وروسته که چېري وچ سي نو صرف دې
وموږل سي، د هغه وروسته چي بیا کیږه په اوبو سره لنده سي نو دوباره نه پاکیږي، د
مځکي، پوست، او څاه په باره کي مفتٰی به قول دادی چي دوباره نه پاکیږي.

فصل في البير

(دا فصل د څاه په بيان کي دی)

اذا وَقَعَتْ فِي الْبِيْرِ نِجَاسَةٌ نُزِحَتْ وَكَانَ نَزْحُ مَافِيْهَا مِنَ الْمَآءِ طَهَارَةً لَهَا وَاِنْ وَقَعَتْ فِيْهَا فَارَةٌ اَوْعَصْفُوْرَةٌ اَوْنَحْوُ هُمَا ثُمَّ مَاتَتْ يُنْزَحُ مِنْهَا عِشْرُوْنَ دَلْوًا اِلٰى ثَلٰثِيْنَ وَاِنْ مَاتَتْ فِيْهَا حَمَامَةٌ اَوْ دُجَاجَةٌ اَوْسِنَّوْرٌ يُنْزَحُ مِنْهَا اَرْبَعُوْنَ دَلْوًا اَوْخَمْسُوْنَ اِلٰى سِتِّيْنَ وَاِنْ مَاتَتْ فِيْهَا شَاةٌ اَوْكَلْبٌ اَوْاٰدَمِيٌّ اَوْخِنْزِيْرٌ يُنْزَحُ جَمِيْعُ الْمَآءِ وَكَذَا يُنْزَحُ اِنِ اسْتُخْرِجَ الْكَلْبُ وَالْخِنْزِيْرُ حَيًّا وَاِنْ لَّمْ يُصِبْ فَمُهُ الْمَآءُ وَكُلُّ حَيَوَانٍ اِذَا اُخْرِجَ حَيًّا وَقَدْ اَصَابَ الْمَآءُ فَمُهُ يُنْظَرُ اِنْ كَانَ سُؤْرُهُ طَاهِرًا لَايَتَنَجَّسُ الْمَآءُ وَلٰكِنْ لَّايَتَوَضَّأُ بِهٖ اِحْتِيَاطًا وَاِنْ تَتَوَضَّأَ جَازَ وَاِنْكَانَ سُؤْرُهُ نَجِسًا يُنْزَحُ كُلُّهُ وَاِنْكَانَ سُؤْرُهُ مَكْرُوْهًا يُنْزَحُ عِشْرُوْنَ دَلْوًا وَنَحْوهَا اِحْتِيَاطًا وَاِنْكَانَ سُؤْرُهُ مَشْكُوْكًا يُنْزَحُ كُلُّهُ اَيْضًا كَذَا رُوِيَ عَنْ اَبِيْ يُوْسُفَ فِي الْفَتَاوٰى وَاِنِ انْتَفَخَ الْحَيَوَانُ فِيْهَا اَوْ تَفَسَّخَ يُنْزَحُ جَمِيْعُ مَافِيْهَا مِنَ الْمَآءِ صَغُرَ الْحَيَوَانُ اَوْكَبُرَ وَاِنْ وَجَدُوْا فِيْهَا فَارَةً مَيْتَةً وَلَا يَدْرُوْا اَنَّهَا مَتٰى وَقَعَتْ وَلَمْ يَتَفَسَّخْ وَلَمْ يَنْتَفِخْ اَعَادُوْا صَلٰوةَ يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ اِذَاكَانُوْا تَوَضَّأُوْا مِنْهَا وَغَسَلُوْا كُلَّ شَيْءٍ اَصَابَهُ مَآءُهَا وَاِنْ كَانَتْ انْتَفَخَتْ اَوْتَفَسَّخَتْ اَعَادُوْا صَلٰوةَ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ وَّلَيَالِيْهَا عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَقَالَا لَيْسَ عَلَيْهِمْ اِعَادَةُ شَيْءٍ حَتّٰى يَتَحَقَّقُوْا اَنَّهَا مَتٰى وَقَعَتْ.

ژباړه: چي کله په څاه کي نجاست ولويږي نو را ايستل کيږي به او موجودي اوبه

را ایستل د څاه لپاره هم پاکي ده، که چېري په څاه کي موږک یا چوغکه او د دې په مثل یو بل شی ورولوېږي او مړ سي نو د شلو څولغو څخه یا تر دېرشو څولغو پوري به را ایستل کېږي، که کوتره، چرګه، پیشي په هغه کي مړه سي نو د څلوېښتو یا پنځوسو څخه تر شپیتو پوري څولغې به را ایستل کېږي، او که چېري په هغه کي بزه، سپی، انسان یا خنزیر مړ سي نو ټولي اوبه به را ایستل کېږي، دغه ډول به ټولي اوبه را ایستل کېږي که چېري سپی او خنزیر ژوندی را ویستل سي که څه هم هغوی وخولو ته اوبه نه وي رسېدلي، هر حیوان چي کله ژوندی راویستل سي او اوبه د هغه خولې ته نه وي رسېدلي نو کتل کېږي که چېري د هغه پسخورده پاکه وي نو اوبه نه نجسي کېږي مګر په هغو دي احتیاطاً او دس نه کوي که چېري وکړل سي نو جائز دی، او که پسخورده یې ناپاکه وي نو ټولي اوبه را ایستل کېږي، که چېري یې پس خورده مکروه وي نو احتیاطاً شل څولغې یا د هغوی په مقدار کي دي وباسل سي، که چېري یې پسخورده مشکوکه وي نو ټولي اوبه راایستل کېږي، دغه ډول د ابویوسف رحمه الله څخه په فتاولی کي مروي دي، که چېري حیوان په هغه کي په پړسیدو سره ټکړې ټکړې سي نو ټولي اوبه راایستل کېږي که څه هم حیوان کوچنی وي او که غټ، او که چېري په هغه کي مړسوی موږک پیدا کړي او معلوم نه وي چي د څه وخت څخه پرورت دی او نه رزه رزه سوی یې او نه پړسېدلی یې نو د یوې ورځي او شپې لمونځونه دي را وګرځوي که چېري یې په دې اوبو سره اودسونه کړي وه. او هغه ټوله شیان دي پرېولليي چي په دې اوبه سره یې پرېولي وه، او که په پړسېدو سره زره زره سوی وي نو د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نز د درو ورځو او شپو لمونځه دي را وګرځوي، صاحبین وایي چي تر څه وخته پوري دا ثابته نه وي چي کله ور لوېدلی دی نو پر هغوی باندي هیڅ اعاده نسته.

تشریح: چونکي د څاه نجاست هم نجاست حقیقي دی د دې لپاره مصنف رحمه الله :

نجاست حقيقي بيان کولو وروسته د څاه احکام بيانول شروع کړل، مصنف رحمه الله وايي چي کله په څاه کي يو نجاست ولوېږي نو د څاه اوبه به را ايستل کيږي د اوبو را ايستلو وروسته د څاه ديوالونه، څولغه او رسۍ په خپله پاکيږي، نجاست کله کوچنی وي او کله غټ په دا لحاظ مصنف رحمه الله د رواياتو صحيحو په رڼا کي وايي چي که چېري په څاه کي موږک، چوغکه يا د جسامت په لحاظ د دوی په مثل يوشی ولوېږي نو په وجوبي لحاظ به شل څولغې راباسي البته د شلو څولغو پوري را ايستل مستحب دي .

دغه ډول په متن کي ذکرسوي دي چي اول عدد په طريقه د وجوب او دوهم عدد په طريقه د استحباب دی، او يوه سه انسان که چېري په څاه کي ولوېږي او مړ سي نو د لوېدلي شي د را ايستلو وروسته د څاه ټولي اوبه را ايستل ضروري دي لکه څنګه چي امام دار قطني رحمه الله په ابن سيرين کي د ابن سيرين څخه روايت کړی دی چي يو حبشي د آب زم زم په څاه کي ولويدی مړ سو نو حضرت ابن عباس رضي الله عنه د حبشي د را ايستلو حکم وکړ او دا حکم يې هم وکړ چي د څاه اوبه را وباسی د زم زم د اوبو را ايستلو سره چي کله د حجر اسود له طرف څخه بهيدونکي چينه غالبه سوه نو ده په تاراوپه سکه ويلي کولو سره د بندولو حکم يې وکړ حتی چي د څاه صفايي وسوه نو بيايي چشمه جاري کړه، البته فقهاء کرامو د هغه څاه په باره کي چي د کوم خالي کول ممکن نه وي ويلي دي چي د انسان، سپي، او پسه وغيره په صورت کي د دوو سوو څولغو په را ايستلو سره څاه پاکيږي چي د هغه بيان په را روان عبارت کي رائي، د څاه څولغه درميانه پکار ده نه ډېره غټه وي او نه ډېره کوچنی. ځيني فقهاء وايي چي په کومه څولغه د متوسط دانې والا غله يوه صاع راتلای سي نو دغه څولغه د څاه په پاکولو کي معتبره ده او که چېري سپی، خنزير ژوندی هم را ووزي بيا هم ټولي اوبه را ايستل ضروري دي که څه هم د هغو و خولې ته اوبه نه وي

رسيدلي، خنزير خو د دې لپاره چې هغه نجس العين دى او دغه ډول سپى هم د ځينو علماؤ په نز نجس العين دى اګرچې د صحيح قول په مطابق صرف نجس دى لكه څنګه چې صاحب هدايه په دې تصريح كړې ده د خنزير او سپي علاوه چې بل حيوان په اوبو كې ولويږي او ژوندى را وباسل سي او اوبه د هغه د خولې پورې رسېدلې وي نه به كتل كيږي كه چېرې د هغه پسخورده پاكه وي نو اوبه هم پاكې دي مګر احتياطاً په دغه اوبو دې اودس نه كوي ولې چې كيدى سي په دغه حيوان باندې نور ظاهري نجاست هم وو، كه چېرې پسخورده نجسه وي نو د ټولو اوبو را ايستل ضروري دي، كه پسخورده مكروه وي نو دې شل څولغې را وباسل سي كه چېرې پسخورده مشكوكه وي نو د نجس ډول ټوله اوبه دې را وباسي ولې چې په عدم طهوريت كې دواړې برابرې دي.

كه چېرې يو حيوان په څاه يا په ټانكى كې پړسېدلى يا ټوكړې ټوكړې پيدا سي او دا معلومه نه وي چې د څه وخت څخه ورلوېدلى دى نو د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نز په درو ورځو او شپو كې په دغه اوبو سره چې يې څومره لمونځونه كړي وي د هغو راګرځول ضروري دي ولې چې د حيوان پړسېدل د دې خبرې دليل دى چې دا په اوبو كې د ډېرو ورځو څخه لوېدلى دى او د كثير ورځو قليل مقدار درې ورځې دى، د دې لپاره فقط د درو ورځو لمونځونه راګرځول كافي دي او صاحبين رحمهم الله وايي چې كېدى سي دا حيوان په مځكه پړسېدلى وي هوا يا يو مرغه دى په دې اوبو كې اچولى وي نو ترڅه وخت پورې چې په يقين سره معلومه نه وي تر هغه وخته پورې په داخلګو د لمونځو راګرځول واجب نه دي.

وَإِذَا وَقَعَتْ بِعْرَةٌ أَوْ بِعْرَتَانِ مِنْ بِعَرِ الْإِبِلِ وَالْغَنَمِ فِي الْبِئْرِ فَأُخْرِجَتْ قَبْلَ التَّفَسُّخِ لَمْ يَتَنَجَّسْ وَإِنْ وَقَعَتْ وَأُخْرِجَتْ بَعْدَ التَّفَسُّخِ يَتَنَجَّسُ الْبِئْرُ وَإِنْ وَقَعَتْ فِي اللَّبَنِ

وَقْتَ الْحَلْبِ فَاُخْرِجَتْ حِيْنَ وَقَعَتْ لَمْ يَتَنَجَّسُ اللَّبَنُ اَيْضًا وَاِنْ اُخْرِجَتْ بَعْدَ تَفَسُّخِهٖ يَتَنَجَّسُ اللَّبَنُ اِسْتِحْسَانًا وَرُوِيَ عَنْ اَبِيْحٍ (رح) الْبِعْرَةُ اِذَاكَانَتْ يَابِسَةً لَمْ تُفْسِدُ الْمَآءَ مَالَمْ يَسْتَكْثِرْهُ النَّاسُ لِعُمُوْمِ الْبَلْوٰى وَفِي الرَّطْبَةِ وَالْمُنْكَسِرَةِ الْيَابِسَةِ اِخْتِلَافٌ بَيْنَ الْمَشَايِخِ بَعْضُهُمْ اَفْتٰى بِالتَّنَجُّسِ وَبَعْضُهُمْ فَرَّقُوْا بَيْنَ الرَّطْبَةِ وَالْيَابِسَةِ الْمُنْكَسِرَةِ وَبَعْضُهُمْ سَوّٰى بَيْنَ الرَّطْبَةِ وَالْيَابِسَةِ وَالْمُنْكَسِرَةِ وَاَمَّا الْاَوْرَاثُ وَالْاَخْثَاءُ فَبِمَنْزِلَةِ الْمُنْكَسِرَةِ وَاَكْثَرُ الْمَشَايِخِ عَلٰى اَنَّهٗ تُعْتَبَرُ فِيْهِ الضَّرُوْرَةُ الْعَامَّةُ وَالْبَلْوٰى اِنْكَانَ فِيْهِ ضَرُوْرَةٌ وَالْبَلْوٰى لَايُحْكَمُ بِالنِّجَاسَةِ لِلضَّرُوْرَةِ وَاِلَّا فَلَا وَالرَّوْثُ اِذَاكَانَ صُلْبًا مُتَاَكِّدًا فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الْبِعْرَةِ وَاِنْ وَقَعَ خُرْءُ الْحَمَامَةِ اَوِ الْعُصْفُوْرَةِ فِيْهَا لَمْ يُفْسِدِ الْمَآءَ وَهٰذَا مَذْهَبُنَا وَاِنْ وَقَعَ خُرْءُ الدَّجَاجَةِ اَفْسَدَهٗ وَكَذَا خُرْءُ الْبَطِّ وَالْاَوْزِ خُرْءُ الْخَفَاشِ وَبَوْلُهٗ لَايُفْسِدُهٗ وَكَذَا زَرْقُ مَالَا يُؤْكَلُ لَحْمُهٗ مِنَ الطُّيُوْرِ فَاِنَّهٗ طَاهِرٌ عِنْدَهُمَا خِلَافًا لِّمُحَمَّدٍ وَقَالَ بَعْضُهُمْ رُوِيَ عَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَاَبِيْ يُوْسُفَ اَنَّ زَرْقَ سِبَاعِ الطُّيُوْرِ نَجِسٌ لَايُفْسِدُ الثَّوْبَ اِلَّا اِذَافَحُشَ وَيُفْسِدُ الْمَآءَ وَاِنْ قَلَّ وَلَايُفْسِدُ الْمَآءَ الْكَثِيْرَ وَيُفْسِدُ الْاَوَانِيَ وَاِنْ قَلَّ وَلَايُفْسِدُ مَآءَ الْبِئْرِ.

ژباړه: که چېرې پسه یا غوایې په څاه کې بولې وکړې نو د شیخینو په نز مرداریږي مګر د امام محمد رحمه الله په نز نه مرداریږي، که چېرې په څاه کې د وینې یا شراب څاڅکي ولویږي نو د څاه ټولې اوبه به را ایستل کیږي او په ذخیره کې دي چې یو جنب د څاه څخه یوه څولغه را ویستله او په سر یې توی کړه بیا یې بله، بیا د

هغه د جسم څخه په څاه کي قطرې ولوېدې نو د ضرورت په بنا نجس کيږي نه، که چيري جنب په څاه کي ولوېدی يا په خپله د څولغې د را ايستلو لپاره داخل سو نو ابو حنيفه رحمه الله ويلي دي چي سړی جنب دی او اوبه نجسي دي او د يوه روايت مطابق چي کله خوله پرېمنځي او په پوزه کي اوبه واچوي نو د جنابت څخه وزي او يا د مستعملو اوبو په سبب بيا نجس کيږي، نو د دې روايت پر بنا باندي د ده لپاره قرائت د قرآن د جنابت څخه وتو په وجه جائز دی او ابو يوسف رحمه الله ويلي دي چي سړی جنب دی او اوبه پاکي دي، امام محمد رحمه الله ويلي دي چي دواړه پاک دي او دا هلته ده چي د هغه په بدن يا په کپړو باندي نجاست حقيقي نه وي او که چيري د هغه په بدن يا په کپړو باندي نجاست حقيقي وي نو بالاتفاق اوبه ناپاکي دي.

وَاِنْ بَالَتْ شَاةٌ اَوْبَقَرَةٌ فِي الْبِيْرِ تَنَجَّسُ عِنْدَهُمَا اِلَّا عِنْدَ مُحَمَّدٍ وَاِنْ قَطَرَتْ فِي الْبِيْرِ دَمٌ اَوْخَمْرٌ يُنْزَحُ مَآءُ الْبِيْرِ كُلُّهُ وَفِي الذَّخِيْرَةِ جُنُبٌ نَزَحَ مِنَ الْبِيْرِ دَلْوًا فَصَبَّ عَلٰى رَاْسِهٖ ثُمَّ اسْتَقٰى دَلْوًا اٰخَرَ فَتَقَاطَرَ مِنْ جَسَدِهٖ فِي الْبِيْرِ لَايَتَنَجَّسُ لِلضَّرُوْرَةِ وَاِنْ وَقَعَ جُنُبٌ اَوْدَخَلَ فِيْهَا لِطَلَبِ الدَّلْوِ قَالَ اَبُوْ حَنِيْفَةَ اَلرَّجُلُ جُنُبٌ وَالْمَآءُ نَجَسٌ وَفِيْ رِوَايَةٍ يَخْرُجُ مِنَ الْجَنَابَةِ اِذَا تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ ثُمَّ يَتَنَجَّسُ بِسَبَبِ الْمَآءِ الْمُسْتَعْمَلِ فَعَلٰى هٰذِهِ الرِّوَايَةِ يَجُوْزُ لَهُ اَنْ يَّقْرَءَ الْقُرْاٰنَ لِخُرُوْجِهٖ عَنِ الْجَنَابَةِ وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ الرَّجُلُ جُنُبٌ وَالْمَآءُ طَاهِرٌ وَقَالَ مُحَمَّدٌ كِلَاهُمَا طَاهِرَانِ هٰذَا اِذَا لَمْ يَكُنْ عَلٰى بَدَنِهٖ اَوْ ثَوْبِهٖ نِجَاسَةٌ حَقِيْقِيَّةٌ وَاِنْ كَانَتْ عَلٰى بَدَنِهٖ اَوْثَوْبِهٖ نِجَاسَةٌ تَنَجَّسَ الْمَآءُ بِالْاِجْمَاعِ.

ژباړه: غوايي، پسه بزه يا د دوی په مثل نور حيوانان چي ماکول اللحم وي په څاه

كي بولي وكړي نو د څاه اوبه نجسي كيږي ولي چي د دې څخه حفاظت ممكن دى،
امام محمد بن حسين شيباني رحمه الله په نز د ماكول اللحم حيوانانو بولي پاكي دي د
دې لپاره څاه نه مرداريږي، كه چېري شراب يا د هغه په مثل نور نجاست غليظه په لږ
مقدار كي په څاه كي ولويږي نو چونكي د څاه اوبه د قليل په حكم دي .د دې لپاره
كه يوه قطره نجاست هم وي نو څاه ناپاكه وي .د څاه ټولي اوبه به راباسل كيږي .

كه يو جنب د څاه په غاړه ولمبيږي او د هغه د جسم څخه د لمبيدو په وخت كي
څاڅكي په څاه كي ولويږي نو څاه نه مرداريږي ولي چي دا عموم بلوىٰ دى او د دې
څخه احتراز كول مشكل دي،كه چېري يو جنب انسان په څاه كي په غلطۍ سره
ولويږي يا د څه ضرورت پر بنا از خود داخل سي او د غسل اودس كولو په نيت نه
سي داخل نو د دې په باره كي د آئمه احنافو مختلف اقوال دي، چي هغه صاحب د
كنزالدقائق په مختصر الفاظو كي" ومسئلة البير جحط "سره تعبير كړي دى، امام
ابو حنيفه رحمه الله وايي چي انسان په خپل حالت د جنابت كي د اول رنګه پاته دى البته
اوبه د د جسم څخه اخلاط په وجه نجسي سوي ولي چي مستعملي اوبه د ده په نز
نجسي دي او د ده په يوه روايت كي دا حكم بيان كړل سوى دى چي كه چېري دا
سړى خوله پريمنځي او په پوزه كي اوبه واچوي نو د حكم جنابت څخه ووتى صرف د
نجسو اوبو په استعمال سره د هغه جسم ناپاک دى، په دې باندي تفريح كولو سره
مصنف رحمه الله ويلي دي چي دې سړي ته د قرآن پاک تلاوت د دې لپاره جائز دى چي
دا سړى د حالت جنابت څخه ووتى، فقط د هغه وجود نجاست حقيقي يعني د
مستعملو اوبو سره نجس دى، او فقط د نجس لپاره د قرآن پاک تلاوت جائز دى، د
مفتٰى به قول مطابق مستعملي اوبه نجسي نه دي، د دې لپاره دا سړى د حالت جنابت
څخه په وتولو سره مكمل پاک دى او دغه قول صاحب د هدايې هم اختيار كړى دي ،
د امام يوسف رحمه الله په نز دواړه يعني سړى او اوبه په خپل خپل حالت باقي دي، سړى

په اول ډول باندي اوس هم په حالت کي د جنابت دی او اوبه د اول په مثل اوس هم پاکي دي ولي چي د ده په نز د پاکي لپاره اوبه په اندام تويول شرط دي نو په مذکوره صورت کي دا شرط نه پوره کيږي د دې لپاره چي کله ازاله د نجاست نه وسوه نو دواړه په خپل خپل حالت پاته سوه، د امام محمد رحمه الله په نز دواړه يعنی سړی او اوبه دواړه د دې لپاره پاک دي چي په غسل او اودس کولو کي نيت ضروري نه دی کله چي بغيره نيته دا سړی په اوبو کي ولوېدی نو بيا هم پاک سو او اوبه د دې لپاره پاکي دي چي د امام محمد رحمه الله په نز د اوبو مستعمليدو لپاره د قربت نيت نه رالی نو اوبه هم نه سوې مستعملي نو ځکه هغه هم پاک پاته سو، په طهارت او په غير طهارت کي چي کوم اختلاف دی دا هلته دی چي کله په دا سړی باندي څه ظاهري نجاست نه وي او که چېري وي نو بلا اختلافه د ټولو آئمه ؤ په اتفاق اوبه نجسي دي.

وَلَوْ وَقَعَتْ اَكْثَرَ مِنْ فَارَةٍ وَاحِدَةٍ عَنْ اَبِيْ يُوْسُفَ اَنَّهُ قَالَ اِلٰى اَرْبَعٍ تَلْزَمُ عِشْرُوْنَ دَلْوًا اَوْثَلٰثُوْنَ وَاِنْكَانَتْ خَمْسًا يُنْزَحُ اَرْبَعُوْنَ دَلْوًا اَوْخَمْسُوْنَ وَاِنْكَانَتْ سِتًّا يُنْزَحُ سِتُّوْنَ دَلْوًا اَوْسَبْعُوْنَ اِلٰى تِسْعِيْنَ فَاِذَا كَانَ عَشْرًا يُنْزَحُ مَآءُ الْبِيْرِ كُلُّهُ وَاِنْكَانَتْ الْبِيْرُ مَعِيْنًا لَايُمْكِنُ نَزْحُهَا اَخْرَجُوْا مِقْدَارَ مَاكَانَ فِيْهَا مِنَ الْمَآءِ ثُمَّ اخْتَلَفُوْا كَيْفَ يُقَدَّرُ قَالَ بَعْضُهُمْ تُحْفَرُ بِجَنْبِهِ مِثْلَ عُمْقِ الْمَآءِ وَعَرْضِهِ فَيُنْزَحُ الْمَآءُ حَتّٰى تَمْلَاَ الْحُفَيْرَةُ قَالَ بَعْضُهُمْ يَحْكُمُ ذَوَاعَدْلٍ فَيُنْزَحُ بِحُكْمِهِمَا وَعَنْ مُحَمَّدٍ اَنَّهُ قَالَ يُنْزَحُ مِائَتَا دَلْوٍ اِلٰى ثَلٰثِمِائَةَ دَلْوٍ وَالْفَتْوٰى عَلَيْهِ وَاِنْ نُزِحَ بِوُقُوْعِ الْفَارَةِ عِشْرُوْنَ دَلْوًا اَوْثَلٰثُوْنَ طَهَرَ الدَّلْوُ وَالرِّشَآءُ وَمَوْتُ مَالَيْسَ لَهُ دَمٌ سَائِلٍ لَايُنَجِّسُ الْمَآءُ وَلَاغَيْرَهُ

كَالْاَشْرِبَةِ وَالْخلِ وَالْمِرْقِ كَالْبَقِّ وَالذُّبَابِ وَالزَّنَابِيْرِ وَالْعَقْرَبِ وَكَذَا مَوْتُ مَايَعِيْشُ الْمَآءَ اِذَامَاتَ فِي الْمَآءِ كَالسَّمَكِ وَالضِّفْدَعِ وَالسِّرْطَانِ وَاِنْ مَاتَ فِيْ غَيْرِ الْمَآءِ اَمَّا السَّمَكُ فَاِنَّهُ لَايُنَجِسُهُ بِلَا خِلَافٍ وَاَمَّا الضِّفْدَعُ اِذَآمَاتَ فِي الْعَصِيْرِ فَقَدِ اخْتَلَفَ الْمُتَاَخِّرُوْنَ وَاَكْثَرُهُمْ عَلٰى اَنَّهُ يُنَجِّسُ وَذَكَرَ الْاِسْبِيْجَابِيُّ فِيْ شَرْحِهِ وَمَايَعِيْشُ فِي الْمَآءِ مِمَّا لَايُؤْكَلُ لَحْمُهُ اِذَامَاتَ فِي الْمَآءِ وَتَفَسَّخَتْ اَوِانْتَفَخَتْ فَاِنَّهُ يَكْرَهُ شُرْبَ ذٰلِكَ الْمَآءِ وَاَمَّا الْحَيَّةُ الْبَرِيَّةُ اِذَامَاتَتْ فِي الْمَآءِ تُفْسِدُ الْمَآءَ وَكَذَا الْحَيَّةُ الْمَائِيَّةِ اِذَاكَانَتْ كَبِيْرَةً لَهَا دَمٌ سَآئِلٌ وَكَذَا الْوَزَغَةُ اِذَآكَانَتْ كَبِيْرَةً لَهَادَمٌ سَائِلٌ.

ژباړه: که چېري د يوه څخه زيات موږکان ورولويږي نو ابو يوسف رحمه الله ويلي دي چي تر څلورو پوري د لويدو په صورت کي شل يا دېرش ځولغوې راايستل لازم دي. که چېري پڅنه وي څلوېښت يا پنځوس که چېري شپږ وي نو د شپېته يا اويا ځولغو پوري، چي کله لس سوه نو د ټوله څاه اوبه به را ايستل کيږي که چېري څاه چينه داره وي او خالي کول يي ممکن نه وي نو د موجودو اوبو په مقدار به را ايستل کيږي، يا علماؤ اختلاف وکړ چي اندازه به څنګه معلومه کړي، ځينو ويلي دي چي د دې څاه په اړخ باندي د څاه والي او پراخوالی په مقدار دي بل څاه وکښل سي يا دي د دې څاه څخه اوبه راوباسي تر هغه وخته پوري چي هغه بل څاه ډک سي، او ځينو ويلي دي چي د ارباب د عقل دي فيصله وکړي يا د هغوی د فيصلي مطابق اوبه دي را وکاږي، د امام محمد رحمه الله څخه روايت دی چي د دوه سوه څخه بيا تر درو سوو پوري ځولغې دي راوباسي او په دغه باندي فتوی ده، که چېري د موږک په لوېدو سره شل يا دېرش ځولغې راوباسل سي نو ځولغه او رسی هم پاک سول.

د هغه شي مرګ چي په هغه کي بهېدونکي وينه نه وي نو نه اوبه او نه د دې علاوه شيان لکه شربت، سُرکه او ښوروا وغيره نجسه وي، مثلاً غوماشه، مچ، شاتو مچمچۍ او لړم وغيره دغه ډول د هغه مرګ چي په اوبو کي وسي چي کله په اوبو کي مړ سي لکه ماهی، چونګښه او شين سترګی که څېري د اوبو څخه علاوه په بل ځای کي مړ سي نو ماهی يي بلاخلافه نه نجس کوي، او چونګښه چي کله په شربتو کي مړه سي نو په دې کي د متاخرينو اختلاف دی اکثره پر دې دي چي مرداره وي يي، اسبيجابي په خپله شرحه کي ذکر کړي دي چي هغه شی چي په اوبو اوسي او ماکول اللحم نه وي په اوبو کي مړه سي او ټکړې ټکړې سي يا وېرسيږي نو بيشکه د دې اوبو څښل مکروه دي او د وچي مار چي کله په اوبو کي مړ سي نو اوبه ناپاکه دي، دغه ډول د اوبو مار چي کله لوی وي او په هغه کي بهېدونکي وينه وي، دغه ډول چرموښکۍ چي کله لويه وي او په هغه کي بهېدونکي وينه وي.

تشريح: امام يوسف رحمه الله د موږکانو د لوېدو په صورت کي د يوه څخه تر څلورو پوري نو په دې کي يې د شلو څخه تر دېرشو ډولو را ايستلو حکم کړی دی، د څلورو څخه چي کله زيات سي نو د چرګي په حکم کي سو شپېته ډولې به را ايستل کيږي چي کله لسوته ورسيږي نو د پسه په حکم کي سوه نو ټولي اوبه را ايستل ضروري دي، مګر که څېري ټوله را ايستل مشکل سي او په څاه کي چيني بهيږي چي څومره اوبه راباسي نو د چينو څخه دوباره اوبه راځي نو صرف په څاه کي د موجودو اوبو په اندازه کولو سره اوبه دي را وباسي مګر دا اندازه به څنګه معلومه کړي د دې په باره کي د فقهاء کرامو مختلف اقوال دي، د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام ابو يوسف رحمه الله څخه د يوه روايت په مطابق د دې څاه په اړخ کي د هغه د طول، عرض وعمق په مطابق يو بل څاه وکاږي نو دغه څاه چي کله ډک سو نو هغه بل څاه پاک سو دغه ډول د امام اعظم رحمه الله څخه يو روايت دا هم مذکور دی چي دوه تجربه کاره او

صاحب عقل انسانان دي را وغواړي او صاحب بصيرت حضرات چي څومره مقدار وښايي په هغه به عمل کيږي، مثلاً د اوبو په کتلو سره دا حکم وکړي چي په دې څاه کي پنځه سوه څولغې اوبه موجودي دي نو د پنځه سوه څولغو د را ايستلو وروسته دا څاه پاک تصور کيږي، ځينو مشائخو په دغه قول فتوی کړي ده او مصنف رحمه الله د امام محمد رحمه الله په قول يعني دوه سوه څولغو په را ايستلو باندي فتوی نقل کړي ده.

هغه حيوانان چي د هغوی په جسم کي د نورو حيوانانو په مثل د هغوی په رګوکي دويني تګ نه وي لکه غوماشه، دوبازي او د شاتو مچۍ وغيره چي کله په اوبو کي مړه سي يا په وچه کي مړه سي په اوبو کي وغورځول سي نو اوبه نه نجسه وي، د وچي مار او شرمښکۍ حکم دادی چي کله هغه غټ وي او د هغو په رګو کي بهېدونکي وينه وي نو د هغو د مرګ څخه اوبه نجسي کيږي، مختصره خلاصه داده چي کوم حيوانان په اوبو کي دننه اوسي د هغو د مرګ څخه اوبه نه مرداريږي ولي چي د هغو په اوبو کي اوسيدل د دې خبري دليل دی چي په هغو کې بهيدونکي وينه نسته د دې لپاره چي بهيدونکي وينه درلودلو والا په اوبو کي دننه مستقل سکونت نه سي اختيار کولای او په مسقل ډول په اوبو کي د اوسېدونکو حيوانانو نښاني دادي که چېري هغوی د اوبو څخه را ويستل سي نو د يوې دقيقې په تيريدو سره هغه مړه کيږي که چېري د را ايستلو باوجوده ژوندي وي لکه چونګښه که دا په اوبو کي هم اوسي او په را ايستلو سره نه مړه کيږي بلکي په وچه کي هم ژوند تيروای سي نو دا ډول حيوانان بينه بينه دي، د دوی حکم هم د اوبو والا د حيوانانو په ډول دی، د وچي او اوبو والا چونګښي فرق دادی چي د وچو والا چونګښي ګوتي خلاصي يي او د اوبو والا په ګوتو کي باريکه پرده وي.

فصل في الاسار

(دا فصل د پسخوردو په بيان کي دی)

سُؤْرُ الْاٰدَمِيِّ طَاهِرٌ سَوَآءٌ کَانَ مُسْلِمًا اَوْکَافِرًا اَوْجُنُبًا اَوْحَآئِضًا اَوْنَفْسَآءَ اَوْمُحْدِثًا اَوْطَاهِرًا وَسُؤْرُ مَايُؤْکَلُ لَحْمُهُ طَاهِرٌ کَالْاِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَاَمَّا سُؤْرُ الْفَرَسِ فَعَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ فِيْهِ اَرْبَعُ رِوَايَاتٍ فِيْ رِوَايَةٍ نَجَسٌ وَفِيْ رِوَايَةٍ مَشْكُوْكٌ وَفِيْ رِوَايَةٍ مَکْرُوْهٌ وَفِيْ رِوَايَةٍ طَاهِرٌ وَاَمَّا عِنْدَهُمَا طَاهِرٌ بِلَا شَكٍّ وَبِهٖ اَخَذَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ وَسُؤْرُ الْكَلْبِ وَالْخِنْزِيْرِ وَسِبَاعِ الْبَهَائِمِ نَجَسٌ وَسُؤْرُ سِبَاعِ الطُّيُوْرِ وَسُؤْرُ مَايَسْکُنُ فِي الْبُيُوْتِ مِثْلُ الْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ وَالْفَارَةِ وَالْوَزَغَةِ وَالْهِرَّةِ وَالدُّجَاجَةِ الْمُخَلَّاةِ مَکْرُوْهٌ وَاِنْ اَکَلَتِ الْهِرَّةُ الْفَارَةَ ثُمَّ شَرِبَتِ الْمَآءَ عَلَى الْفَوْرِ يَتَنَجَّسُ فَاِنْ مَکَثَتْ سَاعَةً وَلَحِسَتْ فَمَهَا فَمَکْرُوْهٌ وَسُؤْرُ الْبَغْلِ وَالْحِمَارِ مَشْكُوْكٌ وَعَرَقُ كُلِّ شَيْءٍ يُعْتَبَرُ بِسُؤْرِهٖ اِلَّا اَنَّ عَرَقَ الْحِمَارِ طَاهِرٌ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ فِي الرِّوَايَةِ الْمَشْهُوْرَةِ كَذَا ذَكَرَهُ الْقُدُوْرِيُّ وَقَالَ شَمْسُ الْاَئِمَّةِ نَجَسٌ اِلَّا اَنَّهُ جُعِلَ عَفْوًا فِي الثَّوْبِ وَالْبَدَنِ لِمَكَانِ الضَّرُوْرَةِ وَلَبَنُ الْاَتَانِ نَجَسٌ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَعَنْ مُحَمَّدٍ اَنَّهُ طَاهِرٌ وَلٰكِنْ لَّايُؤْكَلُ وَهُوَ الصَّحِيْحُ.

ژباړه: د انسان پسخورده پاکه ده که مسلمان وي او که کافر، جنب وي که حائضه او که نفاسه وي، بې اودسه وي که پاک، د هغه حیوانانو پسخورده چي د هغو غوښه خوړل کیږي هم پاکه ده لکه اوښ، غوایی، پسه بزه او داسي نور شی. د آس په پسخورده کي د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه څلور روایتونه دي په یوه کي ناپاکه په یوه

کي مشکوکه په یوه کي مکروه او په یوه کي پاکه ده، د صاحبینو په نز بغیره شکه پاکه ده او په دغه باندي د ځینو علماؤ عمل دی د سپي، خنزیر، او درنده حیوانانو پسخورده ناپاکه ده د درنده مرغانو پسخورده او د هغو پسخورده چي په کورو کي اوسیږي لکه مار، لړم، موږک، چرمښکی، پیشي او آزاده چرګه وغیره . مکروه ده، که چیري پیشي موږک وخوري او فوراً یي اوبه وڅښلي نو ناپاکي سوې که یي موږک تیرکړ او خپله خوله یي صفا کړه نومکروه ده، د خچر او خره پسخورده مکروه ده، د هر هغه شي د خولي حکم د پسخوردې دی مګر د خره د پسخوردې د مشهوره روایت مطابق پاکه ده دغه ډول قدوري ذکر کړی دی او شمس الائمه ویلي دي چي ناپاکه ده مګر دا چي په کالو او بدن کي ضرورتاً عفوه کړل سوي ده، د خرې شیدي د ظاهر روایت مطابق مرداري دي او د امام محمد رحمه الله څخه روایت دی چي پاکي دي مګر خوړل کیږي نه او دغه صحیح دی .

تشریح: د یو شي د خوړلو وروسته چي په لوښي کي هغه شی باقي پاته سي هغه ته پسخورده ویل کیږي د دې په کتب فقهه کي پنځه قسمونه دي، ۱ بالاتفاق پاکه، ۲ بالاتفاق ناپاکه، ۳ مشکوکه، ۴ مکروه، ۵ مختلف فیه، نو د انسان پسخورده د ټولو آئمهؤ په نز بالاتفاق پاکه ده که څه هم دا انسان خپله ناپاک او کافر وي ولې چي د پسخوردې پاکي او ناپاکي د ناړو په پاکېدو او ناپاکېدو باندي منحصره ده ناړي د غوښو څخه پیدا کیږي، د انسان غوښه پاکه ده نو ناړي هم پاکي دي او په پسخورده کي چونکي د ناړو اجزاء شاملیږي نو د دې لپاره د پاکو اجزاو په خلط سره پسخورده هم د اول په مثل پاکه ده په دې ځینو اوقاتو دا اشکال واردیږي چي د مشرکینو په باره کي خدای تعالی ویلي دي (اِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ) چي کله مشرکین نجس سوه نو د کافر انسان پسخورده څه ډول پاکېدی سي؟ فقهاء کرام جوابًا وایي چي دلته مراد د نجاست څخه حقیقي نه دی بلکي نجاست معنوي او

اعتقادي يعني شرک وکفر مراد دی لکه څنګه چي الله تعالی په يو بل مقام کي د بت پرستی مردار ګڼلو سره ويلي دي (فَاجۡتَنِبُوا الرِّجۡسَ مِنَ الۡاَوۡثَانِ) مختصر دا چي مشرکين او کفار په معنوي ډول باندي نجس دي او پسخورده د نجاست حقيقي په وجه نجسه کيږي پر دې بنا که چيري څوک شراب وڅښي او بغير د څه تامله فوراً ير څه وخوري نو د هغه په پسخورده کي د نجاست حقيقي اجزا شاميلدو په وجه دا پسخورده ناپاکه ده که څه هم مسلمان وي او که کافر، دغه ډول چونکي ماکول اللحم د حيوانانو غوښه هم پاکه ده نو د هغه څخه پيدا کيدونکي ناړي هم پاکي سوې او پسخورده هم پاکه ده، د آس په پسخورده کي اګر چي مختلف روايات نقل کيږي مګر صحيح قول دادی چي پاکه ده او په دغه باندي د ټولو علماؤ متاخرينو فتوی ده، د سپي ،خنزير او نورو درنده حيوانانو لکه شير، زمری وغيره غوښي مرداريدو په وجه پسخورده يي هم نجسه ده، د غره رينده ګان لکه شاهين، کارګه وغيره دغه ډول په کورو کي د انسانانو سره سکونت کولو والا، د حشرات الارض وغيره لکه مار، لړم او چرمبنکی او موږک وغيره پسخورده مکروه ده ولي چي شاهين او د هغه په مثل نور مرغان صرف په مشوکه سره اوبه څښي او د هغه ناړي اوبو ته نه رسيږي او کراهيت صرف د احتمال د وجي څخه دی چي کيدی سي چي په هغه ناړي ګډي سوي وي او د سواکِنِ البيوتو پسخورده که څه هم د قاعدې په اعتبار نجس کيدل يې ضروري وه ولي چي د هغو غوښه او ناړه ناپاکه ده، مګر بيا هم د نجسکيدو په ځای د مکروه حکم د دې لپاره ورکول سوی دی، د هغه څخه د خوراک څښاک شيان کما حقه ساتل مشکل دي لکه څنګه چي د پيشي په باره کي د حديث کبشه بنت کعب کي عليه السلام د دې علت بيان کړی دی" انها من الطوافين عليكم والطوافات" امام ابو يوسف رحمه الله د دې حديث په رڼا کي د پيشي پسخورده حلاله ګڼي د خره او د خچر د پسخوردې په طهوريت کي شک دی، د

صحیح روایت مطابق خپله د دوی په طهارت کي هیڅ شک نسته، لهٰذا که چیري په کپړو وغیره باندي ولګیږي نو هغه نه نجسي کیږي، د هر شي خوله دي د هغه د پسخوردې په حکم کي وکتل سي چي هر څه حکم وي هغه د خولې حکم دی مثلاً د انسان پسخورده پاکه ده نو د هغه خوله هم پاکه ده او د شیر، زمري وغیره پسخورده چي نجسه ده نو خوله یي هم نجسه ده، فقهاء کرامو چي د خره او خچر په پسخورده کي هم شک دی د هغوی په نز د خره او خچر خوله هم پاکه ده ولي چي علیه السلام مبارک د عربو پر ګرم ریګستانو کي په خره او خچر باندي سوارلی کړي ده، د علیه السلام څخه دا هیڅ وخت هم نه ده ثابته چي د خره یا خچر څخه دکښته کېدو وروسته ده مبارک بدن یا کالي پرېولي وي۔

وَاِنْ اَصَابَ الثَّوْبَ شَيْءٌ مِّنَ السُّوْرِ الْمَكْرُوْهِ لَايَمْنَعُ الصَّلٰوةَ اِنْ فَحُشَ وَاِنْ اَصَابَ الثَّوْبُ مِنَ السُّؤْرِ الْمَشْكُوْكِ لَايَمْنَعُ اَيْضًا وَرُوِىَ عَنْ اَبِیْ يُوْسُفَ اَنَّهُ قَالَ يَمْنَعُ اِذَا فُحُشَ بِنَآءً عَلٰى اَنَّهُ نَجِسٌ نِجَاسَةً خَفِيْفَةً وَالصَّحِيْحُ اَنَّ الشَّكَّ فِیْ طُهُوْرِيَّتِهٖ لَافِیْ طَهَارَتِهٖ وَاِنْ اَصَابَ الثَّوْبَ مِنَ السُّؤْرِ النَّجِسِ يَمْنَعُ جَوَازَ الصَّلٰوةِ كَسُؤْرِ الْكَلْبِ وَنَحْوِهٖ اِذَا زَادَ عَلٰى قَدْرِ الدِّرْهَمِ وَالْاَصْلُ فِيْهِ اَنَّ النِّجَاسَةَ الْغَلِيْظَ اِذَا كَانَتْ قَدْرَ الدِّرْهَمِ اَوْدُوْنَهُ فَهِیَ عَفْوٌ لَايَمْنَعُ جَوَازَ الصَّلٰوةِ عِنْدَنَا وَعِنْدَ زُفَرَ وَالشَّافِعِیِّ تَمْنَعُ جَوَازَ الصَّلٰوةِ وَاِنْ قَلَّتْ وَيَنْبَغِیْ اَنْ يُّغْسَلَ وَاِنْ كَانَتْ اَقَلَّ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ حَتّٰى اَنَّ الثَّوْبَ اِذَا اَصَابَتْهُ مِنَ النِّجَاسَةِ الْغَلِيْظَةِ اَقَلَّ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ وَلَمْ يَغْسِلْهَا ثُمَّ اَصَابَهُ نِجَاسَةٌ غَلِيْظَةٌ مِقْدَارُ مَالَوْ جُمِعَتْ بِتِلْكَ النِّجَاسَةِ يَصِيْرُ اَكْثَرَ مِنْ قَدْرِ

الدِّرْهَمِ مَنَعَتْ جَوَازَ الصَّلٰوةِ بِالْاِجْمَاعِ وَقَدْ رُوِىَ عَنْ اَبِيْحَنِيْفَةَ اَنَّهُ غَسَلَ ثَوْبَهُ مِنْ قَطْرَةِ دَمٍ اَصَابَتْهُ.

ژباړه: که چېري مکروه پسخورده په کالو باندي ولګېږي نو لمونځ نه نسي منع کوي که څه هم زياته سي، او که د شکمني پسخوردې ور ورسيږي نو هم لمونځ نه منع کوي، د امام يوسف رحمه الله څخه روايت سوی دی چي کله زياته سي نو منع کوي يې ولي چي دا نجاست خفيفه دی او صحيح دادی چي شک د دې په پاکولو کي دی خپله په پاکېدو کي نه دی، که چېري په کالو ناپاکه پسخورده لکه د سپي وغيره ولګيږي او د يوه درهم څخه زياته سي نو لمونځ منع کوي په دې کي قاعده داده چي نجاست غليظه چي کله په قدر د درهم يا د دې څخه کمه نو معاف دی د لمانځه جواز نه منع کوي زمونږ په نز او د امام زفر وشافعي په نز جواز د لمانځه منع کوي که څه هم کمه وي، مناسبه ده چي پرې يولي که څه هم د درهم د مقدار څخه کم وي تر دې پوري چي کله په کالو نجاست غليظه د درهم تر مقداره کمه ولګيږي او نه يې پريولی د دغه وروسته بيا نجاست غليظه باندي لګيږي په دومره مقدار کي که چېري هغه د ابل نجاست سره يي جمع کړي نو د درهم تر مقدار څخه زياتيږي نو بالاجماع د لمانځه جواز منع کوي او يقينًا د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله څخه روايت سوی دی چي هغه خپل کالي په يوه څاڅکيويني لګيدو سره هم پريولي.

تشريح: مکروه پسخورده پاکه ده، صرف دا چي د مکروه اوبو استعمال د پاکو اوبو په موجودګی کي بهتر نه دي، د امام کرخي رحمه الله د تحقيق مطابق دا کراهت تنزيهي دی په احاديثو مبارکو سره هم د دې تائيد کيږي د دې لپاره که چېري مکروه پسخورده په کالو ولګيږي که څه هم زياته وي نو لمونځ جائز دی دغه ډول مشکوکه پسخورده هم پاکه ده او شک في نفسه د دې په پاکی کي نه دی بلکي په دې کي

دی چي بل شی د دې په ذريعه سره پاکېدی سي که نه.

لکه څنګه چي په دې باندي مدلل بحث سوی دی، ناپاکه پسخورده لکه د سپي او شير وغيره که چېري په بدن يا په کالو باندي ولګېږي نو ودي کتل سي که چېري دا نجاست د يوه درهم په مقدار يا د هغه څخه کمه وي نو لمونځ جائز دی ولي چي د نجاست د قليل مقدار څخه احتراز مشکل دی د دې لپاره معاف دی او د قليل اندازه داده يعني د يوه درهم مقدار د حضرت عمر، حضرت علی او ابن مسعود رضي الله عنهم رنګه لوی اصحابو کرامو څخه نقل دی، که نجاست د يوه درهم څخه زيات سي يعني دا پسخورده زياته ولګيږي نو لمونځ نه دی جائز او د يوه درهم مقدار که څه هم معاف دی مګر بيا هم بهتره داده چي د دې نجاست په پرېوللو سره دي لمونځ وکړي لکه څنګه چي حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله يو څاڅکی د وينو به هم پرېنوی دغه د محتاطو خلکو شان دی.

ثُمَّ الدِّرْهَمُ الشَّهْلِيلِيُّ وَهُوَ مِثْلُ عَرْضِ الْكَفِّ قَالَ اَبُوْجَعْفَرٍ يُقَدَّرُ بِالْوَزْنِ فِي النِّجَاسَةِ الْمُتَجَسِّدَةِ كَالْعَذْرَةِ وَالدَّمِ وَالْمَنِيِّ وَالسِّرْقِيْنِ وَبِالْبَسْطِ وَالْعَرْضِ فِي النَّجَاسَةِ الرَّقِيْقَةِ كَالْبَوْلِ وَالْخَمْرِ.

ژباړه: نو درهم شهليلي درهم دی چي د ورغوي د پراخۍ په مقدار دی ابو جعفر رحمه الله ويلي دي چي د جسم والا په نجاست کي به د وزن څخه اندازه کيږي، لکه ګندګي، وينه، خاوره، مني، خوشايي او بل داسي شی، او نرم نجاست لکه بولي، شراب وغيره کي په غوړېدو او پراخۍ سره.

تشريح: په ماقبل عبارت کي دا بيان سوه چي قليل نجاست غليظه په مقدار د درهم معاف دی، نو اوس پوښتنه دا پيدا کيږي چي په مختلفو زمانو کي مختلف درهم رائج کيږي، نو کوم درهم په عفوه کي معتبر دی، مصنف رحمه الله ويلي دي چي

شهليلى درهم يعني د ملک شهليل درهم چي په پراخى، د لاس د ورغوي په مقدار معتبر منل کيږي، د امام محمد رحمه الله څخه په دې باره کي دوه قولونه نقل دي په يو قول کي امام محمد رحمه الله صرف د درهم ذکر کړى دى او بل دادى چي سخت نجاست چي کله د درهم د وزن برابر سي که غوړيدلى نه وي نو معاف دى که څېري تر دې زيات سي نو نه دى معاف او نرم نجاست لکه بولي که د درهم په مقدار وغوړيږي نو معاف دى تر دې که زيات سي نو نه دى معاف.

وَاِنْ اَصَابَ الثَّوْبَ دُهْنٌ نَجِسٌ اَقَلَّ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ ثُمَّ انْبَسَطَ قَالَ بَعْضُهُمْ يُعْتَبَرُ وَقْتُ الْاِصَابَةِ فَلَا يَمْنَعُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يَمْنَعُ وَبِهٖ يُؤْخَذُ وَاِنْ اَصَابَ الدُّهْنُ النَّجِسُ الْجِلْدَ وَتَشَرَّبَ اَوْ اَدْخَلَ يَدَهٗ فِي السَّمْنِ النَّجِسِ اَوِ الْمَرْءَةُ اِذَا اخْتَضَبَتْ بِالْحِنَّاۤءِ النَّجِسِ اَوِ الثَّوْبُ اِذَا صُبِغَ بِالصِّبْغِ النَّجِسِ ثُمَّ غَسَلَ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ طَهَرَ الْجِلْدُ وَالْيَدُ وَالثَّوْبُ وَاِنْ بَقِيَ اَثَرُ الدُّهْنِ وَالصِّبْغِ وَالْخِضَابِ وَمَاتَشَرَّبَ الْجِلْدُ فَهُوَ عَفْوٌ وَذُكِرَ فِي الْمُحِيْطِ يَطْهَرُ الثَّوْبُ بِشَرْطِ اَنْ يُّغْسَلَ حَتّٰى يَصْفُوَ الْمَاۤءُ وَيَسِيْلَ مِنْهُ الْمَاءُ الْاَبْيَضُ وَاِنْ غَسَلَ بِغَيْرِ خَرْضِ الْاَيْرٰى اِلٰى مَارُوِىَ عَنْ اَبِيْ يُوْسُفَ فِي الدُّهْنِ النَّجِسِ اَنَّهٗ اِذَاجُعِلَ الدُّهْنُ فِيْ اِنَاءٍ فُصُبَّ عَلَيْهِ الْمَاۤءُ فَيَعْلُوْ الدُّهْنُ فَيُرْفَعُ بِشَيْءٍ هٰكَذَا اِذَا فَعَلَ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ يُحْكَمُ بِطَهَارَةِ الدُّهْنِ وَفِي الذَّخِيْرَةِ رَجُلٌ اِدَّهَنَ رِجْلَيْهِ ثُمَّ تَوَضَّاَ وَغَسَلَ رِجْلَيْهِ فَلَمْ تَقْبَلِ الرِّجْلُ الْمَاۤءَ جَازَ وُضُوْءُ

ژباړه: که څېري په کالو باندي تر درهم کم ناپاک غوړي ولګيږي او وروسته وغوړيږي ځينو علماؤ ويلي دي چي د لګېدو د وخت اعتبار يې کيږي نو منع نه

کوي او ځينو ويلي دي چې منع کوي او په دغه باندي عمل کيږي، که ناپاکه غوړي پر بدن ولګيږي او هغه جذب سي يا په ناپاکه غوړو کي لاس واچوي او يوه ښځه ناپاک خضاب وکړي يا کالي چې کله په ناپاکه رنګ کي رنګ کړل سي تر هغه وروسته يې دري واره لاس پرېولي نو پوست، لاس او کالي پاکيږي که څه هم د غوړو، رنګ، او نکروزو اثر پاته وي او کوم چې يې پوست جذب کړي هغه معاف دی، په محيط کي دي چې کالي په دې شرط سره پاکيږي که د هغه څخه صافي اوبه توی سي او د هغه څخه سپيني اوبه وبهيږي که څه هم يې د اشنان بغيره يې پرېولي وي، ايا د امام يوسف رحمه الله روايت د ناپاکو غوړو په متعلق نه وليدل سو چې کله غوړي په يو لوښي کي واچوي په هغه باندي اوبه واچوي او د غوړو په پورته راتلو سره يې په يو شي سره را وباسي دغه ډول دري واره وکړي نو د غوړو د پاکېدو حکم کيږي، په ذخيره کي راغلي دي چې يو سړی پښي پرېولې او پښې اوبه نه کړي قبولي نو د هغه اودس جائز دی.

تشريح: که چېري په کالو باندي ناپاک تيل يا غوړي ولګيږي مګر د لګېدو په وخت کي د درهم تر مقدار کم وي او وروسته يا وغوړيږي نو د صحيح قول مطابق په دې کالو کي لمونځ نه دی جائز ولي چې د قواعدو شرعي وو څخه د لمانځه د وخت اعتبار کيږي د نجاست د لګيدو هيڅ اعتبار نسته.

دوهمه خبره داده چې په نجاست رقيقه کي د هغه شي پيمائش به کتل کيږي کوم چې په دې نجاست سره نجس سوی وي او په نجاست کثيفه کي خپله د نجاست اعتبار کيږي او مفتٰی به قول ته په اشاره کولو سره مصنف رحمه الله وويل" وبه يوخذ" يعنی د قول ثاني لمونځ نه دی جائز، په دې د فقهاء کرامو عمل جاري دی. دغه ډول نجس تيل چې کله په بدن ولګيږي يو څوک نجسي نکروزي ولګوي او دغه راز په پليت رنګ سره کالي رنګ کړي نو چې څومره ممکنه وي د هغو په کولو دي

وکړل سي چي د هغه مصنف رحمه الله دا ترکيب بنوولی دی چي هغه دي دريږ وار پريولي نو دغه مذکوره ياد سوي شيان ټول پاکيږي، دغه ډول د ناپاکو غوړو او تيلو پاکولو طريقه په يوه روايت کي د امام ابويوسف رحمه الله څخه ذکر سوي ده چي په يو غټ لوښي کي دا چولو وروسته تقريباً د غوړو د مقدار مطابق اوبه دي هم واچول سي نو غوړي به د اوبو په سطحه راپورته سي وروسته دي بيا په يوې کاچوغي سره د اوبو د سطحي څخه غوړي په يو بل لوښي کي دا علحده کي دا عمل په دريږ واره را ګرځولو سره غوړي پاکيږي، خاص د يخ په موسم کي خلک پر لاسو او پښو باندي مختلف ډول روغني شيان لګوي اوس که چيري د اوداسه په اعضاء وو تيل يا بل شی ولګوي او د هغه وروسته بيا اودس وکړي او د تيلو په وجه په جلد کي اوبه جذب نه سي صرف د پوست سرييره تېيږي نو بيا هم اودس کيږي ولي چي په اوداسه کي اعضاء د اوداسه ته اوبه رسول ضروري دي او په پوست کي د اوبو جذب کېدل فرض نه دي .

ثَوْبٌ مُبَدًّا اَصَابَهُ نَجَاسَةٌ اَقَلَّ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ فَنَفَذَتْ اِلٰى بِطَانَتِهٖ فَصَارَ اَكْثَرَ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ يَمْنَعُ جَوَازَ الصَّلٰوةِ وَاِذَا لُفَّ الثَّوْبُ الْمَبْلُوْلُ النَّجَسُ فِيْ ثَوْبٍ طَاهِرٍ يَابِسٍ فَظَهَرَتْ نَدَاوَتُهٗ عَلَى الطَّاهِرِ وَلٰكِنْ لَايَصِيْرُ رَطْبًا بِحَيْثُ لَوْ عُصِرَ لَايَسِيْلُ مِنْهُ شَيْءٌ وَلَايَتَقَاطَرُ وَالْاَصَحُّ اَنَّهٗ لَايَصِيْرُ نَجَسًا وَكَذَا الثَّوْبُ الطَّاهِرُ الْيَابِسُ اِذَا بُسِطَ عَلٰى اَرْضٍ نَجِسَةٍ رَطْبَةٍ وَاِنْ نَامَ عَلٰى فِرَاشٍ نَجِسٍ فَعَرِقَ وَابْتَلَّ الْفِرَاشُ مِنْ عَرَقِهٖ اِنْ لَمْ يُصِبْ بَلَلُ الْفِرَاشِ جَسَدَهٗ لَايَتَنَجَّسُ وَكَذَا اِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ وَمَشٰى عَلٰى لَبَدٍ نَجِسٍ وَكَذَا اِنْ مَشٰى عَلٰى اَرْضٍ نَجِسَةٍ فَابْتَلَّتِ الْاَرْضُ مِنْ بَلَلِ رِجْلَيْهِ

وَاسْوَدَّ وَجْهُ الْاَرْضِ لٰكِنْ لَّمْ يَظْهَرْ اَثَرُ الْبَلَلِ فِيْ رِجْلِهٖ جَازَتْ صَلٰوتُهٗ وَاِنْ صَارَتْ طِيْنًا رَطْبًا فَاَصَابَ رِجْلَهٗ لَاتَجُوْزُ الصَّلٰوةُ.

ژباړه: دوي کپړې سره ګنډل سوي وي نو تر مقدار کم نجاست وروررسېدی او دنني حصې ته په رسېدو سره په تګ کي د درهم څخه زيات سو نو د لمانځه جواز منع کوي، چي کله پاکه لنده کپړه په يو وچي پاکي کپړې کي ونغښتل سي او په پاکي کپړي کي د هغي لوندوالی ښکاره سي مګر دومره لنده نه وي که چېري ونښتيځل سي نو د هغې څخه يو څه تواېږي او نه څاڅکي کوي نو اصح خبره دادہ چي نه مرداريږي او دغه ډول چي کله پاکه وچه کپړه په ناپاکي لندې مځکي باندي وغوړول سي نو هم دغه خبره ده.

که په نجسي بسترې باندي څوک بيده سو او په هغه باندي خوله راغله نو د هغه په خولې سره بستره لنده سوه که چېري د بستري خيري د هغه بدن ته نه ورسيږي نو نه نجس کيږي ، دغه ډول د پښو پرېوللو وروسته که چېري په لنده نجسه کمبله روان سو دغسي که په نجسه مځکه روان سو او مځکه د هغو د پښو څخه لنده سوه او د مځکي سطحه توره سوه مګر د هغې د خيرو اثر په پښو نه سو ظاهر نو د هغه لمونځ جائز دی که چېري شوخړ جوړ سي او د هغه په پښو ولګېدی نو لمونځ نه دی جائز.

تشريح: يوه داسي کپړه چي د هغې لاندي استر وو که چېري تر درهم کم نجاست هغې ته ورسيږي مګر دا نجاست د کپړي څخه لاندي د استر وطرف ته تګ وکړي او چي پورته کښته دواړه نجاستونه يوځای کړل سي نو د درهم څخه زيات وي نو د امام محمد رحمه الله په نز په دې کپړه کي لمونځ نه دی جائز ولي چي د هغه په نز دا نجاست په دوو مختلفو ځايو کي لګېدلی دی د دې لپاره دا به جمع کيږي او د مقدار درهم څخه چي کله زيات سي نو په هغه کپړه کي لمونځ نه دی جائز.

البته امام یوسف رحمه الله وايي چي دا د یوه ځای دوه روخه دي د دې لپاره د جم
کیدو څخه بغیر د یوه ځای اعتبار به کیږي او یو ځای د درهم څخه کم دی د دې
لپاره لمونځ جائز دی، ځیني علماء وايي که چېري دا کپړه او استر مکمل ګنډلی وي
نو بالاتفاق لمونځ جائز دی، که نجسه کپړه په پاکو وچو کپړو کي را تاوله سي او د
نجسي کپړي نیمی په پاکو کپړو کي ظاهره سي مګر په دومره قلیل مقدار کي وي
که چېري دا پاکه کپړه ونستیځل سي نو د هغې څخه هیڅ نه توایږي نو په دې کي ک
څه هم د فقهاء کرامو یو څه اختلاف ضرور دی مګر د اصح قول مطابق په دومره
قلیل مقدار کي په نیمی راتلو سره کپړه نه مرداریږي ولي چي نجسه کپړه که د درو
وارو پریوللو وروسته چي کله دریم وار نستیځل کیږي نو تر دې نستیځلو وروسته
هم په هغه کپړه کي نیمی باقي یي مګر د دې نیمي ختمول اوس مشکل سو د دې
لپاره د کپړو د پاکېدو حکم ورکول کیږي، دغه ډول کله چي دا نجسه نیمی په پاکه
کپړې کي تګ وکړي او هغه د نستیځلو سره ختمول نه وي ممکن نو کپړه بحال خود
پاکه ګڼل کیږي، مګر صاحب غنیة المتملی د قول مطابق په دې مسئله مذکوره کي
دا حکم هلته دی چي کله د نجسي کپړي نجاست په ناپاکو اوبو سره وي که دا نجسه
کپړه په عین نجاست مثلاً د بولو څخه وي نو فقط په نیمي ظاهرېدو سره هم وچه
کپړه نجسه تصور کیږي، لکه څنګه چي یوه کپړه په بولو لنده وي او هغه بنه
ونستیږل سي چي نور هیڅ هم نه ووزي مګر بیا هم دا کپړه نجسه پاته ده .

مسئله د غور طلب ده د دې لپاره د فکر کولو ضرورت دی او دغه ډول هغه کپړه
هم پاکه ده چي په نجسي مځکي باندي واچول سي مګر د نجاست اثر په کپړه کي
ښکاره نه سي .

وَفِي الذَّخِيْرَةِ رَجُلٌ رَمِدَتْ عَيْنُهُ فَرَمِصَتْ فَاجْتَمَعَ رَمْصُهَا فِيْ جَانِبِ الْعَيْنِ يَجِبُ اَنْ يَتَكَلَّفَ فِيْ اِيْصَالِ الْمَآءِ اِنْ لَّمْ يَضُرَّهُ كَمَا يَجِبُ اَنْ يَّتَكَلَّفَ فِيْ اِيْصَالِ الْمَآءِ اِلَى الْمَاقِ فِيْ حَالَةِ الصِّحَّةِ ايضًا اِذَاصَبَّ الرَّجُلُ دُهْنًا فِيْ اُذُنِهِ فَمَكَثَ فِيْ دِمَاغِهِ يَوْمًا ثُمَّ خَرَجَ مِنْ اُذُنِهِ فَلَا وُضُوْءَ عَلَيْهِ وَاِنْ خَرَجَ مِنَ الْفَمِ فَعَلَيْهِ الْوُضُوْءُ وَاِنْ دَخَلَ فِيْ اُذُنِهِ مَآءٌ عِنْدَ الْاِغْتِسَالِ ثُمَّ خَرَجَ مِنْ اَنْفِهِ فَلَا وُضُوْءَ عَلَيْهِ الْقُرْحَةُ اِذَا بَرِءَتْ وَارْتَفَعَ قُشُرُهَا وَاطْرَافُ الْقُرْحَةِ مَوْصُوْلَةٌ بِالجِلْدِ اِلَّا الطَّرْفُ الَّذِيْ كَانَ يَخْرُجُ مِنْهُ الْقَيْحُ فَتَوَضَّاَ جَازَ وُضُوْءُ وَاِنْ لَّمْ يَصِلِ الْمَآءُ اِلٰى مَاتَحْتَهُ وَلَوْ تَوَضَّاَ ثُمَّ حَلَقَ رَاْسَهُ اَوْلِحْيَتَهُ اَوْقَلَّمَ اَظْفَارَهُ لَمْ يَجِبْ اِمْرَارُهُ عَلٰى تِلْكَ الْاَعْضَآءِ اَلْمَآءُ الَّذِيْ يَسِيْلُ مِنْ فَمِ النَّآئِمِ فَهُوَ طَاهِرٌ وَفِي الْمُحِيْطِ اَنَّهُ اِنْ جَفَّ وَبَقِيَ لَهُ اَثَرٌ فَهُوَ نَجَسٌ وَفِي الْمُلْتَقَطِ هُوَ طَاهِرٌ اِلَّا اِذَا عُلِمَ اَنَّهُ مِنَ الْجَوْفِ.

ژباړه: په ذخيره كي راغلي دي چي د چا سترګه وردردېدله او د هغي په كونج كي ګندګي جمع سوي وي نو هغه ته په تكليف سره اوبو رسول ضروري دي كه چېري ضرر نه رسوي، لكه څنګه چي په حالت صحت كي د سترګو كونجو ته په اوبو رسولو كي تكليف واجب دی، چي كله يو سړی په غوږ كي تيل واچوي بيا د يوې ورځي تيرولو وروسته د هغه د دماغ څخه را ووزي نو پر هغه اودس نسته كه چېري د پوزي څخه ووزي نو هم اودس نسته او كه چېري د خولې څخه ووزي نو په هغه باندي اودس سته، كه چېري د هغه په غوږ كي د غسل كولو په وخت كي اوبه داخلي سي بيا د پوزي څخه راووتي نو په هغه باندي اودس نسته، دانه چي كله جوړه سي او د

هغې خور لیري سي مګر د داني اطراف د پوست سره متصل دي هغه طرف د ک
ځخه چي نوونه بهیږي او هغه اودس وکړي نو د هغه اودس نه دی جائز اګر چي
هغه لاندي اوبه نه ورسیږي که چېري اودس نه وکړي بیا سر یا ږیره وخره یي یا
نوکان غڅي کړي نو په هغه اندامو باندي اوبو تیرول واجب نه دي، هغه اوبه چي
بیده انسان د خولې ځخه توایږي پاکي دي او په محیط کي دي که چېري وچي سي
او د هغو یوځه اثر باقي وي نو نجسي دي او په ملتقط کي راغلي دي چي هغه پاکي
دي مګر چي کله دا معلومه سي چي د نس له طرفه دي.

تشریح: د دردېدلو سترګو په کونجو کي په سپین شکل کي چي کومه ګندګي جمع کیږي د هغه لاندي اوبه رسول ضروري دي که ضرر نه وي لکه څنګه چي په حالت کي د صحت هم د دې اهتمام کول ضروري دي، د بیده انسان د خولې ځخه د بهیدو والا ناړه صفا ده مګر د ځینو علماؤ په نز په دې کي یو څه تفصیل دی که چېري دا ناړه د نس له طرفه ځخه وي یعني د معدې ځخه را پورته کیږي نو معده چونکي محل د نجاست ده د دې لپاره په دې صورت کي نجسه ده مګر د فتاوٰی بندیه مطابق مطلقًا پاکه ده، لعاب النائم طاهِرٌ سوآءٌ كان من الفمِ او منبعثًا من الجوف عند ابي حنيفة و محمد رحمهاالله تعالى. (فتاوٰی هندیه جلد نمبر۱ ص ۳۶)

وَاَمَّا النَّجَاسَةُ الْخَفِيْفَةُ كَبَوْلِ مَايُؤْكَلُ لَحْمُهُ فَاِنَّهَا مُقَدَّرَةٌ بِالْكَثِيْرِ الْفَاحِشِ وَرُوِیَ عَنْ اَبِيْحَنِيْفَةَ اَنَّهُ مُقَدَّرٌ بِشِبْرٍ فِيْ شِبْرٍ وَرُوِیَ عَنْ مُحَمَّدٍ اَنَّهُ يُعْتَبَرُ بِالرُّبْعِ ثُمَّ اخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِيْ كَيْفِيَّةِ اِعْتِبَارِ الرُّبْعِ فَقَالَ بَعْضُهُمْ رُبُعُ جَمِيْعِ الثَّوْبِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ اِنْ كَانَ ذَيْلًا فَرُبْعُ الذَّيْلِ وَاِنْ كَان دِخْرِيْصًا اَوْكُمًّا فَرُبْعُ الدِّخْرِيْصِ

وَالْكُمِّ اَرَادُوْبِهِ رُبُعُ ثُلُثِ الثَّوْبِ.

زباړه: نجاست خفیه لکه د ماکول اللحم حیوانانوبولي بیشکه دا نجاست خفیفه په زیادت سره مقدر کړل سوی دی، د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه روایت سوی دی چې بالبنت در بالبنت مقدر دی او د امام محمد رحمه الله څخه روایت دی چې د څلورمي څخه مقدر دی یا د علماء کیفت د ربعي په باره کي اختلاف دی نو ځینو ویلي دي چي که چېري لمن وي نو د لمن ربعه که ګریوان یا لستوڼی وي نو د ګریوان یا لستوڼي ربعه، او د دې څخه علماؤ د کالو ۳/۱ څلورمه حصه مراد اخیسته ده.

تشریح: نجاست غلیظه چي کله د یوه درهم د مقدار څخه زیات سي نو د هغه سره لمونځ نه دی جائز او نجاست خفیفه چي د هغه اقسام د دې باب په شروع کي بیان سوي دي چي کله دومره زیات سي چي د انسان طبیعت هغه مکروه ګڼي نو د هغه سره لمونځ نه دی جائز نو د نجاست خفیفه په مانع کي بغیر د څه مقداره دا مسئله د رائي متبلی باندي سپره ده البته ځینو فقهاء کرامو د احنافو څخه نجاست خفیفه او جواز صلوة یو څه مقدارونه نورهم ذکر کړی دي چي هغه په لاندي ډول دي:

۱: اول چي نجاست خفیفه د هر طرفه څخه د یوې لویشتي په مقدار سي.

۲: دوهم چي نجاست خفیفه د هر طرفه څخه د یوه شرعي ګز په مقدار سي.

۳: دریم چي نجاست خفیفه د څلورمي حصې څخه زیات سي.

صاحب هدایي د دغه قول توثیق کړی دی او دایي واضح ګڼلي ده، البته د علماؤ په نز په دې عبارت کي اختلاف دی چي د ټولي کپړي (۴/۱) حصه چي کله مرداره سي نو مانع د لمانځه ده یا صرف د دغه ځای (۴/۱) مراد ده کوم ته چي نجاست رسېدلی وي مثلاً که چېري لستوڼي ته نجاست خفیفه ولګېږي نو که چېري اول قول

معتبر ومنل سي نو مکمل لستوڼی د قمیص څلورمه حصه نه ده نو د دې قول مطابق
که چېرې پوره لستوڼی هم نجس وي نو لمونځ جائز دی، که چېرې دوهم قول معتبر
وګڼل سي نو به کتل کیږي که چېرې د لستوڼي د څلورمي څخه زیاته حصه نجس
وي نو لمونځ نه دی جائز، ځینو علماؤ ویلي دي چي د دې قول څخه مراد دادی چي
پوره کالي په درو حصو کي د تقسیمولو وروسته د دریمي حصې څلورم مقدار عفو
دی یعني د ټولي کپړي دا دوولسمه حصه سوه، دغه د مصنف رحمه الله په دې الفاظو
"ارادوا به ثلث الثواب" څخه مراد دی.

(شرط ثاني)

وَاَمَّا النَّجَاسَةُ الْخَفِيْفَةُ کَبَوْلِ مَايُؤْکَلُ لَحْمُهُ فَاِنَّهَا مُقَدَّرَةٌ بِالْکَثِيْرِ الْفَاحِشِ
وَرُوِیَ عَنْ اِبِیْحَنِيْفَةَ اَنَّهُ مُقَدَّرٌ بِشِبْرٍ فِیْ شِبْرٍ وَرُوِیَ عَنْ مُحَمَّدٍ اَنَّهُ يُعْتَبَرُ بِالرُّبْعِ
ثُمَّ اخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِیْ کَيْفِيَّةِ اِعْتِبَارِ الرُّبْعِ فَقَالَ بَعْضُهُمْ رُبْعُ جَمِيْعِ الثَّوْبِ
وَقَالَ بَعْضُهُمْ اِنْ کَانَ ذَيْلًا فَرُبْعُ الذَّيْلِ وَاِنْ کَان دِخْرِيْصًا اَوْکُمًّا فَرُبْعُ الدِّخْرِيْصِ
اَوِالْکُمِّ اَرَادُوْبِهِ رُبْعُ ثُلُثِ الثَّوْبِ.

ژباړه: دوهم شرط د نجاستو څخه طهارت دی، نو په لمونځ کونکي باندي واجب
دی چي خپل بدن، کالي او د لمانځه د ځای څخه نجاست لیري کړي او څه رنګه چي
په خالصو اوبو سره د هغه لیري کول جائز دي دغه ډول اوبه غیري خالصي او هر
بهیدونکی شی په کوم سره چي د نجاست لیري والی ممکن وي لکه سرکه او شربت
یا بل شي سره جائز دی، دغه ډول په ځینو مواقعو کي په خاوره او اور سره هم جائز
دی، چي کله په چاړه یا د پسه په سر وینه ولګیږي او په اور کي یې داخلي کړي او
وسوزله نو سر او چاړه پاک سول دغه ډول که چېري په چاړه وینه ولګیږي او ...

خاوره سره یې مسحه کړه نو پاکه سوه، د امام محمد رحمه الله څخه روایت دی چې کله د مسافر په لاس نجاست ولګیږي نو ویلي یې دي چې په خاوره دي مسحه کړي، دغه ډول چې کله په موزې د جسم والا نجاست ولګیږي نو ابو یوسف رحمه الله څخه روایت دی چې هغه ویلي دي په خاوره یا په ریګ سره دي ښه وموږي نو پاکي سوې، په دغه باندي زموږ د علماؤ فتوی ده او په محیط کي ذکر دي که چړې د جسم والا نه وي لکه بولي، شراب نو بالاتفاق یې پریولل ضروري دي که لانده وي او که وچ.

امام ابو علی نسفي رحمه الله د امام ابوبکر محمد بن فضل رحمه الله څخه روایت کړی دی چې هغه ویلي دي چې کله څوک په ناپاکه خاوره یا ریګ باندي روان سي په هغه باندي څه خاوره یا ریګ ونښتی او د وچېدو وروسته یې په مځکه باندي کش کړ نو پاک سو، د امام ابو حنیفه رحمه الله په نز او دا راز د فقیه ابوجعفر هندوانی رحمه الله د ده او د دې په مثل د ابویوسف رحمه الله څخه روایت کړی دی مګر دا چې هغه وچېده شرط نه ګڼي.

تشریح: مصنف رحمه الله چې کله د شرط اول یعني طهارة من الحدث والجنابة د بیان څخه فارغه سو نو د شرط ثاني په شروع کولو سره وایي چې په لمونځ کونکي باندي فرض دي چې خپل ځان، کالي او چېرې چې لمونځ کوي هغه ځای د نجاست څخه پاک او صاف کي، دا نجاست حقیقي څه ډول دی په خالص اوبو سره لیري کیدی سي دغه ډول په غیر خالص اوبو لکه د میوو عصیر او سرکه وغیره سره هم لیري کولی سي د کوم بیان چې د اوبو په فصل کي سوی دی، چونکي اصل مقصد دادی چې نجاست هم لیري سي او د هغه اثر هم نه سي پاته نو هر ډول چې ممکن وي د جائز طریقه اختیارولای سي، دکوم مثال چې مصنف رحمه الله دا ورکړی دی که چېرې د ذبحي په حالت کي په چاړه یا د حیوان په سر دم مسفوح ولګیږي او هغه په اور کي واچول سي چې وینه وسوزي او د هغه اثر هم نه سي پاته نو دواړه پ کیږي ونې چې د

نجاست ذات او اثر دواړه ختم سول، دغه ډول که چېري ذي جرم نجاست په موزه ولګيږي نو د مفتی به قول مطابق که چېري هغه پر مځکه باندي ښه راکش کړل سي نو پاکيږي البته که چېري ذي جرم نه وي نو پرېولل يې ضروري دي، البته د امام ابوعلی نسفی رحمه الله د روايت په مطابق که چېري په نجسه خاوره يا ريګ باندي د تللو په وخت کي لړ نجسه خاوري يا ريګ باندي ومښلي او په وچيدو باندي پر مځکه راکش کړل سي نو دا هم پاک دی.

وَكَذَا يَجُوْزُ اِزَالَتُهَا بِالْحَكِّ وَالْحَتِّ وَالْفَرْكِ وَاَمَّا الْحَكُّ وَالْحَتُّ فَفِي الْخُفِّ اِذَا اَصَابَتْهُ نَجَاسَةٌ لَهَا جِرْمٌ فَيَبِسَتْ يَطْهُرُ بِالْحَكِّ وَالْحَتِّ عِنْدَ اَبِيْحَنِيْفَةَ وَاَبِيْ يُوْسُفَ خِلَافًا لِّمُحَمَّدٍ وَذُكِرَ فِي الْمُحِيْطِ اَنَّ مُحَمَّدًا رَجَعَ اِلٰى قَوْلِهِمَا بِالرَّيِّ لَمَّا رَاٰى عُمُوْمُ الْبَلْوٰى وَاِنِ انْتَضَحَ الْبَوْلُ مِثْلَ رُؤُسِ الْاِبَرِ فَذٰلِكَ لَيْسَ بِشَيْءٍ وَاَمَّا الْفَرْكُ فَفِي الْمَنِيِّ فَيَطْهُرُ الثَّوْبُ بِهِ اِذَا يَبِسَ وَكَذَا الْعُضْوُ بِالْحَتِّ وَاِنْ كَانَ الثَّوْبُ ذَا طَاقَيْنِ يَطْهُرُ بِالْفَرْكِ وَهُوَ الصَّحِيْحُ وَكَذَا بِاللَّحْسِ اِذَا اَصَابَ الْخَمْرُ يَدَهُ فَلَحِسَهُ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ تَطْهُرُ بِرِيْقِهٖ كَمَا يَطْهُرُ فَمُهُ بِرِيْقِهٖ.

ژباړه: دغه ډول په ګورولو، مښولو او رژولو سره هم د دې ليري کول جائز دی، ګورول او رژول په موزه کي چي کله هغي ته ذي جرم نجاست ورسيږي نو د وچيدو وروسته د ابو حنيفه رحمه الله او ابويوسف رحمه الله په نز په ګورولو او موښولو سره پاکيږي، خلاف المحمد رحمه الله، په محيط کي راغلي دي چي امام محمد رحمه الله که په رايي مقام باندي عموم بلولی وليدی نو د دوی دواړو د قول و طرف ته يې رجوع کړي وه، که چېري د ستيني د سر برابر د بولو څاڅکي وسي نو د هغه هيڅ حيثيت

نسته، او موښول په منی کي دي نو په دې سره کالي پاکيږي چي کله وچي سي، دغه ډول اندام په ګورولو سره، که کپړې ډبل کالي وي نو صحيح داده چي په رژولو سره پاکيږي او دغه ډول په ښتلو سره چي کله د هغه په لاس شراب ولګېدل بيا هغه درې واره وښتي نو د هغه د ناړو ښخه پاکيږي لکه څنګه چي د هغه خوله د ناړي ښخه پاکيږي.

تشريح: لکه څنګه چي په اوبو او نورو مائعاتو سره دغه ډول په ګورولو او رژولو سره هم نجاست زائلېدی سي، د شيخينو په نز چي کله موزه نجسه سي او په نوک يا په بل شي سره دا نجاست ليري کړل سي او د نجاست اثر هم نسي پاته نو موزه پاکه سوه که چېري په دومره قليل مقدار کي د بولو څاڅکي په کالو ولګيږي لکه د ستنو سر د کوم چي په کالو کي هيڅ اثر نه وي معلوم نو دا د نجاست عدم په حکم کي دی مانع د لمانځه نه دی ولي چي مچان په ګندګۍ کښيني او د الوتلو وروسته د لمونځ کونکو په کالو باندي کښيني او د هغو په پښو باندي ضرور د نجاست رقيق اجزاء وي مګر د دې ښخه احتراز مشکل دی د دې لپاره په داسي قليل مقدار کي د کوم چي هيڅ اثر محسوس نه وي عفوه دی او وچه خاوره صرف په منښلو رژولو سره کالي ځيني پاکيږي البته د لندې خاوري پرېولل ضروري دي.

وَاَمَّا اِذَا اَصَابَ الثَّوْبُ النِّجَاسَةَ فَاِنْ كَانَتْ مَرْئِيَّةً فَطَهَارَتُهَا زَوَالُ عَيْنِهَا اِلَّا مَا يَشُقُّ وَاِنْ لَّمْ تَكُنْ مَرْئِيَّةً يَغْسِلُهَا حَتّٰى يَغْلِبَ عَلٰى ظَنِّهٖ اَنَّهٗ قَدْ طَهَرَ وَقِيْلَ اِذَا غُسِلَ مَرَّةً وَعُصِرَ بِالْمُبَالَغَةِ يَطْهُرُ وَقِيْلَ اِنَّهٗ لَايَطْهُرُ مَالَمْ يُغْسَلْ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ وَيُعْصَرْ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ وَالْفَتْوٰى عَلَى الْاَوَّلِ وَعَلٰى هٰذَا الْمَسَآئِلُ مِنْهَا مَارُوِيَ عَنْ اَبِيْ يُوْسُفَ اَنَّ الْجُنُبَ اِذَا اتَّزَرَ فِي الْحَمَّامِ وَصَبَّ الْمَآءَ عَلٰى جَسَدِهٖ مِنْ حَيْثُ الظَّهْرِ وَالْبَطْنِ حَتّٰى يَخْرُجَ مِنَ

الْجَنَابَةِ ثُمَّ صَبَّ الْمَآءَ عَلَى الْإِزَارِ يُحْكَمُ بِطَهَارَةِ الْإِزَارِ وَإِنْ لَمْ يَعْصِرْهُ وَقَالَ فِيْ مَوْضِعٍ اٰخَرَ إِذَا اَمَطَّ الْمَآءَ بِكَفَّيْهِ فَوْقَ الْإِزَارِ فَهُوَ اَحْسَنُ وَاَحْوَطُ وَفِى الْمُنْتَقٰى شُرِطَ الْعَصْرُ عَلٰى قَوْلِ اَبِىْ يُوْسُفَ اَيْضًا وَلَوْ اَصَابَ الْبَوْلُ ثَوْبَهُ فَغَمَسَهُ مَرَّةً فِيْ نَهْرٍ جَارٍ وَعَصَرَهُ يَطْهُرُ وَهٰذَا قَوْلُ اَبِىْ يُوْسُفَ اَيْضًا وَفِى الْاَصْلِ قَالَ يَغْسِلُهُ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ وَيَعْصِرُ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ وَعَنْ مُحَمَّدٍ اَنَّهُ يَغْسِلُهَا ثَلٰثَ مَرَّاتٍ وَيَعْصِرُ فِى الْمَرَّةِ الثَّالِثَةِ يَطْهُرُ فَفِيْ كُلِّ مَوْضِعٍ شُرِطَ الْعَصْرُ يَنْبَغِيْ اَنْ يُبَالِغَ فِى الْعَصْرِ حَتّٰى يُصِيْرُ الثَّوْبُ بِحَالٍ لَوْ عُصِرَ بَعْدَ ذٰلِكَ لَايَسِيْلُ مِنْهُ الْمَآءُ وَيُعْتَبَرُ فِيْ كُلِّ شَخْصٍ قُوَّتُهُ وَطَاقَتُهُ.

ژباړه: چي کله و کالو ته نجاست ورسيږي که چيري ليدل کيدی سي نو د دې طهارت نجاست ذات ليري کوی سي مگر د هغه چي ليري کول يې مشکل وي که چيري نه ليدل کيدی سي نو هغه دي دومره پرېولي چي غالب گمان يې سي چي پاک سو او ويل سوي دي چي کله يې يو وار پرېولي نو ښه دي ونيستيږي پاکيږي، او ويل سوي دي نه پاکيږي تر هغه وخته پوري چي درې واره يې نه پرېولي او هر وار دي نيستيږي مگر فتوی په اول قول ده، په دغه باندي يو څو مسئلې مبني دي او د هغو څخه دا چي د امام ابويوسف رحمه الله څخه روايت دی چي جنب سړی چي کله په حمام کي په لنګ وهلو سره په خپل بدن شاوخوا اوبه توی کړي تر دې پوري چي د نجاست څخه ووزي نو د هغه وروسته په لنګ باندي اوبه واچوي نو د لنګ د پاکېدو حکم به کيږي، که څه هم نه وي نيستيږل سوی، په دوهم ځای کي يې ويلي دي که چيري په لنګ باندي په ورغوو سره اوبه توی کړي نو دا ډېره بهتره او ښه ده، په منتقی کي راغلي دي چي نيستيږل دابو يوسف رحمه الله په قول هم شرط دي که چيري د

هغه په کالو بولي لګېدلي وي نو په جاري نهر کي يې يو وار غوټه کړل سي او وډي نيستيږي نو پاکيږي دغه ډول دا هم د ابويوسف رحمه الله قول دی او په مبسوط کي يې ويلي دي چي هغه دي دري واره پريولي، د امام محمد رحمه الله څخه روايت دی چي دريم واره دي ونيستيږي نو پاکيږي او هر وار نيستيږل شرط دي نو مناسب دی چي په نسيتيږلو کي ښه کوشش وکړي تر دې پوري چي کالي په داسي حالت کي سي چي تر هغه وروسته په نستيږلو سره اوبه نه سي توی او د هر سړي په نيستيږلو کي قوت او طاقت معتبر دی .

تشريح: مصنف په دې عبارت کي وايي چي د نجاست دوه قسمونه دي:

۱: نجاست مرئيه يعني هغه نجاست چي ذات يې ليدل کيږي او د پرېولو په وخت کي په نظر راځي نو د دې نجاست څخه طهارت هغه وخت حاصليږي چي د هغه ذات ختم سي البته چي کوم اثرات لکه رنګ او بوی د ښه پرېوللو وروسته هم باقي وي او په خالصو اوبو سره د هغو خاتمه ممکنه نه وي نو دي يو صابون يې د نورو لوازماتو اختيارولو ضرورت شرعًا نسته، مثلاً که چېري په کالو باندي وينه ولګيږي او په ښه طريقه سره د پرېولو باوجوده د هغه ژړ داغ د کالو څخه نه سي ختم نو هم کالي پاک سوه، که په يوه وار پرېوللو سره د نجاست ذات ختم سو نو بس دا کافي دی.

۲: نجاست غيرمرئيه يعني چي ذات يې نه ليدل کيږي لکه بولي نو د دې حکم دا دی چي دا نجاست دي دومره پرېولي چي غالب ګمان يې داوي چي اوس کالي پاک سوه، دغه ګمان غالب ځينو علماؤ دري واره او هر وار په نيستيږلو سره مقرر کړی دی او په نسيتيږلو کي ښه قوت خرڅول پکار دی چي کالي په داسي حالت کي سي چي تر هغه وروسته په نسيتيږلو سره څاڅکي نه توايږي البته په نيستيږلو کي د هر سړي د خپل قوت او طاقت اعتبار کيږي، د دې لپاره که چېري د يو سړي د نيستيږلو وروسته بيا بل سړی دغه کالي ونيستيږي او د هغه کالو څخه اوبه توی سي نو د

کالو په طهارت هيڅ اثر نه راځي .

وَفِيْ فَتَاوٰى اَبِي اللَّيْثِ خُفٌّ بِطَانَتُهُ سَاقِهِ مِنَ الْكِرْبَاسِ فَدَخَلَ فِيْ جَوْفِهِ مَآءٌ نَجِسٌ فَغَسَلَ الْخُفَّ وَدَلَكَهُ بِالْيَدِ ثُمَّ مَلَا الْمَآءَ الْخُفَّ ثَلَاثًا وَاَهْرَقَهُ اِلَّا اَنَّهُ لَمْ يَتَهَيَّأْ عَصْرُ الْكِرْبَاسِ فَقَدْ طَهَرَ الْخُفُّ لِاَنَّ جَرْيَانَ الْمَآءِ يَقُوْمُ مَقَامَ الْعَصْرِ وَرُوِيَ عَنْ اَبِي الْقَاسِمِ الصَّفَّارِ فِيْ رَجُلٍ يَسْتَنْجِيْ وَيَجْرِيْ مَآءُ الْاِسْتِنْجَاءِ تَحْتَ رِجْلَيْهِ وَلَيْسَ بِخُفَّيْهِ خِرْقٌ لَهُ اَنْ يُّصَلِّيَ مَعَ ذٰلِكَ الْخُفِّ لِاَنَّ بِالْمَآءِ الْاٰخِرِ يَطْهَرُ الْخُفُّ كَمَا يَطْهَرُ مَوْضِعُ الْاِسْتِنْجَآءِ وَفِي الْمُلْتَقَطِ اِنْ كَانَ خُفُّهُ مُنْخَرِقًا وَاَصَابَ الْمَآءُ رِجْلَهُ وَلِفَافَتَهُ رَجَوْتُ سِعَةَ الْاَمْرِ فِيْهِ اَلَا يَرٰى اَنَّ الْبِسَاطَ النَّجَسَ اِذَا جُعِلَ فِيْ نَهْرٍ جَارٍ وَتُرِكَ فِيْهِ يَوْمًا وَّلَيْلَةً حَتّٰى جَرَى الْمَآءُ عَلَيْهِ يَطْهُرُ.

ژباړه: په فتاوٰی ابو الليث کي راغلي دي چي د موزې استر که د کالو وو او په هغه کي نجسي اوبه داخلي سوي نو موزه يي پرېولله او وې موږل د هغه وروسته درې واره د اوبو ډکه کړه او توی يې کړه نو موزه پاکه سوه ولي چي د اوبو جريان د نيستيږلو قائم مقام دی او د ابوالقاسم صفار څخه روايت سوی دی چي يو سړی استنجاء وهي او د استنجاء اوبه د هغه تر پښو لاندي کيږي او د هغه موزه څيري نه وي نو هغه ته جائز دی چي په موزه کي لمونځ وکړي ولي چي اخر د اوبو سره موضع استنجاء په مثل موزه هم پاکه سوه او په ملتقط کي دي که چېري موزه څيري وه او اوبه پښي او استر ته ورسيږي نو په دې کي د وسعت اميد لرم، ولي تاسو نه ګورئ چي نجسه چټايي چي په جاري نهر کي واچول سي او په هغه کي يوه ورځ او شپه پاته وي چي په هغې اوبه وبهيږي نو پاکيږي .

تشريح: مصنف رحمه الله دلته څه د طهارت بيان کوي چې په هغه کي د مشکل په وجه نيستيږل ضروري نه دي، که چېري د هغه په موزه کي د سوري په ذريعه نجسي اوبه داخلي سي او د لاندي د استر کالي نجس سي نو د لوړ ځخه بنه پرېوللو وروسته په دې موزي کي درې واره اوبه واچول سي او بيا دي توئ کړل سي نو موزه پاکه سوه او اوبه تويول د نيستيږلو قائم مقام سو او دا موزه د نيستيږلو بغير ددې لپاره پاکه سوه چي د لاندي لګېدلي استر نيستيږل مشکل دي لکه څنګه چي په چټايي کي نيستيږل چونکي مشکل دي د دې لپاره فقط په جاري اوبو کي د اچولو وروسته چي کله په هغې باندي يوه ورځ او شپه اوبه جاري وي نو بغير د نيستيږلو او بغير د وچېدلو پاکيږي ولي چي نجاست په اوبو سره ځي ،دغه ډول حکم په هغو ټولو شيانو کي دی چي د هغه نيستيږل سخت وي مګر دا ضروري ده چي تر هغه وروسته بيا د نجاست هيڅ اثر رنګ او بوی باقي نه سي پاته که چېري د دې باوجوده د نجاست اثر باقي وي نو د مشقت ترحده د هغه د اثر د ليري کولو کوشش پکار دی .

وَلَوْكَانَ عَلٰى يَدِهٖ نَجَاسَةٌ رَطْبَةٌ وَاَخَذَ عُرْوَةَ الْقُمْقُمَةِ كُلَّمَا صَبَّ الْمَآءَ فَاِذَا غَسَلَ يَدَهُ ثَلٰثًا طَهَرَتِ الْيَدُ وَالْعُرْوَةُ الْحَصِيْرُ مِنْ قَصَبٍ اِذَا اَصَابَهُ نَجَاسَةٌ فَجَفَّتْ يُدْلَکُ ثُمَّ يُغْسَلُ ثَلٰثًا وَاِنْ كَانَتْ رَطْبَةً يُغْسَلُ ثَلٰثًا وَلَايَحْتَاجُ اِلٰى شَیْءٍ اٰخَرَ وَاِنْ كَانَ الْحَصِيْرُ مِنْ بَرْدِيٍّ وَمَا اَشْبَهَ ذٰلِکَ يُغْسَلُ ثَلٰثًا وَيُجَفَّفُ فِیْ كُلِّ مَرَّةٍ فَاِنَّهٗ يَطْهُرُ عِنْدَ اَبِیْ يُوْسُفَ خِلَافًا لِّمُحَمَّدٍ وَفِی النَّوَازِلِ اِذَا اَصَابَتِ الْخَزَفَ اَوِالْاَنَآءَ اَوِالْاٰجُرَ نَجَاسَةٌ اِنْ كَانَ قَدِيْمًا يَطْهُرُ بِالْغَسْلِ ثَلٰثًا جُفِّفَ اَوْلَمْ يُجَفَّفْ وَاِنْ كَانَ جَدِيْدًا يُغْسَلُ ثَلٰثَ

مَرَّاتٍ وَيُجَفَّفُ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ وَذُكِرَ فِي الْمُحِيْطِ يُغْسَلُ مِقْدَارُ مَا يَقَعُ اَكْبَرُ رَأْيِهٖ اَنَّهُ قَدْ طَهُرَ وَاشْتَرَطَ مَعَ ذٰلِكَ اَنْ لَّا يُوْجَدَ مِنْهُ طَعْمُ النِّجَاسَةِ وَلَا لَوْنُهَا وَلَا رَائِحَتُهَا وَاِنْ وُجِدَ اَحَدُ هٰذِهِ الْاَشْيَآءِ لَا يَحْكُمُ بِطَهَارَتِهٖ وَعَلَيْهِ اَكْثَرُ الْمَشَائِخِ.

ژباړه: که چیرې د هغه په لاس باندې لوند نجاست وي او په لاس کې یې بدنې نیولې وي چې په هغه باندې اوبه تو ایدې نو دغه ډول یې درې واره لاس پرېولی نو لاس او د بدنۍ دسته پاکه سوه، یو چټایي نجسه سوه بیا وچه سوه نو ودې ګوروي بیا دې درې واره پرېولې که چیرې لنده وي نو درې واره دې پرېولې د دې بغیر د بل شي ضرورت نسته، او که چیرې چټایي د مزرې وي یا د دې په مثل د بل شي څخه جوړه وي نو درې واره دې پرېولې او هر وار دې وچه کړې نو د امام ابویوسف رحمه الله په نز پاکیږي بخلاف د امام محمد رحمه الله او په نوازل کې دې که کله ټکروو، په لوښو یا پخې خښتې باندې چې نجاست ولګیږي که چیرې اوبه ژړې وي نو په درې واره پرېولو سره پاکیږي که وچ یې او که نه یې، که چیرې نوی وي نو درې واره دې پریولل سي او هر وار دې وچ کړل سي او په محیط کې راغلي دي چې دومره دې پریولل سي چې غالب ګمان یې داسي چې پاک سو او د دې سره دا شرط هم دی چې د دې سره د نجاست یو څه اثر خوند، رنګ، او بوی نه سي محسوس که چیرې د دې درو څخه یو هم محسوس سي نو د طهارت حکم نه ورکول کیږي او په دې باندې اکثره مشائخ دي .

تشریح: که چیرې یو څوک په لاس کې بدنۍ را واخلي روان سي او د هغه په لاس باندې نجاست وي که لوند وي او که وچ او د بدنۍ څخه د هغه په لاس باندې اوبه تو ایږې نو چې کله اوبه په هغه باندې تو ایږې هغه خپل لاس پرېولي او دا عمل یې درې واره وکړ او د لاس څخه د نجاست اثر ختم سو نو لاس او د بدنۍ دسته دواړه

پاک سوه، د نرکلو په چټايي چي کله نجاست ولګيږي نو چونکي نرکل سخت دي او نجاست د هغه دننهتګ نه سي کولای نو فقط په دري واره پريوللو سره چټايي پاکيږي که چيري چټايي د مزر وغيره يعني د هغه شيانو څخه جوړه سوی وي په کوم کي چي نجاست جذب کيږي لکه د چټايي بان وغيره نو د هر وار پريوللو وروسته وچول ضروري دي، دغه ډول د خاورو پاخه لوښي او خښتي چي کله نوي يي نو د هغو سوريان خلاص يي او په هغو کي نجاست جذب کيږي نو د نجسيدلو وروسته په دري واره پريولو سره هر وار وچول ضروري دي که چيري ژړي وي نو چونکي د هغو سوري بندي وي ځکه په هغو کي نجاست نه جذب کيږي نو فقط په پريوللو سره د وچولو بغير هم پاکيږي.

وَلَوْ مُوِّهَ الْحَدِيْدُ بِالْمَآءِ النَّجِسِ يُمَوَّهُ بِالْمَآءِ الطَّاهِرِ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ فَيَطْهُرُ وَذُكِرَ فِي الْمُحِيْطِ عَنْ شَمْسِ الْاَئِمَّةِ السَّرْخِسِيِّ الْاَرْضُ إِذَا جُفِّفَتْ وَلَمْ يَتَبَيَّنْ اَثَرُ النَّجَاسَةِ فِيْهَا تَطْهُرُ سَوَآءٌ وَقَعَ عَلَيْهِ الشَّمْسُ اَوْلَمْ تَقَعْ وَكَذَا الْحَصٰى اِذَا تَنَجَّسَتْ وَجَفَّتْ وَذَهَبَ اَثَرُهَا تَطْهُرُ اَيْضًا اِذَا كَانَتْ مُتَدَاخِلًا فِيْ الْاَرْضِ وَلَوْكَانَتِ النَّجَاسَةُ تَحْتَ قَدَمَيْهِ وَتَحْتَ كُلِّ قَدَمٍ اَقَلَّ قَدْرِ الدِّرْهَمِ وَلٰكِنْ لَوْ جُمِعَ يَبْلُغُ اَكْثَرَ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ لَايَجُوْزُ صَلٰوتُهُ بِهِ وَلَوْكَانَتْ فِيْ مَوْضِعِ السَّجْدَةِ اَقَلَّ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ وَتَحْتَ قَدَمَيْهِ اَقَلَّ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ فَكَذٰلِكَ اَيْضًا ذَكَرَهُ فِي الْفَتَاوٰى كَذَا الثِّيْلُ وَالْحَشِيْشُ وَمَايَنْبُتُ فِي الْاَرْضِ مَادَامَ قَائِمًا عَلَى الْاَرْضِ يَطْهُرُ بِالْجَفَافِ مُطْلَقًا ذَكَرَهُ الزَّنْدَوِيْسِتِّي وَعَنْ مُحَمَّدِبْنِ الْفَضْلِ الْحِمَارُ اِذَا بَالَ فِي الْمَشْبَكَةِ وَوَقَعَ عَلَيْهَا

الطَّلُّ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ وَوَقَعَ عَلَيْهَا الشَّمْسُ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ فَقَدْ طَهَرَ وَكَذَا الْحَجَرُ وَالْآجُرُّ اِذَاكَانَ مَفْرُوْشًا يَطْهَرُ بِالْجَفَافِ وَاَمَّا اِنْ كَانَتْ مَوْضُوْعَةً تَنْقُلُ وَتَحَوَّلُ لَابُدَّ مِنَ الْغُسْلِ وَكَذَا اللِّبْنَةُ اِذَاكَانَتْ مَفْرُوْشَةً جَازَتِ الصَّلٰوةُ عَلَيْهَا بَعْدَ الْجَفَافِ وَذُكِرَ فِيْ مَوْضِعٍ اٰخَرَ اِذَاكَانَتِ الْحَجَرُ تَشَرَّبَتِ النِّجَاسَةَ تَطْهَرُ بِالْجَفَافِ وَاِنْكَانَتْ مَاتَشَرَّبَتْ لَاتَطْهَرُ اِلَّا بِالْغُسْلِ.

ژباړه: که چېري اوسپني ته يې مرداري اوبه ورکړې نو په درو وارو پاکو اوبو ورکولو سره پاکيږي او په محيط کي د شمس الائمه سرخسي څخه منقول دي چي مځکه کله وچه سي او په هغه کي د نجاست اثر ظاهر نه وي نو پاکيږي که په هغې باندي لمر راغلی وي او که نه، دغه ډول باجرې چي کله نجس سي او په وچيدو سره د هغه اثر ختم سي نو پاکيږي.

که چېري نجاست د هغه تر دواړو قدمو لاندي وي او د هر قدم لاندي د درهم تر مقدار کم وي مګر که چي سره يوځای سي نو د درهم څخه زيات مقدار ته رسيږي نو د هغه لمونځ نه دی جائز، که چېري د سجدې په ځای کي د درهم څخه کم وي او د دواړو قدمو لاندي هم د درهم څخه کم وو نو دغه ډول حکم دی دا په فتاوی کي مذکور دي، دغه ډول وابنه، بناخلې او هغه شيان چي په مځکه کي شنه کيږي تر هغه وخته پوري چي په مځکه قائم وي نو صرف په وچيدو سره پاکيږي، دا زندويستی ذکرکړی دي، د محمد بن فضل رحمه الله څخه روايت دی چي خر کله په وبنو کي بولي وکړي او په هغه باندي درې واره شبنم وسي او درې ورځي لمر باندي وي نو پاک سو دغه ډول ډبره او پخه خښته چي کله په فرش لګېدلي وي نو په وچيدو سره پاکيږي که چېري صرف يوځای پرتې وي د کوم څخه چي نقل او حرکت کېدی سي

نو پریوللـ یې ضروري دي، دغه ډول کچه (اومه) خښته چي کله په فرش کي وي نو د وچیدو وروسته په هغې باندي لمونځ جائز دی او په بل ځای کي ذکر دي چي ډېره کله د نجاست جذب کولو والا وي نو په وچیدو سره پاکیږي که چېري یې نه جذب کوي نو نه پاکیږي مګر په پریوللو سره.

تشریح: د اوسپنو لوښوته د ښائست لپاره چمکداره اوبه ورکول کیږي نو مصنف رحمه الله وایي که چېري اوسپني ته نجسي اوبه ورکړل سوې نو درې واره دغه اوبه چي د ښائست لپاره ورکول کیږي چي کله پاکي اوبه ورکول سي نو دا لوښی پاک تصور کیږي، مګر صاحب کبیر لیکلي دي چي دا مسئله فقط د لمانځه په صورت کي ده، که د چا سره د لمانځه په دوران کي دا لوښی وي چي هغه نجسي اوبه ورکول سوي وي نو د هغه سره لمونځ نه دی جائز، دغه ډول که چېري چاړې ته مثلاً نجسي اوبه ورکول سوي وي او د درې واره پریوللو وروسته په دې چاړه سره یوه میوه یا سبزي یا غوښه وغیره پرې سي نو دا شیان نه نجس کیږي، او په مځکه کي یا هغه ډبري او پخي خښتي چي په مځکه کي په پاخه ډول لګېدلي وي چي کله وچي سي که په لمر وي او که په هوا سره او د نجاست هیڅ اثر نسي پاته نو پاکیږي او په دې لمونځ جائز دی، دغه ډول وچ یا شنه واښه چي کله نجس سي نو په شبنم کېدو یا وچیدو سره پاکیږي ولي چي تر څه وخته پوري پر مځکه ولاړ وي د هغې تابع دي.

اَلْمَآءُ وَالتُّرَابُ اِذَا خُلِطَا وَكَانَ اَحَدُهُمَا نَجَسًا فَالطِّيْنُ نَجَسٌ وَقِيْلَ الْعِبْرَةُ لِلْمَآءِ وَقِيْلَ لِلتُّرَابِ وَقِيْلَ لِلْغَالِبِ وَالطِّيْنُ النَّجَسُ اِذَا جُعِلَ مِنْهُ الْكُوْزُ اَوِ الْقِدْرُ فَطُبِخَ يَكُوْنُ طَاهِرًا وَلَوْ اُحْرِقَتِ الْعَذَرَةُ وَالرَّوْثُ فَصَارَ رِمَادًا اَوْمَاتَ الْحِمَارُ فِي الْمِلْحِ فَصَارَ مِلْحًا اَوْ وَقَعَ الرَّوْثُ فِي الْبِئْرِ فَصَارَ حَمْأَةً زَالَتْ نَجَاسَتُهُ وَطَهُرَ عِنْدَ مُحَمَّدٍ خِلَافًا لِاَبِيْ

يُوْسُفَ حَتّٰى لَوْ اُكِلَ الْمِلْحُ وَصُلِّيَ عَلٰى ذٰلِكَ الرِّمَادِ جَازَتْ وَلَوْ وُقِعَ ذٰلِكَ الرِّمَادُ فِي الْمَآءِ الصَّحِيْحِ اَنَّهٗ يَتَنَجَّسُ وَكَذَا الْاٰجُرُ يَطْهَرُ بِالْغَسْلِ ثَلٰثًا وَالْجِفَافُ ظَاهِرُهٗ حَتّٰى لَوْ وَقَعَتْ قِطْعَةٌ مِّنْهُ فِي الْمَآءِ يَتَنَجَّسُ كَذَا ذَكَرَهٗ فِي الْمُحِيْطِ.

ژباړه: اوبه او خاوره چي کله سره ګډ سي او د هغوی څخه يو نجس وي نو ختهه نجسه کيږي نو ځينو ويلي دي چي اوبه متعبري دي او ځينو ويلي دي چي خاوره معتبره ده، او ځينو ويلي دي چي اعتبار د غالب دی يعني چي هريو ډېروي، په ناپاکه ختهه سره بدنۍ يا ديګ جوړولو وروسته چي کله پاخه کړل سي، او که چېري اور ګندګي يا نجاست وسوزي او ايره سي، يا خر په مالګه باندي مړ سي او مالګه سي، يا نجاست په څاه کي ولوېږي او وروسته ختمي سي او نجاست ختم سو نو دا پاک دی د امام محمد رحمه الله په نز، بخلاف د امام ابويوسف رحمه الله تر دې پوري که چېري مالګه وخوړل سوه او يا په دې ايرې باندي لمونځ وکړل سو نو جائز دی او که چېري دا ايره په اوبو کي ولوېږي نو صحيح دی چي مرداريږي، دغه ډول پخه خښته په درې واره پريوللو سره پاکيږي، او په وچ سره فقط ظاهر طرف تر دې پوري که چېري د دې يوه ټکره په اوبو کي وليږي نو نجسه دي، دغه ډول په محيط کي ذکر سوي دي.

تشريح: د ختمي جوړولو لپاره خاوره او اوبه پکار دي مګر چي کله د هغو څخه يو يعني خاوره يا اوبه نجس وي نو د دې ختمي څه حکم دی؟ په دې باره کي د فقهاء کرامو مختلف اقوال دي چي هغه مصنف رحمه الله په متن کي مختصر بيان کړي دي مګر صاحب فتح القدير حافظ ابن الهمام ويلي دي چي دلته به د پاکۍ په اعتبار کولو سره د ختمي پاکولو حکم ورکول کيږي، او امام بزازي رحمه الله ويلي دي چي دغه قول د امام محمد رحمه الله دی او په دغه باندي فتویٰ هم ده، دغه ډول که چېري د نجسي ختمي څخه لوښی جوړکړل سي او هغه پوخ کړي نو په پخيدو سره دا لوښی

پاکيږي كه څه هم د دوى ختيه نجسه وه مګر دا ضروري دى چي د پخيدو وروسته په هغوى باندي د نجاست اثر نه وي دغه ډول چي كله د نجاست خپل حقيقت بدل سي مثلاً د متخلف قسمو ګندګى په سوزيدو سره ايره جوړه سي يا د مالګي په كانو كي يا يو حيوان هلاک سي په مالګه بدل سي نو د دې مالګي خوړل او په ايرې باندي لمونځ كول درست دي ، دغه قول مفتٰى به هم دى، د امام يوسف رحمه الله په نز باندي نه دى درست د دې لپاره د مصنف رحمه الله دا قول كه چيري دا ايراه په اوبو كي ولويږي نو اوبه نجسي كيږي صرف د امام يوسف رحمه الله په قول صحيح كيدى سي ولي چي د امام محمد رحمه الله په نز چي كله هغه ته د طهارت حكم وركړل سو نو د پاک شي په اوبو كي د لوېدلو سره اوبه نه مرداريږي .

حِمَارٌ بَالَ فِي الْمَآءِ فَاَصَابَ مِنْ ذٰلِکَ الرَّشِّ ثَوْبَ اِنْسَانٍ لَايَمْنَعُ جَوَازَ الصَّلٰوةِ حَتّٰى يَسْتَيْقِنَ اَنَّهُ بَوْلٌ وَبِهٖ اَخَذَ الْفَقِيْهُ اَبُو اللَّيْثِ وَفِيْ فَتَاوٰى قَاضِيْخَانَ اِذَا اَبَالَ حِمَارٌ فِيْ مَآءٍ رَاكِدٍ فَاَصَابَ الرَّشُّ اَكْثَرُ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ يَمْنَعُ وَذُكِرَ عَنْ مُحَمَّدِبْنِ الْفَضْلِ اَنَّهُ اِذَاكَانَ فِيْ رِجْلِ الْفَرَسِ نَجَاسَةٌ نَحْوُ السِّرْقِيْنِ فَمَشٰى فِي الْمَآءِ فَاَصَابَ ثَوْبَ الرَّاكِبِ صَارَ الثَّوْبُ نَجِسًا سَوَآءٌ كَانَ الْمَآءُ رَاكِدًا اَوْجَارِيًا وَاِنْ لَّمْ يَكُنْ فِيْ رِجْلِهٖ نَجَاسَةٌ فَلَا يَضُرُّهُ وَسُئِلَ اَبُوْ نَصْرِ الدِّبَاسِ عَمَّنْ يَغْسِلُ الدَّابَةَ فَيُصِيْبُهُ مِنْ ذٰلِکَ الْمَآءِ اَوْمِنْ عَرَقِهَا قَالَ لَايَضُرُّهُ اَيْضًا قِيْلَ لَهُ وَاِنْكَانَتْ قَدْ تَمَرَّغَتْ فِيْ بَوْلِهَا وَرَوْثِهَا قَالَ اِذَا جَفَّتْ وَتَنَاثَرَتْ وَذَهَبَ عَنْهَا اَثَرُهَا لَايَضُرُّهُ اَيْضًا وَذُكِرَ فِي الذَّخِيْرَةِ اِذَا اُلْقِيَ الْحَجَرُ الْمُتَلَطِّخُ بِالعَذِرَةِ فِي الْمَآءِ الْجَارِيْ فَارْتَفَعَتْ قَطَرَاتٌ فَاَصَابَ ثَوْبَ

اِنْسَانٍ اَكْثَرَ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ قَالَ اَبُوْبَكْرٍ لَايَجِبُ غَسْلُهُ اِلَّا اَنْ يَّظْهَرَ فِيْهِ لَوْنُ النَّجَاسَةِ وَقَالَ نَصِيْرٌ يَجِبُ عَلَيْهِ غَسْلُهُ وَصَلّٰى وَمَعَ شَعْرُ اِنْسَانٍ اَكْثَرَ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ جَازَتِ الصَّلٰوةُ وَبِهٖ اَخَذَ الْفَقِيْهُ اَبُوْ جَعْفَرٍ وَاَبُوْ الْقَاسِمِ الصَّفَّارِ وَعَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ اَنَّهٗ لَاتُجُوْزُ وَبِهٖ اَخَذَ نَصِيْرٌ.

ژباړه: خر چي کله په اوبو کي بولي وکړي او ښاخکي د انسان په کالو باندي ولګيږي نو د لمانځه جواز نه منع کوي تر هغه وخته پوري چي يقين نه وي چي دا بولي دي او دا د فقيه ابوالليث فتوی ده، په فتاوی قاضي خان کي راغلي دي چي کله خر په ولاړو اوبو کي بولي وکړي او په کالو باندي د اوبو ښاخکي وسي نو منعه کوي يې د محمد بن فضل رحمه الله څخه روايت دي چي کله د آس په پښو کي نجاست وي لکه ګوبر او خوشائي او په اوبو کي تېرسي او د سپور په کالو باندي ښاخکي ولګيدل نو کالي نجس سوه که اوبه ولاړي وي او که جاري وي، که چيري د هغه په پښو کي نجاست نه وي نو بيا تاوان نه کوي، د ابو نصردباس څخه پوښتنه د يو سړي په باره کي پوښتنه وکړه چي يو سپور حيوان لمبه وي نو د هغه په کالو باندي دا اوبه يا د دې خوله ولګيږي نو څه حکم يې دی؟ ده ورته وويل چي دا مضر نه دی، بيا يوچا پوښتنه وکړه که چيري هغه په بولو او ګوبرو کي ختلی وي نو څه حکم يې دی؟ ده وويل چي کله وچ سي او ځان وسنډي او د هغه څخه د نجاست اثر ختم سي نو هم مضر نه دی، په ذخيره کي ذکرسوي دي چي کله يوه ګنده ډبره په جاري اوبو کي وغورځول سي او د هغه څخه ښاخکي وغورځيږي بيا د يوسړي د کالو ته د يو درهم د مقدار څخه زيات ولګيږي نو ابوبکر ويلي دي چي د هغه پريولل واجب نه دي مګر نه چي د ګندګی رنګ په کالو کي ظاهر سي، او نصير رحمه الله وايي چي پريولل يې

واجب دي، که چېرې د يوځا سره د لمانځه په دوران کې د يوه درهم مقدار څخه زيات د انسان وربښتان ورسره وي نولمونځ جائز دى او په دغه باندي د فقيه ابوجعفر او ابو قاسم صفار فتوٰى ده او د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله څخه روايت دی چې نه دی جائز او په دغه قول باندي د نصير رحمه الله فتوٰى دی .

تشريح: کله چې خر په اوبه کي بولي وکړي او څاڅکي پورته سي د چا په کالو باندي ولګيږي نو د دې کالو په نجس يا په نه نجس کيدو کي د علماء وو اختلاف دی، امام فقيه ابو الليث سمرقندي رحمه الله وايي چې په دې څاڅکو سره کالي نه مرداريږي تر هغه وخته پوري چې د دې خبري يقين نه وي چې دا څاڅکی د بولو دی ولي چې کالي په يقيني ډول پاک دي او يقين په شک سره نه زائليږي او دغه مفتٰی به قول دی او قاضي خان ويلي دي چې کله په ولاړو اوبو کي بولي وکړي نو د هغه څخه غورځېدلي څاڅکي په هر صورت نجس دي، که په اوبو کي کله خر بولي وکړي نو هغه اوبه خپله هم نجسي کيږي، دغه ډول که چېرې د لمانځه په دوران کي د چا په جيب وغيره کي د انسان وربښتان وي نو د دې سره د صحيح قول مطابق لمونځ کول جائز دی او د امام ابو حنيفه رحمه الله څخه يو شاذ روايت دا هم دی چې جائز نه دی مګر دا قول صحيح نه دی ولي چې کله د مردار حيوان وربښتان هم پاک دي نو د انسان وربښتان څنګه نجس کيدی سي .

وَجِرَّةُ الْبَعِيْرِ كَسِرْ قِيْنِهِ وَمِرَارَةُ كُلِّ حَيَوَانٍ كَبَوْلِهِ اِذَا وَقَعَ جِلْدُ اِنْسَانٍ فِى الْمَآءِ اِنْ كَانَ مِقْدَارُ الظُّفُرِ فَسَدَهُ وَفِىْ اَسْنَانِ الْاٰدَمِىِّ اِخْتِلَافُ الْمَشَايِخِ وَفِىْ فَتَاوٰى الْبَقَّالِىِّ قِطْعَةُ جِلْدِ كَلْبٍ اَلْتَزَقَ بِجَرَاحَةٍ فِى الرَّأْسِ يُعِيْدُ مَاصَلّٰى بِهِ وَاِنْ صَلّٰى وَمَعَهُ سِنَّوْرٌ اَوْحَيَّةٌ تَجُوْزُ بِخِلَافِ جَزْوِ الْكَلْبِ وَاِذَا لَحِسَتِ الْهِرَّةُ كَفَّ رَجُلٍ يُكْرَهُ لَهُ اَنْ يَدَعَهَا

تَفْعَلُ ذٰلِکَ لِاَنَّ رِیْقُهَا مَکْرُوهٌ وَکَذَا یَکْرَهُ اَنْ یَّاْکُلَ اَوْیَشْرَبَ مَابَقِیَ مِنْهَا وَذُکِرَ فِی مَوْضِعٍ اٰخَرَ اَنَّهَا اِنْ لَحِسَتْ عُضْوَ اِنْسَانٍ فَصَلّٰی قَبْلَ اَنْ یَّغْسِلَ جَازَ وَالْاَوْلٰی اَنْ یَّغْسِلَهُ.

ژباړه: د اوبښ شوخړ د هغه د خوشايو په مثل دی او د هرحيوان تګ د هغه د بولو په مثل دی که چېري د انسان پوست په اوبو کي ولويږي که څه هم د نوک په مقدار وي نو فاسده وي يي او د انسان په غابنو کي د علماء وو اختلاف دی او په فتاوی بقالي کي راغلي دي چي د سپي پوست که چېري د سر په زخم ولګوي نو د هغه لمانځه اعاده دي وکړي که يې د هغه سره لمونځ کړي وي، که د لمانځه په وخت کي د هغه سره پيشي يا مار وي نو جائز دی، په خلاف د سپي د بچي او چي کله پيشي د انسان ورغوی وڅټي نو د هغه لپاره مکروه دی چي هغه يي د ا داکولو يعني څټلو ته پريږدي ولي چي د هغه ناړي مکروه دي او دغه ډول د هغه پسخورده خوړل او څښل هم مکروه دي او په يو بل ځای کي مذکور دي که چېري د يوه انسان يو اندام وڅټي او د پريوللو تر مخه هغه لمونځ وکړي نو جائز دی او بهتره داده چي هغه پريولي.

تشريح: اوبښ، غوايي، پسه او نور حيوانان چي کله خوراک کوي نو په يو ځای کي په آرامه سره په کښېني نستلو سره د معدې څخه يې بيرته راوباسي او په خُله کي يې را وړي او په زامو باندي د ښه ميده کولو وروسته يي بيا خوري، دې ته په عربي کي جرة او په اُردو کي پوټها وايي، مصنف رحمه الله وايي د دې حيوانانو د ګوبر چي کوم حکم دی هغه د دوی د شوخړ هم دی، ولي چي د شوخړ هم د محل نجست يعني د نس له طرف څخه راځي او د پته حکم د بولو په مثل دی، يعني نجس دی ولي چي په دې کي فاسدي مادې يي او د انسان د غابښ په باره کي ظاهر مذهب

دغه دی چي پاک دی .

په تیرو زمانو کي د سر د زخمو یو قسم علاج دا وو چي په هغو به يي د سپي پوستکوی نو هغه به د پلستر رنګه په هغه زخم مښتی او لږ وخت وروسته به زخم جوړ سو، اوس مصنف رحمه الله وايي که چېري چا په ډول د علاج په سر د سپی پوست کښېښووی او داپوست مدبوغ نه وي نو د نجاست په وجه د دې پوست سره لمونځ نه دی جائز او د کړي لمونځو اعاده ضروري ده، که چېري څوک د لمانځه په وخت کي پيشي يا مار را واخلي د ځان سره يې وساتي نو لمونځ جائز دی. ولي چي د هغوی ناړي نجسي نه دي او د سپي د هغه په مثل نور حیوانان د کومو ناړي چي نجسي وي په هغه سره لمونځ نه دی جائز، که چېري د پيشي سره عادت وي او د دې سره بازی کوي او د ورغوي یا د جسم بله حصه څټل شروع کړي نو پيشي څټلو ته پرېښودل مکروه دی ولي چي د دې هغه ناړي مکروه دي مګر که چېري د څټلو وروسته څوک بغیر د پرېوللو د دې سره لمونځ وکړي نو جائز دی البته پرېولل يې بهترینه خبره ده .

وَفِي الذَّخِيْرَةِ اِذَاكَانَتِ النَّجَاسَةُ فِيْ مَوْضِعِ الْاِسْتِنْجَآءِ اَكْثَرَ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ فَاسْتَجْمَرَ بِثَلٰثَةِ اَحْجَارٍ وَاَنْقَهُ وَلَمْ يَغْسِلْهُ بِالْمَآءِ قَالَ الْفَقِيْهُ اَبُو اللَّيْثِ فِيْ فَتَاوٰهُ يَجْزِيْهِ وَبِهٖ نَاْخُذُ الرَّجُلُ اِذَا اسْتَنْجٰى بِالْمَآءِ وَخَرَجَ مِنْهُ رِيْحٌ قَبْلَ اَنْ يَّيْبَسَ هَلْ يَتَنَجَّسُ مِنَ الْيَتَيْهِ الْمَوْضِعُ الَّذِيْ تَمُرُّ بِهِ الرِّيْحُ اَمْ لَا اِخْتَلَفَ الْمَشَائِخُ فِيْهِ الْاَصَحُّ اَنَّهُ لَايَتَنَجَّسُ وَذُكِرَ فِيْ مَوْضِعٍ اٰخَرَ يَجِبُ عَلَيْهِ اَنْ يُّعِيْدَ الْاِسْتِنْجَآءَ لِاَنَّهُ لَمَّا خَرَجَ

مِنْهُ الرِّيحُ يَخْرُجُ الْمَآءُ الَّذِىْ دَخَلَ وَقْتَ الْاِسْتِنْجَآءِ وَكَذَا اِذَا لَبِسَ سَرَاوِيْلَهُ مُبْتَلًّا فَخَرَجَ مِنْهُ الرِّيحُ حَيْثُ لَايَتَنَجَّسُ السَّرَاوِيْلُ.

ژباړه: په ذخيره کي راغلي دي چي کله نجاست د استنجاء په ځای کي د يوه درهم څخه زيات وي بيايي په درو ډبرو سره صفايي وکړه او نه يې پريولی نو فقيه ابو الليث سمرقندي رحمه الله په خپل فتاوی کي ويلي دي چي جائز دی او په دغه باندي زموږ عمل دی، چي کله يو سړی په اوبو استنجاء ووهي او د وچيدو ترمخه د هغه څخه هوا خارجه سي ايا د هغه د هغه ځای څخه په کوم چي هوا تيره سوي ده ناپاکيږي که نه؟ په دې کي د علماوو اختلاف دی اصح خبره داده چي نه نجس کيږي، او په دوهم ځای کي مذکوردي چي په هغه باندي واجب دی چي دوباره استنجاء ووهي ولي چي کله هوا ووزي نو هغه اوبه چي په استنجاء سره داخلي سوي وي هغه هم ووتي او دغه ډول چي کله يې لوند پرتوګ واغوستی بيا د هغه څخه هوا خارجه سوه نو په دې وخت کي پرتوګ نه مرداريږي.

تشريح: صاحب ذخيره د فقيه ابو الليث سمرقندي رحمه الله دا فتوی نقل کړي ده چي که څه هم د استنجاء په ځای کي نجاست د مقدار درهم څخه زيات سی بيا هم فقط په لوټو يا ريګني ډبرو سره که چيري موضع د استنجاء صفا کړل سي نو کافي دی او په اوبو سره پرېولل په وجوبی ډول نه دي البته مستحب او ضروري دي مګر دا حکم هلته دی چي صرف معتاد فضله خارجه سي که چيري د دې څخه علاوه غير معتاد فضله خارجه سي يعنی ګندګي لکه وينه وغيره خارج سي نو پرېولل يې واجب دي دغه ډول که چيري موضوع استنجاء په اوبو سره د پريولو وروسته د وچيدو د مخه هوا خارجه سي نو د اصح قول مطابق په کوم ځای چي هوا تيره سوي وي هغه نه مرداريږي، ځينو فقهاء کرامو دا احتمال قائمه وي چي کله دا هوا ووزي نو

استنجاء وهلو په وخت کي داخلي سوي او به هم ورسره راوزي او هغه خو نجسي دي د دې لپاره دوباره استنجاء وهل ضروري دي مګر دا فقط يو احتمال دی ولي چي د استنجاء په وخت کي د اوبو دومره مقدار نه داخليږي د کوم چي د هوا سره خروج وسي هغه خو فقط احتمال دی او يقين په شرک سره نه زائليږي نو طهارت يقيني دی فقط په احتمال سره نه زائليږي .

وَاِذَا ارْتَفَعَ بُخَارُ الْكَنِيْفِ اَوِالْمَرْبَطِ فَاسْتَجْمَدَ فِي الْكُوَّةِ اَوْفِي الْبَابِ ثُمَّ ذَابَ فَاَصَابَ ثَوْبَهُ يَتَنَجَّسُ كَلْبٌ مَشٰى عَلَى الطِّيْنِ فَوَضَعَ رَجُلٌ قَدَمَهُ عَلٰى ذٰلِكَ الطِّيْنِ يَتَنَجَّسُ وَكَذَا اِذَا مَشٰى عَلَى الثَّلْجِ وَالثَّلْجُ رَطْبٌ وَاِنْكَانَ الثَّلْجُ جَامِدًا فَهُوَ طَاهِرٌ الْكَلْبُ اِذَا اَخَذَ عُضْوَ اِنْسَانٍ اَوْ ثَوْبَهُ لَايَتَنَجَّسُ مَالَمْ يَظْهَرْ فِيْهِ الْبَلَلُ سَوَآءٌ كَانَ الْكَلْبُ رَاضِيًا اَوْغَضْبَانَ الْكَلْبُ اِذَا اَكَلَ بَعْضَ عُنْقُوْدِ الْعِنَبِ يُغْسَلُ مَااَصَابَ فَمَهُ ثَلٰثًا وَيُؤْكَلُ وَكَذَا يُغْسَلُ بَعْدَ يُبْسِ الْعُنْقُوْدِ وَلَوْ عَصَرَ الْعِنَبَ فَاَدْمٰى رِجْلَهُ وَسَالَ الدَّمُ عَلَى الْعَصِيْرِ وَالْعَصِيْرُ يَسِيْلُ وَلَايَظْهَرُ اَثَرُ الدَّمِ فِيْهِ لَايَتَنَجَّسُ وَهٰذَا قَوْلُ اَبِيْحَنِيْفَةَ وَاَبِيْ يُوْسُفَ كَمَافِي الْمَآءِ الْجَارِيْ ذَكَرَهُ فِي الْمُحِيْطِ.

ژباړه: چي کله د پاخانې يا د ګندګۍ بخار پورته سي په روښندان يا پر دروازه باندي جمع سی او بيا را کښته سي د هغه پر کالو باندي نو نجسي کيږي، سپی چي کله په ختو کي تېر سو او سړي په هغه کي خپل قدم کښي ښوو ی نو نجس کيږي، دغه ډول چي کله په يخي کي تېر سي او يخی ويلي وي او که چېري يخی سخت وي نو پاک دی او سپی چي کله د انسان اندام يا کالي ونيسي نو نجس کيږي نه تر هغه وخته پوري چي په هغه کي تاثير ښکاره نه سي که سپی راضي وي او که په قهر وي،

چي کله سپی د انګورو د غونچې يو څه حصه وخوري نو ترکوم ځای پوري چي د سپی خوله رسېدلي وي نو د هغه وروسته دي درې واره پرېولي او ودي خوړل سي، دغه ډول د غونچې وچېدلو وروسته دي هم پرېولي، که چېري يي انګور وزوېښل او د هغه ېښه په وينو سوه او وينه د انګورو په شربت وبهيده او شربت بهېږي په هغه د ويني اثر نه وي ظاهر نو د امام ابو حنيفه رحمه الله او ابويوسف رحمه الله د قول مطابق نه نجس کيږي لکه څنګه چي دا مسئله د جاري اوبو په حکم کي هم ده، دا په محيط کي ذکرسوي دي.

تشريح: د انسان ګندګي يا د حيوانانو د خوشايو څخه پورته کېدونکی بُخار د جمع کېدو وروسته که چېري په بدن يا په کالو باندي ولګيږي نو چونکي د هغه ټول اجزای نجس دي د دې لپاره بدن او کالي نجس کوي چونکي د ځينو فقهاؤ په نِز سپی نجس العين دی د دې لپاره که چېري هغه په ختو يا په بل لانده شي کي تېرسي او تر هغه وروسته انسان په هغه ختو کي تير سي يا هغه شی مسحه کړي نو هغه هم نجس کيږي، مګر د اصح قول مطابق سپی نجس العين نه دی د دې لپاره فقط د سپي د جسم په لګېدو سره دا شيان نه مرداريږي، دغه ډول که چېري سپی د انسان يو اندام يا کالي ونيسي تر هغه وخته پوري چي تاثيرې ښکاره نه سي نو نجس نه دی ولي چي يقين په شک سره نه زائليږي دغه ډول که چېري سپی په خوراک کي خوله واچوي نو د احنافو رحمه الله په نِز په درې واره پرېوللو سره پاکيږي او د آئمه ثلاثه وو په نِز په اووه واره پرېوللو سره چي په هغه کي يو وار په خاوري سره پرېولل ضروري دي.

وَاِنْ تَوَضَّا بِالْمَآءِ الْمَشْكُوْكِ اَوْ بِالْمَآءِ الْمَكْرُوْهِ ثُمَّ وَجَدَ مَآءً خَالِصًا لَيْسَ عَلَيْهِ غَسْلُ مَا اَصَابَهُ وَاَمَّا مَا لَزِقَ مِنَ الدَّمِ السَّآئِلِ بِاللَّحْمِ فَهُوَ نَجَسٌ وَمَا بَقِيَ فِي اللَّحْمِ

لَيْسَ بِنَجَسٍ وَذُكِرَ فِي الْمُحِيْطِ وَرَآَيْتُ فِيْ بَعْضِ الْكُتُبِ اَلطِّحَالُ وَالْقَلْبُ اِذَا شُقَّ
فَخَرَجَ مِنْهُ دَمٌ لَيْسَ بِسَائِلٍ فَلَيْسَ بِشَيْءٍ وَقَالَ فِي الْمُلْتَقَطِ وَلَوْ صَلّٰى وَهُوَ حَامِلُ
رَجُلٍ شَهِيْدٍ وَعَلَيْ دِمَآءُهُ يَجُوْزُ صَلٰوتُهُ وَقَالَ فِيْ مَوْضِعٍ اٰخَرَ اِمْرءَةٌ صَلَّتْ وَهِيَ حَامِلَةٌ
صَبِيٍّ وَثَوْبُ الصَّبِيِّ نَجَسٌ جَازَتْ صَلٰوتُهَا اِذَا اُصْلِحَ مَصَارِيْنُ شَاةٍ مَيْتَةٍ فَصَلّٰى بِهَا
جَازَتْ صَلٰوتُهُ وَلَوْ صَلّٰى وَمَعَهُ فَارَةُ مَسْكٍ يَعْنِى النَّافِجَةُ جَازَتْ صَلٰوتُهُ اِمْرَاءَةٌ صَلَّتْ
وَمَعَهَا صَبِيٌّ مَيِّتٌ فَاِنْ كَانَ لَمْ يَسْتَهِلَّ عِنْدَ وَلَادَتِهٖ فَصَلٰوتُهَا فَاسِدَةٌ سَوَآءٌ غُسِلَ
اَوْلَمْ يُغْسَلُ وَكَذٰالِكَ اِنِ اسْتَهَلَّ وَلَمْ يُغْسَلُ وَاَمَّا اِنْ كَانَ قَدِ اسْتَهَلَّ وَغُسِلَ
فَصَلٰوتُهَا تَآمَّةٌ ذَكَرَهُ فِي الْعُيُوْنِ.

ژباړه: که چېري په مشکوکو یا په مکروه اوبو سره اودس وکړي د هغه وروسته بي خالصي پاکي اوبه پيدا کړي نو دوهم وار د هغه ځايو پريولل دي کوم چي اول شکوکي اوبه یا مکروه اوبه ور رسيدلي وي، د بهيدونکو وينو څخه کوم چي د غوښي سره پاته سي هغه نجسي نه دي، په محيط کي ذکر سوي دي چي ما په ځينو کتابو کي ليدلي دي چي تلي او زړه چي کله څيري کړل سي او د هغو څخه بهدونکي وينه ونه وزي نو د هغه هيڅ حيثيت نسته او په ملتقط کي راغلي دي که لمونځ کوونکي يو شهيد اخيستی وي او په هغه باندي د هغه شهيد وينه ولګيږي نو د هغه لمونځ جائز دی، په دوهم ځای کي يې ويلي دي چي يوې ښځي د لمانځه په وخت کي د نجس کالو والا کوچنی پورته کړی وي نو د هغې لمونځ جائز دی، د مړه پسه د کولمو د پاکولو وروسته که چېري څوک په هغه سره لمونځ وکړي نو جائز دی، که د لمانځه په وخت کي د هغه سره د مشک تيل وي نو د هغه لمونځ جائز دی.

یوې ښځې لمونځ کوی او د هغې سره مړ کوچنی وو که چېرې کوچنی د پیدائش په وخت کې اواز نه وي کړی نو د هغې لمونځ فاسد دی که غسل یې ورکړی وي او که نه، دغه ډول که چېرې دغه کوچني اواز وکړ او غسل یې نه وي ورکړی، که چېرې یې اواز کړی وو او غسل یې هم ورکړی وو نو د هغې لمونځ کامل دی او دا مسئله په عیون کې هم ذکر ده .

تشریح: په مشکوکو یا مکروه اوبو سره د اودس کولو وروسته که چېرې خالصې اوبه یعني په کومو کې چې شک او کراهیت نه وي پیدا سي نو په دې سره دوباره اودس کول واجب نه دي البته مستحب دي، او دم مسفوح یعني هغه ویني چې د رګو څخه بهیږي د دې علاوه په وینه کې پاته سوي وینه نجسه نه ده، دغه ډول د شهید وینه چې کله د وجود مبارک سره یې متصله وي نو نجسه نه ده، که چېرې دي هغه د جسم څخه علحده سي نو د نورو وینو په مثل دا هم نجسه ده، دغه ډول که چېرې د نجسو کالو والا کوچنی د یو لمونځ کونکي څخه چاپیره سي نو لمونځ نه فاسدیږي البته هغه خپله پورته کول جائز نه دي او صاحب محیط ذکر کړي دي چې ما په ځینو کتابو کې دا مسئله لیدلي ده چې د تلي او زړه غیر سائله وینه خپله نجس نه کیدو په وجه نور شیان هم نه نجسه وي، او اصلي مشک د اوسي په نوه کې د وینو جمع کیدو څخه جوړیږي نو چونکې د هغه اصلي وینه ده او وینه نجسه ده د دې لپاره مصنف رحمه الله د دې وهم په لیري کولو سره یې وویل چې مشک نه دي نجس بلکې پاک دي، نو چې کله مشک خپله پاک وي نو د هغې نو هم نه دی نجس.

وَذُكِرَ فِي نَوَادِرِ اَبِي الْوَفَاءِ قَالَ يَعْقُوْبُ لَوْصَلّٰى فِيْ جِلْدِ خِنْزِيْرٍ مَذْبُوْحٍ جَازَ وَقَدْ اَسَاءَ وَقَالَ اَبُوْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٌ لَاتَجُوْزُ صَلٰوتُهُ فِيْهِ وَلَايَطْهُرُ بِالدِّبَاغَةِ وَلَوْ صَلّٰى وَمَعَهُ بِيْضَةٌ قَدْ صَارَ مَخُّهَا دَمًا تَجُوْزُ صَلٰوتُهُ وَلَوْ صلّٰى وَمَعَهُ قَارُوْرَةٌ فِيْهَا بَوْلٌ لَاتَجُوْزُ رَجُلٌ

مَلّٰى فِىْ ثَوْبٍ مَحْشُوٍ فَلَمَّا اَخْرَجَ حَشْوَهُ وَجَدَ فِيْهِ فَارَةً مَيْتَةً يَابِسَةً يَنْظُرُ اِنْكَانَ فِىْ ذٰلِكَ الثَّوْبِ خِرْقٌ اَوْ ثُقْبٌ يُعِيْدُ صَلَوٰتِ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ وَلَيَالِيْهَا وَاِلَّا يُعِيْدُ جَمِيْعَ مَاصَلّٰى بِذٰلِكَ الثَّوْبِ.

ژباړه: په نوادر ابی الوفاء کي راغلي دي چي یعقوب ویلي دي که چېري د خنزیر په دباغت کړل سوي پوست باندي لمونځ وکړي نو جائز دی مګر ګناهګار دی، امام ابوحنیفه رحمه الله او محمد رحمه الله وايي چي په دې کي لمونځ نه دی جائز لو په دباغت سره نه پاکیږي او که چېري د لمانځه په وخت کي د هغه سره داسي اګی وي چي هغې ژړ وینه سوي وي نو د هغه لمونځ جائز دی او که چېري لمونځ وکړي او د هغه سره چیبنه وي په کوم چي بولي وي نو جائز نه دی، یو سړي د پومبو په کالو کي لمونځ وکړ چي کله یې د هغه څخه پومبه راویستله نو په هغه کي یې مړ موږک ولیدی که چېري په دې کالو کي سوری یې یا څیري وي نو د درو ورځو او شپو لمونځونه دي را وګرځوي که چېري نه وي نو هغه ټوله لمونځه چي په دې کالو کي یې کړي وي را ودي ګرځوي.

تشریح: یعقوب اصلي نوم دی د امام یوسف رحمه الله او ابویوسف د هغه کنیت دی. نو د ابویوسف رحمه الله په نِز د خنزیر پوست په دباغت سره پاکیږي د دې لپاره که چېري په هغه کي لمونځ وکړل سي نو جائز دی او د طرفینو رحمهم الله تعالی په نِز د خنزیر پوست په دباغت سره هم نه پاکیږي د دې لپاره په هغه کي لمونځ نه دی جائز او د ظاهر روایت مطابق دغه مذهب د امام یوسف رحمه الله هم دی او اول روایت شاذ دی. که چېري د اګی ژړ وینه سي او د یوچا هغه په جیب کي وي او لمونځ ورسره وکړي نو جائز دی ولي چي ژړ که څه هم وینه جوړه سوي ده مګر تر اوسه پوري هغه ته د نجاست حکم نه سي ورکول کېدی، د دې لپاره نجاست تر څه وخت پوري چي په خپل

معدن کي وي تر هغه وخته پوري د نجاست حکم نه اخلي چي کله يې د خپل معدن څخه خروج وکړ نو بيا پر هغه باندي د نجاست احکام مرتب کيږي، مګر څنګه چي مصنف رحمه الله ورسره دا مسئله بيان کړي ده که چيري يې په جيب کي داسي بوتل وي چي په هغه کي بولي وي نو لمونځ نه دی جائز که څه هم دا ګی ژړ په بوتل کي محفوظ دي ولي چي د بولو خروج د خپل معدن څخه سوی دی.

وَمَنْ لَّمْ يَجِدْ مَا يَزِيْلُ بِهِ النِّجَاسَةُ صَلّٰى مَعَهَا وَلَمْ يَعِدْ يَعْنِيْ اِذَاكَانَ عَلٰى جَسَدِهٖ نِجَاسَةٌ وَهُوَ مُسَافِرٌ وَلَيْسَ مَعَهُ مَآءٌ اَوْكَانَ مَعَهُ مَآءٌ وَهُوَ يَخَافُ الْعَطْشَ يَجُوْزُ لَهُ اَنْ يُّصَلِّيَ بِهَا وَاِنْ كَانَتِ النِّجَاسَةُ بِالثَّوْبِ اِنْ كَانَ اَقَلَّ مِنْ رُبُعِ الثَّوْبِ طَاهِرًا فَهُوَ بِالْخِيَارِ اِنْ شَآءَ صَلّٰى بِهٖ وَاِنْ شَآءَ صَلّٰى عُرْيَانًا وَاِنْ كَانَ رُبُعُهُ طَاهِرًا وَثَلٰثَةُ اَرْبَاعِهٖ نَجِسًا لَمْ تَجُزِ الصَّلٰوةُ عُرْيَانًا بَلْ يُصَلِّيْ بِهٖ بِلَا خِلَافٍ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ يُصَلِّيْ بِهٖ فِي الْوَجْهَيْنِ وَاِنْ صَلّٰى عُرْيَانًا يُصَلِّيْ قَاعِدًا يُؤْمِيْ بِالرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ ثُمَّ اِذَا صَلّٰى فَكَيْفَ يَقْعُدُ قَالَ بَعْضُهُمْ كَمَا يَقْعُدُ فِي الصَّلٰوةِ وَقَالَ فِي الذَّخِيْرَةِ يَقْعُدُ وَيَمُدُّ رِجْلَيْهِ اِلَى الْقِبْلَةِ وَيَضَعُ يَدَيْهِ عَلٰى عَوْرَتِهِ الْغَلِيْظَةِ سَوَآءٌ صَلّٰى نَهَارًا اَوْفِيْ لَيْلَةٍ مُظْلِمَةٍ اَوْفِي الْبَيْتِ اَوْفِي الصَّحْرَآءِ وَهُوَ الصَّحِيْحُ وَاِنْ صَلّٰى قَائِمًا اَجْزَاهُ وَالْاَوَّلُ اَفْضَلُ.

ژباړه: چي چا ته دا سي شی نه سي پيدا چي په هغه سره نجاست زائل کړي نو د هغه سره دي لمونځ وکړي او اعاده دي نه کوي چي کله د هغه پر بدن باندي نجاست وي او هغه مسافر وي او د هغه سره اوبه نه وي مګر د تندي څخه ويريږي نو هغه ته جائز دی چي د هغه سره لمونځ وکړي که چيري دا نجاست په کالو باندي وي او د دې کالو څلورمه حصه پاکه وي نو هغه ته اختيار دی که په دغه کي لمونځ وکړي او

که یې لڅ وکړي، که چېرې څلورمه حصه پاکه وي او دریمه د څلورمې پاکه وي نو لمونځ جائز دی بغیر د خلاف په هغه کې دې لمونځ وکړي، د محمد رحمه الله په نِز په دواړو صورتو کې په هغه کې دې لمونځ وکړي، که چېرې لڅ لمونځ کوي نو په ناستې سره په رکوع او سجده کې دې په اشاره سره لمونځ وکړي نو څه ډول دې کښیني؟ ځینې علماؤ ویلي دي چې څه ډول په لمانځه کې کښیني او په ذخیره کې یې ویلي دي چې په ناسته دې د قبلې و طرف ته پښې وغوړه وي او خپل دواړه لاسونه دې په عورت غلیظه باندې کښیږدي که لمونځ په ورځ کې او که تاریکه شپه کې وي یا په کور کې یا په صحرا کې وي او دا صحیح دی، که چېرې په ولاړه سره لمونځ وکړي نو جائز دی مګر اول افضل دی.

تشریح: شریعت مطهره هر انسان د خپل وس (وسعت) مطابق مکلف کړی دی، نو چې کله چاته د نجاست زائلولو اسباب نه سي پیدا نو د نجاست په موجودګۍ هم لمونځ جائز دی، د دې کړل سوو لمونځو اعاده واجبه نه ده، په دې باندې په تفریح کولو سره مصنف رحمه الله وایي چې کله د یوه مسافر سره اوبه نه وي نو یا په را روان سفر کې خپله هغه ته یا د هغه سورلۍ د تیژۍ د غلبې پیش راتلو خوف وي نو په هغه باندې نجاست په دې اوبو سره لیرې کول واجب نه دي که چېرې نجاست د بدن پرځای په کالو باندې وي نو د شیخینو رحمهما الله په نِز دا دي وکتل سي که چېرې د هغه کالو یوه د څلورمې پاکه وي نو پر هغه لازمه ده چې په دغه کالو کې لمونځ وکړي، ولې چې شرعاً یوه د څلورمې د کل قائم مقامه کیدی سي لکه د سر په مسحه کې، نو په دې حالت کې برهنه لمونځ کول نه دی جائز که چېرې یوه د څلورمې هم نه وي پاکه نو لمونځ کونکي ته اختیار دی چې لڅ لمونځ وکړي یا په دې نجس کالو کې، د امام محمد بن حسن شیباني رحمه الله په نِز په هر صورت که یوه د څلورمې پاکه وي او که نه وي په دغه نجسو کالو کې لمونځ کول ضروري دی ولې چې په

نجسو کالوَ کي لمونځ کولو سره فقط يو فرض يعني د کالو طهارت فوت کيږي او په برهنه کولو سره څو فرائض پاتيږي، لکه ولاړه، رکوع، سجده نو د يوڅو په مقابل کي د يوه فرض پرېښودل بهتر دي د دې لپاره اکثرو علماؤ د امام محمد رحمه الله قول اختيار کړی دی مګر که چېري څوک د شيخينو قول اختيار کولو سره لڅ لمونځ وکړي نو څومره چي ممکن وي د ستر د عورت لحاظ دي وساتي او په ناسته سره دي د قبلې و طرف ته پښې خلاصي کړي دواړه لاسونه دي په عورت باندي کښيږدي او د سجدې لپاره فقط د سر په اشارې سره لمونځ کول افضل دی .

وَلَوْ قَامَ عَلٰى شَيْءٍ نَجِسٍ وَصَلّٰى لَايَجُوْزُ وَلَوْ صَلّٰى عَلٰى شَيْءٍ مُبَطَّنٍ فِيْ بَاطِنِهٖ قَذَرٌ اِنْ كَانَ مَخِيْطًا لَاتَجُوْزُ وَاِنْ لَّمْ يَكُنْ مَخِيْطًا جَازَتْ وَلَوْ سَجَدَ عَلٰى شَيْءٍ نَجِسٍ تَفْسُدُ صَلٰوتُهٗ وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ اِنْ اَعَادَ حِيْنَ عَلِمَ عَلٰى شَيْءٍ طَاهِرٍ لَاتَفْسُدُ وَاِنْكَانَ مَوْضِعُ قَدَمَيْهِ وَرُكْبَتَيْهِ طَاهِرًا وَمَوْضِعُ جَبْهَتِهٖ وَاَنْفِهٖ نَجِسًا عَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ اَنَّهٗ يَسْجُدُ عَلٰى اَنْفِهٖ وَتَجُوْزُ صَلٰوتُهٗ خِلَافًا لَّهُمَا وَاِنْ كَانَ مَوْضِعُ حَبْهَتِهٖ وَاَنْفِهٖ نَجِسًا وَسَآئِرُ الْمَوَاضِعِ طَاهِرًا جَازَ بِلَاخِلَافٍ وَذَكَرَ شَمْسُ الْاَئِمَّةَ السَّرَخْسِيُّ اِنْ كَانَتِ النِّجَاسَةُ فِيْ مَوْضِعِ الْكَفَّيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ جَازَتْ صَلٰوتُهٗ وَقَالَ فِي الْعُيُوْنِ هٰذِهٖ رِوَايَةٌ شَاذَّةٌ وَالصَّحِيْحُ اَنْ يُّقَالَ اِنْكَانَ فِيْ مَوْضِعِ رُكْبَتَيْهِ لَاتَجُوْزُ صَلٰوتُهٗ وَاِنْكَانَ مَوْضِعُ اِحْدٰى قَدَمَيْهِ نَجِسًا لَاتَجُوْزُ اِذَاكَانَ قَدْ وَضَعَهَا وَاِنْكَانَ تَحْتَ كُلِّ قَدَمٍ اَقَلَّ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ فَلَوْ جُمِعَ يَصِيْرُ اَكْثَرَ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ يَمْنَعُ كَمَا يَمْنَعُ اِذَاكَانَ فِيْ ثَوْبٍ ذِيْ طَاقَيْنِ.

ژباړه: که چېري په يو نجس شي باندي په ولاړه سره لمونځ وکړي نو جائز دی که

چېري په داسي پيوند کالو باندي لمونځ وکړي چي کوم لاندي ګندګي وي که چېري ګنډلي وي نو جائز دی که چېري نه وي نو نه دی جائز، که يي په نجس شي باندي سجده وکړه نو د هغه لمونځ فاسد دی او امام يوسف رحمه الله ويلي دي که چېري د معلومات وروسته په يو پاک شي باندي اعاده وکړي نو نه فاسديږي، که د قدمو او د ځنګنو ځای پاک وي او د تندي او پوزي ځای نجس وي نو د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله څخه روايت دی چي صرف په پوزه دي سجده وکړي او د هغه لمونځ جائز دی په خلاف د صاحبينو، که چېري صرف د پوزي ځای نجس وي باقي ټول پاک وي نو بلاخلاف جائز دی او شمس الائمه سرخسي رحمه الله ذکر کړي دي که چېري نجاست د ورغوو او ځنګنو په ځای کي وي نو د هغه لمونځ جائز دی او په عيون کي راغلي دي چي دا روايت شاذ دی او صحيح دادی چي وويل سي که چېري د ځنګنو ځای وي نو د هغه لمونځ نه دی جائز که د يوه قدم ځای نجس وي نو نه دی جائز چي کله يي قدم په هغه باندي ايښی وي او د هر قدم لاندي تر يوه درهم کم وي او په جمع کيدو سره د مقدار درهم څخه زيات سي نو منعه کوي يي لکه په پيوند کالو کي.

تشريح: په نجس ځای باندي په ولاړي سره لمونځ نه دی جائز ولي چي د ځای پاکوالی د لمانځه د شرطو څخه دی دغه ډول که څوک په پيوند کالو کي لمونځ وکړي او په داسي حالت کي چي د هغه په مابينځ کي ګندګي وي نو به کتل کيږي که چېري دا کالي ګنډل سوي وي نو د يووالي په کيدو د حکم په وجه پر هغه لمونځ جائز دی لکه څنګه چي په نجسه مځکه باندي پاک کالي واچول سي او په هغه باندي لمونځ وکړل سي، که چېري د لمونځ کونکي سجده په نجس ځای باندي واقع سي نو د صحيح قول مطابق چونکي د لمانځه يو رکن بغير د طهارت مکان په وجه سره لمونځ فاسديږي، که فقط د پوزي په ځای کي نجاست وي نو بالاتفاق لمونځ

جائز دی ولې چې صرف په تندي باندي اقتصار کول د ټولو علماؤ په نز جائز دی او د صحیح قول مطابق که چېري د ځنګنو ځای نجس وي نو لمونځ نه دی جائز دغه ډول که چېري یو قدم په نجاست باندي واقع سي نو لمونځ نه دی جائز البته که چېري یې د نجاست ځخه قدم پورته ایښی وي او صرف په یوه قدم ولاړ وي نو د دغه لمونځ مع الکراهت جائز دی.

وَاِنِ افْتَتَحَ الصَّلٰوةَ فِيْ مَكَانٍ طَاهِرٍ ثُمَّ نَقَلَ قَدَمَيْهِ عَلٰى شَيْءٍ نَجِسٍ وَقَامَ اِنْ لَمْ يَمْكُثْ مِقْدَارَ مَا يُؤَدِّيْ رُكْنًا جَازَتْ وَاِلَّا فَلَا وَكَذَا اِنْ رَفَعَ نَعْلَيْهِ وَعَلَيْهِمَا قَذَرٌ مَانِعٌ اِنْ اَدّٰى مَعَهُمَا رُكْنًا فَسَدَتْ صَلٰوتُهُ وَفِيْ فَتَاوٰى اَهْلِ سَمَرْقَنْدَ اِذَا سَجَدَ يَقَعُ ثِيَابُهُ عَلٰى شَيْءٍ نَجِسٍ جَازَتْ صَلٰوتُهُ اِذَا كَانَتْ يَابِسَةً وَفِي اخْتِلَافِ زُفَرَ وَيَعْقُوْبَ اِذَا كَانَتِ النَّجَاسَةُ عَلٰى بَاطِنِ اللِّبْنَةِ اَوِ الْاٰجُرَّةِ وَهُوَ عَلٰى ظَاهِرِهِمَا قَائِمٌ يُّصَلِّيْ لَمْ تَفْسُدْ صَلٰوتُهُ وَبِمِثْلِهِ اِذَا حَلَّتِ النَّجَاسَةُ بِخَشَبَةٍ فَقَلَّبَهَا اِنْ كَانَتْ غِلْظَةُ الْخَشَبَةِ تَقْبَلُ الْقَطْعَ تَجُوْزُ الصَّلٰوةُ وَاِلَّا فَلَا وَاِذَا اَصَابَتِ الْاَرْضَ نِجَاسَةٌ فَفَرَشَهَا بِطِيْنٍ اَوْ جَصٍّ فَصَلّٰى عَلَيْهِ جَازَتْ وَلَيْسَ هٰذَا كَالثَّوْبِ وَلَوْ فَرَشَهَا بِالتُّرَابِ وَلَمْ يُطَيِّنْ اِنْ كَانَ التُّرَابُ قَلِيْلًا بِحَيْثُ لَوِ اسْتَشَمَّهُ يَجِدُ رَائِحَةَ النَّجَاسَةِ لَا تَجُوْزُ وَاِلَّا تَجُوْزُ وَلَوْ كَانَ عَلَى اللِّبَدِ نَجَاسَةٌ فَقَلَّبَ وَصَلّٰى عَلَى الْوَجْهِ الثَّانِيْ تَجُوْزُ وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ لَا تَجُوْزُ وَبِهٖ اَخَذَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ وَهٰذَا كُلُّهٗ مَذْهَبُ مُحَمَّدٍ مَذْكُوْرٌ فِي الْمُحِيْطِ وَلَوْ بَسَطَ الْمُصَلِّيْ عَلٰى شَيْءٍ نَجِسٍ رَطْبٍ اَوْ جَلَسَ عَلٰى اَرْضٍ نَجِسَةٍ رَطْبَةٍ اَوْ لَفَّ الثَّوْبَ الْيَابِسَ الطَّاهِرَ

فِي ثَوْبٍ نَجِسٍ رَطْبٍ فَأَثَّرَتِ الرُّطُوْبَةُ فِي ثَوْبِهِ أَوْفِي مُصَلَّاهُ يُنْظَرُ إِنْ كَانَ بِحَالٍ لَوْ عُصِرَ الثَّوْبُ أَوِ الْمُصَلّٰى تَتَقَاطَرُ مِنْهُ شَيْئٌ يَتَنَجَّسُ وَإِلَّا فَلَا وَقَالَ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ الْحَلْوَانِيُّ لَوْكَانَ بِحَالٍ لَوْ وَضَعَ يَدَهُ تَبْتَلُّ يَصِيْرُ نَجَسًا وَإِلَّا فَلَا وَهٰذَا قَرِيْبٌ مِّنَ الْأَوَّلِ.

ژباړه: که یي په پاک ځای باندي لمونځ شروع کړ بیا یو نجس شي یې قدم ته ور نقل سو که چېري د یوه رکن په مقدار باندي دغه نجاست نه موجود وو نو جائز دی او که موجود وو نو نه دی جائز، دغه ډول که چېري یي چوتي (ځپلی) پورته کړي او په هغه باندي د یوه مقدار مانع موجود وو نو که د هغه سره یي رکن ادا کړ نو د هغه لمونځ فاسد دی او په فتاوی اهل سمرقند کي راغلي چي کله د سجدې په کولوسره د هغه کالي په نجس شي باندي واقع سي نو د هغه لمونځ جائز دی که نجاست وچ وي، په" کتاب اختلاف زفر ویعقوب "کي راغلي دي چي کله نجاست په کچه یا د پخې خښتي په باطن کي وي او هغه د مصلی په ظاهر ولاړ وي نو لمونځ نه فاسدیږي، دغه ډول چي کله په لرګي باندي نجاست ولګیږي او هغه چپه کړل سي که چېري د لرګي پراخوالی د پرېکولو قابل وي نو لمونځ جائز دی که نه وي نو نه دی جائز، او چي کله په ځمکه باندي نجاست ولګیږي او بیا دغه ځمکه ګل سي په ختو سره یا په چونه سره نو په هغې باندي لمونځ وکړل سي نو جائز دی او دا په حکم کي د کالو په ډول نه دی، که یې خاوره فقط په هغه نجس ځای باندي واچوله او ګل یې نه کړه نو که خاوره دومره کمه وي چي بوی یې کړي نو د نجاست بوی راځي نو لمونځ نه دی جائز او که بوی یې نه راتلی نو جائز دی، که چېري د وړیه په کمبلي نجاست وي بیا یي چپه کړه د هغې په دا بل طرف یي لمونځ وکړ نوجائز دی او ابو

یوسف رحمه الله وېلي دي چي نه دی جائز او په دغه باندي د ځینو علماؤ فتوی ده او دا قول د محمد رحمه الله مذهب دی چي په محیط کي ذکرسوی دی، که یې مصلی یعني هغه شی چي لمونځ باندي کوي په یوه نجس شي باندي اواره کړه یا په نجسي لندې مځکي کېښي نستی یا یې وچه کالي په نجس لانده کالو کي ونغښته نو لوندوالی په مصلی یا په کالو کي تاثیر وکړ نو ودي کتل سي که چېري په داسي حالت کي وي چي کله کالي یا مصلی ونیستیږل سي نو د هغو څخه یوڅه بهیږي نو مرداریږي که نه وي نو نه مرداریږي، شمس الائمه حلواني رحمه الله وېلي دي که چېري داسي سي چي په هغو باندي لاس کښېږدي نو لندیږي نو بیا نجس دی که لاس نه لندېدی نو نه دی نجس، او دا د اول قول سره نژدې دی .

تشریح: په پاک ځای باندي د لمونځ شروع کولو وروسته که چېري د ضرورت پر بناء باندي د دې ځای څخه قدم بل ځای ته لیري کړي او هغه ځای نجس وي نو د یوه رکن اداکولو په مقدار که چېري په هغه ځای باندي ودرېږي نو د هغه لمونځ فاسدیږي که چېري فوراً د هغه ځای څخه لیري سو نو لمونځ نه فاسدیږي. دغه ډول که چېري په بغل کي څپلۍ ونیسي او په هغو کي د یوه مقدار درهم څخه زیات نجاست غلیظه موجود وي نو لمونځ فاسد دی او په فتاوی کي ذکرسوي دي که چېري په لمونځ کولو سره د یوچا په کالو باندي وچ نجاست ونوړېږي چي په هغه کي د نجاست لګېدو بیره نه وي نو لمونځ جائز دی ولي چي د طهارت مکان شرط پوره دی دغه ډول که چېري د خښتي یو طرف نجس او بل طرف یې پاک وي نو په پاک طرف باندي لمونځ جائز دی او د لرګي پراخوالی که چېري دومره وي چي بندې دربدی سي نو هغه هم د خښتي په حکم کي کېدو سره د هغه په بل طرف بندې لمونځ کېدی سي. او د پاکو کالو په نجسو کالو کي د راټولولو تحقیق په فصل فی الاسار کي تیر سوی دی. د دې د رطوبت څخه مراد د نجسو اوبو رطوبت دی نه :

عين نجاست رطوبت لكه بولي يا داسي بل شى، شمس الائمه عبدالعزيز بن احمد
حلواني رحمه الله وايي چي كله دا رطوبت دومره غالب سي چي د لاس ايښولو په
وخت كي لاس هم د هغه څخه لوند سي نو په پاكو وچو كالو باندي هم د نجاست
حكم لګول كيږي. د شمس الائمه رحمه الله دا قول او اول قول يعني په نيستيږلو سره چي
پرخه توى سي په خپل منځ كي معناً سره نژدي دي، كه د چټايي يا كمبلي يو سر پاک
او بل نجس وي نو په پاک سر باندي لمونځ جائز دى ولي چي د لمانځه د ځاى د
پاكېدو سره د طهارت مكان شرط پوره دى، كه چېري يو څوک د څپليو يا جرابو سره
د جنازې لمانځه يا د نورو لمنځو لپاره په نجاست باندي ودريږي نو لمونځ نه دى
جائز كه څه هم څپلى او جرابي خپله پاكي وي ولي چي څپلى او جرابي خپله د
مصلي تابع دي، التبه كه يې د پښو څخه وباسي او په هغو باندي ودريږي نو جائز
دى د دې لپاره چي اوس دا دواړه د جلا پاک شي په حكم كي دي.

(شرط ثالث)

فَهُوَ سَتْرُ الْعَوْرَةِ وَالْعَوْرَةُ مِنَ الرَّجُلِ مَاتَحْتَ السُّرَّةِ مِنْهُ اِلَى الرُّكْبَةِ وَالرُّكْبَةُ عَوْرَةٌ اَيْضًا
لٰكِنْ مِنْ غَيْرِهِ لَامِنْ نَفْسِهِ وَهُوَ الْمُخْتَارُ وَرَوٰى مُحَمَّدُ بْنُ شُجَاعٍ عَنْ اَبِيْحَنِيْفَةَ وَاَبِىْ
يُوْسُفَ نَصًّا قَالَ اِذَا كَانَ مَحْلُوْلُ الْجَيْبِ فَنَظَرَ اِلٰى عَوْرَتِهٖ لَاتَفْسُدُ صَلٰوتُهٗ وَبَعْضُ
الْمَشَائِخِ جَعَلُوْا سَتْرَ الْعَوْرَةِ مِنْ نَفْسِهٖ اَيْضًا شَرْطًا حَتّٰى قَالُوْا اِنْ كَانَ كَثِيْفَ اللِّحْيَةِ تَجُوْزُ
صَلٰوتُهٗ وَاِنْ كَانَ خَفِيْفَ اللِّحْيَةِ لَاتَجُوْزُ حَتّٰى لَوْ فَرَضَ اَنَّهٗ نَظَرَ فِىْ جَيْبِهٖ وَرَاٰى عَوْرَتَهٗ
فَصَلٰوتُهٗ فَاسِدَةٌ وَبِهٖ يُفْتِىْ بَعْضُ الْمَشَائِخِ وَكَذَا لَوْصَلّٰى عُرْيَانًا فِىْ بَيْتٍ فِىْ لَيْلَةٍ مُظْلِمَةٍ
وَلَهٗ ثَوْبٌ طَاهِرٌ وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى اللُّبْسِ لَاتَجُوْزُ صَلٰوتُهٗ بِالْاِجْمَاعِ.

ژباړه: هغه ستر د عورت دى چي د سړى عورت د نو څخه لاندي تر ځنګنو پوري

وي، او ځنګون هم عورت دی د بل چا لپاره نه د خپل ځان لپاره او دغه مختار دی، محمد بن شجاع رحمه الله او امام ابوحنیفه رحمه الله او د ابویوسف رحمه الله څخه صراحتاً روایت سوی دی چي که څوک د پراخ ګریوان والا وي او خپل عورت ته وګوري نو لمونځ نه فاسدیږي او ځینو علماؤ ستر د عورت د خپل ځان څخه هم شرط کړی شمارلی دی تر دې پوري که چیري د ګڼي ږیري والا وي نو لمونځ جائز دی او که د سپکي ږیري والا وي نو لمونځ نه دی جائز، که دا فرض کړل سي چي هغه د خپل ګریوان وطرف ته نظر وکړي او خپل عورت ته یي وکتل بیا د هغه لمونځ فاسد دی او په دغه باندي ځینو علماؤ فتوی ورکړي ده او دغه ډول که چیري په لڅه سره په توره شپه کي په کمره (خونه) کي دننه لمونځ وکړي او د هغه سره پاک کالي وه او د هغه په اغوستلو یي هم قدرت درلودی نو بالاتفاق د هغه لمونځ نه دی جائز.

تشریح: د لمانځه لپاره ستر د عورت بالاجماع فرض دی د عورت لفظ په لغت کي د نقصان او خلل لپاره هم مستعمل دی او د انسان هغه اندام کوم چي د حیاء په وجه پټیږي هغه ته هم عورت ویل کیږي، په شریعت مطهره کي د انسان هغه اعضاء کوم د لمانځه په وخت کي پټول فرض دي هغه ته عورت ویل کیږي، د یوه نارینه انسان لپاره د نو څخه بیا لاندي تر دواړو ځنګنو په شمول دا ټوله حصه پټول فرض دي، او د صحیح قول مطابق ځنګون هم په عورت کي شمار دی، لکه څنګه چي د حضرت علی کرم الله وجهه څخه روایت دی او ستر د عورت د لمانځه د فرائضو څخه دی د دې لپاره که چیري څوک د شپې په تاریکه او په کمره کي دننه لمونځ وکړي او د هغه سره پاک کالي موجود وي او په اغوستلو یي هم قادر وي مګر د هغه باوجود لڅ لمونځ کوي نو د هغه لمونځ نه دی جائز که څه هم د تاریکی په وجه د هغه هیڅ عورت په نظر نه راځي نو د ستر عورت فرضیت که څه هم فقط د انسان د عورت په نظر راتلو د وجي کیږي نو په دې صورت کي لمونځ جائز کیږي مګر د

تریکی باوجود لځ لمونځ بغیر د څه عذره نه دی جائز.

وَبَدَنُ الْمَرْءَةِ الْحُرَّةِ كُلُّهَا عَوْرَةٌ اِلَّاوَجْهَهَا وَكَفَّيْهَا وَقَدَمَيْهَا وَلٰكِنْ فِي الْقَدَمَيْنِ اِخْتِلَافُ الْمَشَائِخِ وَذُكِرَ فِي الْمُحِيْطِ اَنَّ الْاَصَحَّ اَنَّهُمَا لَيْسَا بِعَوْرَةٍ وَفِي الْخَاقَانِيَّةِ الصَّحِيْحُ اَنَّ اِنْكِشَافَ رُبُعِ الْقَدَمِ يَمْنَعُ وَذِرَاعَاهَا عَوْرَةٌ كَبَطْنِهَا فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَرُوِىَ عَنْ اَبِيْ يُوْسُفَ عَنْ اَبِيْحَنِيْفَةَ اَنَّ ذِرَاعَيْهَا لَيْسَا بِعَوْرَةٍ وَالْاَوَّلُ هُوَ الصَّحِيْحُ اَمَّا الشَّعْرُ الْمُسْتَرْسَلُ فَقَدْ قَالَ الْفَقِيْهُ اَبُو اللَّيْثِ اِنِ انْكَشَفَ رُبُعُ الْمُسْتَرْسَلِ فَسَدَتْ صَلٰوتُهَا كَذَا ذَكَرَهُ فِيْ اَكْثَرِ الْفَتَاوٰى وَقَالَ فِي الْفَتَاوٰى الْخَاقَانِيَّةِ اَلْمُعْتَبَرُ فِيْ اِفْسَادِ الصَّلٰوةِ اِنْكِشَافُ مَافَوْقَ الْاُذُنَيْنِ وَكَذَا الْاُذُنَانِ حَتّٰى لَوِانْكَشَفَ رُبُعُ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَمْنَعُ جَوَازَ الصَّلَاةِ وَهُوَ الصَّحِيْحُ.

ژباړه: د آزادي ښځي ټوله بدن عورت دی مګر د هغې مخ، لاسونه او دواړي پښي نه دي عورت، مګر په قدمو کي د علماؤ اختلاف دی او په محيط کي ذکر دي چي زيات صحيح دادی چي پښي عورت نه دي او په خاقانيه کي يې ويلي دي چي دا صحيح ده چي د قدم څلورمه حصه ظاهرېدل لمونځ منع کوي او په ظاهر روايت کي دی چي د ښځي دواړه لاسونه عورت نه دي او اول قول صحيح دی او د لاندي ايله وريښتانو په باره کي په فقيه ابوالليث کي ويلي دي که چېري د ايله وريښتانو څلورمه حصه ښکاره سي نو د هغې لمونځ فاسد دی دغه ډول په اکثرو فتاوٰی وو کي ذکر دي، او په فتاوٰی خاقانيه کي ذکرسوي دي چي د لمانځه په فساد کي د غوږو څخه پورته د وريښتانو د ښکاره کېدو اعتبار دی او دغه ډول دواړه غوږونه هم په عورت کي داخل دي، تر دې پوري که چېري د دې دواړو څخه د يوه څلورمه

حصه ښکاره سي نو د لمانځه جواز منع کوي .

تشریح: د حضرت عبدالله بن مسعودﷺ د یوه روایت مطابق د حُرّي ښځي ټوله بدن عورت دی مګر د ضرورت پر بناء باندي د هغې مخ او لاسونه د ټولو فقهاؤ په نِز نه په لمانځه کي او نه د لمانځه څخه خارج په عورت کي داخل دي تر دې پوري چي مخ یا لاسونه بغیر شهوته کتل مباح دي البته په فتنه کي د مبتلا کېدو په خوف سره بغیر ضرورته د کتلو څخه احتیاط لازم دی، د پښو په باره کي که څه هم د فقهاء کرامو یو څه اختلاف دی مګر د صحیح قول مطابق قدم هم په عورت کي نه دی داخل، ولي لکه څنګه چي په نکاح وشهادت وغیره کي مخ او په کار کي لاس بالامر مجبوري ښکاره کیږي، دغه ډول په ځینو مواقعو کي د قدم په نه ښکاره کېدو سره هم د انسان لاچاري کیږي، د سر لاندي ایله وربښتان هم د صحیح قول مطابق په عورت کي شمارل کیږي که د غوږو پورته وي او که لاندي ، په غسل کي د ایله وربښتانو پریولل فرض نه دي چي په دې کي حرج دی که څه هم د سر په اجزاء کي داخل دي نو چي د سر شمار په عورت کي دی نو د هغه ټوله اجزاء په عورت کي شمارل کیږي .

اَمَّا الْخُصْيَتَانِ مَعَ الذَّكَرِ قَالَ بَعْضُهُمْ كِلَاهُمَا عِضْوٌ وَاحِدٌ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يُعْتَبَرُ كُلُّوَاحِدٍ مِّنْهُمَا عُضْوًا عَلٰحِدَةٍ وَهُوَ الصَّحِيْحُ وَكَذَا اخْتَلَفُوْا فِي الرُّكْبَةِ مَعَ الْفَخْذِ فَقَالَ بَعْضُهُمْ كُلٌّ مِّنْهُمَا عُضْوٌ عَلٰحِدَةٍ وَقَالَ بَعْضُهُمْ اَلرُّكْبَةُ مَعَ الْفَخْذِ عُضْوٌ وَاحِدٌ وَلَوْ صَلّٰى وَرُكْبَتَاهُ مَكْشُوْفَتَانِ وَالْفَخْذُ مُغَطًّى جَازَتْ صَلٰوتُهُ اِمْرَءَةٌ صَلَّتْ وَرُبْعُ سَاقِهَا مَكْشُوْفٌ تُعِيْدُ صَلٰوتَهَا وَاِنْكَانَ اَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ لَاتُعِيْدُ وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ اِنْكِشَافُ مَادُوْنَ النِّصْفِ لَايَمْنَعُ وَعَنْهُ فِي النِّصْفِ رِوَايَتَانِ فِيْ رِوَايَةٍ لَايَمْنَعُ وَفِيْ

رِوَايَةٍ يَمْنَعُ وَالْحُكْمُ فِي الشَّعْرِ الْمُسْتَرْسَلِ وَالْبَطْنِ وَالظَّهْرِ مِنَ الْمَرْءَةِ وَالْفَخْذِ كَالْحُكْمِ فِي السَّاقِ.

ژباړه: خُصیتین او ذکَر ځینو علماوو ویلي دي چي دا دواړه یو اندام دي او ځینو ویلي دي د دوی څخه هر یو جلا جلا دی او دا صحیح دی، دغه ډول اختلاف یې کړی دی چي په ځنګون کي د ورانه سره نو ځینو ویلي دي چي هر یو د دوی څخه جلا اندام دی او ځینو ویلي دي چي ځنګون د ورانه سره یو اندام دی که چیري یې لمونځ وکړ او دواړه ځنګونونه یې ښکاره وي او ورنونه یې پټ وي نو د هغه لمونځ جائز دی، که یو ښځه لمونځ وکړي او د هغې د بجلکو څلورمه حصه ښکاره وه نو لمونځ به بیرته راګرځوي که چیري د دې څخه کم وي نو نه به یې راګرځوي، ابویوسف رحمه الله ویلي دي که د نیمی څخه کم ښکاره وي نو نه یې منع کوي او د دغه څخه په نیمی کي دوه روایتونه دي په یوه روایت کي یې نه منع کوي او. په یوه روایت کي یې منع کوي، او ایله ویښتان، نس او ملا د ښځي د بجلکو په حکم کي دي.

تشریح: د ځینو علما وو په نز د خصیتینو او ذکر حکم د یوه اندام دی. ولي چي د دواړو ګټه یوه ده چي توالد او تناسل دی نو چي کله د دواړو څلورمه حصه ښکاره سي لمونځ نه دی جائز او صحیح قول هم دادی ولي چي دیت هم د دواړو جلا جلا دی. دغه ډول د صحیح قول مطابق ځنګون هم د ورانه تابع دی او جلا اندام نه شمارل کیږي په دې باندي په تفریح کولو سره مصنف رحمه الله وایي که چیري ځنګون ښکاره وي او ورنونه پټ وي نو لمونځ جائز دی ولي چي ځنګونونه د ورنو د څلورمي حصې برابر نه دی او د دغه څخه دا مسئله معلومیږي چي بجلکه د پنډۍ تابع ده نو که چیري د یوې ښځي په لمانځه کي بجلکه ښکاره سوه نو لمونځ جائز دی

ولي چي دا د پنډۍ د څلورمي حصې برابر نه دی.

وَاَمَّا حُكْمُ الْعَوْرَةِ الْغَلِيْظَةِ وَهِيَ الْقُبُلُ وَالدُّبُرُ فَهُوَ عَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ يَعْنِيْ اِذَا انْكَشَفَ مِنْ اَحَدِهِمَا رُبْعُهُ يَمْنَعُ عِنْدَهُمَا خِلَافًا لِاَبِيْ يُوْسُفَ وَهٰذَا الْخِلَافُ مَذْكُوْرٌ فِي الزِّيَادَاتِ وَاَمَّا ثَدْيُ الْمَرْءَةِ فَاِنْ كَانَتْ مُرَاهِقَةً فَهُوَ تَبْعٌ لِلصَّدْرِ وَاِنْ كَانَتْ كَبِيْرَةً فَالثَّدْيُ اَصْلٌ بِنَفْسِهِ وَفِيْ شَرْحِ الْاِمَامِ السَّرَخْسِيِّ اِذَاكَانَ الثَّوْبُ رَقِيْقًا يَصِفُ مَاتَحْتَهُ لَايَحْصِلُ بِهِ سَتْرُ الْعَوْرَةِ وَمَنْ صَلّٰى بِقَمِيْصٍ لَيْسَ عَلَيْهِ غَيْرُ فَلَوْ نَظَرَ اِنْسَانٌ مِنْ تَحْتِهِ رَاٰى عَوْرَتَهُ فَهٰذَا لَيْسَ بِشَيْئٍ وَذُكِرَ فِي الزِّيَادَاتِ لَوْ اَنَّ امْرَءَةً صَلَّتْ وَهِيَ تَقْدِرُ عَلَى الثَّوْبِ الْجَدِيْدِ فَلَبِسَتْ ثَوْبًا خَلِقًا فَانْكَشَفَ مِنْ شَعْرِهَا شَيْءٌ وَمِنْ فَخْذِهَا شَيْءٌ وَمِنْ سَاقِهَا شَيْءٌ وَكَانَ لَوْ جُمِعَ يَبْلُغُ رُبْعَ السَّاقِ لَاتَجُوْزُ صَلٰوتُهَا.

ژباړه: هر څه چي د عورتِ غليظه حکم دی چي مخ او شاه ده هغه هم په دې خلاف باندي دی يعني چي کله د دې دواړو څخه څلورمه حصه ښکاره سي نو د طرفينو په نِز لمونځ منع کوي بخلاف د ابويوسف رحمه الله دا خلاف په زيادات کي ذکرسوی دی او د ښځي تِيَان که چېري بلوغ ته نژدې وي نو د سينې تابع دی او که غټه وي نو تيان خپله عورت دی، په شرحه امام سرخسی رحمه الله کي راغلي دي چي کالي نرم وي دا سي نرم چي د هغه څخه لاندي اعضاء ښکاره کيږي نو په هغه سره ستر نه سي کيدی او چي صرف په يوه قميص کي لمونځ وکړي او د دغه څخه علاوه په هغه باندي هيڅ نه وي نو که چېري يو سړی په لاندي کتلو سره دا عورت ته وګوري نو دا بې معنې خبره ده او په زيادات کي ذکر دي که چېري يوې ښځه لمونځ وکړ او هغې په نوو کالو باندي د قدرت باوجوده زاړه کالي اغوستي وي بيا د هغې وريښتان ي

ونونه يا په پنډۍ کي يو څه ښکاره سي نو د هغې لمونځ نه دی جائز.

تشريح: مصنف رحمه الله وايي چي د انسان د عورت غليظه حکم يعني د مخ او شاه هم د پنډۍ په مثل دی چي کله د پوره عورت غليظه څخه ځلورمه حصه ښکاره سي نو لمونځ فاسد دی او قاضي ابو يوسف رحمه الله د نصف حصې قائل دی او په دې کي هم د علماؤ اختلاف دی چي دُبره سره د کوناټو يو اندام دی يا دواړه جلا جلا دي مګر د صحيح قول مطابق هر يو کوناټی جلا جلا دی او دُبره د هغو علاوه په جلا حيثيت سره عورت ده، د ښځي تيان که چېري راپورته وي نو په يوه حيثيت سره عورت دی که چېري د کم عمرۍ په وجه نه وي راپورته نو د سيني تابع دي نو د ښکاره کيدو په صورت کي د سينې سره د ځلورمي حصې اعتبار کول کيږي، دغه ډول که چېري يو څوک داسي باريک کالي واغوندي چي د هغه څخه لاندي د انسان د پوست رنګ صفا ښکاره په نظر راسي نو په دې کالو کي ستر د عورت موجود نه دی لهٰذا لمونځ نه دی جائز التبه که چېري د تنګۍ په وجه په دې کالوکي د انسان اعضاء په هغه کي ښه را پورته په نظر راسي نو که څه هم لمونځ جائز دی مګر داسي لباس په دين او اسلام کي خوښ نه دی او خصوصاً ښځو ته د داسي لباس اغوستلو څخه ځان ژغورل پکار دي او په حديث پاک کي راغلي دي چي دغسي تنګ او باريک کالي اغوستلو والا عليه السلام د "کاسيات عاريات "په الفاظو سره ياد کړي دي چي دا ښځي د کالو اغوستلو باوجوده هم لڅي دي، ابليس لعين د جنت په مبارک سرزمين زموږ مور او پلار يعني حضرت آدم او حواء عليهما السلام په زړو کي د ګناه چي کومه وسوسه اچولي وه چي د هغه په نتيجه کي هغوی د ممنوعه ونې څخه خوراک وکړ نو د دې ګناه په نتيجه کي هغه دواړه په جنت کي دننه لڅ سول نن هم هغه ابليس لعين د دې خبري لپاره تيار دی چي په څه ډول کيدی چي اشرف المخلوقات لڅ کړي تر دې پوري چي د نړۍ په تاريخ کي د داسي تحريکونو

ذکر راغي په کوم کي چي په دې خبره باندي زور ورکړی دی چي لڅ ګرځیدل د انسان د نورو حیوانانو په مثل یو بنیادي حق دی او کوم راز چي نبي کريم عليه السلام ویلي دي چي د جال اثر به په ښځو باندي زيات کيږي نو نن صبا دا نيم لڅ لباسونه هم د جالي فتنو يوه نمونه(ذريعه) معلوميږي، خداوندِ قدوس دي موږ ټوله د دې جالي فتنو څخه محفوظ کړي، آمين.

اَمَّا الْعَوْرَةُ مِنَ الْاَمَّةِ فَمَا هِيَ عَوْرَةٌ مِنَ الرَّجُلِ وَبَطْنُهَا وَظَهْرُهَا عَوْرَةٌ اَيْضًا وَمَاعَدَا ذٰلِکَ فَلَيْسَ بِعَوْرَةٍ وَالْمُدَبَّرَةُ وَاُمُّ الْوَلَدِ وَالْمُكَاتَبَةُ بِمَنْزِلَةِ الْاَمَّةِ وَاِنْ انْكَشَفَ عُضْوٌ فَسَتَرَ مِنْ غَيْرِ لَبْثٍ لَا يَضُرُّهُ وَاِنْ اَدّٰى مَعَهُ رُكْنًا يُفْسِدُ صَلٰوتُهُ وَاِنْ لَّمْ يُؤَدِّ رُكْنًا وَلٰكِنْ مَكَثَ مِقْدَارَ مَايُؤَدّٰى فِيْهِ رُكْنًا بِسُنَّتِهٖ فَلَمْ يَسْتُرْ فَسَدَتْ صَلٰوتُهُ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَاَبِيْ يُوْسُفَ خِلَافًا لِّمُحَمَّدٍ وَكَذَا اِذَا وَقَعَ الرَّجُلُ لِلْمُزَاحَمَةِ فِيْ صَفِّ النِّسَآءِ اَوْ وَقَعَ اَمَامَ الْاِمَامِ اَوْ رَفَعَ نَجَاسَةً ثُمَّ اَلْقٰى فَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ وَمَنْ لَّمْ يَجِدْ مَايَسْتُرُبِهِ الْعَوْرَةَ صَلّٰى قَاعِدًا بِاِيْمَاءٍ كَمَا ذَكَرْنَا.

ژباړه: د مينځي عورت دومره دی لکه د نر عورت، مګر د مينځي نس او ملا هم عورت دي او د دې څخه علاوه نور جسم يې عورت نه دی، مدبره، ام ولده او مکاتبه هم د مينځي په مثل ده، که چيري يو اندام ښکاره سي او بغير د څه انتظار يې فوراً پټ کړي نو ضرر نه کوي که د هغه سره يو رکن ادا کړي نو د هغې لمونځ فاسدوي که چيري يې يو رکن ادا نه کړ مګر دومره مقدار يې انتظار وکړ په کوم کي چي په طريقه سنت يو رکن ادا کيدی سي او پټ يې نه کړ نو د ابو حنيفه رحمه الله او ابويوسف رحمه الله په نز د هغې لمونځ فاسد دی بخلاف د امام محمد رحمه الله، دغه ډول

که چېرې يو سرى د ښځو په صف کې د رش په وجه سره ودرېږي يا د امام په مخ کې ودريدى يا يې څه ګندګې پورته کړه او بيا يې وغورځوله نو په دغه باندې هم اختلاف دى، هغه څوک چې يو داسې شى نه کړي پيدا چې په هغه سره ستر د عورت کوى سي نو دې لمونځ په ناسته په اشاره سره وکړي لکه چې يې موږ مخ کې يادونه وکړه.

تشريح: د جهاد په مال غنيمت کې چې کوم د کفارو نران او ښځې قيدانې سي د مسلمانانو په لاس راسي نو د هغوى نران غلامان او ښځې يې مينځې بلل کيږي او د هغوى څخه د خدمت کار اخيستل کيږي او مينځې بغير د نکاح صرف ملک يميني سره وطي کول جائز دي چې د هغه پوره تفصيل د فقهې په کتابونو کې ذکرسوى دى، نو چونکې مينځې د خپل مالک د اهل و عيال په خدمت کې هر وخت مصروفه وي نو د دې لپاره هغه د آزادې ښځه په مثل هر وخت با پرده نه سي پاته کيدى او په شريعت مطهره کې د دې لپاره د پردې په احکامو کې لږ دا ډول تخفيف دى چې په ستر عورت کې هغه د نر په مثال ده مګر د هغې نس او ملا چونکې د فتنې سبب کيدى سي د دې لپاره د هغې ستر هم ضروري دى او په يوه روايت کې دى چې حضرت عمر رضي الله عنه يوه مينځه د آزادې ښځې په مثل په مکمله پرده کې وليدله نو ده وويل چې " خپلې مينځې د آزادو ښځو سره مه مشابه کوئ " مدبره هغه مينځه ده چې هغې ته خپل مالک دا وايي چې ته زما د مرګ وروسته آزاده يې، مکاتبه هغه مينځه ده چې د هغې سره خپل مالک عقد کتاب کړى وي يعنې چې کله څوک د خپل مينځې د يو معلوم رقم ادا کولو وروسته د آزادولو وعده ورسره وکړي نو دا مينځه مکاتبه ده، او أم ولده هغه مينځه ده چې د هغې څخه خپل مالک دعوه کړي وي چې دا اولاد زما دى نو دا مينځه د خپل مالک د مرګ وروسته خود بخود آزاديږي.

اوس مصنف رحمه الله وايي چې دا درې سره قسمونه يعنې مدبره، مکاتبه او ام ولده

د ستر عورت په حکم کي د اصلي مينځي په مثل دي چي د هغو د اندامو په لمانځه کي د نر او ښځي پټول ضروري دي که چېري د دوی څخه په لمانځه کي دننه يو اندام ښکاره سي نو دي وکتل سي که چېري دا اندام د دومره وخته پوري ښکاره وي په کوم کي چي يو رکن په سنت طريقه سره ادا کېدی سي د کوم مقدار چي فقهاء کرامو په نزد د درو تسبيحات ويلو پوري دی نو دا لمونځ فاسد دی که چېري د دومره انتظار کولو څخه تر مخه ستر د عورت وسي نو لمونځ نه فاسدېږي دغه ډول که چېري څوک د ښځو په صف کي ودرېږي يا د امام څخه د مخه ووزي يا يوه ګندګي په لمانځه کي پورته کي او وې غورځوي په دې درو صورتو کي که چېري د يوه رکن مقدار ناوخته سي نو فاسد دی که نه وي نو لمونځ جائز دی او په دې ټولو مسائلو کي د حضراتو شيخينو رحمهماالله مذهب مختار دی ځيني فقهاء وو فقط په پرتوګ کي لمونځ کولو ته مکروه ويلي دي.

(شرط رابع)

فَهُوَ اِسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ فَمَنْ كَانَ بِحَضْرَةِ الْكَعْبَةِ يَجِبُ عَلَيْهِ اِصَابَةُ عَيْنِهَا وَمَنْ كَانَ غَائِبًا عَنْهَا فَفَرْضُهُ جِهَةُ الْكَعْبَةِ وَقَالَ الْجُرْجَانِيُّ فَرْضٌ لِلْغَآئِبِ اِصَابَةُ عَيْنِهَا وَثَمَرَةُ هٰذَا الْخِلَافِ تَظْهَرُ فِي النِّيَّةِ وَقَالَ الشَّيْخُ الْاِمَامُ اَبُوْبَكْرٍ مُحَمَّدُ ابْنُ حَامِدٍ لَايَشْتَرِطُ نِيَّةُ الْكَعْبَةِ مَعَ الْاِسْتِقْبَالِ لِلْكَعْبَةِ وَقَالَ الشَّيْخُ اَبُوْبَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْفَضْلِ يَشْتَرِطُ ذٰلِكَ وَبَعْضُ الْمَشَايِخِ يَقُوْلُ اِنْ كَانَ يُصَلِّيْ اِلَى الْمِحْرَابِ فَكَمَا قَالَ الْحَامِدِيُّ وَاِنْ كَانَ يُصَلِّيْ فِي الصَّحْرَآءِ فَكَمَا قَالَ الْفَضْلِيُّ.

ژباړه: څلورم شرط قبلې ته مخ کول دي، کوم څوک چي کعبې ته حاضر وي هغه ته په کعبې سيده درېدل واجب دي او کوم څوک چي د هغې څخه غائب وي نو ده

هغه باندي فرض دي چي د كعبې طرف ته مخ كړي، او جرجاني رحمه الله ويلي دي چي د غائب لپاره عين د كعبي په برابر كيدل فرض دي او د دې خلاف فائده په نيت كي ښكاره كيږي، شيخ الاسلام ابوبكر محمد بن حامد رحمه الله ويلي دي چي د قبيلي رخ كولو سره نيت د كعبې شرط نه دی او شيخ ابوبكر محمد بن فضل رحمه الله ويلي دي چي شرط دی او ځيني علماء وايي كه چېري په محراب كي لمونځ كوي نو د حامدي قول او كه چېري په صحرا كي لمونځ كوي نو د فضلي قول معتبر دی.

تشريح: ۱ د لمانځه د شرائطو څخه يو شرط دادی چي د لمانځه په وخت كي كه فرض لمونځ وي او كه نفل قبلې ته مخامخ كيدل ضروري دي او لمونځ كونكی د دوو حالتو څخه خالي نه دی كه چېري هغه د كعبې سره موجود وي او خانه كعبه په نظر راځي نو په لمانځه كي خاص و كعبې ته مخ كول ضروري دی كه چېري چا د حطيم و طرف ته مخ كړ نو لمونځ نه دی جائز.

۲: كه چېري په داسي ځای كي وي چي هلته كعبه په نظر نه سي را نو صرف و وطرفته د كعبې مخ كول فرض دي ولي چي عين د كعبې په برابر كي دريدل اوس معتذر دي كه څه هم د مكې معظمې پر مځكه باندي وي لكه څنګه چي صاحب د نورالايضاح په دې باندي تصريح كړي ده او وطرفته د كعبې مسئلې مصنف رحمه الله په را روان عبارتو كي په تفصيل سره بيانوي.

وَقِبْلَةُ اَهْلِ الْمَشْرِقِ هِيَ جِهَةُ الْمَغْرِبِ عِنْدَنَا وَذُكِرَ فِيْ اٰمَالِ الْفَتَاوٰى حَدُّ الْقِبْلَةِ فِيْ بِلَادِنَا يَعْنِيْ سَمَرْقَنْدَ مَابَيْنَ الْمَغْرِبَيْنِ مَغْرِبَ الشِّتَاءِ وَمَغْرِبَ الصَّيْفِ فَاِنْ صَلّٰى اِلٰى جِهَةٍ خَرَجَتْ مِنْ حَدِّ الْمَغْرِبَيْنِ فَسَدَتْ صَلٰوتُهُ وَاِنْ كَانَ مَرِيْضًا لَايَقْدِرُ عَلَى التَّوَجُّهِ اِلَى الْقِبْلَةِ وَلَيْسَ مَعَهُ اَحَدٌ يُوَجِّهُهُ اَوْكَانَ صَحِيْحًا يَخَافُ مِنْ عَدُوٍّ اَوْسَبُعٍ يُصَلِّيْ اِلٰى

اَيِ جِهَةٍقَدَرَ وَكَذَا اِذَا صَلَّى الْفَرِيْضَةَ بِالْعُذْرِ عَلَى الدَّابَّةِ اَوِ النَّافِلَةِ بِغَيْرِ عُذْرٍ فَلَهُ اَنْ يُّصَلِّيَ اِلٰى اَيِّ جِهَةٍ تَوَجَّهَهُ.

ژباړه: زموږ په نز د اهل مشرق قبله د مغرب په طرف ده او په امال الفتاوٰی کي ذکرسوي دي چي زموږ په ښار يعني په سمرقند کي د قبلې حد د مغربينو يعني د يخ مغرب او د ګرم مغرب په منځ کي دی که چېري يي لمونځ وکړ داسي طرف ته چي د مغربينو د حد څخه وتلی وو نو د هغه لمونځ فاسد دی او که چېري ناروغه وي او په توجه د کعبي قادر نه وي او د هغه سره داسي څوک وي چي هغه وقبلې ته مخ کړي يا تندرست وي مګر د دښمن يا د يوحيوان څخه ييريږي نو لمونځ دي وکړي په کوم طرف چي قادر وي، دغه ډول که چېري د عذر د وجي څخه په سواري فرض يا بغير د عذره نفل وکړي نو د هغه لپاره جائز دي چي کوم طرف ته په مخ کولو سره لمونځ وکړي .

تشريح: د قبلې لغوي معنٰی د جهت ده او د استقبال معنٰی مخ کول مګر په اصطلاح کي د شريعت قبله هغه خاص جهت او طرف دی چي د هغه و طرف ته لمونځ کول کيږي کوم چي د مځکي څخه بيا تر اووم آسمانه پوري منل سوي ده، د هجرت څخه د مخه په مکه مکرمه کي د سکونت په وخت کي نبی کريم صلی الله عليه سلم به لمونځ داسي کوی چي بيت المقدس او خانه کعبه دواړو جانبو ته به يي مخ مبارک کېدی د دې لپاره د مسلمانانو په دې کي اختلاف دی چي په هغه زمانه کي قبله بيت المقدس وو او که خانه کعبه البته مدينې منوري ته په رسيدو سره تقريباً ۱۷ مياشتو پوري بيت المقدس د مسلمانانو قبله وه او د هغه وروسته په ۱۵ م رجب د دوشنبې په ورځ د الله تعالی حکم نازل سو، او د هميشه لپاره کعبه مشرفه يي قبله جوړه کړه او چي کوم څوک د مرض يا د بل عذر په وجه قبلې ته په مخ کولو قادر نه

وي نو د الله تعالی د قول مبارک (أَينَمَا تَوَلّو فَثَمّ وَجهُ الله) د عذر په وجه چي يې په کوم طرف مخ کړ نو لمونځ يې جائز دی.

وَاِنِ اشْتَبَهَتْ عَلَيْهِ الْقِبْلَةُ وَلَيْسَ بِحَضْرَتِهٖ مَنْ يَّسْئَلُهُ عَنْهَا اِجْتَهَدَ وَتَحَرّٰى وَصَلّٰى فَاِنْ عَلِمَ اَنَّهُ اَخْطَا بَعْدَ مَاصَلّٰى فَلَا اِعَادَةَ عَلَيْهِ وَاِنْ عَلِمَ ذٰلِكَ وَهُوَ فِي الصَّلٰوةِ اِسْتَدَارَ اِلَى الْقِبْلَةِ وَبَنٰى عَلَيْهَا وَسَوَاءٌ اِشْتَبَهَتْ فِي الْمَفَازَةِ اَوْفِي الْمِصْرِ وَسَوَآءٌ كَانَ ذٰلِكَ فِيْ لَيْلَةٍ مُظْلِمَةٍ اَوْفِيْ نَهَارٍ وَاِنْ تَحَرّٰى وَصَلّٰى اِلٰى غَيْرِ جِهَةِ التَّحَرِّيْ يُعِيْدُهَا وَاِنْ اَصَابَ الْقِبْلَةَ وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ اِنْ اَصَابَ لَايُعِيْدُهَا رَجُلٌ صَلّٰى اِلٰى غَيْرِ الْقِبْلَةِ مُتَعَمِّدًا فَوَافَقَ ذٰلِكَ الْقِبْلَةَ قَالَ اَبُوْحَنِيْفَةَ هُوَ كَافِرٌ بِاللهِ تَعَالٰى وَكَذَا الصَّلٰوةُ بِغَيْرِ طَهَارَةٍ وَكَذَا الثَّوْبُ النَّجِسُ وَالْمُخْتَارُ اَنْ يُّكْفَرَ فِي الصَّلٰوةِ بِغَيْرِ طَهَارَةٍ وَلَايُكْفَرَ فِي الثَّوْبِ النَّجِسِ اَوْاِلٰى غَيْرِ الْقِبْلَةِ كَذَا ذَكَرَهُ فِي الْفَتَاوٰى.

ژباړه: که چېري په يو سړي باندي قبله مشتبه سي او د هغه سره داسي څوک نه وي چي د هغه څخه پوښتنه وکړي نو د ښه سوچ او فکر وروسته يي لمونځ وکړ وروسته څرګنده سوه چي غلطي يي کړي ده نو پر هغه اعاده نسته که چېري په لمانځه کي دننه دا غلطي معلومه سوه نو د قبلې وطرف ته دي وګرځي او په دغه دي بنا وکړي که د قبلې شک په صحرا کي که په آبادۍ کي او که دا شک په تاريکه ماښام کي وي يا په ورځ کي، که يي فکر کړی وي د سوچ او فکر علاوه يي و بل طرف ته لمونځ وکړ نو دي اعاده وکړي که څه هم د قبلې وطرف ته راګرځېدلی وي، ابويوسف رحمه الله ويلي دي که چېري صحيح وي نو اعاده دي نه کوي، يو سړي ته دا معلومه وه مګر د قبلې د طرف څخه علاوه يي بل طرف ته لمونځ وکړ او د قبلې

موافق سو نو ابو حنيفه رحمه الله ويلي دي چي هغه كافر دى په الله سره، دغه ډول بې اودسه لمونځ كولو سره او دغه مثل په نجسو كالو كي او مختار قول دادى چي صرف بغير د طهارت لمونځ كولو سره كافر كيږي او په نجسو كالو يابغير د وطرف ته د كعبې لمونځ كولو سره نه كافر كيږي دغه ډول په فتاوىٰ كي ذكرسوي دي.

تشريح: كوم چا ته چي په طرف د كعبې كي شك وي او هغه په خپل سوچ او فكر سره يو طرف متعين كړي اود هغه وطرف ته لمونځ وكړي نو لمونځ جائز دى او د هغه دوباره قضا نسته لكه څنګه چي په ځينو رواياتو كي د صحابه كرامو رضى الله تعالى عليهم اجمعين څخه دغه ډول قول او نقل سوى دى چي يووخت په سفر كي په هغوى باندي قبله مشتبه سوه نو خپله پر خپل سوچ او فكرسره هر يوه د خپل سوچ او فكر سره د قبلې طرف متعين كړ بيا عليه السلام وهغوى ته وويل"قد اجيزت صلاتُكم" صاحب منيه په خپل عبارت كي ويلي دي چي دا حكم به هلته وي چي كله د هغو خلكو سره داسي څوک موجود نه وي چي هغو ته د قبلې د طرف په باره كي پوره خبر وركړي، د دې مطلب دادى يعني د يوه باخبره انسان په موجودګۍ كي به د هغه په خبره باندي عمل كيږي، خپل سوچ او فكر په دې باره كي كافي نه دى التبه كه چېري د لمانځه په دوران كي معلوم سي چي زموږ مخ د قبلې څخه وبل طرف ته دى نو فوراً د قبلې وطرف ته په لمانځه كي مخ كول ضروري دي او غير د قبلې وطرف ته چي يې څومره لمونځونه كړي وي پر هغه دي بناى وكړي د سره د شروع كولو ضرورت نسته لكه څنګه چي امام مسلم روايت كړى دى چي اهل قباء د سهار په لمانځه كي د ركوع په حالت كي وه چي د بنو سليم يو سړى دلته تيرېدى نو هغه اواز وكړ چي په عليه السلام باندي پروند ماښام قران نازل سو او قبله بدله سوه نو هغوى د لمانځه په حالت كي مخونه واړول او په اول كي د هغوى مخونه د شام يعني بيت المقدس وطرف ته وه.

وَلَوِ اشْتَبَهَتْ وَلَمْ يَتَحَرّٰى فَشَرَعَ وَصَلّٰى لَايَجُوْزُ وَاِنْ عَلِمَ اَنَّهُ اَصَابَ الْقِبْلَةَ اسْتَقْبَلَ الصَّلٰوةَ وَلَوِ اشْتَبَهَتْ اِنْ كَانَ بِحَضْرَتِهٖ مَنْ يَّسْاَلُهُ عَنْهَا فَلَمْ يَسْاَلْهُ وَتَحَرّٰى وَصَلّٰى فَاِنْ اَصَابَ الْقِبْلَةَ جَازَتْ وَاِلَّا فَلَاوَكَذَا الْاَعْمٰى وَلَوْسَئَلَ فَلَمْ يُخْبِرْهُ حَتّٰى تَحَرّٰى وَصَلّٰى ثُمَّ اَخْبَرَهٗ لَايُعِيْدُ مَاصَلّٰى وَلَوْشَكَّ فَتَحَرّٰى وَصَلّٰى رَكْعَةً اِلٰى جِهَةٍ ثُمَّ شَكَّ وَتَحَرّٰى وَوَقَعَ تَحَرِّيْهِ عَلٰى جِهَةٍ اُخْرٰى ثُمَّ وَثُمَّ حَتّٰى اَنَّهُ اِذَاصَلّٰى كَذٰلِكَ اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ اِلٰى اَرْبَعِ جِهَاتٍ بِالتَّحَرِّيْ جَازَ كَذَافِي الْفَتَاوٰى الْخَاقَانِيَّةِ وَذُكِرَ فِيْ اَمَالِي الْفَتَاوٰى اِنْ عَلِمَ اَنَّ قِبْلَتَهُ الْكَعْبَةُ وَلَمْ يَنْوِهَا جَازَوَفِي الْخَاقَانِيَّةِ اِنْ نَوَى الْمُصَلِّيْ اَنْ قِبْلَتَهُ مِحْرَابُ مَسْجِدِهٖ لَاتَجُوْزُ صَلٰوتُهُ لِاَنَّهُ عَلَامَةٌ وَلَيْسَ بِقِبْلَةٍ وَلَوْ حَوَّلَ صَدْرَهُ عَنِ الْقِبْلَةِ بِغَيْرِ عُذْرٍ وَلَوْظَنَّ اَنَّهُ اَحْدَثَ فَتَحَوَّلَ عَنِ الْقِبْلَةِ ثُمَّ عَلِمَ اَنَّهُ لَمْ يَحْدِثْ قَبْلَ اَنْ يَّخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ لَمْ تَفْسُدْ صَلٰوتُهُ وَاِنْ عَلِمَ بَعْدَ الْخُرُوْجِ فَسَدَتْ.

ژباړه: که چېري د مشتبه کېدو وروسته يي بغير د سوچ او فکر لمونځ وکړ نو نه دی جائز که چېري دا معلومه سي چي د قبلې وطرف ته وو نو بيا جائز دی، که د مشتبه کېدلو وروسته داسي څوک موجود وي د کوم څخه چي پوښتنه کولی سي مګر پوښتنه يې نه وکړه او وروسته د سوچ يي لمونځ وکړ نو که چېري د قبلې وطرفته سيده وي نو جائز دی که نه وي نه دی ، دغه ډول حکم د ړانده هم دی که چېري پوښتنه وکړي او هغه خبر نه ورکړي تر دې پوري چي په فکر کولو سره لمونځ وکړي د هغه وروسته يي خبر ورکړ نو سوی لمونځ دي نه راګرځوي که چېري په شک د واقع کېدو سره يي يو رکعت وکړ په شک کي يې فکر وکړ نو د هغه فکر بلي خوا ته واقع سو دغه ډول څو واره وسوه تر دې پوري چي هغه څلور رکعاته لمونځ په

څلورو سمتو کي وکړ نو جائز دی دا راز په فتاوٰی خاقانیه کي ذکرسوي دي ،او په امالي فتاوٰی کي ذکر سوي دي چي د دې معلومیدو باوجود چي د هغه قبله کعبه ده د هغه نیت یې نه وکړ نو جائز دی، په خاقانیه کي راغلي دي که چېري لمونځ کوونکی نیت وکړي چي د هغه قبله محراب د مسجد دی نو د هغه لمونځ نه کیږي ولي چي هغه محراب صرف د قبلې علامه ده، که چېري د قبلې څخه سینه واړه وي بغیر د څه عذره نو د هغه لمونځ فاسدیږي که چېري یې مخ واړوی نو پر هغه لازم دی چي فوراً په یوه ګړي کي د قبلې و طرف ته مخ کړي او لمونځ نه فاسدیږي مګر مکروه دی که چېري چا د بې اودسی خیال وکړ او د قبلې څخه واوښتی بیا د مسجد څخه د وتلو تر مخه معلومه سوه چي بې اودسه سوی نه دی نو د هغه لمونځ نه سو فاسد که چېري د وتلو وروسته معلوم سو نو فاسد دی.

تشریح: که چېري قبله مشکوکه سي او څوک بغیر د سوچ وفکره لمونځ وکړي او وروسته دا معلومه سي چي که څه هم دا لمونځ بغیر د سوچ وفکر کړی دی په دې طرف کي قبله صحیح وه نو بیا هم دا لمونځ نه دی جائز او د دې مثال فقهاء کرامو دا بیان کړی دی که چېري څوک په داسي کالو کي لمونځ وکړي چي د هغه په اړه د چا دا خیال وي چي دا کالي نجس دي او وروسته معلوم سي چي هغه پاک وه یا یو څوک د دې په خیال سره لمونځ کوي چي زما اودس نسته مګر وروسته معلومه سوه چي اودس یې سته نو په دې دواړو صورتو کي لمونځ نه دی جائز، دغه حکم د هغه سړي دی چي بېله سوچه او فکره د قبلې وطرف ته درست ودریږي که چېري د مقامو خلګو په موجودګی کي یو څوک بغیر پوښتني په خپل فکر سره د قبلې طرف متعین کړي نو که صحیح ولاړ وي نو لمونځ جائز دی که نه وي نو نه دی جائز، د شروع څخه به د لمانځه اعاده کوي که یې د یوچا څخه پوښتنه وکړه مګر هغه په ښوولو کي انتظار وکړاو لمونځ کوونکي لمونځ وکړ وروسته خبر ورکړل سو چي د قبلې څخه

غلط طرف ته لمونځ کړی دی نو د دې لمانځه اعاده نسته، که چېري څوک په لمانځه کي د قبلې څخه سینه واړه وي او څه عذر یي هم نه وي نو لمونځ یې فاسد دی او که یواځي مخ واړوي نو لمونځ مع الکراهت جائز دی ولې چي امام ابوداود و نسائي رحمهما الله روایت کړی دی چي علیه السلام وویل چي تر څه وخته پوري بنده په لمانځه کي وي نو الله تعالی په هغه باندي په رحمت سره متوجه کیږي تر هغه پوري چي هغه بل طرف ته التفات نه وکړي چي کله التفات کوي نو الله تعالی د هغه څخه اعراض وکړي، دغه ډول د ترمذي شریفي په روایت کي حضرت انس رضي الله عنه وایي چي نبی علیه السلام ما ته وویل چي ای زویه خپل ځان په لمانځه کي د التفات څخه وساته ولي چي په لمانځه کي التفات هلاکت دی.

(شرط خامس)

هُوَ الْوَقْتُ اَوَّلُ وَقْتِ الْفَجْرِ اِذَاطَلَعَ الْفَجْرُ الثَّانِيْ وَهُوَ الْبَيَاضُ الْمُسْتَطِيْرُ فِي الْاُفُقِ فَبِطُلُوْعِ الْفَجْرِ الْاَوَّلِ الْكَاذِبِ وَهُوَالْبَيَاضُ الْمُسْتَطِيْلُ لَايَخْرُجُ وَقْتُ الْعِشَاءِ وَلَايَدْخُلُ وَقْتُ الْفَجْرِ وَفِي الْمُحِيْطِ اَمَّا الْفَجْرُ الْكَاذِبُ وَهُوَ اَنْ يَرْتَفِعَ الْبَيَاضُ الْكَاذِبُ فِيْ نَاحِيَةٍ وَّاحِدَةٍ ثُمَّ يَتَلَاشٰى وَاٰخِرُوقْتِهَا قُبَيْلُ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَاخْتَلَفُوْا فِي الْوَقْتِ الَّتِيْ لَايُبَاحُ فِيْهَا الصَّلٰوةُ اِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ قَالَ اَبُوْ بَكْرٍ مُحَمَّدُبْنُ الْفَضْلِ مَادَامَ الْاِنْسَانُ يَقْدِرُ عَلَى النَّظَرِ اِلٰى قُرْصِ الشَّمْسِ فَهِيَ فِي الطُّلُوْعِ لَايُبَاحُ فِيْهِ الصَّلٰوةُ فَاِذَا عَجَزَ عَنِ النَّظَرِ يُبَاحُ الصَّلٰوةُ فِيْهِ وَفِيْ كِتَابِ مُحَمَّدٍ اِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ قَدْرَ رُمْحٍ اَوْ رُمْحَيْنِ يُبَاحُ الصَّلٰوةُ وَاِلَّا كَذَا ذُكِرَ فِيْ خُلَاصَةِ الْفَتَاوٰى

ژباړه: د سهار د لمانځه اول وخت هغه دی چي کله دوهمي سفیدۍ را وخیږي او

هغه د آسمان په کنارو باندي غوړېدلي سفيدي دي، اولي سفيدۍ د کاذب طلوع ځکه چي اوږدې سفيدي دي په هغه سره د ماخستن وخت نه وزي او د سهار وخت نه داخلیږي او په محیط کي راغلي دي چي فجر کاذب دادی چي د آسمان په يوه طرف کي سفيدي پورته سي او بیا ختمي سي، او د سهار د لمانځه آخري وخت دادی چي کله لمر را وخيژي د هغه ځخه لږ مخکي لمونځ قضا کيږي او د علماؤ د دې وخت په باره کي اختلاف دی چي په هغه کي لمونځ نه دی جائز چي کله لمر راوخيژي، امام ابوبکر محمد بن فضل رحمه الله ويلي دي چي تر څه وخته پوري انسان و لمر ته په کتلو قدرت لري نو هغه په راختلو کي دی او لمونځ نه دی روا، چي کله د ليدلو سره عاجزه سي نو لمونځ په دې وخت کي روا کيږي، دامام محمد رحمه الله په کتاب کي دی چي کله لمر د يوې يا دوو نيزو برابر راپورته سي نو په دې وخت کي لمونځ مباح دی دغه ډول په خلاصة الفتاوی کي هم ذکر سوي دي .

تشريح: د لمانځ د شپږو شرائطو ځخه پنځم شرط د وخت داخلېدل دي لکه ځنګه چي په قرآن پاک کي راغلي دي (اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَت عَلَى المُؤمِنِينَ كِتَابًا مَّوقُوتًا) يعني لمونځ په مومنانو باندي په خپل خپل وختو کي دننه فرض سوی دی، د شپې په آخري حصه کي په آسمان کي يو اوږدې سفيدۍ شرقا غرباً راځي او بیا ختميږي دې ته صبح کاذب ویل کیږي، د دې وروسته د آسمان په کنارو کي سفيدي راځي او زياتيږي دې ته صبح صادق ويل کيږي .

اوس صاحب منية المصلي وايي چي د صبح کاذب په روښنايي سره نه د ماخستن وخت ختميږي او نه د صبح صادق وخت داخليږي، چونکي د لمر راختلو په وخت کي ترهغه وخته پوري چي د لمر رڼا ښه نه سي تيزه لمونځ کول مکروه دي، ځيني علماؤ ويلي دي چي رڼا ته نه کتل کيږي نو هغه وخت د لمانځه کراهت ختميږي، زموږ په دور کي د ساعت په حساب سره د طلوع افتاب ځخه تقريبًا پنځلس (۱۵) دقيقې وتلو

وروسته د اشراق لمونځ كول جائز دي .

وَاَوَّلُ وَقْتِ الظُّهْرِ بَعْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ وَاٰخِرُ وَقْتِهَا عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ اِذَا صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَيْهِ سِوٰى فَيْءِ الزَّوَالِ وَقَالَ اِذَا صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَهُ وَاَوَّلُ وَقْتِ الْعَصْرِ اِذَا خَرَجَ وَقْتُ الظُّهْرِ عَلَى الْقَوْلَيْنِ وَاٰخِرُ وَقْتِهَا مَالَمْ تَغْرُبِ الشَّمْسُ وَاَوَّلُ وَقْتِ الْمَغْرِبِ اِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَاٰخِرُ وَقْتِهَا مَالَمْ يَغِبِ الشَّفَقُ وَهُوَ الْبَيَاضُ الَّذِىْ فِى الْاُفُقِ بَعْدَ الْحُمْرَةِ عِنْدَ اَبِىْ حَنِيْفَةَ وَقَالَا الْحُمْرَةُ وَاَوَّلُ وَقْتِ الْعِشَاءِ اِذَا غَابَ الشَّفَقُ عَلَى الْقَوْلَيْنِ وَاٰخِرُهُ مَالَمْ يَطْلُعُ الْفَجْرُ الثَّانِىْ وَوَقْتُ الْوِتْرِ مَاهُوَ وَقْتُ الْعِشَاءِ اِلَّا اَنَّهُ مَامُوْرٌ بِتَقْدِيْمِ الْعِشَاءِ عَلَيْهِ حَتّٰى لَوْاَنَّ رَجُلًا صَلَّى الْعِشَاءَ بِثَوْبٍ وَصَلَّى الْوِتْرِ بِاٰخَرَ ثُمَّ ظَهَرَ اَنَّ الثَّوْبَ الَّذِىْ صَلَّى الْعِشَاءَ بِهٖ كَانَ نَجِسًا يُعِيْدُ الْعِشَآءَ دُوْنَ الْوِتْرَ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ خِلَافًا لَهُمَا.

وَيَسْتَحِبُّ فِى الْفَجْرِ الْاِسْفَارُ عِنْدَنَا فِى الْاَزْمِنَةِ كُلِّهَا اِلَّا يَوْمَ النَّحْرِ بِمُزْدَلِفَةَ وَالْاِبْرَادُ بِالظُّهْرِ فِى الصَّيْفِ وَتَقْدِيْمُهَا فِى الشِّتَآءِ وَتَاخِيْرُ الْعَصْرِ مَالَمْ تَتَغَيَّرَ الشَّمْسُ وَتَعْجِيْلُ الْمَغْرِبِ وَتَاخِيْرُ الْعِشَاءِ اِلٰى مَاقَبْلَ ثُلُثِ اللَّيْلِ مُسْتَحَبٌّ وَاِلٰى مَابَعْدَهُ اِلٰى نِصْفِ اللَّيْلِ مُبَاحٌ وَاِلٰى مَابَعْدَهُ اِلٰى طُلُوْعِ الْفَجْرِ مَكْرُوْهٌ اِذَاكَانَ بِغَيْرِ عُذْرٍ وَاَمَّا فِى الْوِتْرِ اِنْ كَانَ لَايَثِقُ بِالْاِنْتِبَاهِ اَوْتَرَ قَبْلَ النَّوْمِ وَاِنْكَانَ يَثِقُ بِالْاِنْتِبَاهِ

فَتَاخِيُرُهٗ اِلٰی اٰخِرِ اللَّيْلِ اَفْضَلُ وَاِذَاكَانَ الْيَوْمُ يَوْمَ غَيْمٍ فَالْمُسْتَحَبُّ فِي الْفَجْرِ وَالظُّهْرِ وَالْمَغْرِبِ تَاْخِيْرُهَا يَعْنِيْ عَدَمُ التَّعْجِيْلِ وَفِي الْعَصْرِ وَالْعِشَاءِ تَعْجِيْلُهَا.

ژباړه: د ماپښين اول وخت د زوال شمس وروسته يعني چي کله لمر تر سر کښته سي او پر دې باندي اتفاق دی، د ماپښين د لمانځه په آخري وخت کي اختلاف دی. حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله وايي چي د اصلي سايې څخه علاوه چي کله د هر شي سايه دوچنده سي نو د ماپښين وخت ختم سو د ماځيگر وخت داخليږي چي کله د هر شي سايه (د زوال څخه ماسوا) د هغه په مثل سي، سايه اصلي يعني فی الزوال معلومولو طريقه داده چي د ځمکي سطحه داسي هواره سي چي په هغه کي هيڅ پورته کښته نه سي پاته بيا يو لرگی جگ کړل سي او تر کومه پوري چي د دې شي سايه ورسيږي نو هلته دي يو نښان دي ولگول سي نو تر کوم ځای پوري چي دا سايه کميږي نودا د زوال څخه ترمخه وخت دی مگر چي کله کميږي کميږي او د هغه شي په بيخ کي ودريږي نو دا فی الزوال يعني اصلي سايه ده او چي کله دا سايه د مشرق و طرفته روانه سي نو پوه سه چي لمر کم سو، او د ماپښين د لمانځه وخت شروع سو، د ماځگير اول وخت د ماپښين وروسته وخت په دومثله باندي ختم سي لکه څنگه چي د امام صاحب رحمه الله قول دی يا په يوه مثل باندي ختم سي لکه څنگه چي د صاحبينو قول دی او د ماځيگر آخري وخت د لمر د لوېدو څخه تر مخه پوري دی، د ماښام وخت د لمر لويدو وروسته شروع کيږي او د غروب شفق پوري يي، زموږ د آئمه کرامو د شفق په تعين کي اختلاف دی، د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد شفق هغه سفيدي دي چي د سرخي وروسته د آسمان په کنارو ښکاره کيږي او په دليل کي د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت پيشوي چي عليه السلام وويل د ماښام د لمانځه آخر وخت چي کله اُفق طور سي او دا خبره ښکاره ده چي په افق باندي د سفيدي

ختميدولو وروسته توروالی راځي، صاحبين وايي چې د دې سرخي نوم شفق دی او د هغو دليل د عليه السلام مبارک قول دی چې (الشفق الحمدة) اکثرو علماؤ د صاحبينو په قول فتوی نقل کړي ده لهٰذا په افق باندې د سرخي ختميدو وروسته د ماخستين اول وخت شروع کيږي او د صبح صادق پورې وي، د ماخستن د لمانځه او وترو يو وخت دی البته د ماخستن څلور رکعات فرض په وترو باندې مخکې کول ضروري دي، صاحبين حضرات د وتر د لمانځه د قول د وجوب قائل نه دي، د دې لپاره که چېرې چا د ماخستن لمونځ په نجسو کالو کې وکړ او د وتر لمونځ يې په پاکو کالو کې ادا کړ نو د صاحبينو په نِز وتر لمونځ د سنت په وجه د فرض په تابع کيدو سره به دوباره کول کيږي او د امام ابوحنيفه رحمه الله په نِز چونکې وتر لمونځ علٰحده عملي فرض دی د دې لپاره د ماخستن د تابع نه کيدو په وجه د هغه اعاده به نه کول کيږي.

اَمَّا الْاَوْقَاتُ الَّتِىْ تَكْرَهُ فِيْهَا الصَّلٰوةُ فَخَمْسَةٌ ثَلٰثَةٌ مِّنْهَا يُكْرَهُ فِيْهَا الْفَرْضُ وَالتَّطَوُّعُ وَذٰلِكَ عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَعِنْدَ غُرُوْبِهَا اِلَّا عَصْرَ يَوْمِهٖ وَوَقْتُ الزَّوَالِ وَرُوِىَ عَنْ اَبِىْ يُوْسُفَ اَنَّهٗ جَوَّزَ التَّطَوُّعَ وَقْتَ الزَّوَالِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلَايُصَلِّىْ فِيْهَا صَلٰوةَ جَنَازَةٍ وَلَايَسْجُدُ لِلتِّلَاوَةِ وَلَايَسْجُدُ فِيْهَا لِلسَّهْوِ وَلَوْ قَضَا فِيْهَا فَرْضًا يُعِيْدُهَا وَاِذَا تَلَا فِيْهَا اٰيَةَ سِجْدَةٍ فَالْاَفْضَلُ اَن لَّايَسْجُدَهَا فَاِنْ سَجَدَهَا لَايُعِيْدُهَا وَاَمَّا الْوَقْتَانِ الْاٰخَرَانِ فَاِنَّهٗ يُكْرَهُ فِيْهِمَا التَّطَوُّعُ وَلَايُكْرَهُ فِيْهِمَا الْفَرْضُ يَعْنِى الْفَوَائِتَ وَصَلٰوةَ الْجَنَازَةِ وَسَجْدَةَ التِّلَاوَةَ وَهُمَا مَابَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ اِلٰى اَنْ تَرْتَفِعَ الشَّمْسُ اِلَّا سُنَّةَ الْفَجْرِ وَمَابَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ اِلٰى غُرُوْبِ الشَّمْسِ.

ژباړه: زموږ په نِز د سهار په لمانځه کې هر وخت که ګرمي وي او که يخ اسفار

مستحب دی یعني په یوڅه رڼا کي د سهار لمونځ کول مستحب دی، مګر په یوم نحر کي د مزدلفې په مقام کي اود ګرمۍ په موسم کي، د ماپښين لمونځ په یخه سایه کي کول، او په یخ کي د ماپښين لمونځ وختي کول مستحب دي، او د لمر د تغیر څخه ترمخه د ماځیګر لمونځ وروسته کول او د ماښام په لمانځه کي تلوار کول او د شپې تر دريمي حصې پوري د ماخستن لمونځ وروسته کول مستحب دي د هغه وروسته د نيمي شپې پوري مباح دی او د هغه وروسته د صبح صادق پوري مکروه دی چي کله بېله عذره وي، او د وترو په باره که چېري څوک د شپې په راپورته کيدو باندي يقيني نه وي نو تر بيديدو تر مخه دي وتر وکړي او که چېري يې د خوب څخه په را پورته کيدو يقين وي نو تر آخر د شپې پوري وروسته کول افضل دي، چي کله د وريزي ورځ وي نو سهار، ماپښين، او په ماښام کي وروسته والی یعني عدم تعجيل په ماځیګر او ماخستن کي تلوار مستحب دی.

تشریح: مصنف رحمه الله چي کله مطلقِ د لمانځه د وختو څخه فارغه سو نو اوس د مستحب وختو ذکر کوي، چي د احنافو په نزد د سهار لمونځ په رڼا کي کول مستحب دی، یعني د سفیدو د غوړیدو وروسته لمونځ د مسنون قرآئت سره کولای سي او که چېري چاته د اودس یا بل شي ضرورت پیښ سي نو د هغه لپاره د اودس کولو وروسته د لمر ختلو څخه ترمخه د سهار لمونځ کول ممکن دی، امام طحطاوي رحمه الله چي په احنافو کي مشهور محدیث دی دی وايي چي د سهار لمونځ دي په تاریکه کي شروع کړل سي او په سفیدو باندي دي ختم کړل سي نو دا دول د اوږد قرآئت په ذریعه سره په ټولو روایاتو باندي به عمل ممکن سي.

د ګرمۍ په موسم کي د ماپښين لمونځ په سایه کي ادا کول او د یخ په موسم کي په اول وخت کي ژر ادا کول مستحب دي، د ماځیګر لمونځ په هر موسم کي وروسته کول مستحب دي، ولي چي د ماځیګر د لمانځه په وروسته والي کي د نوافلو د زیادت

موقع ده، د دې لپاره چې د ماځیګر د لمانځه وروسته نفل کول مکروه دي مګر د دومره تاخیر ځنځه ځان ساتل پکار دي چې لمر ژړ سي او د ماځیګر لمونځ په مکروه وخت کې وکړي، د ماښام په لمانځه کې تلوار مستحب دی ولې چې په وروسته والي کې د یهودو سره مشابهت دی او علیه السلام ویلي دی چې زما امت به همیشه په خیر وي تر هغه وخته پورې چې هغوی په ماښام کې ژر او په ماخستن کې وروسته والی کوي، د ماخستن لمونځ د دریمې د شپې پورې مؤخر کول مستحب دي، په اشرف الهدایه کې د ځینو فقهاؤ په حواله سره یې لیکلي دي چې د ګرمۍ په موسم کې د ماخستن لمونځ ژر ادا کول مستحب دي ولې چې د ګرمۍ په موسم کې شپه کوچنۍ وي نو خلګ ژر پریوزي نو بیا به د جماعت خلګ لږ وي، د وتر لمانځه په باره کې فقهاؤ ویلي دي چې د چا د تهجد لمونځ کول عادت وي نو هغه ته مستحب دا ده چې د تجهد وروسته د شپې په آخري حصې کې لمونځ وکړي که چېرې د پورته کیدو باوریې نه وي او د تهجد ګذار هم نه وي نو دا سړی دي د پریوتلو ځنځه ترمخه وتر وکړي.

اَمَّا الْاَوْقَاتُ الَّتِیْ تَکْرَهُ فِیْهَا الصَّلٰوۃُ فَخَمْسَةٌ ثَلٰثَةٌ مِّنْهَا یَکْرَهُ فِیْهَا الْفَرْضُ وَالتَّطَوُّعُ وَذٰلِکَ عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَعِنْدَ غُرُوْبِهَا اِلَّا عَصْرَ یَوْمِهٖ وَوَقْتُ الزَّوَالِ وَرُوِیَ عَنْ اَبِیْ یُوْسُفَ اَنَّهٗ جَوَّزَ التَّطَوُّعَ وَقْتَ الزَّوَالِ یَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلَایُصَلِّیْ فِیْهَا صَلٰوۃَ جَنَازَۃٍ وَلَایَسْجُدُ لِلتِّلَاوَۃِ وَلَایَسْجُدُ فِیْهَا لِلسَّهْوِ وَلَوْ قَضَا فِیْهَا فَرْضًا یُعِیْدُهَا وَاِذَا تَلَا فِیْهَا اٰیَةَ سِجْدَۃٍ فَالْاَفْضَلُ اَنْ لَّایَسْجُدَهَا فَاِنْ سَجَدَهَا لَایُعِیْدُهَا وَاَمَّا الْوَقْتَانِ الْاٰخَرَانِ فَاِنَّهٗ یَکْرَهُ فِیْهِمَا التَّطَوُّعُ وَلَایَکْرَهُ فِیْهِمَا الْفَرْضُ یَعْنِیْ الْفَوَائِتَ وَصَلٰوۃَ الْجَنَازَۃِ وَسَجْدَۃَ التِّلَاوَۃَ

وَهُمَا مَابَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ اِلٰى اَنْ تَرْتَفِعَ الشَّمْسُ اِلَّا سُنَّةَ الْفَجْرِ وَمَابَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ اِلٰى غُرُوْبِ الشَّمْسِ.

ژباړه: هغه وختونه چي په هغه وختو کي لمونځ کول مکروه دي هغه پنځه دي، درې وختونه هغه دي چي په هغه کي فرض نفل ټوله مکروه دي او دا د لمر راختلو او لمر لوېدلو په وخت کي مګر د دغې ورځي د ماخيګر لمونځ مکروه نه دی او په وخت د زوال يعني په غرمه کي چي لمر پر سرولاړ وي، د ابو يوسف رحمه الله څخه روايت سوی دی چي هغه د جمعې په ورځ په وخت د زوال نفل جائز ګڼي، او په دې وختو کي د جناې لمونځ، سجده د تلاوت او سجده سهوه دي هم نه کوي که چېري يي لمونځ قضاء کړ نو د لمانځه اعاده دي وکړي که په دې وختو کي يې اٰيت د سجدې تلاوت کړ نو بهتره داده چي سجده نه وکړي او که چېري يي سجده وکړه نو د هغې اعاده دي نه کوي.

د دغو درو وختونو څخه ماسوای هغه نور دوه وختونه چي په هغه دوو وختو کي نفل مکروه دي او په هغو کي فرض يعني قضا سوي فرائض، د جنازې لمونځ او سجده د تلاوت مکروه نه دي، او هغه دواړه د صبح صادق څخه بيا تر لمر د لوړېدو مګر د سهار سنت مکروه نه دي او د ماخيګر د لمونځ کولو وروسته تر لمر لوېدو پوري.

تشريح: د اوقات مستحبه د بيان د فراغت څخه وروسته مصنف رحمه الله د اوقاتو مکروه بيان کوي او وايي چي د لمر د راختلو په وخت کي او نصف النهار يعني غرمه او د لمر لوېدو په وخت کي صرف د دغه ورځي علاوه بل فرض يا نفل لمونځ نه دی جائز، د امام ابويوسف رحمه الله په نِز د جمعې په ورځ د ولاړه شمس په وخت نفل کول جائز دي، د امام يوسف رحمه الله دليل هغه حديث دی چي هغه ابوهريره او ابوسعد خدری رضی الله تعالی عنهما روايت کړی دی چي (اِنَّ رسول الله صلی الله عليه

وسلم نهى الصّلاة نصفُ النَهارِ حتّى تزولُ الشّمسِ الاّ يومَ الجُمعَة)

ژباړه: يعني نبي عليه السلام په نصف النهار کي د لمانځه کولو څخه منع کړي ده تر دې پوري چي لمر کښته سي مګر د جمعې په ورځ او د سهار د لمانځه وروسته د لمر تر راختلو پوري او د ماځيګر وروسته د لمر لوېدلو پوري نفل کول مکروه دي، دليل د ابن عباس رضي الله عنه حديث دى چي ماته د بندګانو حق خوښ شهادت راکړى دى په قوم کي چي زما په نِز زيات خوښ دى چي هغه حضرت عمر رضي الله عنه دى، عليه السلام د سهار د لمانځه وروسته د لمانځه څخه منع وکړه تر هغه وخته پوري چي لمر را وخيژي او وروسته تر ماځيګر د لمانځه چي لمرَ ولوېږي.

وَمَابَعْدَغُرُوْبِ الشَّمْسِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ اَيْضًا مَكْرُوْهٌ لِتَاخِيْرِ الْمَغْرِبِ وَكَذٰلِكَ يَكْرَهُ التَّطَوُّعُ اِذَا خَرَجَ الْاِمَامُ لِلْخُطْبَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَكَذَا عِنْدَ الْاِقَامَةِ فَاِنْ شَرَعَ ثُمَّ خَرَجَ الْاِمَامُ لَايَقْطَعُهَا وَكَذَا قَبْلَ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ وَعِنْدَ خُطْبَتِهِمَا وَكَذَا عِنْدَ خُطْبَةِ الْكُسُوْفِ وَالْاِسْتِسْقَآءِ.

ژباړه: د لمر لوېدو وروسته د ماښام د لمانځه څخه ترمخه هم نفل مکرو ه دي ولي چي په دې کي د ماښام د لمانځه تاخير کېږي، دغه ډول نفل کول مکروه دي چي کله په ورځ د جمعې امام د لمانځه لپاره ولاړ سي او د هغه راز په دوران کي د اقامت وروسته که چېري د شروع کول وروسته امام ووزي نو دي قطع نه کوي، دغه ډول د اختر د لمونځو څخه ترمخه او دواړو خطبو په وخت کي ، دغه ډول د کسوف او استقاء د خطبې په وخت کي.

تشريح: د ماښام د لمانځه څخه ترمخه هم د احنافو په نِز په نوافلو کي مشغوليدل مکروه دي ولي چي په دې سره د ماښام په لمانځه کي تاخير لازم راځي او د ماښام

په لمانځه کي تلوار مستحب دی، مگر په داسي مواقعو باندي چېري چي جماعت مقدم کول ستا د وس کار نه وي لکه څنگه چي په حرمينو شريفينو کي کيږي نو د بنده ناچيز پر ناقص فکر دا به بهتره وي چي دوه رکعاته نفل وکړي، فقيه النفس علامه حنيف احمد گنگوهي رحمه الله په غاية السعايه کي په دې موضوع کي بحث کړی دی او ليکلي يې دي چي د ماښام تر لمانځه وروسته دوه رکعاته لمونځ کولو ته په عامو حنيفي کتابو کي مکروه ويل سوي دي، مگر شيخ ابن الهمام په فتح القدير کي په دې مسئله باندي د مفصل بحث کلام وروسته مباح شمارلي دي (حَيْثُ قَالَ ثُمَّ الثَّابِتُ بَعْدَ هٰذَا هُوَ نَفِي الْمَنْدُوْبِيَّةِ اَمَّا ثُبُوْتِ الْكِرَاهَةِ فَلاَ) دغه بهتر او معتمد قول دی، د دې څخه علاوه د خطبو په وخت کي هم په نوافلو باندي د مشغوله کېدو په صورت کي د خطبو اورېدل نه سي کيدی او په متن کي ذکر سوي دي چي د ټولو خطبو اورېدل ضروري دي.

وَلَوْ شَرَعَ فِي التَّطَوُّعِ فِي الْاَوْقَاتِ الثَّلٰثَةِ فَالْاَفْضَلُ اَنْ يَّقْطَعَهَا ثُمَّ يَقْضِيْهَا وَلَوْلَمْ يَقْطَعْ فَقَدْ اَسَآءَ وَلَاشَيْءَ عَلَيْهِ وَلَوْ شَرَعَ فِي النَّافِلَةِ فِي الْوَقْتَيْنِ ثُمَّ اَفْسَدَهَا لَزِمَهُ الْقَضَآءُ وَلَوِافْتَتَحَ النَّافِلَةَ فِيْ وَقْتٍ مُسْتَحَبٍ ثُمَّ اَفْسَدَهَا لَايَقْضِيْهَا بَعْدَ الْعَصْرِ قَبْلَ الْغُرُوْبِ وَلَوْ اَفْسَدَ سُنَّةَ الْفَجْرِ لَايَقْضِيْهَا بَعْدَ مَا صَلَّى الْفَجْرَ وَقِيْلَ يَقْضِيْهَا وَلَوْشَرَعَ فِيْ اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ قَبْلَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ فَلَمَّا صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ طَلَعَ الْفَجْرُ ثُمَّ قَامَ وَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ تَنُوْبُ عَنْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ عِنْدَهُمَا وَهُوَ اِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَفِي الذَّخِيْرَةِ وَلَوْ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ عَلٰى ظَنِّ اَنَّهُ لَمْ يَطْلَعِ الْفَجْرُ وَقَدْ تَبَيَّنَ اَنَّهُ

قَدْ طَلَعَ الْفَجْرُ فَعِنْدَ الْمُتَاَخِّرِيْنَ تَجْزِيْهِ عَنْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ وَلَوْشَكَّ لَاتَجْزِيْهِ عَنْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ بِالْاِتِّفَاقِ وَاِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ حَتّٰى ارْتَفَعَتْ قَدْرَ رُمْحَيْنِ اَوْقَدْرَ رُمْحٍ تُبَاحُ الصَّلٰوةُ وَلَوْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ فِيْ خِلَالِ الْفَجْرِ تَفْسُدُ صَلٰوةُ الْفَجْرِ وَلَوْ غَرَبَتِ الشَّمْسُ فِيْ خِلَالِ الْعَصْرِ لَاتَفْسُدُ.

ژباړه: که يوڅوک په دغه تېرسوو درو وختو کې نفل شروع کړي نو بهتره داده چې د قطع کېدلو وروسته بيا قضاء راوړي که چېرې يې قطع نه کړل نو ګنهګار دی، مګر پر هغه هيڅ قضاء نسته او که چېرې هغه په مکروه وختو کې د نفل شروع کولو وروسته يې فاسد کړل نو پر هغه باندې قضاء لازمه ده او په مستحب وختو کې که يې نفل شروع کړل او بيا يې فاسد کړه نو د ماځيګر ترلمانځه وروسته دې د هغه قضا نه راوړي، که يې د سهار د لمانځه سنت فاسد کړل نو د سهار د فرض کولو وروسته دې د هغو قضا نه راوړي او ځينو ويلي يې دي چې قضا دې راوړي، که چا د صبح صادق څخه تر مخه څلور رکعاته نفل شروع کړل نو چې کله يې دوه رکعات وکړل نو د سهار وخت سو بيا ودرېدی او دوه رکعاتونه يې وکړل نو د صاحبينو په نِز دا دوه رکعاته د سهار د سنتو قائم مقام دي او د غه يو روايت د امام ابو حنيفه رحمه الله څخه هم دی، په ذخيره کې راغلي دي که چېرې يې دوه رکعاته په دې خيال سره ادا کړل چې تر اوسه پورې سهار نه دی او بيا ثابته سوه چې د سهار وخت سوی دی نو د متاخرينو په نِز دوه رکعاته د سهار د سنتو پر ځای دي، که چېرې په شک کې وي نو بالاتفاق د سهار د سنتو په ځای کې کافي نه دي، او چې کله د لمر تر راختلو وروسته د يوې يا دوو نيزو په مقدار لمرلوړ سي نو لمونځ مباح سو او که چېرې د سهار د لمونځ کولو په منځ کې لمر راوخيژي نو د سهار لمونځ فاسد دی او که د ماځيګر د

لمانځه په منځ کي لمر ډوب سي نو لمونځ نه فاسديږي.

تشريح: په مکروه وختو کي د لمونځ کولو څخه په احاديثو مبارکه وو کي نهي راغلي دي، د دې لپاره که چېري څوک په دې اوقاتو کي لمونځ شروع کړي نو بهتره داده چي لمونځ مات کړي وروسته بيا په يو غير مکروه وخت کي د هغه لمانځه قضا راوړي نو دا لمونځ په ثواب کي دکامليدلو سره بغير د کراهت به ثابت سي که څه هم د اول لمانځه په قطعه کولو کي يو عمل باطلول لازم راځي مګر دا ابطال برائي اکمال دی د دې لپاره چي لمونځ د کراهت د حد څخه ووزي د کامل ثواب ذريعه جوړ سي لکه څنګه چي څوک په انفرادي ډول لمونځ ادا کوي، د جماعت لپاره چي اقامت وويل سي نو بهتره داده چي په انفرادي فرض قطع کولو سره د جماعت فضيلت حاصلولو لپاره په دې کي شريک سي، مګر که چېري په اوقاتو مکروهه کي د لمونځ شروع کولو وروسته قطعه کول مکمل نه دی نو د هغه لمونځ مع الکراهت درست دی او په هغه باندي هيڅ قضا لازمه نه ده البته ګنهګار ضرور دی په دې باندي استغفار کول لازم دي، که چېري څوک په اوقاتِ مستحبه کي د نوافلو شروع کولو وروسته د څه عذر پر بنا باندي يي فاسد کړي نو وروسته د صبح صادق څخه بيا د لمر د پورته کيدو پوري او د ماځيګر د لمانځه وروسته تر لمر لوېدو پوري د هغوی قضاء دي نه راوړي ولي چي دا قضاء اوس که څه هم واجب ده مګر في نفسه دا نفلي لمونځ دی او په دې وختو کي نوافل کول مکروه دي، که څه هم د فرائضو قضاء په دې وختو کي مکروه ده، که چېري چا د تهجد په وخت کي څلور رکعاته نفل شروع کړل مګر د دوو رکعاتو پوره کولو وروسته فجر طلوع سو يعني د صبح صادق وخت داخل سو اوس باقي دوه رکعاته که څه هم د تهجد په نيت سره دي مګر د امام ابويوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نِز دا دوه رکعاته د سهار د سنتو قائم مقام دي. مګر که چېري په سهار کيدو کي يي شک وي چي فجر طلوع سوی دی که

نو په مشکوک وخت کړل سوي دوه رکعاته د سهار د سنتو قائم مقام نه سي کيدی.

چونکي د طلوع الشمس څخه د ارتفاع شمس پوري نفل کول مکروه دي مګر د ارتفاع شمس کوم کوم علامات دي، په دې باره کي د علماؤ اقوال مختلف دي چي د هغو معنی نيژدې نيژدې يوه يوه ده، امام ابوبکر محمد بن فضل رحمه الله وايي چي تر څه وخته پوري د لمر رڼا د کمزوری په وجه انسان ورته په کتلو قادري وي تر هغه وخته پوري لمونځ نه دی جائز چي کله انسان د کتلو څخه عاجزه سي نو لمر لوړ سو او اوس لمونځ کول جائز دی.او ځينو علماؤ لکه څنګه چي په متن کي ذکرسوي دي يوې يا دوو نيزو ختلو پوري مقدار بيان کړی دی کوم چي د طلوع وروسته تقريباً د پنځلس دقيقې په تيريدولو سره ممکن دی نو د هغه وروسته لمونځ کولای سي.

والله تعالیٰ اعلم وعلمه اتم

(شرط سادس النيت)

اَلْمُصَلِّیْ اِذَاکَانَ مُتَنَفِّلًا يَکْفِيْهِ مُطْلَقُ نِيَّةُ الصَّلٰوةِ وَفِی التَّرَاوِيْحِ اِخْتَلَفَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ الْمُتَقَدِّمِيْنَ قَالُوْا اَلْاَصَحُّ اَنَّهُ لَايَجُوْزُ بِمُطْلَقِ النِّيَّةِ وَذَکَرَ الْمُتَاَخِّرُوْنَ اَنَّ التَّرَاوِيْحَ وَسَآئِرِ السُّنَنِ يَتَاَدّٰی بِمُطْلَقِ النِّيَّةِ وَلْاَصَحُّ اَنَّهُ لَاتَجُوْزُ بِمُطْلَقِ النِّيَّةِ وَالْاِحْتِيَاطُ فِی التَّرَاوِيْحِ اَنْ يَّنْوِیَ التَّرَاوِيْحَ اَوْ سُنَّةَ الْوَقْتِ اَوْقِيَامِ اللَّيْلِ وَفِی السُّنَّةِ اَنْ يَّنْوِیَ السُّنَّةَ وَلَوْ نَوٰی فِی الْوِتْرِ اَوِ الْجُمُعَةِ اَوِ الْعِيْدِ يَنْوِیْ صَلٰوةَ الْوِتْرِ وَصَلٰوةَ الْجُمُعَةِ وَصَلٰوةَ الْعِيْدِ وَفِیْ صَلٰوةِ الْجَنَازَةِ يَنْوِی الصَّلٰوةَ لِلّٰهِ تَعَالٰی وَالدُّعَاءَ لِلْمَيِّتِ وَالْمُفْتَرِضُ الْمُنْفَرِدُ لَايَکْفِيْهِ نِيَّةُ الْفَرْضِ مَالَمْ يَقُلِ الظُّهْرِ اَوِ الْعَصْرِ فَاِنْ نَوٰی

فَرْضَ الْوَقْتِ وَلَمْ يُعَيِّنْ اَجْزَاَهُ اِلَّا فِي الْجُمُعَةِ وَلَايَشْتَرِطُ نِيَّةُ اَعْدَادِ الرَّكْعَاتِ وَلَوْ نَوَى الْفَرْضَ وَالتَّطَوُّعَ جَازَ عَنِ الْفَرْضِ عِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ خِلَافًا لِمُحَمَّدٍ (رح)

ژباړه: د منتفل لمونځ کوونکي لپاره صرف د لمانځه نيت کافي دی او په تراويحو کي ځيني متقدمينو علماؤ اختلاف کړی دی وايي چي اصح داده چي هغه په مطلق نيت سره نه دی جائزي او متاخرينو علماؤ ويلي دي چي تراويح او ټوله سنت په مطلق نيت سره ادا کيږي او اصح داده چي په مطلق نيت سره جائز نه دي او د تراويحو په باره کي احتياط په دې کي دی چي يا خو تراويح يا وختي سنت يا د ولاړه الليل نيت وکړي او په سنت کي د سنت نيت وکړي، که چېري د وتر يا جمعه يا د اختر نيت کوي نو د وتر په لمانځه کي داختر د لمانځه نيت دي وکړي د جنازې په لمانځه کي د لمانځه نيت د الله لپاره او دعاء دي د مړي لپاره وکړي، په خپله يوازي د فرض کولو والا لپاره صرف د فرض نيت کافي نه دی تر څه وخت پوري چي ماپښين يا مازيګر نه ووايي، که چېري د وختي فرض نيت وکړي او متعين يې نه کړي نو د هغه لپاره کافی نه دی مګر په جمعه کي او د تعداد رکعاتو نيت شرط نه دی، که چېري يې د فرض او نفل يوځای نيت وکړ نو د امام يوسف رحمه الله په نز فرض جائز دي خلافا لمحمد رحمه الله.

تشريح: د لمانځه شپږم شرط نيت دی په لغت کي نيت صرف د ارادې نوم دی او په شريعت کي د يوه مشروع فعل کولو قصد کول نيت دی ځيني علماؤ ليکلي دي چي د نيت په باره کي صرف دومره کافي دي چي هغه خيال او د سوچ په يوځای کولوسره اراده وکړي، د خاص الفاظو ادا کول ضروري نه ده بلکي ځينو علماؤ دې ته بدعت ويلی دی البته متاخرينو دې ته جائز او ځينو مستحسن ورته ويلي دي ، د دې لپاره چي په زړه او ژبي دواړو کي موافقت راسي، حقيقت دادی چي نيت د ژبو

فعل نه دی بلکې دا د زړه فعل دی د دې تعلق صرف د زړه څخه دی، لمونځ کونکی چې کله لمونځ کوي که سنت مؤکده وي یا یو بل نفل وي نو بغیر د څه تعین صرف د لمانځه نیت کافي دی او دا ضروري نه دی چې په نیت کې د سهار یا ماپښین تعین وکړل سي البته د تراویحو په باره کې صاحب د منیة المصلي د مقتدمینو علماء اختلاف په نقل کولو سره ویلي دي چې زیات صحیح قول دادی چې تراویح د نورو سنتو په مثل په مطلق نیت د لمانځه سره کول جائز نه دي بلکې د هغوی لپاره ضروري دی چې یا خو په صریح ډول د تراویحو نیت وي یا د سنت وقتي یا د ولاړه اللیل نیت وکړي د دې لپاره چې د علماء وو د اختلاف بغیره لمونځ وکړي او متاخرین علماء وایي چې د نورو سنتو په مثل تراویح هم په مطلق نیت سره کول درست دي، دغه قول صاحب هدایې اختیار کړی دی، که چېرې چا فرض لمونځ په خپل وخت کې ادا کولو سره د هغه وخت فرض کولو نیت وکړ او دایې معین نه کړ چې ماپښین دی یا مازیګر نو د هغه لمونځ جائز دی بغیر د جمعې ولې چې د جمعې په ورځ که چېرې د ماپښین په وخت کې یې د فرائضو وقتیه نیت وکړ نو هغه د ماپښین څلور رکعاته دي د جمعې لمونځ نه دی، د دې لپاره د احنافو رحمهم الله په نِز که چېرې چا د جمعې د لمانځه د فوتیدو څخه تر مخه د ماپښین څلور رکعاته وکړه نو صحیح دی، یا د لمانځه په نیت کې تعداد د رکعاتو ښکاره کول ضروري نه دي ولې چې په نوافلو کې هم شفع متعین دي، د پنځه وخته فرائضو تعین د شریعت له طرفه څخه سوی دی چې کله اظهار د شریعت له طرفه څخه سوی یې نو د بنده له طرف څخه اظهار هیڅ اهمیت نه لري، که چېرې په یوه نیت سره فرائض او نوافل دواړه شروع کړل سي نو قاضي امام یوسف رحمه الله وایي چې چونکې فرائض د نوافلو په نسبت قوي دي د دې لپاره دا نیت به صرف د فرائضو لپاره معتبر وي او په نوافلو کې لغو دی او امام محمد رحمه الله وایي چې دا نیت بالکل باطل دی ولې

چي په يوه لمانځه کي دوه وصف يعني فرض او نفل نه سي جمع کيدی نو چي کله اوله نيت باطل سو نو دا اول نه سي صحيح کيدی لعدم النية.

وَلَوِ افْتَتَحَ الْمَكْتُوْبَةَ ثُمَّ ظَنَّ تَطَوُّعٌ فَصَلّٰى عَلٰى نِيَّةِ التَّطَوُّعِ حَتّٰى فَرَغَ تِلْكَ الْمَكْتُوْبَةُ فَهِيَ تِلْكَ الْمَكْتُوْبَةِ وَلَوْ كَبَّرَ يَنْوِى التَّطَوُّعَ ثُمَّ كَبَّرَ يَنْوِى الْفَرْضَ يَصِيْرُ شَارِعًا فِي الْفَرْضِ وَلَوْ صَلّٰى رَكْعَةً مِّنَ الظُّهْرِ ثُمَّ افْتَتَحَ الْعَصْرَ اَوِ التَّطَوُّعَ بِتَكْبِيْرَةٍ فَقَدْ نَقَضَ الظُّهْرَ وَصَحَّ شُرُوْعُهُ فِيْمَا كَبَّرَ وَكَذَا اِذَا شَرَعَ فِي الْمَكْتُوْبَةِ ثُمَّ كَبَّرَ يَنْوِى الشُّرُوْعَ فِي النَّافِلَةِ اَوْكَانَ فِي الْمَكْتُوْبَةِ مُنْفَرِدًا فَكَبَّرَ يَنْوِى الْاِقْتِدَاءَ بِالْاِمَامِ يَصِيْرُ شَارِعًا فِيْمَا كَبَّرَ وَاِنْ صَلّٰى رَكْعَةً مِّنَ الظُّهْرِ ثُمَّ كَبَّرَ يَنْوِى الظُّهْرَ فَهِيَ وَهٰذَا اِذَا نَوٰى بِقَلْبِهٖ وَكَبَّرَ بِلِسَانِهٖ وَيَجْتَزِئُ بِتِلْكَ الرَّكْعَةِ حَتّٰى اَنَّهُ لَوْكَانَ مُقِيْمًا وَصَلّٰى اَرْبَعًا بَعْدَ ذٰلِكَ عَلٰى ظَنِّ اَنَّ الْاُوْلٰى قَدِ انْتَقَضَتْ وَلَمْ يَقْعُدْ عَلٰى رَاْسِ الرَّابِعَةِ فَسَدَتْ صَلٰوتُهُ وَلَوْنَوٰى مَكْتُوْبَتَيْنِ مَعًا فَهِيَ لِلَّتِيْ دَخَلَ وَقْتُهَا وَلَوْنَوٰى فَائِتَتَيْنِ فَهِيَ لِلْاُوْلٰى مِنْهُمَا وَلَوْنَوٰى فَائِتَةً وَوَقْتِيَّةً فَهِيَ لِلْفَائِتَةِ اِلَّا اَنْ تَكُوْنَ فِيْ اٰخِرِ وَقْتِ الْوَقْتِيَّةِ فَهِيَ لِلْوَقْتِيَّةِ.

ژباړه: که چېري د فرضو د شروع کولو وروسته يي خيال پيدا سو چي دا خو نفل دي نو د نفلو په نيت سره يي لمونځ وکړ تر دې پوري چي فارغه سو نو دا هغه فرض دي او که چېري د نفل په نيت سره يې تکبير ووايه بيا يي تکبير وکړ د فرض نيت يې وکړ نو په فرض کي د شروع کولو والا سو که چېري په ماپښين يو رکعت کولو وروسته په ماځيگر يا نفل کي په تکبير سره شروع کړي نو د هغه ماپښين مات سو او د دې شروع صحيح ده د کوم لپاره چي يي تکبير ووايه او دغه ډول چي کله په

فرائضو کي شروع وکړي او بيا تکبير ووايي نوافل شروع کولو نيت وکړي يا په فرائضو کي منفرد وي بيا يې په تکبير ويلو سره د امام شاته د اقتداء نيت کړی وي نو چي د کوم لپاره يي تکبير ووايه په هغه کي شروع کونکی سو، چي کله د ماپښين په يوه رکعت کولو کي وروسته بيا تکبير ويلو سره د ماپښين نيت وکړي نو هغه د ماپښين فرض دي او دا هغه وخت دی چي کله په زړه سره نيت او په ژبه سره تکبير ويلي وي او هغه سوی رکعات کافي دی تر دې پوري چي کله مقيم وي او تر هغه وروسته خلور رکعاته په دې گمان سره وکړي چي اول رکعات باطل دی د څلورو رکعاتو په آخر کي د ناستي آخيري لپاره نه کښينستی نو د هغه لمونځ فاسد دی که چېري د دوو فرضو لپاره يوځای نيت وکړي نو د هغه لپاره دی د کوم چي وخت وي که چېري د دوو فوت شده لپاره يي نيت وکړ نو د هغو څخه د اول لپاره دی که چېري د فوت شده او وقتي دواړو لپاره نيت وکړي نو د فوت شده لپاره دی مگر دا چي دا وقتيه په اخري ساعاتو کي وي نو دا وقتيه دی .

تشريح: که چېري د فرض لمانځه لپاره ولاړ سو او د لمانځه د يوڅه حصي کولو وروسته يي دا خيال سو چي نفل کوم نو د لمانځه د فراغت څخه وروسته د هغه د ذمې څخه فرض ساقط سوه ولي چي د هغه، هغه اول خيال معتبر دی او وروسته د هغه خيال لغوه دی البته کي چېري صراحتاً په خپل زړه کي نيت بدل کړي لکه څنگه چي صاحب د کتاب وايي چي د نفل لپاره د نيت کولو وروسته باراده خود د فرض لپاره نيت کولو سره تکبير ووايي نو په فرض کي د هغه شروع درسته ده او د نفل نيت باطل سو، دغه ډول د يوه فرض مثلاً د ماپښين لپاره د نيت کولو وروسته د ماځيگر نيت يي وکړ يا د فرضو څخه علاوه د نفلو نيت وکړي نو اول باطل سو هغه لمونځ صحيح دی د کوم لپاره چي په دوهم وار نيت کولو سره يي تکبير ووايه البته چي کله د هغه لمانځه لپاره دوباره نيت وکړي د کوم نيت چي د اول سره کړی دی

مثلاً ماپښين لمونځ يي يو رکعات وکړ بيا د هغه لپاره يې د نيت ورسره ورسره دوهم وار تکبير ووايه نو د هغه ماپښين لمونځ درست دی او د اول تکبير سره کړی رکعت هم په لمانځه کي حسابيږي ولي چي باطل نه سو تر درو پوري که چيري چا يو رکعت په باطل ګڼلو سره په بزعم خود د څلورم رکعات لپاره ولاړ سو نو د شيخينو رحمهما الله په نز د دې لمانځه وصف فرضيت باطليدو سره نفل سو او د امام محمد رحمه الله په نز اصل لمونځ يي باطل سو الغرض باالاتفاق د لمانځه اعاده کول لازم دي، که چا د دوو فرائضو ادا کولو لپاره يوځای نيت وکړ نو د کوم لمانځه چي وخت وي دا وخت د هغه لپاره معتبر دی مثلاً د ظهر او عصر لپاره چي کله يوځای نيت وکړل سي او وخت د ظهر وي نو دا نيت د ظهر لپاره کافي دی، که چيري د فوت شده او وقتي لمانځه نيت وکړي نو دا نيت د فوت شده په حق کي معتبر دی يعني فائته په وقتي باندي تقدم حاصل دی که څه هم صاحب ترتيب نه وي.

وَلَايَحْتَاجُ الْاِمَامُ اِلٰى نِيَّةِ الْاِمَامَةِ اِلَّا فِىْ حَقِّ النِّسَآءِ وَاَمَّا الْمُقْتَدِىْ فَيَنْوِى الْاِقْتِدَآءَ وَلَايَكْفِيْهِ نِيَّةُ الْفَرْضِ وَالتَّعَيُّنِ وَاِنْ نَوٰى الْاِقْتِدَآءَ بِالْاِمَامِ وَلَمْ يُعَيِّنِ الصَّلٰوةَ يُجْزِيْهِ وَكَذَا اِذَاقَالَ نَوَيْتُ اَنْ اُصَلِّيَ مَعَ الْاِمَامِ يَجُوْزُ وَاِنْ نَوٰى صَلٰوةَ الْاِمَامِ وَلَمْ يَنْوِى الْاِقْتِدَآءَ بِهٖ لَايَجْزِيْهِ وَكَذَا اِذَاقَالَ نَوَيْتُ اَنْ اُصَلِّيَ مَعَ الْاِمَامِ وَاِنْ نَوَى الشُّرُوْعَ فِىْ صَلٰوةِ الْاِمَامِ فَقَدِاخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِيْهِ وَالْاَصَحُّ اَنَّهٗ يُجْزِيْهِ وَاِنْ نَوَى الْجُمُعَةَ وَلَمْ يَنْوِى الْاِقْتِدَآءَ جَازَ عِنْدَ الْبَعْضِ وَاِنْ نَوَى الْاِقْتِدَآءَ بِالْاِمَامِ وَلَمْ يَخْطُرْ بِبَالِهٖ مَنْ هُوَ صَحَّ وَاِنْ نَوَى الْاِقْتِدَآءَ بِالْاِمَامِ وَهُوَ يَظُنُّ اَنَّهٗ زَيْدٌ فَاِذَا هُوَ عَمْرٌ

وَصَحَّ اِلَّا اِذَاقَيَّدَ وَقَالَ اِقْتَدَيْتُ بِزَيْدٍ اَوْنَوَى الْاِقْتِدَاء بِزَيْدٍ فَاِذَا هُوَ عَمْرٌ فَاِنَّهُ لَايَصِحُّ.

ژباړه: امام ته د بنځو څخه علاوه د نیت د امامت حاجت نسته او مقتدی به د اقتداء نیت کوي، د دې لپاره د فرض نیت او تعین کافی نه دی که چېرې یې فقط د امام د اقتداء نیت وکړ او لمونځ معین نه کړي نو جائز دی، دغه ډول چې کله دا روایې چې ما نیت کړی دی چې د امام سره لمونځ کوم نو جائز دی که چېرې یې فقط د صلوٰة امام نیت وکړ او د هغه د اقتداء نیت نه وکړي نو کافی نه دی او که چېرې د امام سره د لمانځه د شروع کولو نیت وکړي نو په دې کې د علماء وو اختلاف دی او اصح داده چې کافي کیږي که څه هم د جمعې نیت یې وکړ او د اقتداء نیت یې نه وکړ نو د ځینو علماؤ په نِز جائز دی که چېرې یې د اقتداء بالامام نیت وکړ بغیر د پرواه کولو چې دا څوک دی نو صحیح دی، که چېرې اقتداء بالامام په نیت کولو کې یې دا خیال وکړ چې هغه امام زید دی مګر هغه عمر وو نو صحیح دی مګر دا چې اقتداء یې داسې مقیده کړي وي چې ما د زید اقتداء وکړه یا په یقیني ډول د زید داقتداء نیت وکړي نو هغه عمر وي نو دا نه دی درست.

تشریح: د امام لپاره د لمانځه د نیت څخه علاوه د امامت نیت جلا کولو ضرورت نسته تر دې پورې که چېرې څوک په منفرد ډول لمونځ وکړي او څوک د هغه اقتداء وکړي نو جائز دی مګر د بنځو لپاره په خاص ډول یا په عمومي ډول چې زه د هر مرد او عورت امام یم لازم دی ولې چې د بنځې په لمانځه کې د شمولیت په وجه کله کله د محاذاة په صورت کې د نر لمونځ باطلیږي، اوس دا یو ضرر دی او د امام د نیت بغیر په دې باندې د دې ضرر لزوم نه سي کیدی، البته د مقتدي لپاره دوه نیته ضروري دي چې یو د لمانځه او بل د امام د اقتداء که چېرې د لمانځه د نیت بغیر

فقط داسي ووايي چي د امام سره لمونځ کوم نو د ځينو علماء وو په نز جائز دی مصنف رحمه الله دغه قول اختيار کړی دی او صاحب کبيري په حواله د قاضيخان عدم جواز ته ترجيح ورکړي ده که چېري د جمعې په لمانځه کي بغير د اقتداء د نيتہ پکښي داخل سو نو د مختار قول مطابق جائز دی ولي چي د نماز جمعه تصور بغير د امام څخه نسي کېدی نو صرف د جمعې نيت اقتداء مستلزم دی، د کوم سړي شاته چي اقتداء کيږي د هغه معلومول ضروري نه دي البته که چېري يو سړی د يو خاص سړي د اقتدا کولو په نيت ودرېدی مگر وروسته معلومه سوه چي دا هغه سړی نه دی د کوم د اقتدا چي ما نيت کړی وو نو دا لمونځ د ده لپاره جائز نه دی چي نيت د يو داسي سړي سره مقيد دی چي حقيقتًا د هغه امام نه دی نو دا سړی د موجود امام مقتدی نه سو ثابت.

وَالْاَفْضَلُ اَنْ يَّنْوِىَ الْاِقْتِدَآءَ بَعْدَ مَاقَالَ الْاِمَامُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لِيَصِيْرَ مُقْتَدِيًا بِمُصَلٍّ كَذَا ذَكَرَهُ فِى الْمُحِيْطِ وَلَوْنَوَى الْاِقْتِدَآءَ حِيْنَ وَقَفَ الْاِمَامُ مَوْقِفَ الْاِمَامَةِ جَازَ وَلَوْنَوَى الشُّرُوْعَ فِىْ صَلٰوةِ الْاِمَامِ وَكَبَّرَ عَلٰى ظَنٍّ اَنَّهُ قَدْ شَرَعَ وَهُوَ لَمْ يَشْرَعْ بَعْدُ لَمْ يَجُزْ شُرُوْعُهُ وَمَنْ صَلّٰى سِنِيْنَ وَلَمْ يَعْرِفِ النَّافِلَةَ مِنَ الْفَرِيْضَةِ اِنْ ظَنَّ اَنَّ الْكُلَّ فَرِيْضَةٌ جَازَوَاِنْ لَّمْ يَعْلَمْ لَايَجُوْزُ وَاِنْكَانَ الرَّجُلُ شَاكًّا فِىْ بَقَآءِ وَقْتِ الظُّهْرِ فَنَوٰى ظُهْرِ الْوَقْتِ فَاِذَا الْوَقْتُ كَانَ قَدْ خَرَجَ يَجُوْزُ بِنَاءً عَلٰى اَنَّ الْقَضَاءَ بِنِيَّةِ الْاَدَآءِ وَالْاَدَآءَ بِنِيَّةِ الْقَضَاءِ يَجُوْزُ وَهٰذَا هُوَ الْمُخْتَارُ كَذَا ذَكَرَهُ فِى الْمُحِيْطِ وَلَوْنَوٰى فَرْضَ الْيَوْمِ يَجُوْزُ بِلَا خِلَافٍ وَاِنْ لَمْ يَعْلَمْ بِخُرُوْجِ الْوَقْتِ وَمَنْ صَلَّى الظُّهْرَ وَنَوٰى اَنَّ هٰذَا مِنْ ظُهْرِ يَوْمَ الثُّلٰثَآءِ فَتَبَيَّنَ اَنَّ ذٰلِكَ مِنْ يَوْمِ الْاَرْبَعَاءِ جَازَ ظُهْرُهُ وَالْغَلَطُ فِىْ تَعْيِيْنِ

الْوَقْتِ لَايَضُرُّ وَلَوْ شَرَعَ فِيْ صَلٰوةٍ مَّاعَلَيْهِ بِظَنٍّ اَنَّهَا سَبْتِيَّةٌ فَاِذَاهِيَ اَحَدِيَّةٌ لَاتَصِحُّ وَلَوْشَرَعَ فِيْ صَلٰوةٍ عَلٰى ظَنٍّ اَنَّهَا اَحَدِيَّةٌ فَاِذَاهِيَ سَبْتِيَّةٌ تَصِحُّ.

ژباړه: بهتره داده چي د اقتداء نيت د امام د الله اکبر د ويلو وروسته وکړي د دې لپاره چي د لمونځ کونکي شاته د اقتداء کولو والا سي دغه ډول په محيط کي ذکر دي، که چېري د اقتداء نيت د امام په موقف کي د درېدلو په وخت کي وکړي نو جائز دي که يې د امام د لمانځه د شروع کولو په وخت کي نيت وکړ او په دې خيال يې تکبير ووايه چي امام شروع کړي ده او هغه تر اوسه پوري شروع نه وه کړي نو د مقتدي شروع نه ده جائز، او کوم چا چي په کلو کلو لمونځ وکړ او د نوافلو فرق د فرائضو څخه يي نه سوی کوی که چېري يي دا ګمان وي چي دا ټول فرائض دي نو جائز دی او که دا نه پيژني نو جائز نه دی، که د چا د ماپښين د لمانځه په باره کي شک وي چي وخت پاته دی يا يي د ماپښين نيت وکړ مګر وخت وتلی وو نو بناء د دې لپاره جائز دی چي د قضاء اداء په نيت سره او د اداء قضاء په نيت سره جائز دی او دغه مختار قول دی، دغه ډول په محيط کي ذکرسوئي دي که چېري د دغه ورځي د فرائضو کولو نيت يي وکړ نو بلا اختلافه جائز دی که څه هم د وخت وتل معلوم نه وي او چاچي د ماپښين لمونځ په دې نيت سره وکړ چي دا د سي شنبې د ورځي ماپښين دی مګر وروسته معلومه سو چي دا د چارشنبې د ورځي ماپښين دی نو د هغه د ماپښين لمونځ جائز دی، او د وخت په تعين کي غلطۍ تاوان نه کوي، که چېري په ذمه باندي لازم شده لمونځ يي په دې خيال سره شروع کړ چي دا د هفتې د ورځي لمونځ دی مګر هغه د يک شنبې د ورځي لمونځ وو نو درست نه دی، که چېري يي په دې ګمان سره وکړ چي د يک شنبې د ورځي لمونځ دی او هغه د هفتې د ورځي وو نو جائز دی.

تشریح: د صاحبینو رحهما الله د قول په بیان کولو سره مصنف رحمه الله وایي چې بهتره داده چې د امام د تکبیر د فراغت څخه وروسته مقتدی تکبیري تحریمه ووایي مګر حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله وایي چې د مقتدي تکبیر د امام سره پیوست پکار دی یعنی چې کله امام تکبیر شروع کړي نو مقتدی دي هم د دې سره سره خپل ځان د تکبیر څخه فارغه کړي، البته که چا په دې ګمان سره د امام شروع کړی ده او حقیقتا تر اوسه امام شروع نه وه کړي نو د دې مقتدي لمونځ نه دی جائز، که چېرې څوک د لاعلمي په وجه سره په فرائضو او نوافلو کي فرق نه سي کولای او صرف د خلګو په لیدلو سره د هغوی په مثل لمونځونه ادا کوي مثلاً چې کله خلګ په ماپښین کي شپږ رکعاته سنت مؤکده او څلور رکعاته فرض ادا کوي نو دی هم د هغوی سره لس رکعاته لمونځ پوره کوي نو اوس به کتل کیږي که چېرې دا ټوله رکعاتونه د فرض په نیت سره کوي نو جائز دی ولي چې د فرض څخه علاوه نوافل هم د فرائضو په نیت سره ادا کیږي که چېرې بالکل په دې رکعاتو کي د فرائضو او نوافلو فرق نه سي کولای یا ټوله د نفل په نیت سره کوي نو جائز نه دی او د دې ټولو لمنځو اعاده کول فرض ده، که چېرې څوک وختي لمونځ کوي او د هغه وخت تیر سوی وي د لمونځ او د لمانځه د پوره کولو وروسته معلوم سو چې وخت ختم سوی دی نو د لمانځه قضاء سوه دغه ډول که چېرې د لمانځه په مابینځ کي معلوم سي نو بیا دي هم په سوي رکعاتو باندي بنا وکړي د دې لپاره أداء د قضاء د نیت کول او قضاء د اداء په نیت کول جائز دی، که چېرې څوک په وخت کي دننه لمونځ ادا کوي مګر د فرض لمانځه د نیت سره سره هغه ورځ یي متعینه کړه چې د هغې لمونځ چې کوي مثلاً د ماپښین د څلور فرض رکعاتو نیت یي داسي وکړ چې زه نن په ورځ د سي شنبې په وخت د ماپښین څلور رکعاته فرض لمونځ ادا کوم مګر وروسته معلومه سوه چې نن خو چار شنبه ده بیا هم دا لمونځ جائز دی ولي چې د

ورځي تعين د نيت څخه نه دی، البته که چېري په فوت شده لمونځو کي د ورځي په تعين کي يي داسي غلطي وکړه چي لمونځ يي مثلاً د يک شنبې ادا کوی مګر نيت يي د هفتې وکړ نو صحيح نه دی ولي چي هغه د داسي ورځي و طرف ته اضافت وکړ چي په هغه ورځ کي د هغه لمانځه وجوب نه وو.

اَلْمُسْتَحَبُّ فِي النِّيَّةِ اَنْ يَّنْوِىَ بِقَلْبِهٖ وَيَتَكَلَّمَ بِلِسَانِهٖ وَهٰذَا هُوَ الْمُخْتَارُ وَلَوْنَوٰى بِالْقَلْبِ وَلَمْ يَتَكَلَّمَ بِاللِّسَانِ جَازَ بِلَا خِلَافٍ وَالْاَحْوَطُ اَنْ يَّنْوِىَ مُقَارِنًا لِلتَّكْبِيْرِ وَمُخَالِطًا لَهٗ كَمَاهُوَ مَذْهَبُ الشَّافِعِيِّ وَذُكِرَ فِي الْاَجْنَاسِ اَنَّ مَنْ خَرَجَ مِنْ مَنْزِلِهٖ يُرِيْدُ الْفَرْضَ بِالْجَمَاعَةِ فَلَمَّا انْتَهٰى اِلَى الْاِمَامِ كَبَّرَ وَلَمْ تَحْضُرْهُ النِّيَّةُ فِيْ تِلْكَ السَّاعَةِ اِنْ كَانَ بِحَالٍ لَوْقِيْلَ لَهٗ اَيَّ صَلٰوةٍ تُصَلِّيْ اَمْكَنَهٗ اَنْ يُّجِيْبَ مِنْ غَيْرِ تَاَمُّلٍ تَجُوْزُ صَلٰوتُهٗ وَاِلَّا فَلَا وَاِنْ تَاَخَّرَتِ النِّيَّةُ وَنَوٰى بَعْدَ التَّكْبِيْرِ لَاتَصِحُّ.

ژباړه: په نيت کي مستحب دادی چي په زړه کي نيت او په ژبه تلفظ وکړي او دا بهتره ده که چېري يي صرف په زړه کي نيت وکړ او په ژبه يي تلفظ نه وکړ نو بيا هم بلا خوفه جائز دی او ښه دادی چي د تکبير سره متصل يو ځای نيت وکړي لکه څنګه چي د امام شافعي رحمه الله مذهب دی او په اجناس کي ذکرسوي دي کوم څوک چي د فرض لمانځه په جماعت سره د ادا کولو په نيت ووتی چي کله تر امام پوري ورسيدی نو هغه وخت يي ذهن په نيت کي حاضر نه وو که چېري دا ډول وي چي يو څوک د هغه څخه پوښتنه وکړي چي ته کوم لمونځ کوي نو بغير د څه سوچ او فکر څخه جواب ورکولای سي نو جائز دی که نه وي نو نه دی که چېري د نيت په مؤخر کولو سره د تکبير وروسته يې نيت درست کړ نو صحيح نه دی.

تشريح: مصنف رحمه الله وايي چي د نيت په باره کي بهتره داده چي په زړه کي د

مضبوطي ارادې سره په ژبه هم الفاظ ادا کړي مثلاً چي زه د فلاني وخت فرض یا سنت کومه، صاحب هدايي هم دا ډول ويل ښه ليکلي دي که څه هم د عليه السلام مبارک څخه د احرام حج يا عمرې په نورو عباداتو کي په ژبي نيت کول منقول نه دي. مگر د نن په دور کي په زړه کي ډېر مشاغل وي نو د ژبي په ذکر سره دلجمعي نصيب کيږي لکه څنگه چي په کبيري کي يې ليکلي دي چي بهتره داده چي زړه په نيت ژبه په ذکر او لاس په رفعي مشغول وي.

وَاَمَّا فَرَائِضُ الصَّلٰوةِ فَثَمَانٍ مِنْهَا سِتَّةٌ عَلَى الْوِفَاقِ وَثِنْتَانِ عَلَى الْخِلَافِ وَهِيَ تَكْبِيْرَةُ الْاِفْتِتَاحِ وَالْقِيَامُ وَالْقِرَاءَةُ وَالرُّكُوْعُ وَالسُّجُوْدُ وَالْقَعْدَةُ الْاَخِيْرَةُ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ وَاَمَّا الْخُرُوْجُ مِنَ الصَّلٰوةِ بِصُنْعِهٖ فَفَرْضٌ عِنْدَ اَبِيْحَنِيْفَةَ خِلَافًا لَهُمَا وَتَعْدِيْلُ الْاَرْكَانِ فَرْضٌ عِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ لِحَدِيْثِ بْنِ مَسْعُوْدٍ اَنَّهٗ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاتَجْزِئُ صَلٰوةٌ لَايُقِيْمُ الرَّجُلُ فِيْهَا ظُهْرَهٗ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ.

ژباړه: د لمانځه فرضونه اته دي د هغوی څخه شپږ اتفاقي او ۲ اختلافي دي او هغه تکبير تحريمه، ولاړه، قرآئت، رکوع، سجوده او د تشهد په مقدار اخيره ناسته ده او خروج بفعل المصلی د ابوحنيفه رحمه الله په نز فرض دي په خلاف د صاحبينو او تعديل د ارکانو د امام ابويوسف رحمه الله په نز بنا برحديث ابن مسعود رضي الله عنه وه، دی وايي چي عليه السلام ويلي دي چي هغه لمونځ نه دی کامل چي په هغه کي انسان خپل ملا په رکوع او سجودو کي نه برابره وي.

تشريح: د لمانځه ارکان د کومو څخه چي د لمانځه وجود مرکب دی هغه اته ۸ دي او د هغو څخه شپږ ٦ زموږ د آئمه کرامو په مابينځ کي اتفاقي دي او په دوو کي د هغوی په مابينځ کي اختلاف دی، مصنف رحمه الله اول په اجمالي توگه ټوله بيان کړي

دي يا د هر ركن جلا جلا تفصيل بيانوي البته دا خبره قابل ذكر ده چي كه څه هم ډيرو مصنفينو تكبيري تحريمه په اركانو كي ذكر كړي ده مگر زيات صحيح دادى چي دا ركن نه دى بلكي د لمانځه د شرائطو څخه دى په دغه باندي صاحب هدايي تصريح كړي ده د امام شافعي رحمه الله په نِز هم تكبيري تحريمه ركن دى، فايده د اختلاف دا دول ښكاره كيږي چي زموږ په نِز تكبري تحريمه د شرط په وجه د فرض په تحريمي سره نفل ادا كول جائز دي او د امام شافعي رحمه الله په نِز د ركن كيدو په وجه د فرض په تحريمي سره نفل ادا كول نه دي جائز.

وَلَادُخُولَ فِي الصَّلٰوةِ اِلَّا بِتَكْبِيْرَةِ الْاِفْتِتَاحِ وَهِيَ قَوْلُهُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَوِاللّٰهُ الْاَكْبَرُ اَوِ اللّٰهُ الْكَبِيْرُ اَوِ اللّٰهُ كَبِيْرٌ وَاِنْ قَالَ بَدَلاً عَنِ التَّكْبِيْرِ اَللّٰهُ اَجَلُّ اَوْ اَعْظَمُ اَوِالرَّحْمٰنُ اَكْبَرُ اَوْلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَوْتَبَارَكَ اللّٰهُ اَوْ غَيْرُهُ مِنْ اَسْمَآءِ اللّٰهِ تَعَالٰى اَجْزَاهُ ذٰلِكَ عَنِ التَّكْبِيْرِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ وَاَبِيْحَنِيْفَةَ وَلَوِافْتَتَحَ بِاَللّٰهُمَّ اَوْقَالَ يَااللّٰهُ يَصِحُّ وَلَوْقَالَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ اَوْ اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ اَوْقَالَ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ اَوْ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَوْلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ اَوْمَاشَآءَ اللّٰهُ لَايَصِحُّ وَلَوْقَالَ اَللّٰهُ يَصِيْرُ شَارِعًا عِنْدَ اَبِيْحَنِيْفَةَ وَفِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ لَايَصِيْرُ شَارِعًا وَاِنْ قَالَ اَللّٰهُ اَكْبَارٌ لَايُصِيْرُ شَارِعًا وَاِنْ قَالَ فِيْ خِلَالِ الصَّلٰوةِ تَفْسُدُ صَلٰوتُهُ لِاَنَّهُ اسْمُ الشَّيْطَانِ وَلَوْقَالَ اَللّٰهُ اَكْبَرُ بِالْكَافِ الضَّعِيْفِ اِخْتَلَفَ فِيْهِ الْبَصْرِيُّوْنَ وَالْكُوْفِيُّوْنَ وَالْاَصَحُّ اَنَّهُ يَصِيْرُ بِهِ شَارِعًا وَلَوْ اَدْخَلَ الْمَدَّ فِيْ اَلِفِ اَللّٰهُ كَمَا فِيْ قَوْلِهِ تَعَالٰى ءٰ اللّٰهُ اَذِنَ لَكُمْ تَفْسُدُ صَلٰوتُهُ عِنْدَ اَكْثَرِ الْمَشَايِخِ وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ اِنْ كَانَ لَايُمَيِّزُ بَيْنَهُمَا لَاتَفْسُدُ.

ژباړه: په لمانځه کي صرف په تکبيري تحريمي سره داخليدل دي او هغه د لمونځ کونکي قول الله اکبر، الله اکبر، الله الکبر يا الله کبير دی که چېري د تکبير په بدل کي د نورو نومو څخه يې يو ذکر کړ نو د دې لپاره د طرفينو رحهماالله په نِز د تکبير سره کافي دی.

او که چېري اللهم يا الله يي ووايه نو صحيح دی او که اللهم اغفرلی يا اللهم ارزِنی يا اَستَغفِرُالله يا اعوذ بالله يا لاحول ولا قوة الابالله يا ما شاء الله يي ووايه نو صحيح نه دی او که چېري يي الله ووايه نو د ابوحنيفه رحمه الله په نِز شروع کونکی او په ښکاره مذهب کي شروع کونکی نه دی او که چېري يي الله اکبار ووايه نو شروع کونکی نه سو، که يي د لمانځه په مابينځ کي وويل نو لمونځ فاسد سو ولي چي دا د شيطان نوم دی او که چېري الله اکبر په کافِ ضعيف سره ووايي نو په دې کي د بصريانو او کوفيانو اختلاف دی او اصح دادی که چېري شروع کونکی د الله اکبر په الف کي يي مداخل کړ لکه څنګه چي د الله تعالی په قول" اللهُ اَذِنَ لَکُم " کي دی نو د اکثرو علماؤ په نِز د هغه لمونځ فاسديږي او محمد بن مقاتل رحمه الله ويلي دي که چېري داسي وي چي په مد او بغير د مد کي فرق نه سي کولای نو نه فاسديږي.

تشريح: په دې عبارت کي د افتتاح د الفاظو بيان دی چنانچي د طرفينو په نِز په هر هغه لفظ سره لمونځ شروع کول جائز دی چي د الله تعالی په تعظيم باندي دلالت کوي، او امام ابو يوسف رحمه الله وايي که چېري په ښه ډول تکبير ويلو باندي قادر وي نو صرف په درو الفاظو" الله اکبر، الله الاکبر، الله الکبير "څخه د يوه لفظ سره شروع کول جائز دی تر دې علاوه په هيڅ لفظ سره نه دی جائز، البته که چېري د الله اکبر الفاظ نه سي ويلای نو چي څه راز د هغه سره کيږي د تعظيم معنیٰ دي ادا کړي ولي چي دا سړی د الفاظو څخه علاوه صرف په معنیٰ باندي قادر دی، د طرفينو

رحهما الله دليل دادی چي په لغت کي د تکبير معنٰی د تعظيم ده د هغو ټولو الفاظو سره ادا کيږي چي په عظمت الهی باندي دلالت کوي د دې برخلاف که چېري اللهم اغفرلی يا په متن کي مذکوري د نورو دعاوو سره يې لمونځ شروع کړ نو نه دی جائز ولي چي دا الفاظ د هغه د حاجت سره مخلوط دی او خالصتاً د تعظيم لپاره نه دی د دې لپاره په هغوی سره لمونځ شروع کول نه دی جائز، د الله اکبر ب مع الالف ويل جائز نه دی مګر چېري يو لمونځ کونکی ووايي نو په دې کي د علماؤ اختلاف دی چي لمونځ فاسد سو که نه، صاحب کتاب بار د شيطان د نوم په شمارلو سره د لمانځه د فساد حکم کړی دی صاحب کبرٰی هم دغه قول اصح ګڼلی دی او ځينو علماؤ دا الف الاشباع په ګڼلو سره لمونځ صحيح ګڼلی دی.

وَلَوِ افْتَتَحَ مَعَ الْاِمَامِ وَفَرَغَ مِنْ قَوْلِهِ اَللّٰهُ قَبْلَ فَرَاغِ الْاِمَامِ مِنْ قَوْلِهِ اَللّٰهُ لَايَصِيْرُ شَارِعًا وَلَوْ قَالَ اللّٰهُ مَعَ قَوْلِ الْاِمَامِ اَللّٰهُ اَوْ بَعْدَ وَفَرَغَ مِنْ قَوْلِهِ اَكْبَرُ قَبْلَ فَرَاغِ الْاِمَامِ مِنْ اَكْبَرَ لَايَجُوْزُ اَيْضًا لِاَنَّهُ اِنَّمَا يَصِيْرُ شَارِعًا بِالْكُلِّ فَيَقَعُ الْكُلُّ فَرْضًا وَلَوْ كَبَّرَ قَبْلَ الْاِمَامِ مُقْتَدِيًّا بِهِ لَايَصِيْرُ شَارِعًا فِيْ صَلٰوةِ الْاِمَامِ اِتِّفَاقًا وَلَافِيْ صَلٰوةِ نَفْسِهِ وَقِيْلَ يَصِيْرُ شَارِعًا فِيْ صَلٰوةِ نَفْسِهِ وَلَوْ اَنَّهُ كَبَّرَ بَعْدَ مَا كَبَّرَ الْاِمَامُ يَعْنِيْ كَبَّرَ ثَانِيًا وَنَوَى الشُّرُوْعَ وَالْاِقْتِدَآءَ بِهِ يَصِيْرُ شَارِعًا وَقَاطِعًا لِمَا كَانَ فِيْهِ قَبْلَهُ وَالْاَفْضَلُ اَنْ يُكُوْنَ تَكْبِيْرَةَ الْمُقْتَدِيْ مَعَ تَكْبِيْرَةَ الْاِمَامِ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَقَالَا يُكَبِّرُ بَعْدَ تَكْبِيْرُ الْاِمَامِ وَاِذَا شَكَّ الْمُقْتَدِيْ اَنَّهُ هَلْ كَبَّرَ قَبْلَ الْاِمَامِ اَوْ بَعْدَ يُحْكَمُ بِاَكْبَرِ رَأْيِهِ فَاِنِ اسْتَوَى الظَّنَّانِ فَاِنَّهُ يَجْزِيْهِ حَمْلًا لِاَمْرِهِ عَلَى الصَّوَابِ.

ژباړه: که چېري يې د امام سره افتتاح وکړه او د امام د لفظ الله څخه د فارغيدو

ترمخه هغه د لفظ الله څخه فارغه سو نو په لمانځه کي شروع کونکی نه دی، او که چېري د امام د لفظ الله سره یا وروسته فارغه سو مګر د لفظ اکبر څخه د امام لفظ اکبر ویلو وروسته فارغه سو نو بیا هم لمونځ نه دی جائز ولي چي هغه د دې ټولو د الله اکبر څخه د شروع کونکی دی نو دا پوره قول فرض واقع کیږي او که چېري یې د امام څخه ترمخه تکبیر ووایه او د هغه شاته د اقتداء کولو والا سی نو بالاتفاق نه د امام په لمانځه کي شروع کونکی دی او نه هغه په خپل لمانځه کي شروع کونکی دی، او ویلي یې دي چي په خپل لمانځه کي شروع کونکی سو، که شروع د اقتداء په نیت سره د امام د تکبیر ویلو وروسته دوهم وار یې تکبیر ووایه نو اوس د امام په لمانځه کي شروع کونکی او د اول لمانځه قطعه کونکی دی، او افضل دادی چي د مقتدي تکبیر د امام د تکبیر سره سو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نِزاو صاحبین وایي چي د امام د تکبیر وروسته افضل دی او چي کله مقتدی په شک کي سي چي هغه د امام څخه دمخه تکبیر ویلی دی یا وروسته نو په غالب ګمان باندي به فیصله کیږي که چېري دواړه طرفه ګمان برابر وي نو په درستګی باندي د حمل کولوسره د هغه لپاره کافي دی.

تشریح: مصنف رحمه الله وایي که چېري مقتدی د امام څخه په تکبیر ویلو کي مخکي والی وکړي او د تکبیر الفاظ د امام د فارغیدلو څخه ترمخه ادا کړي نو د هغه لمونځ د امام په اقتدا کي نه دی جائز او نه په خپل لمانځه کي بغیر د اقتداء د هغه لمونځ جائز دی تر هغه وخته پوري که چېري په دې دوران کي هغه قهقه وکړه نو د هغه لمونځ نه سو فاسد ولي چي دا سړی د لمانځه څخه خارج دی او قهقه خارج از نماز ناقص نه ده که چېري دوباره د اقتداء په نیت سره یې تکبیر ووایه نو لمونځ یې صحیح سو ولي چي اول تکبیر یې د امام څخه دمخه ویلی وو او هر فرض چي د امام څخه دمخه ادا کړل سي نو هغه معتبر نه دی د لمانځه څخه نه شمارل کیږي او په

تکبیر ویلو کي د امام الهمام ابو حنیفه رحمه الله په نز بهتر دادی چي د مقتدی تکبیر د تکبیر سره متصل وي ولي چي په دې کي د عبادت وطرف ته ژر او لږ مشقت دی د دې لپاره افضل دی او صاحبین وایي چي بهتر دادی چي د امام د تکبیر وروسته مقتدی تکبیري تحریمه ووایي ځکه چي په زړه کي یې څه شک نه سي پاته چي داسي نه وي چي زما د تکبیر څخه د مخه د امام تکبیر واقع سوی یي که چېري په شک کي وولیږي چي زما تکبیر د امام څخه دمخه واقع سوی دی که وروسته نو په غالب ګمان دي فیصله وکړي مګر د غالب ګمان په ناموجودګۍ کي ښه دادی چي دوهم وار تکبیر ووایي چي شک قطعه سي، دا مسئله هم ذهن نشین کول پکار ده که چېري امام د رکوع لپاره کښته سو نو مقتدی چي په دې وخت کي د امام په جماعت کي شریکېدل غواړي د هغه لپاره په رکوع باندي د کښته کېدلو تر مخه په سیده ولاړه باندي تکبیري تحریمه ادا کول شرط دی که چېري د رکوع لپاره دکښته کېدلو وروسته یي ووېل نو لمونځ جائز نه دی البته که چېري د کښته کېدو په وخت کي و ولاړه ته نژدې وو نو تحریمه ادا سوه که چېري دومره کښته سو چي د هغه لاس د ځنګنو پوري ورسیدی نو هغه ته رکوع ته قریب ویل کیږي او که چېري یي لاس و ځنګنو ته نه ورسیدی او په دې صورت کي که چېري دویم تکبیر چي رکوع ته تللی وو هغه یي نه ووایه نو بیا هم د هغه لمونځ کیږي ولي چي د رکوع تکبیر سنت دی او د هغه په پاته کیدلو سره لمونځ نه فاسدیږي، صاحب کبیري لیکلي دي چي کله یو سړی د امام د تکبیر ویلو وروسته د سورة فاتحي د ویلو تر مخه اول اول د هغه سره په لمانځه کي شریک سي نو هغه ته د تکبیر اولی ثواب حاصل دی.

وَالثَّانِيَةُ الْقِيَامُ وَلَوْ صَلَّى الْفَرِيْضَةَ قَاعِدًا مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى الْقِيَامِ لَايَجُوْزُ وَاِنْ عَجَزَ الْمَرِيْضُ عَنِ الْقِيَامِ يُصَلِّيْ قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ فَاِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ الرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ

اَوْمٰی بِرَاْسِهٖ لَهُمَا اِيْمَاءُ وَجَعَلَ السُّجُوْدَ اَخْفَضَ مِنَ الرُّكُوْعِ وَلَا يَرْفَعُ اِلٰى وَجْهِهٖ شَيْئًا يَسْجُدُ عَلَيْهِ لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ السَّلَامُ لِمَرِيْضٍ اِذَا قَدَرْتَ اَنْ تَسْجُدَ عَلَى الْاَرْضِ فَاسْجُدْ وَاِلَّا فَاَوْمِ بِرَاْسِکَ وَلَوْكَانَتِ الْوِسَادَةُ عَلَى الْاَرْضِ فَسَجَدَ عَلَيْهَا جَازَ وَفِى الذَّخِيْرَةِ فَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعِ الْقُعُوْدَ اِسْتَلْقٰى عَلٰى ظَهْرِهٖ وَجَعَلَ رِجْلَيْهِ اِلَى الْقِبْلَةِ فَاَوْمٰى بِهِمَا وَاِنِ اسْتَلْقٰى عَلٰى جَنْبِهِ الْاَيْمَنِ وَوَجْهُهٗ مُتَوَجِّهٌ اِلَى الْقِبْلَةِ وَاَوْمٰى جَازَ فَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعِ الْاِيْمَآءَ بِرَاْسِهٖ اُخِّرَتْ عَنْهُ وَفِىْ رِوَايَةٍ سَقَطَتْ عَنْهُ وَلَا يُؤْمِىْ بِعَيْنِهٖ وَلَا بِقَلْبِهٖ وَلَا حَاجِبَيْهِ.

ژباړه: دوهم فرض ولاړه ده، پرولاړي باندي د قدرت باوجود که چېري يي په ناسته سره لمونځ وکړ نو نه دی جائز او که چېري ناروغه د ولاړي څخه عاجزه سي نو په ناسته سره دي رکوع او سجدې سره لمونځ وکړي ،که د رکوع او سجودي طاقت يې نه وي نو د رکوع او سجدې لپاره دي د سر اشاره کوي، سجده دي په نسبت د رکوع کښته کوي او د خپل مخ د طرف څخه دي يو داسي شی نه پورته کوي چي په هغه باندي سجده وکړي ولي چي عليه السلام و يو ناروغ ته وويل چي کله په مځکه باندي د سجدې طاقت لري نو سجده کوه که نه وي نو په سر سره اشاره کوه، که چېري په مځکه باندي تيکه وي او په هغه باندي سجده وکړي نو جائز دی او په ذخيره کي راغلي دي که چېري د ناستي طاقت هم نه لري نو پر خپل ملادي پريوزي او پښې دي د قبلې وطرف ته وغوړه وي نو د رکوع او سجودې لپاره دي اشاره کوي او که چېري په راسته اړخ پريوتی او مخ يي د قبلې و طرف ته کولو سره اشاره وکړه نو جائز دی که د اشارې طاقت هم نه لري نو د هغه څخه لمونځ موخر کړل سوی دی

او په يوه روايت کي دي چي د هغه څخه ساقط دی، او نه دي په خپل سترګو، نه په زړه او نه په وريځو سره اشاره کوي.

تشريح: ولاړه هم د لمانځه د فرائضو څخه ده او بلاعذره د دې پرې ښوول جائز نه دي مګر ناروغه انسان چي کله په ولاړه قدرت نه لري يا په ولاړه کي د صحت يا بې تاخير يا د ضعف شديد لاحق کيدلو خوف وي نو ولاړه پرې ښوول جائز دي ولي چي عليه السلام عمران بن حصين ته چي د هغه د بواسير مرض وو ويلي وه چي په ولاړه لمونځ کوه، که يې ته د دې استطاعت نه لري نو په ناسته يې وکړه، که بيا يې استطاعت نه وي نو په اړخ په پروتي سره يې وکړه په دې حال کي چي ته اشاره وکړي او د سجدې لپاره يو شی د مخ څخه پورته کول صحيح نه دي ولي چي عليه السلام يو ناروغه سړي ته داسي ويلي وه که چېري ته پر مځکه باندي د سجدې کولو قدرت لرې نو سجده وکړه که نه وي نو په خپل سر سره اشاره وکړه د دې حديث مبارک څخه دا خبره ښکاره کيږي چي د عذر په صورت کي سجده په اشارې سره کافي ده، البته که چېري په سر لاندي کولو سره په مځکي پرتې تکيه باندي سر لګوي نو جائز دی ولي چي په سر لاندي کولو سره اشاره سوي ده، که چېري د ناروغ د ناستي طاقت هم نه وي نو پر خپل ملا باندي دي پريوزي او پښې د قبلې وطرف ته وغوړوي د رکوع او سجودي اشاره دي وکړي، که ناروغ پر اړخ پريوزي په اشاره سره لمونځ وکړي او د هغه مخ د قبلې وطرف ته وي نو دا هم جائز دی البته د احنافو په نِز د ابن عمر د روايت په وجه په ستوني ستغ پروتي سره لمونځ ادا کول اولیٰ دي، که چېري ناروغي دومره زياته سوه چي د سر په اشارې سره يې هم قدرت نه درلودی نو لمونځ مؤخر کولی سي او په زړه سترګو او وريځو سره اشاره کول کافي نه دي ولي که چېري د سر څخه علاوه په دې اعضاء وو سره اشاره کول کافي وای نو عليه السلام مبارک به ضرور هغه پخپل قول مبارک کي بيان کړي وای، او د اصح قول

مطابق د جوړوالي وروسته د هغه لمونځو قضاء فرض ده که څه هم د يوې ورځې او شپې څخه زيات وي په دې شرط سره چې په داحالت کې ناروغ په هوښ کې وي.

ثُمَّ اِذَا بَرِءَ نَظَرَ اِنْ كَانَ يَعْقِلُ الصَّلٰوةَ حَالَةَ الْمَرَضِ وَالْعُجْزِ عَنِ الْاِيْمَآءِ فَاِنَّهٗ يَلْزَمُهُ الْقَضَآءُ اَكْثَرَ مِنْ يَّوْمٍ وَّلَيْلَةٍ سَقَطَتْ عَنْهُ وَاِنْ قَدَرَ عَلَى الْقِيَامِ دُوْنَ الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ لَمْ يَلْزَمْهُ الْقِيَامُ عِنْدَنَا وَذُكِرَ فِى الذَّخِيْرَةِ اِذَا قَدَرَ عَلَى الْقِيَامِ وَالرُّكُوْعِ دُوْنَ السُّجُوْدِ لَمْ يَلْزَمْهُ الْقِيَامُ وَعَلَيْهِ اَنْ يُّصَلِّيَ قَاعِدًا بِالْاِيْمَآءِ وَاَكْثَرُ الْمَشَايِخِ عَلٰى اَنَّهٗ مُخَيَّرٌ اِنْ شَآءَ صَلّٰى قَائِمًا بِالْاِيْمَآءِ وَاِنْ شَآءَ صَلّٰى قَاعِدًا بِالْاِيْمَآءِ.

ژباړه: د جوړوالي وروسته دې وګوري که چېرې د ناروغۍ په دوران کې په اشاره کولو سره خپل عجز ګڼي نو پر هغه باندې د اول روايت مطابق قضاء لازمه ده که نه وي نو نه ده لازمه، لکه څنګه چې په بې هوښۍ کې د يوې ورځې شپې څخه کم وي، او که چېرې بې هوښي ديوې شپې او ورځې څخه زياته وي نو د هغه څخه لمونځ ساقط دی که د رکوع او سجدې څخه علاوه صرف په ولاړې باندې قادر وي نو زموږ په نزد پر هغه باندې ولاړه نه ده لازمه، په ذخيره کې ذکرسوي دي چې کله د سجدې څخه علاوه صرف په ولاړې او رکوع باندې قادر وي نو پر هغه باندې ولاړه نه ده لازمه او هغه په ناستې سره په اشارې باندې لمونځ کوی سي ، د ټولو علماء په دې باندې اتفاق دی چې هغه ته اختيار دی که په ولاړې باندې په اشاره سره لمونځ کوي او که په ناستې په اشاره سره يې ادا کوي.

تشريح: چې څه وخت لږ هم د سر په اشارې باندې قادر سي نو د ناروغۍ په دوران کې دې په پاته سوو لمونځو کې دې غور وکړي که چېرې په هغه دوران کې د هغه هوش و حواس برابر وي او دومره پوهېږي چې د لمانځه وخت دی مګر زه د خپل بې

وسې په وجه لمونځ نه سم کولای نو پر هغه باندي د پاته سوي لمونځو قضاء لازمه ده، په اول روايت کي يعني د هغه روايت په مطابق په کوم کي چي دا ويل سوي دي چي د هغه څخه لمونځ مؤخر دی نو د هغه څخه نه دی ساقط او که چېري د لمانځه په وخت کي د لمانځه څه خبر نه لري په څه نه پوهيږي نو د يوې ورځي او شپې څخه زيات د بې هوښۍ په مثل کيدلو سره د هغه لمونځ ساقط دی، که يوسړی داسي ناروغه وي چي هغه پرولاړي باندي قادر وي مګر په رکوع او سجدې کولو باندي قدرت نه لري نو پر هغه باندي ولاړه نه ده لازمه بلکي هغه دي په ناستي او په اشارې سره لمونځ وکړي ولي چي ولاړه فقط په غرض سره رکن دی چي هغه د سجدې د اداکېدو وسيله ده نو ځکه د ولاړي وروسته په سجده کولو کي انتهايي تعظيم دی چي کله د ولاړي وروسته سجده نه وي هغه ولاړه رکن نه دی، او ناروغ يعني لمونځ کوونکي ته د ولاړي او نه ولاړي اختيار حاصل دی افضله داده چي په سجده او رکوع کي اشاره وکړي ولي چي په ناسته د سجدې په اشاره کولو کي د حقيقي سجدې سره زيات مشابهت دی د دې لپاره په ناستي سره د سجدې د اشاره کولو په وخت کي د لمونځ کونکی سر ومځکي ته زيات نيژدی دی په نسبت د ولاړي.

رَجُلٌ فِىْ حَلْقِهٖ جَرَاحَةٌ تَسِيْلُ اِذَا صَلّٰى بِالرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ يُصَلِّىْ قَاعِدًا بِالْاِيْمَآءِ شَيْخٌ كَبِيْرٌ اِذَا قَامَ فِى الصَّلٰوةِ سَلِسَ بَوْلُهٗ اَوْكَانَ بِهٖ جَرَاحَةٌ تَسِيْلُ وَاِنْ جَلَسَ لَاتَسِيْلُ فَاِنَّهٗ يُصَلِّىْ جَالِسًا وَكَذَا لَوْ سَجَدَ سَالَ بَوْلُهٗ اَوِانْفَلَتَ رِيْحُهٗ يُصَلِّىْ قَاعِدًا بِالْاِيْمَآءِ وَلَوْكَانَ بِحَالٍ لَوْصَلّٰى قَاعِدًا يَسِيْلُ وَلَوْ صَلّٰى مُسْتَلْقِيًا لَايَسِيْلُ يُصَلِّىْ قَآئِمًا بِرُكُوْعٍ وَسُجُوْدٍ وَلَوْ بِحَالٍ لَوْصَلّٰى قَآئِمًا ضَعُفَ عَنِ الْقِرَآءَةِ يُصَلِّىْ قَاعِدًا بِقِرَاءَةٍ يَعْنِى الشَّيْخُ الْفَانِىْ الَّذِىْ لَايَقْدِرُ عَلَى الْقِرَاءَةِ بِالْقِيَامِ اَصْلاً وَلَوْكَانَ بِحَالٍ لَوْ صَلّٰى مُنْفَرِدًا يَقْدِرُ

عَلَى الْقِيَامِ وَلَوْ صَلّٰى وَلَوْكَانَ بِحَالٍ لَوْ صَلّٰى مُنْفَرِدًا يَقْدِرُ عَلَى الْقِيَامِ وَلَوْ صَلّٰى مَعَ الْإِمَامِ لَايَقْدِرُ يَشْرَعُ قَآئِمًا ثُمَّ يَقْعُدُ فَإِذَاكَانَ وَقْتُ الرُّكُوْعِ يَقُوْمُ وَيَرْكَعُ ثُمَّ الْمَرِيْضُ يَقْعُدُ فِي الصَّلٰوةِ مِنْ اَوَّلِهَا اِلٰى اٰخِرِهَا كَمَايَقْعُدُ فِي التَّشَهُّدِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى.

ژباړه: د يو سړي په حلق کي داسي زخم دی چي د رکوع او سجدې په وخت کي بهيږي نو په ناستي او اشارې سره دي لمونځ وکړي، يو سپين ږری سړی چي کله په ولاړي سره لمونځ کوي نو د هغه بولي جاري کيږي يا يې زخم بهيږي په ناسته سره نه بهيږي نو هغه دي په ناستي سره لمونځ کوي، دغه ډول چي سجده کوي نو د هغه بولي جاري کيږي يا د هغه هوا وزي نو په ناسته سره د اشارې لمونځ دي وکړي، او که چيري داسي وي چي په ناستي بهيږي او په پروتي سره نه بهيږي نو دي په ولاړي د رکوع او سجدې سره لمونځ وکړي، که په ولاړي سره لمونځ کوي نو د قرآئت څخه عاجزه کيږي نو دي په ناسته سره لمونځ وکړي د قرآئت سره يعنی ډېر سپين ږری چي په ولاړي سره بالکل په قرآئت قادر نه وي او که چيري داسي وي چي کله په انفرادي ډول لمونځ کوي نو قادر وي او د امام سره قادر نه وي نو په ولاړه سره د لمانځه شروع کولو وروسته دي کښيني او چي کله د رکوع وخت سي نو دي ولاړ سي او رکوع دي وکړي، ناروغ دي د اول څخه بيا تر اٰخره په لمانځه کي د تشهد په حالت کي کښيني او په دغه باندي فتوٰی ده.

تشريح: داسي ناروغي چي په هغه کي په حلق کي زخم وي د رکوع او سجدې په وخت کي د هغه زخم څخهويني يا ئوونه يابل شی بهيږي نو دا سړی په ناسته سره د رکوع او سجدې لپاره په اشاره سره لمونځ کوی سي ولي چي د حدث سره د لمونځ کولو څخه دا بهتر دی چي د عذر په لحاظ کولو سره بغير د حدث په اشاره سره لمونځ وکړل سي البته که چېري په ناستي سره د يو ناروغ او ضعيف سړي زخم

بهيږي يا يې بولي جاري کيږي يا يي هوا خارجيږي نو د ناستي په ځای دې په ولاړي سره مع الحدث لمونځ وکړي ولي لکه څنګه چي بغير عذر د حدث سره لمونځ نه دی جائز دغه ډول بغير د عذر په پروتي سره لمونځ کول نه دی جائز نو چي کله دواړه برابر سوه نو په ولاړه سره لمونځ کولو کي رکوع او سجده ادا کېدی سي، په خلاف د ناستي چي په نفلي لمانځه کي بغير د څه عذره هم په ناستي سره جائز دی او که دا ډول وي که چېري په ولاړه سره لمونځ وکړي نو قرآئت نه سي ويلی او په ناستي سره په قرآئت قادر وي نو په ناستي سره د لمانځه کولو اجازت دی که د رکوع او سجود سره لمونځ وکړي يا په اشاره سره يي وکړي، که چېري د امام سره په اوږد قرآئت کي ولاړه نه سي کولای او جلا قرآئت سره د ولاړي سره کولای سی نو دي د جماعت لمونځ پرېږدي په انفرادي طور دي لمونځ وکړي ولي چي د جماعت سره لمونځ کول سنت دی قرآئت او ولاړه دواړه فرض دي لهذا د سنت په وجه فرائض نه سي پرېښوولای او کوم څوک چي د ولاړي څخه معذوره سي په ناستي سره لمونځ کوي نو د مفتٰی به قول مطابق د لمانځه د اول څخه بيا تر اٰخره پوري د هغه د ناستي هيئت په تشهد کي د ناستي په مثل به وي او ځينو علماؤ لمونځ کونکي ته اختيار ورکړی دی چي د سېي د ناستي د ډول څخه علاوه چي کوم راز هغه ته اسانه وي کښېنستی سي.

وَفِي الذَّخِيْرَةِ اِمْرِءَةٌ خَرَجَ رَاْسُ وَلَدِهَا وَخَافَتْ فَوْتَ الْوَقْتِ تَوَضَّاَتْ اِنْ قَدَرَتْ وَاِلَّا تَيَمَّمَتْ وَجَعَلَتْ رَاْسَ وَلَدِهَا فِيْ قِدْرٍ اَوْ حُفَيْرَةٍ وَصَلَّتْ قَاعِدَةً بِرُكُوْعٍ وَسُجُوْدٍ فَاِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْهُمَا تُؤْمِيْ اِيْمَاءً رَجُلٌ شَلَّتْ يَدَاهُ وَلَيْسَ مَعَهُ اَحَدٌ يُوَضِّيْهِ اَوْتَيَمَّهُ فَاِنَّهُ

يَمْسَحُ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ عَلَى الْحَائِطِ وَيُصَلِّيْ فَانْظُرْ وَتَأَمَّلْ فِيْ هٰذِهِ الْمَسَائِلِ هَلْ تَجِدُ فِيْهَا عُذْرًا لِتَاخِيْرِ الصَّلٰوةِ وَاوَيْلَاهُ لِتَارِكِهَا.

ژباړه: په ذخيره كي راغلي دي چي د يوښځي د كوچني سر را ووتی او هغه د لمانځه د فوت خوف لري نو دي اودس وكړي كه چېري يې قدرت وي كه نه وي نو دي تيمم ووهي د كوچني سر دي په يوه ديګ يا په يوشي كي كښېږدي په ناستي سره دي د ركوع او سجودو سره لمونځ وكړي كه چېري د دې دواړو طاقت نه وي نو دي اشاره وكړي، د يو سړي دواړه لاسونه شل سي او د هغه سره يو څوک د اودس يا تيمم وركولو والا نه وي نو دي خپل مخ او لاس پر ديواله باندي كش كړي او لمونځ دي وكړي، په دې مسائلو كي ښه غور او فكر وكړئ چي د لمانځه په تاخير كي تاته لږ ګنجائش په نظر راځي؟ هاى افسوس او بدبختی د بې لمانځ لپاره.

تشريح: د لمانځه د اهميت واضح كولو لپاره مصنف رحمه الله دوه قولونه د ذخيري څخه نقل كړي دي چي د هغو څخه دا اندازه په ښه توګه سره لګولای سي چي: لمانځه د پرې ښوولو عجز پوره سي دا په يو ډول هم نه دی جائز ولي چي ښځي د كوچني د پيدايشت په وخت كي د كوم تكليف او مشقت څخه مخامخ كيږي هغه يې چا نه دی مخفي كړی، مګر په دې وخت كي هم چي كله نفس نه وي جاري سوی نو لمونځ پرې ښودل نه دی جائز ولي چي نفاس د كوچني د پوره پيدائښت وروسته جاري كيږي او د كوچني په يوه حصه ښكاره كيدو سره ښځه په نفساء كي نه شمارل كيږي دغه ډول د دواړو لاسو څخه معذوره انسان چي څه ډول په لمانځه قادر وي لمونځ به كوي او د هغه څخه لمونځ نه دی ساقط، په آخر كي مصنف رحمه الله په بلاعجز لمونځ پرېښودنكو باندي د انتهايي افسوس اظهار كړی دی ولي چي د جابر بن عبدالله انصاري رضی الله تعالى عنه څخه روايت دی چي لمونځ پرېښودل انسان

کفر ته رسوي، شيخ الحديث محمد زکريا کاندهلوي رحمه الله د لمانځه د فضائلو په باره کي ليکلي دي چي په يوه حديث کي راغلي دي چي په ورځ کي زر لمونځونه کوئ ولي چي په لمونځ پريښولو سره انسان کافر کيږي يعني چېري داسي نه وي چي د وريځي په وجه سره وخت نه سي معلوم او لمونځ قضا سي دا هم د لمانځه پريښودل ارشاد کړل ځومره سـ سنه خبره ده د عليه السلام مبارک چي په لمونځ پريښودونکي باندي د کفر حکم لګوي ګوانکي علماؤ دا حديث د انکار سره مقيد کړی دی مګر د عليه السلام د ارشاد فکر دومره سخت شی دی چي د چا په زړه کي لږ هم د عليه السلام مبارک وقعت او د نبي د ارشاد اهميت وي د هغه لپاره دا ارشادات ډېر سخت دي تر دي علاوه لويو لويو صحابه کرامو رضي الله عنهم لکه حضرت عمر حضرت عبدالله بن مسعود، حضرت عبدالله بن عباس او داسي نور رضوان الله تعالى عليهم اجمعين مذهب دغه دی چي بلا عذره او په قصداً د لمانځه قضاکونکی کافر دی، اللهم احفظنا منه.

وَاِنْ صَلَّى الصَّحِيْحُ بَعْضَ صَلٰوتِهٖ قَآئِمًا فَحَدَثَ بِهٖ مَرَضٌ اَتَمَّهَا قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ اَوْيُؤْمِئُ اِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْهُمَا اَوْ مُسْتَلْقِيًا اِنْ لَّمْ يَسْتَطِعِ الْقُعُوْدَ وَاِنْكَانَ قَدْ صَلّٰى اَوَّلَ صَلٰوتِهٖ قَاعِدًا لِمَرَضٍ ثُمَّ صَحَّ بَنٰى عَلٰى صَلٰوتِهٖ قَآئِمًا عِنْدَهُمَا وَقَالَ مُحَمَّدٌ يَسْتَقْبِلُ الصَّلٰوةَ وَاِنْ صَلّٰى بَعْضَ صَلٰوتِهٖ بِاِيْمَآءٍ ثُمَّ قَدَرَ عَلَى الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ يَسْتَاْنِفُ بِالْاِتِّفَاقِ.

ژباړه: که چېري جوړ سړی په ولاړه سره لمونځ شروع کړي بيا ناروغه سو نو دي په ناسته د رکوع او سجدې سره يا په صورت د عدم قدرت په اشاره سره لمونځ پوره کړي که چېري د ناستي طاقت هم نه يي نو دي په پروتي وکړي او که چېري په اول

کي د ناروغی په وجه په ناسته لمونځ وکړي بيا جوړ سو نو د شيخينو رحهما الله په نز په ولاړي سره دي خپل لمونځ پسي پوره کړي او امام محمد رحمه الله وايي چي د سر څخه دي خپل لمونځ وکړي او که چېري يي يو څه لمونځ په اشاره سره وکړ بيا په رکوع او سجده باندي قادر سو نو دې بالاتفاق دي لمونځ د سره را وګرځوي.

تشريح: يو صحت مند انسان ته چي کله د لمانځه په دوران کي يو مرض لاحق سي نو څه ډول چي کيدی سي خپل لمونځ دي د خپل طاقت مطابق پوره کړي که څه هم په پروتي وي، او د انتهايي عذر څخه علاوه د لمانځه فاسدول جائز نه دي که چېري د دې عکس سي يعني ناروغ د لمانځه په دوران کي جوړ سي په ولاړه، رکوع، سجده باندي قادر سي نو د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام ابو يوسف رحمه الله په نِز دا سړی دي په ولاړه خپل لمونځ پوره کړي او فتوی هم د حضراتو شيخينو رحهما الله پر قول ده، امام محمد رحمه الله وايي چي لمونځ به پوره د سره نه کوي البته که چېري يي لږ لمونځ په اشاره سره وکړ بيا جوړ سو نو بالاتفاق په سوي لمانځه باندي يې نه سي کولای او ټول لمونځ دي د سره څخه شروع کړي.

وَيَجُوْزُ التَّطَوُّعُ قَاعِدًا بِغَيْرِ عُذْرٍ وَاِنِ افْتَتَحَ التَّطَوُّعَ قَائِمًا ثُمَّ اَعْيٰى فَلَا بَأْسَ لَهُ اَنْ يَّتَوَكَّأَ عَلٰى عَصًا اَوْحَآئِطٍ اَوْ يَقْعُدُ وَتَجُوْزُ صَلٰوةُ التَّطَوُّعِ عَلَى الدَّآبَّةِ اِيْمَاءً لِلْمُسَافِرِ بِالْاِتِّفَاقِ اِلٰى اَيِّ جِهَةٍ تَوَجَّهَتْ دَابَّتُهُ وَلِلْمُقِيْمِ خَارِجَ الْمِصْرِ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَاَبِيْ يُوْسُفَ اَمَّا الْفَرَائِضُ فَتَجُوْزُ اَيْضًا بِالْاَعْذَارِ الَّتِيْ ذَكَرْنَاهَا فِيْ فَصْلِ التَّيَمُّمِ وَكَذَا شَيْخٌ رَكِبَ دَآبَّةً وَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى النُّزُوْلِ اَوِامْرَءَةٌ لَيْسَ مَعَهَا مُحْرِمٌ يُصَلِّيَانِ عَلَيْهَا وَالْمُصَلِّيْ عَلَى الدَّابَّةِ يُؤْمِيْ بِالرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ وَيَجْعَلُ السُّجُوْدَ اَخْفَضَ مِنَ الرُّكُوْعِ

كَالْمَرِيْضِ الْمُصَلِّيْ قَاعِدًا بِالْاِيْمَاءِ وَلَوْ سَجَدَ عَلٰى شَيْ ءٍ وُضِعَ عِنْدَهٗ اَوْسَجَدَ عَلٰى سَرْجِهٖ لَايَجُوْزُ لِاَنَّ الصَّلٰوةَ عَلَى الدَّابَّةِ اِنَّمَا شُرِعَتْ بِالْاِيْمَاءِ وَلَوْكَانَتْ عَلٰى سَرْجِهٖ نَجَاسَةٌ لَاتَمْنَعُ وَقِيْلَ تَمْنَعُ وَلَوْ صَلّٰى فِيْ السَّفِيْنَةِ قَاعِدًا مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ تَجُوْزُ عِنْدَ اَبِيْحَنِيْفَةَ وَقَالَا لَا تَجُوْزُ اِلَّا مِنْ عُذْرٍ.

ژباړه: نفل بېله څه عذره په ناستي سره كول جائز دي، كه چېري يې په ولاړي سره نفل لمونځ شروع كړ يا ستړي سو نو د هغه لپاره په امسا يا په ديوال باندي تيكه لګولو يا په ناسته كي هيڅ قباحت نسته، د مسافر لپاره په سوارلۍ باندي په اشارې سره نفل كول بالاتفاق جائز دي كه هر طرف ته د هغه د سوارلۍ مخ وي پرواه نه كېږي، د مقيم لپاره د ښار څخه د باندي د امام ابوحنيفه رحمه الله او ابو يوسف رحمه الله په نزد او فرائض هم د عذر په مطابق كوم چي موږ د تيمم په فصل كي ذكر كړل جائز دي هغه ډول چي سپين ږيرى كله په سوارلۍ باندي قادر وي او په كښته كېدو نه وي قادر يا ښځه چي د هغې سره محرم نه وي نو دا دواړه دي په سوارلۍ باندي لمونځ وكړي او په سوارلۍ باندي لمونځ كونكى دي د ركوع او سجدي لپاره اشاره وكړي او د سجدي اشاره په نسبت د ركوع دي كښته كوي، لكه څنګه چي ناروغه لمونځ كونكى په ناسته اشاره كوي، كه د هغه پروت په يو شي يا يې په زين باندي سجده وكړه نو نه ده جائز ولي چي په سوارلۍ باندي لمونځ په اشاره سره جائز سوى دى او كه چېري په زين باندي نجاست وي نو د لمانځه څخه يې نه منع كوي، ځينو ويلي دي چي منع كوي يې، كه چېري په كښتي كي بېله د عذر په ناستي لمونځ وكړي نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد جائز دى، صاحبين وايي چي بلا عذر نه دى جائز.

تشريح: كه چېري يو سړى په ولاړي سره نفلي لمونځ شروع كړي او بيا ستړى سو نو په

يوې لکړې يا په ديوال باندې تکيه لګول جائز دي، بېله عذره داسې کول مکروه دي، ځکه چې په دې کې بې ادبي ده، دغه د ول صاحب د هدايې پر دې باندې تصريح کړې ده او وايي چې د امام ابو حنيفه رحمه الله په نز باندې بېله عذره کښېنې نستل جائز دي، او د صاحبينو په نز باندې جائز نه دي.

د ښار څخه د باندې په سوارلۍ باندې نفل لمونځ کول جائز دی که د عذر د وجې څخه وي يا بغير د عذر څخه، او مخامخ کېدل د قبلې هم نه دی ضروري کوم طرف ته چې د سوارې مخ وي په هغه طرف د مخ کولو سره دې لمونځ جاري وساتي د رکوع او سجودو لپاره دې اشاره کوي لکه څنګه چې د ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما عليه السلام په خره باندې په اشاره سره د لمانځه په حالت کې وليدی په دې حال کې چې عليه السلام د خيبر وطرف ته متوجه وو، فرائض بغير د عذر په سوارې باندې نه دې جائز او په روانه کښتۍ کې بغير د څه ناروغۍ څخه د امام ابو حنيفه رحمه الله په نز په ناستې سره لمونځ جائز دی مګر په ولاړه سره لمونځ افضل دی ولې چې په روانه کښتۍ کې عموماً سر څرخ کوي او غالب بمنزله د محقق کېږي، د امام يوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نز نه دی جائز.

وَالثَّالِثَةُ الْقِرَاءَةُ وَهِيَ تَصْحِيْحُ الْحُرُوْفِ بِلِسَانِهِ بِحَيْثُ يُسْمِعُ نَفْسَهُ وَقِيْلَ إِذَا صَحَّ الْحُرُوْفَ يَجُوْزُ وَإِنْ لَّمْ يَسْتَمِعْ نَفْسَهُ وَالْقِرَاءَةُ فَرْضٌ فِيْ جَمِيْعِ رَكْعَاتِ النَّفْلِ وَكَذَا الْوِتْرِ وَفِي الْفَرْضِ فِيْ ذَوَاتِ الرَّكْعَتَيْنِ أَمَّا فِيْ ذَوَاتِ الْأَرْبَعِ فَفَرْضُ الْقِرَاءَةِ إِنَّمَا هُوَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بِغَيْرِ عَيْنِهِمَا وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَقْرَءَ فِي الْأُوْلَيَيْنِ وَفِي الْأُخْرَيَيْنِ مُخَيَّرٌ إِنْ شَآءَ قَرَءَ وَإِنْ شَآءَ سَبَّحَ وَإِنْ شَآءَ سَكَتَ وَالْقِرَاءَةُ أَفْضَلُ.

ژباړه: درېيم فرض قرآئت دی او هغه په ژبه باندې د حروفو داسې تصحيح کول دي

هغه يي خپله واوري، او ويل سوی دي چي کله حروف صحيح ادا کړي نو جائز
دي که څه هم خپله يي نه واوري او قرآئت د نفل لمانځه په ټولو رکعاتو کي فرض
دی او دغه ډول وتر او فرض د دوو رکعاتو په والا کي هم فرض دی او د څلور
رکعاتو والا په لمانځه کي فرض قرآئت بغير د تعينه په دوو رکعاتو کي دی او بهتره
داده چي په اولو دوو رکعاتو کي قرآئت ووايي اوپه اخري دوو رکعاتو کي اختيار
دی چي قرآئت ووايي او که تسبيح ووايي يا چپ وي ، او قرآئت ويل افضل دي.

تشريح: د لمانځه د فرائضو څخه دريم فرض قرآئت ويل دي مشائخو عظامو د قرآئت په تعريف کي اختلاف کړی دی امام ابو جعفر هندواني رحمه الله وايي چي په ژبه باندي د حرف تصحيح کول قرآئت دی ولي چي د قرآئت تعلق صرف د ژبي څخه دی او اورېدل د غوږو فعل دی د ژبي فعل نهِ دی، اکثرو علماؤ اول قول ته ترجيح ورکړي ده، په ټولو نوافلو کي قرآئت ويل فرض دي ولي چي د نفلي لمانځه نيت که څه هم د دوو رکعاتو څخه زيات مثلاً څلور، شپږ يا اته رکعاته يو ځای کړل سي بيا هم هره شفعه عليحده لمونځ دی تر دې پوري چي کومه شفعه يي فاسده کړه د هغه قضاء راوړل لازم دي، وتر په ځينو امورو کي د نوافلو او په ځينو کي د فرائضو سره مشابه دي نو علماء په فرضيت قرآئت د نوافلو مشابهت ته احتياطاً ترجيح ورکړي ده او د وتر په جمله رکعاتو کي د قرآئت د فرضيت حکم ورکړی دی او دغه ډول کوم فرض لمونځونه چي صرف دوه رکعاته دي لکه د سهار لمونځ، د جمعې يا د مسافر لمونځ په هغوی ټولو کي قرآئت ويل فرض دي، او په څلورو رکعاتو فرضو کي او دغه راز د ماښام په درېو رکعاتو فرضو کي صرف په اول رکعات کي قرآئت ويل کيږي، امام شافعي رحمه الله وايي چي په ټولو رکعاتو کي قرآئت ويل واجب دي ولي چي عليه السلام مبارک وويل چي بغير قرآئته لمونځ نسته، او هر رکعات جلا لمونځ دی، حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چي د الله تعالی قول دی (فَاقْرَؤُا مَاتَيَسَّرَ مِنَ

الْقُرْآنِ) څخه د قرآئت فرض په صيغه د امر ثابت دی او امر د تکرار تقاضه نه کوي چونکي اول رکعات د دوهم رکعات بالکل مشابه دی د دې لپاره چي کله په اول رکعات کي د قرآئت وجوب د عبارت النص څخه دی نو په دوهم رکعات کي د قرآئت وجوب د دلالت النص څخه دی، البته د فرض آخري دوه رکعاته يا د مابنام په دريم رکعات کي مصلي ته اختيار دی چي د قرآئت په مقدار خاموش پاته سي يا دري تسبيحات ووايي يا سورت فاتحه ووايي مګر د سورت الفاتحي قرآئت افضل دی ولي چي عليه السلام مبارک کله کله په پرېښولو سره په دې باندي هميشه توب کړی دی.

وَاَمَّا التَّقْدِيْرُ فَالْفَرْضُ قِرَآءَةُ اٰيَةٍ وَاحِدَةٍ وَاِنْكَانَتْ قَصِيْرَةً نَحْوَ قَوْلِهٖ تَعَالٰى ثُمَّ نَظَرَ وَهٰذَا عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَعِنْدَهُمَا ثَلٰثُ اٰيَاتٍ قِصَارٍ اَوْ اٰيَةٌ طَوِيْلَةٌ وَاِمَّا اِذَا قَرَءَ اٰيَةً هِيَ كَلِمَةٌ وَاحِدٌ نَحْوُ قَوْلِهٖ تَعَالٰى مُدْهَآمَّتٰنِ اَوْحَرْفٌ نَحْوُق و ص ون فَقَدِ اخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِيْهِ وَالْاَصَحُّ اَنَّهٗ لَايَجُوْزُ وَاِنْ قَرَءَ اٰيَةً طَوِيْلَةً نَحْوُ اٰيَةِ الْكُرْسِيِّ وَاٰيَةِ الْمُدَايَنَةِ وَلَمْ يُتِمَّ بَلْ قَرَءَ الْبَعْضَ فِيْ رَكْعَةٍ وَالْبَعْضَ فِي الْاُخْرٰى فَقَدِ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ اَيْضًا وَالْاَصَحُّ اَنَّهٗ يَجُوْزُ عَلٰى قَوْلِ اَبِيْحَنِيْفَةَ وَالَّذِىْ لَايَحْسُنُ اِلَّا اٰيَةً لَايَلْزَمُهُ التَّكْرَارُ عِنْدَهٗ وَعِنْدَهُمَا يَلْزَمُهُ التَّكْرَارُ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ.

ژباړه: مقدار د فرض قرآئت د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نز د يوه آيت دی که څېري کوچنی وي لکه " ثم نظر " دی او د صاحبينو په نِز دري کوچني آياتونه يا يو لوی آيت او چي کله صرف د يوې کلمې قرآئت ووايي لکه څنګه چي د الله تعالی قولَ" مُدهَامّتٰنِ "يا يو حرف لکه ق، ص، نو په دې کي د مشائخو اختلاف دی او

اصح دادی چي جائز نه دی، که چېري يي لوی آيت ووايه لکه آيت الکرسي او آيت مُداينه او پوره يي نه کړي بلکي يوځه يي په يوه رکعت کي او يوځه يي په دوهم رکعت کي ووايه نو په دې کي د علماؤ اختلاف دی او اصح دادی چي د امام ابوحنيفه رحمه الله په قول جائز دی او هغه سړی چي چا ته صرف د يوه آيت څخه زيات څه ياد نه وي نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نِز پر هغه باندي د دې آيت تکرار لازم نه دی او د صاحبينو په نِز پر هغه باندي درې واره تکرار لازم دی.

تشريح: مصنف رحمه الله په دې عبارت کي " مَايَجُوزُ بِهِ الصَّلٰوةُ "مقدار بيان کولو سره وايي چي د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نِز د قرآئت ادنٰی مقدار په کوم سره چي لمونځ جائز کيږي يو آيت دی، نو که چېري په دوو کلمو يا په زيات باندي مشتمل وي نو بالاتفاق د امام صاحب رحمه الله په قول باندي جائز دی لکه څنګه چي د باري تعالی قول دی" ثُمَّ نَظَرَ "او که چېري صرف يوه کلمه يا يو حرف وي نو د اصح قول مطابق د امام صاحب رحمه الله پر مذهب لمونځ نه دی جائز. د صاحبينو مقدار مَايَجُوزُ بِهِ الصَّلٰوةُ درې اٰيته دي، لکه څنګه چي آيت الکرسی يا هغه يو آيت په کوم کي چي د قرض (پور) اصول بيان سوي دي کوم ته چي آيهٔ مُداينه ويل کيږي او د قرآن پاک په دريم سپاره کي دی، د صاحبينو دليل دادی چي د کوچني درو آياتو يا د يوه لوی آيت څخه چي هغه ته په عرف عام کي ويونکی د قرآن نه ويل کيږي نو دا که څه هم حقيقتاً قرآن دی مګر په عرف کي له دې څخه په مقدار باندي د قرآن اطلاق نه وسو لهٰذا کوچني درې آياته يا د يو لوی آيت څخه کم قرآئت نه دی کافي. حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چي د الله تعالی قول " فَاقْرَؤُا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرآنِ " مطلق دی او په دې کي د کوچني او لوی هيڅ تفصيل نسته او د يوه آيت حقيقتاً قرآن کيدل خو ښکاره دی مګر حکماً هم قرآن د دې لپاره دی چي د يوه آيت قرآئت حائضه او د جنب لپاره حرام دی مفتٰی به قول د حضراتو صاحبينو دی ولي چي د هغوی قول پر

احتياط مبنٰى دى او په عباداتو كي احتياط كول لازم دي.

وَالرَّابِعَةُ الرُّكُوْعَ وَهُوَ طَأْطَاَةُ الرَّأْسِهُ قَلِيْلًا وَلَمْ يَعْتَدِلُ اِنْ كَانَ اِلَى الرُّكُوْعِ اَقْرَبُ جَازَ وَاِنْكَانَ اِلَى الْقِيَامِ اَقْرَبُ بِاَنْ لَّمْ يَحْنِ لَايَجُوْزُ رَجُلٌ اِنْتَهٰى اِلَ الْاِمَامِ وَهُوَ رَاكِعٌ فَكَبَّرَ وَهُوَ اِلَى الرُّكُوْعِ اَقْرَبُ فَصَلٰوتُهُ فَاسِدَةٌ رَجُلٌ اَحْدَبُ بَلَغَتْ حُدُوْبَتُهُ الرُّكُوْعَ يَخْفِضُ رَأْسَهُ فِي الرُّكُوْعِ وَذُكِرَ فِي عُيُوْنِ الْفَتَاوٰى اِذَا اَدْرَكَ الْاِمَامَ بَعْدَ مَاسَجَدَ الْاِمَامُ سَجْدَةً فَرَكَعَ وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ تَفْسُدُ صَلٰوتُهُ وَلَوْاَدْرَكَ الْاِمَامَ بَعْدَ مَارَكَعَ وَهُوَ فِي السَّجْدَةِ الْاُوْلٰى فَرَكَعَ وَسَجَدَ لَاتَفْسُدُ لِاَنَّ الزِّيَادَةَ مَادُوْنَ الرَّكْعَةِ غَيْرُ مُفْسِدٌ وَاِذَا رَكَعَ الْمُقْتَدِيْ فَرَفَعَ رَأْسَهُ قَبْلَ اَنْ يَّرْكَعَ الْاِمَامُ لَمْ يُجْزِ الرُّكُوْعُ وَاِنْ اَدْرَكَهُ الْاِمَامُ وَهُوَ فِي الرُّكُوْعِ اَجْزَاهُ وَاِنِ انْتَهٰى اِلَى الْاِمَامِ وَهُوَ رَاكِعٌ فَكَبَّرَ وَ وَقَفَ حَتّٰى رَفَعَ الْاِمَامُ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ لَايُصِيْرُ مُدْرِكًا لِتِلْكَ الرَّكْعَةِ وَرُكْنِيَّةُ الرُّكُوْعِ مُتَعَلِّقَةٌ بِاَدْنٰى مَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ اِسْمُ الرُّكُوْعِ عِنْدَ اَبِيْحَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ وَذُكِرَفِ الشَّرْحِ اِنْ لَّمْ يَقُلْ ثَلٰثَ تَسْبِيْحَاتٍ اَوْلَمْ يَمْكُثْ مِقْدَارَ ذٰلِكَ لَايَجُوْزُ رُكُوعُهُ وَكَذٰلِكَ رُكْنِيَّةُ السُّجُوْدِ وَذُكِرَ فِيْ زَادِ الْفُقَهَآءِ اِنَّ اَدْنٰى تَسْبِيْحَا الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ الثَّلٰثُ وَالْاَوْسَطُ خَمْسُ مَرَّاتٍ وَالْاَكْمَلُ سَبْعُ مَرَّاتٍ.

ژباړه: څلورم فرض ركوع ده او هغه سر لاندي كول دي كه چېري يې په معمولي طور سر لاندي كړ او د ملا سره يې برابر نه كړ نو كه د ركوع سره زيات نژدې وي نو جائز دی كه چېري د ولاړي سره زيات نژدې وي يعني كښته نه وي نو نه دی جائز،

یو سړی امام ته ورسیدی او هغه په رکوع کې وو بیا یې تکبیر ووایه په داسې حال کې چې د رکوع څخه زیات وو نو د هغه لمونځ فاسد دی یو سپین ږری سړی چې کله د رکوع تر حده پورې کښېنه سي هغه به څېل سر په رکوع کې لاندې کوي، په عیون الفتاوی کې ذکرسوی دی چې کله امام د سجدې کولو وروسته ونیسي او څپله رکوع او دوې سجدې وکړې نو د هغه لمونځ فاسدیږي، که چیرې یې د رکوع وروسته په سجده کې ونیوی بیا یې رکوع او سجده وکړه نو نه فاسدیږي ولې چې د یوه رکعات څخه کوم زیادات مفسد نه دی، چې کله مقتدي د امام څخه تر مخه رکوع وکړه بیا یې د امام د رکوع کولو څخه د مخه سر پورته کړ نو دا رکوع نه ده کافي او که چیرې امام هغه د رکوع په حالت کې ونیوی نو کافي ده او که چیرې امام ته د رکوع په حالت کې ورسیدی بیایې تکبیر ووایه او ودریدی تر دې پورې چې امام د رکوع څخه سر پورته کړ نو د رکعات نیونکی نه سو، د امام ابوحنیفه رحمه الله او محمد رحمه الله په نِز د رکوع فرضیت له دومره اندازې سره متعلق دی په کوم کې چې کم از کم د رکوع اطلاق کیدی سي او په شرحه کې ذکرسوي دي که چیرې درې تسبیحاته نه ووایي یا دومره مقدار نه ودریږي نو د هغه رکوع نه ده جائز او د هغه ډول د سجدې رکنیت دی، په زاد الفقهاء کې ذکر دي چې د رکوع او سجدې کم از کم تسبیحات درې واره دي، او درمیانه پنځه او پوره درجه اووه واره دي.

تشریح: د خپل ملا سره سر کښته کول په شریعتِ مطهره کې رکوع ویل کیږي که څه هم د حد اعتدال پورې نه وي رسیدلی مګر دا ضروري ده چې د ولاړې سره نژدې نه وي چې د هغه په باره کې د علماؤ قول فیصله ده، که چیرې ملا دومره لاندې کړي چې لاس د ځنګنو پورې ورسیږي نو د ولاړې څخه زیات د رکوع و طرف ته مائل دي او د هغه رکوع اداء او لمونځ جائز دی. که چیرې د ضعف یا د مرض په وجه د یو سړي ملا دومره کښته سوي وي چې په حالت د ولاړې هم رکوع کونکی په نظر

راځي نو دا سرې په خپل لمانځه کي چي کله د ولاړهي څخه رکوع ته منتقل کيږي نو دي په سر سره اشاره وکړي او لاسونه دي هم په ځنګنو باندي کښيږدي د دې لپاره چي رکوع ثابته سي که چېري شاته په داسي حالت کي اقتداء وکړي چي امام د هغه رکعات لپاره يوه سجده کړي وي او مقتدی په چسپاندی سره د تکبيري تحريمه کولو وروسته رکوع او سجده کولو وروسته په دوهمه سجده کي د امام سره شريک سي نو د هغه لمونځ فاسد دی ولي چي يو پوره رکعات يې بغير د اقتداء ادا کړ البته که چېري صرف په رکوع کولو سره د امام سره په اوله سجده کي شريک سو نو د دې لپاره فاسد نه دی چي يو پوره رکعات بغير د اقتدا نه سو ادا مګر دا رکعات د لمانځه څخه نه دی او د امام د فراغت وروسته د دې رکعات راګرځول لازم دي، د طرفينو د قول مطابق فقط د سر او ملا کښته کولو ته رکوع ويل کيږي که څه هم د معمولي ساعت لپاره وي او طمانيت فرض نه دی، په شرح الاسبيجابي کي راغلي دي که چېري په رکوع او سجوده کي دري واره تسبيح نه ووايي يا د دې په مقدار نه ودرېدی نو د هغه رکوع او سجده نه سوه ادا مګر دا قول شاذ دی او د دې د بنکاره مذهب احنافو سره هيڅ تعلق نسته ولي چي د خبر واحد يا د قياس په ذريعه په کتاب الله زيادت د علماء احنافو عادت نه دی، د رکوع او سجودې حکم په قرآن مجيد کي مطلق دی، د منفرد لپاره د رکوع او سجودې تسبيحات تر درو څخه زياتول بهتر دي مګر په طاق عدد کي ويل پکار دي البته د امام لپاره دري واره کافي دي د دې لپاره چي د قوم په ضعفاؤ باندي بوج نه سی.

وَالْخَامِسَةُ السَّجْدَةُ وَهِيَ فَرِيْضَةٌ تَتَأَدّٰی بِوَضْعِ الْجَبْهَةِ وَالْاَنْفِ وَالْقَدَمَيْنِ وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ وَاِنْ وَضَعَ جَبْهَتَهُ دُوْنَ اَنْفِهٖ جَازَ بِالْاِجْمَاعِ اِنْكَانَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ يُكْرَهُ وَاِنْ وَضَعَ اَنْفَهُ دُوْنَ جَبْهَتَهُ فَكَذٰلِكَ عِنْدَ اَبِيْحَنِيْفَةَ وَقَالَا لَايَجُوْزُ

بِالْاَنْفِ اِلَّا اِذَا كَانَ بِجَبْهَتِهٖ عُذْرٌ وَلَوْ وَضَعَ خَدَّهٗ اَوْ ذَقْنَهٗ لَايَجُوْزُ وَاِنْ كَانَ مِنْ عُذْرٍ
بَلْ يُؤْمِیْ وَوَضْعُ الْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ لَيْسَ بِوَاجِبٍ عِنْدَنَا خِلَافًا لِّزُفَرَ وَالشَّافِعِيِّ
وَلَوْ سَجَدَ وَلَمْ يَضَعْ قَدَمَيْهِ عَلَى الْاَرْضِ لَايَجُوْزُ وَلَوْ وَضَعَ اِحْدٰهُمَا جَازَ وَلَوْ سَجَدَ
بِسَبَبِ الْاِزْدِحَامِ عَلٰى فَخْذِهٖ جَازَ وَهُوَ قَوْلُ اَبِيْحَنِيْفَةَ وَاِنْ سَجَدَ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ لَايَجُوْزُ
وَاِنْ سَجَدَ عَلٰى ظَهْرِ رَجُلٍ وَهُوَ فِي الصَّلٰوةِ يَجُوْزُ وَاِنْ سَجَدَ عَلٰى ظَهْرِ رَجُلٍ لَيْسَ فِي
الصَّلٰوةِ لَايَجُوْزُ وَلَوْكَانَ مَوْضِعُ السُّجُوْدِ اَرْفَعَ مِنْ مَوْضِعِ الْقَدَمَيْنِ مِقْدَارَ اللَّبِنَتَيْنِ
مَنْصُوْبَتَيْنِ جَازَ وَاِلَّا فَلَا وَاَرَادَ بِاللَّبِنَةِ لِبْنَةُ بُخَارٰى وَهِيَ رُبْعُ ذِرَاعٍ وَلَوْسَجَدَ عَلٰى
كُوْرِ عِمَامَتِهٖ اَوْفَاضِلِ ثَوْبِهٖ اَوْعَلٰى شَيْءٍ طَاهِرٍ جَازَ عِنْدَنَا خِلَافٌ لِّلشَّافِعِيِّ وَلَوْ بَسَطَ
كُمَّهٗ اَوْذَيْلَهٗ عَلٰى شَيْءٍ نَجِسٍ فَسَجَدَ عَلَيْهِ لَايَجُوْزُ وَقِيْلَ فِيْ رِوَايَةٍ يَجُوْزُ وَلَوْ وَضَعَ
كَفَّيْهِ اَوْبَسَطَ خِرْقَةً عَلٰى شَيْءٍ طَاهِرٍ لِلْحَرِّ اَوْلِلْبَرْدِ اَوْ لِلتُّرَابِ وَسَجَدَ عَلٰى ذٰلِكَ جَازَ
وَالْكَلَامُ اِنَّمَاهُوَ فِي الْكَرَاهَةِ وَاِنْ سَجَدَ عَلَى الثَّلْجِ اِنْ لَّمْ يُلَبِّدْهُ وَكَانَ يَغِيْبُ وَجْهُهٗ
وَلَايَجِدُ حُجْمُهٗ لَمْ يَجُزْ وَاِنْ لَبَّدَهٗ جَازَ وَعَلٰى هٰذَا اِذَا اَلْقَى الْحَشِيْشَ فَسَجَدَ عَلَيْهِ اِنْ
لَبَّدَهٗ جَازَوَ اِلَّا وَكَذَا اِذَا سَجَدَ عَلَى التِّبْنِ اَوِ الْمَحْلُوْجِ اِنْ لَّمْ يَسْتَقِرَّ جَبْهَتُهٗ لَايَجُوْزُ
وَلَوْ سَجَدَ عَلَى الْاُرْزِ اَوِ الْجَاوَرْسِ اَوْعَلَى الذُّرَّةِ لَايَجُوْزُ وَلَوْسَجَدَ عَلَى الْحِنْطَةِ اَوِ
الشَّعِيْرِ يَجُوْزُ اَمَّا الْاُرْزُ اَوِ الْمَحْلُوْجُ اِذَاكَانَ فِيْ جَوَالِقَ جَازَ وَسُئِلَ نَصِيْرُبْنُ يَحْيٰى

عَمَّنْ يَضَعُ جَبْهَتَهُ عَلىٰ حَجَرٍ صَغِيْرٍ قَالَ اِنْ وَضَعَ اَكْثَرَ جَبْهَتَهُ عَلَى الْاَرْضِ يَجُوْزُ وَاِلَّا فَلَا كَذَا فِي الْمُحِيْطِ وَاِنْ لَّمْ يَضَعْ رُكْبَتَيْهِ فِي السَّجْدَةِ عَلَى الْاَرْضِ تَجُوْزُ وَهُوَ الْمُخْتَارُ.

ژباړه: پنځم فرض سجده ده چي په تندي پوزه، دواړو قدمو، دواړو لاسو او د ځنګنو پر مځکه باندي د ایښوولو سره ادا کیږي که چیري د پوزي څخه علاوه صرف تندی کښیږدي نو بالاجماع جائز ده او بغیر د عذر څخه مکروه ده، که چیري يې د تندي څخه علاوه صرف پوزه کښیښوله نو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نِز جائز ده او صاحبینو ویلي دي که څه هم د عذر د وجي څخه وي فقط په پوزي باندي سجده نه ده جائز مګر دا چي د تندې لګولو سره يو عذر مانع وي او که چیري يې رخسار یا زینه ولګوله نو نه ده جائزه او صاحبین وايي که څه هم د عذر په وجه وي بلکي اشاره دي وکړي او دواړه لاسونه او ځنګنونه لګول زموږ په نِز واجب نه دي په خلاف د امام زفر رحمه الله او امام شافعي رحمه الله، که چیري يې سجده وکړه او پر مځکه يې قدمونه نه کښیښوول نو نه ده جائز او که يې يو کښیښووی جائز ده. که د هجوم په وجه يې په خپلو ورنو باندي سجده وکړه نو جائز ده او دا د امام ابوحنیفه رحمه الله قول دی که چیري يې په ځنګنو باندي سجده ولګوله نو نه ده جائز او که چیري يې د يو بل چا په ملا باندي سجده وکړه چي په لمانځه کي نه وي نو نه ده جائز.

که د ولاړو ښښتو په مقدار د سجدې ځای د قدمو څخه پورته وي نو جائز دی که نه وي نو نه دی جائز، او د ښښتي څخه مراد د بخار ښښته ده چي د ګز ځلورمه ده او که چیري د لونګی پیچ یا په خپل زائدو کالو یا په يو پاک شي باندي يې سجده وکړه نو زموږ په نِز جائز ده په خلاف د امام شافعی رحمه الله او که چیري يې خپل لستونی یا لمن په يو ناپاک شي باندي وغوړوله او سجده يې وکړه نو نه دی جائز په يوه روایت کي ویل سوي دي چي جائز دی که يي دواړه ورغوي کښیښودل په يو

پاک شي باندي، يو سړي کالي د ګرمي، يخ يا د خاورو څخه د حفاظت لپاره وغوړوله او په هغه باندي يې سجده وکړه نو جائز ده او اصل خبره په کراهت کي ده، که چيري په ناسخت کړي يخي يي سجده وکړه او په هغه کي مخ پټېدی او هغه مضبوط سخت نه وو نو نه ده جائز او په سخت حالت کي جائز ده او په دغه بنا باندي که چا وابنه واچول او په هغه باندي يې سجده وکړه نو جائز ده که نه وي نو نه ده جائز، دغه راز که چيري په پرور يا په پومبې باندي يې سجده وکړه او د هغه تندي قرار نه راوړی نو نه ده جائز، که يې په وريجو يا باجري يا په مکی باندي سجده وکړه نو نه ده جائز ، او که يي په غنمو يا په جواري باندي سجده وکړه نو جائز ده ، وريجي او پومبه چي کله په بوره کي بند وي نو جائز ده، د **نصير بن يحيٰی**رحمه الله **څخه د هغه سړي متعلق پوښتنه وکړه چي په کوچنی ډبره باندي تندی** کښېږدي نو ده وويل که چيري يي اکثره تندی پر مځکه باندي کښېښوی نو جائز ده که نه وي نو نه ده جائز، دغه ډول په محيط کي راغلي دي که چيري يې په سجده کي دواړه ځنګنونه پر مځکه باندي نه کښېښوول نو جائز ده او دغه قول متخار هم دی .

تشريح: مصنف رحمه الله په دې عبارت کي د سجدې کيفيت اود احکامو ذکر کولو سره وايي چي پوزه او په تندي دواړو باندي سجده کول پکار دي مګر که چيري يي په يوه باندي اکتفا وکړه نو د هغه دوه صورتونه دي ۱ دا چي فقط په تندي باندي سجده وکړي، ۲ دا چي فقط په پوزه باندي سجده وکړي په اول صورت کي زموږ د علماؤ احنافو د سجدې په جواز باندي اتفاق دی او په دوهم صورت کي د امام ابو حنيفه رحمه الله په نِز معا الکراهته جائز ده او صاحبينو ويلي دي چي بلاعذره په پوزه باندي اکتفا کول نه ده جائز، د صاحبينو دليل هغه حديث دی چي په صحاح سته کي ذکرسوي دي چي حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه وويل چي عليه السلام

ويلي دي، ماته حکم سوی دی چي زه په اووه هډو باندي سجده وکړم په تندي، دواړو لاسو، دواړو ځنګنو او د دواړو قدمو په ګوتو باندي، د دې حديث څخه ثابتيږي چي پوزه محل د سجدې نه ده د دې لپاره په پوزه اکتفاء کول هم نه ده جائز.

حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چي په قرآن پاک کي مطلقاً د سجدې کولو حکم سوی دی او سجده په يوڅه مخ ايښوولو سره متحققه کيږي ولي چي د پوره جسم ايښوول ناممکن دي نو يو څه حصه د مخ ايښوول به امور سي، مګر په رخسار او زنه باندي اجماع خارج ده ولي چي په سجدې سره مراد تعظيم دی رخسار او زنه په مځکه باندي په ايښوولو سره تعظيم نه مشروع کيږي، د دې لپاره دا دواړه د سجدې د مفهوم څخه خارج دي اوس صرف پوزه او تندی پاته سوه نو دا دواړه د سجدې محل دي، چونکي په تندي باندي اکتفاء جائز ده نو په پوزه باندي به هم اکتفا کول جائز وي، زموږ په نِز د لاسو او ځنګنو پر مځکه ايښوول مسنون دي، د امام زفر رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نِز واجب دی د هغوی دليل هغه لوړ ذکر سوی د حضرت ابن عباس رضی الله عنه روايت دی چي عليه السلام ماته په اوو هډو سره د سجدې کولو امر کړی دی او امر د وجوب لپاره وي نو څرګنده سوه چي په سجده کي اووه سر اعضاء په مځکه باندي ايښوول واجب دي، زموږ دليل دادی چي د لاسو او ځنګنو د ايښوولو بغير سجده کول ناممکنه ده او مذکور روايت فقط پر دې دلالت کوي چي دا اووه اعضاء د سجدې محل دي او په دې هيڅ دلالت نه کوي چي د هغو ټولو ايښوول پر مځکه باندي واجب دی ولي چي امر هر ځای د وجوب لپاره نه وي البته په سجده کي د دواړو قدمو پر مځکه ايښوول فرض دي که يي سجده وکړه او د پښې ګوتي يي د مځکي څخه پورته کړي نو جائز نه دی او که چېري يي يوه پښه پر مځکه او بله يي پورته کړه نو قاضي خان مع الکراهت جائز شمارلي ده، که يي د رش په وجه پر خپلو ورنو باندي سجده وکړه نو جائز ده ولي چي پر مځکه باندي

ير د ځه حائله سجده کول فرض نه ده البته په ځنګنو په دې وجه سره نه ده جائز چې په دې سره تندی د ځنګنو وطرف ته واقع کیږي ، د فرض په مقدار وضعه نه پوره کیږي دغه ډول که چېرې یې د لمونځ کونکي پر ملا باندې سجده وکړه او ساجد د با په ملا چې یې سجده وکړه هغه هم دغه یو لمونځ کوي نو جائز ده ولې چې داسې جده د رش د وجې څخه جائز ده او رش هغه وخت کیدی سي چې کله ډېر خلګ یو ځای لمونځ ادا کوي، د سجدې ځای چې کله د نصف شرعي ګز برابر د دواړو قدمو څخه پورته چې د هغه مقدار تقریباً ۹ انچه دی نو جائز دی .

زموږ په نِز د لنګوټې په پیچ یا په زیاتو کالو باندې سجده کول جائز دي او د حضرت امام شافعي رحمه الله په نِز د لنګوټې په پیچ سجده کول نه ده جائز ولې چې د هغه په نِز د سجدې په وخت کې د تندي خلاص پاته کیدل واجب دي په عبارت کې مصنف رحمه الله د مختلفو شیانو ذکر کړی دی چې په هغه کې پر ځینو سجده کول جائز او پر ځینو نه ده جائز، د دې متعلق دا قاعده یاده لرل ضروري ده چې سجده پر داسې شي باندې جائز ده چې پر هغه تندی قرار ونیسي که چېرې دومره نرم وي چې و تندي ته قرار نه راځي نو سجده جائزه ده. والله اعلم

وَالسَّادِسَةُ الْقَعْدَةُ الْاَخِيْرَةُ وَقَدْرُ الْفَرْضِ مِقْدَارُ قِرْءَةُ التَّشَهُّدِ وَتَظْهَرُ فَرْضِيَّتُهَا فِيْ هٰذِهِ الْمَسَآئِلِ الْاُوْلٰى رَجُلٌ صَلَّى الظُّهْرَ خَمْسًا وَلَمْ يَقْعُدْ عَلٰى رَأْسِ الرَّابِعَةِ بَطَلَتْ فَرْضِيَّتُهُ وَتَحَوَّلَتْ صَلٰوتُهُ نَفْلًا وَيَضُمُّ السَّادِسَةَ وَالثَّانِيَةُ الْمُسَافِرُ اِذَا اقْتَدٰى بِالْمُقِيْمِ فِيْ فَائِتَةٍ لَايَصِحُّ لِاَنَّ الْقَعْدَةَ الْاُوْلٰى فَرْضٌ فِيْ حَقِّ الْمُسَافِرِ فَيَكُوْنُ كَاقْتِدَاءِ الْمُفْتَرِضِ بِالْمُتَنَفِّلِ وَالثَّالِثَةُ اِذَا تَذَكَّرَ بَعْدَ تَمَامِ الصَّلٰوةِ سَجْدَةَ التِّلَاوَةِ فَعَادَ اِلَيْهَا اِرْتَفَعَتِ الْقَعْدَةُ حَتّٰى لَوْلَمْ يَقْعُدْ قَدْرَ التَّشَهُّدِ بَعْدَ مَاسَجَدَ فَسَدَتْ

صَلٰوتُهُ وَ الرَّابِعَةُ اِذَا نَامَ فِي الْقَعْدَةِ الْاَخِيْرَةِ كُلِّهَا فَلَمَّا انْتَبَهَ عَلَيْهِ اَنْ يَّقْعُدَ قَدْرَ التَّشَهُّدِ وَاِنْ لَّمْ يَقْعُدْ فَسَدَتْ صَلٰوتُهُ لِاَنَّ الْاَفْعَالَ فِي الصَّلٰوةِ حَالَةَ النَّوْمِ لَاتُحْسَبُ كَمَا اِذَا قَرَءَ نَآئِمًا اَوْرَكَعَ اَوْ سَجَدَ نَآئِمًا وَهٰذِهِ الْمَسْئَلَةُ يَكْثُرُ وُقُوْعُهَا لَاسِيَمَا فِي التَّرَاوِيْحِ وَالنَّاسُ عَنْهَا غٰفِلُوْنَ.

ژباړه: شپږم فرض اخيره ناسته ده او فرض د اندازې د قرآئت تشهد مقدار دى او د دې فرضيت په درج ذيلو مسائلو كي ښكاره كيږي، اوله مسئله دا چي يو سړى د ماپښين پنځه ركعاته وكړي او د څلورم ركعات وروسته نه كښيني نو د هغه فرضيت باطل سو لمونځ يې نفل كيږي او شپږم ركعات دي هم ورسره شامل كړي، دوهمه مسئله داده چي كله مسافر په فوت شده لمانځه كي د مقيم اقتداء وكړي نو صحيح نه ده ولي چي اوله ناسته د مسافر په حق كي فرض ده نو داسي سوه لكه د فرض كوونكي اقتداء د نفل كوونكي وشاته، دريمه مسئله داده چي كله د لمانځه د پوره كولو وروسته سجده د تلاوت په ياد سي او هغه سجده وكړي نو ناسته ختم سوه تر دې پوري كه چيري د مقدر د سجدې وروسته نه كښينستى نو يي لمونځ فاسد سو، څلورمه مسئله داده كه په پوره اخيره ناسته كي پريونى نو پر هغه لازمه ده چي په اندازه د التحياته كښيني كه چيري نه كښي نستى نو د هغه لمونځ فاسد دى ولي چي د لمانځه په حالت كي د لمانځه سوي افعال په لمانځه كي نه شمارل كيږي لكه څنګه چي د خوب په حالت كي قرآئت يا ركوع يا سجده دا ټول مسائل اكثره واقع كيږي خصوصاً په تراويحو كي او عوام د هغه څخه بي خبره دي.

تشريح: د لمانځه په آخير كي چي كومه ناسته ده هغې ته اخيري ناسته ويل كيږي كه د هغې څخه د مخه ناسته وي لكه په څلور ركعاتيزه او درې ركعاته لمانځه كي يا

وي لکه په ثنايي لمانځه کي چي د هغه ادئی فرض مقدار دومره دی په کوم چي په
لوار سره د صحيح حروفو سره د التحياتي څخه تر عبده ورسوله پوري تشهد ويل
کېدی سي، مصنف رحمه الله د فرضيت د فايدې د ښکاره کولو لپاره په عبارت کي يو
څو مسائلي ذکر کړي دي او هغه په لاندي ډول دي:

۱: يو سړی چي کله ... لمونځ يا د هغه په مثل بل څلور رکعاته لمونځ کوي
او د څلورم رکعات په آخر کي د ادا کولو وروسته د کښينستو پر ځای د پنځم
رکعات لپاره ولاړ سي او د ... پوري پنځه رکعاته پوره ادا کړي يا مثلاً د سهار
په لمانځه کي د دريم رکعات لپاره يا د ماښام په لمانځه کي د څلورم رکعات لپاره
بغير د اخيري ناستي ولاړ سي او هغه زيات رکعاتونه د سجدې سره مقيد هم کړي نو
د شيخينو رحمهما الله په نز د دې لمانځه وصف د فرضيت باطل سو ټوله لمونځ نفل
سو، په ثنايي او رباعي لمانځه کي د دې رکعاتو سره دي يو بل رکعات هم زيات
کړي که دا نفل لمونځ شفعه سي او يو رکعت د باطل کېدو څخه وساتل سي.

۲: په قضاء سوو لمنځو کي د مسافر اقتداء د مقيم شاته صحيح نه ده او د مسافر
لمونځ چونکي دوه رکعاته دی فقط د دې لپاره چي د هغه په حق کي د دوو رکعاتو
وروسته اخيره ناسته ده او هغه فرض ده نو د مفترض اقتداء د متنفل د شاه سره
مشابه ده او دا د احنافو په نز جائز نه دی دغه ډول په قضاء سوي لمانځه کي د مقيم
شاته نه دی جائز، البته وختي لمونځ د اقتداء پر بنا باندي په متغير کيدو سره
لمونځ د ثاني څخه رباعي کېږي لکه څنګه چي د نيت اقامت په وجه دا تغير ښکاره
ترلمر دی.

۳: که چېري مصلي يعني لمونځ کوونکی د لمانځه ټوله ارکان پوره کړل او
وروسته يي سجده تلاوت په ياد سوه نو د سجده تلاوت ادا کولو وروسته په هغه
باندي د اخيري ناستي راګرځول ضروري دي ولي چي د دې سجدې وخت د اخيري

ناستي څخه ترمخه دی، لهٰذا که چېرې چا د سجده تلاوت کولو وروسته سلام وګرځوی او د اخیري ناستي اعاده یي نه وکړه نو د هغه لمونځ فاسد دی ولي چي د لمانځه یو رکن پاته سو .

۴: که چېرې چا د خوب په حالت کي اخیري ناسته ادا کړه نو د هغه لمونځ نه دی جائز لکه څنګه چي د ولاړي رکوع او سجودي په باره کي فقهاء کرامو دغه حکم کړی دی ولي چي د خوب په حالت کي ادا سوي ارکان په لمانځه کي نه شمارل کیږي ځکه چي د عبادت لپاره د بنده اختیار ضروري دی او د بیده شخص هیڅ اختیار نسته، مصنف رحمه الله وایي چي دا مسئله اکثره د تراویحو په اوږدو لمونځو کي خلګوته پیښیږي چي هغه په لمانځه کي ودریږي او بیا هم خپل افعال په لمانځه کي شماري او د هغه افعالو اعاده نه کوي ولي چي هغه د دې حکم څخه ناخبره دي.

وَالسَّابِعَةُ الْخُرُوْجُ مِنَ الصَّلٰوةِ بِفِعْلِ الْمُصَلِّيْ فَرْضٌ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ خِلَافًا لَّهُمَا حَتّٰى اَنَّ الْمُصَلِّيْ اِذَا اَحْدَثَ عَمَدًا بَعْدَ مَاقَعَدَ قَدْرَ التَّشَهُّدِ اَوْتَكَلَّمَ اَوْعَمِلَ عَمَلًا يُنَافِي الصَّلٰوةَ تَمَّتْ صَلٰوتُهُ بِالْاِتِّفَاقِ وَاِنْ سَبَقَهُ الْحَدَثُ فِيْ هٰذِهِ الْحَالَةِ فَكَذٰلِكَ عِنْدَهُمَا وَقَالَ اَبُوْحَنِيْفَةَ يَتَوَضَّأُ وَيَقْعُدُ وَيَخْرُجُ عَنِ الصَّلٰوةِ وَيَبْتَنِيْ عَلٰى هٰذَا مَسَائِلُ وَهِيَ الْمُتَيَمِّمُ اِذَا اَرَى الْمَآءُ بَعْدَ مَا قَعَدَ قَدْرَ التَّشَهُّدِ اَوْكَانَ مَاسِحًا عَلَى الْخُفِّ فَانْقَضَتْ مُدَّةُ مَسْحِهِ اَوْخَلَعَ خُفَّيْهِ بِعَمَلٍ يَسِيْرٍ اَوْكَانَ اُمِّيًا فَتَعَلَّمَ سُوْرَةً اَوْكَانَ عَارِيًا فَوَجَدَ ثَوْبًا اَوْكَانَ مُؤْمِيًا فَقَدَرَ عَلَى الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ اَوْتَذَكَّرَ اَنَّ عَلَيْهِ صَلٰوةً قَبْلَ هٰذِهِ الصَّلٰوةِ اَوْ اَحْدَثَ الْاِمَامُ الْقَارِئُ فَاسْتَخْلَفَ اُمِّيًا اَوْطَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ فِيْ صَلٰوةِ الْفَجْرِ اَوْدَخَلَ وَقْتُ الْعَصْرِ وَهُوَ فِيْ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ اَوْكَانَ مَاسِحًا عَلٰى

الْجَبِيْرَةِ فَسَقَطَتْ عَنْ بُرْءٍ اَوْكَانَ صَاحِبُ عُذْرٍ فَانْقَطَعَ عُذْرُهُ فَفِيْ هٰذِهِ الْمَسَآئِلِ فَسَدَتْ صَلٰوتُهُ عِنْدَ اَبِيْحَنِيْفَةَ وَقَالَاتَمَّتْ صَلٰوتُهُ.

ژباړه: د لمونځ کونکي په اختيار فعل سره د لمانځه څخه وتل د امام ابوحنيفه رحمه الله په نز يو فرض دی، په خلاف د صاحبينو تر دې پوري که چېري لمونځ کونکی په اندازه د التحياتي د ناستي وروسته خپل ځان قصدًا بې اودسه کړي، يا کلام وکړي يا يې د لمانځه زد څه عمل وکړ نو د هغه لمونځ بالاتفاق کامل دی، که چېري په دې حالت کي هغه ته بې اودسي پيښه سي نو د صاحبينو په نِز هغه د لمونځ کامل حکم دی او امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چي اودس دي وکړي او اخيري ناسته دي وکړي او د لمانځه څخه دي ووزي ، په دغه باندي مسائلي مبنٰی دي او هغه دا چي کله مقيم شخص په اندازه د التحياتي د کښينستلو وروسته اوبه ووينې يا يې په موزو مسحه کړي وي او د هغو وخت پوره سو يا په يو عمل سره يې موزه راويستله يا ناويونکی وو بيايې سورة ايزده کړ يا لڅ وو بيايې کالي پيدا کړه يا اشاره کولو والا وو بيايې په رکوع او سجودو قدرت پيدا کړ يا يې په ياد سو چي د هغه په ذمه د دې لمانځه څخه علاوه يو بل لمونځ پاته دی يا قاري امام په بې اودسه کيدو سره امي سړی خليفه جوړ کړ يا د سهار په لمانځه کي په هغه باندي لمر راوختی يا وخت د ماځيګر داخل سو او هغه د جمعې په لمانځه کي وو يا يې پر پټۍ باندي مسحه کړي وه نو د جوړېدو په وجه د زخم څخه ولوېده يا صاحب د عذر وو نو د هغه عذر قطعه سو نو په دې ټولو مسائلو کي د امام ابو حنيفه رحمه الله په نِز لمونځ فاسد دی او صاحبين وايي چي د هغه لمونځ پوره دی .

تشريح: په دې عبارت کي مصنف رحمه الله د يو اختلافي فرضو بيان کړی دی چي د امام ابو حنيفه رحمه الله په نِز په اختياري فعل سره د لمونځ کونکي د لمانځه څخه وتل

فرض دي او صاحبين د دې د فرضيت څخه انکار کړی دی او په دغه بنياد باندې بر
څو مسئلې بنا کيږي چې هغه ته فقهاء کرام د مسائلو اثنا عشره(۱۲) په نامه سر
يادوي، يعني د هغه دوولس مسئلو بيان چې د التحياتي په اندازه په ناسته کې
پيښيږي او هغه په لاندې ډول دي:

۱: تيمم کونکی په مقدار د تشهد کښينستلو وروسته اوبه وليدي او په استعمال
يې هم قادر وو.

۲: په موزو باندې مسحه کونکي وو نو د هغه وروسته په اندازه د التحياتي
کښينستلو وروسته د مسحې وخت پوره سو.

۳: د التحياتي په اندازه وروسته په عمل قليل سره يې د واړي موزې ويستلې
يعني د لاسو ضرورت نه سو پيښ صرف د پښو په حرکت سره موزې ووتلې.

۴: لمونځ کوونکی اَمي وو يا د التحياتي په اندازه د کښينستلو وروسته هغه د
قرآن يو سورة ايزده کړ يعني اير سوی سورة يې په ياد سو دا مطلب نه دی چې د بل
چا څخه يې ايزده کړ ولې چې دا خپله زد د لمانځه دی.

۵: لمونځ کوونکی لڅ لمونځ کوی هغه د التحياتي په اندازه وروسته کالي پيدا
کړه.

٦: لمونځ کوونکی په اشاره سره رکوع او سجده کونکی وو يا هغه د التحياتي په
اندازه وروسته په رکوع او سجدې باندې قادر سو.

۷: لمونځ کوونکي ته د التحياتي په اندازه وروسته ور په ياد سو چې تر دې ترمخه
په هغه باندې يو واجب القضاء لمونځ دی او هغه صاحب د ترتيب دی.

۸: د التحياتي په اندازه وروسته د سهار په لمانځه کې لمر راوختی.

۹: د التحياتي په اندازه وروسته قاري امام ته بې اودسي پيښه سوه او هغه اَمي
خليفه جوړ کړ، يعني اَمي يې تر مخه کی.

۱۰: د جمعې په لمانځه کې د التحياتي په اندازه وروسته د ماځیګر وخت داخل سو.

۱۱: په پټۍ یې مسحه کړي وه نود التحیاتي په اندازه وروسته په جوړیدو سره پټۍ ولویده.

۱۲: لمونځ کوونکی معذوره وو مګر د التحیاتي په اندازه وروسته د هغه عذر ختم سو.

په دې دوولسو مسئلو کې د امام ابوحنیفه رحمه الله په نز لمونځ باطل سو، او صاحبینو ویلي دي چي په دې ټولو صورتو کي لمونځ پوره سو، د امام صاحب رحمه الله په نز د اخيري ناستې وروسته د دې عوارضو از خود را پيش کيدل داسي دي لکه د لمانځه په منځ کي د پيښبیدو څخه لمونځ مفسد دی، د دې لپاره د اخيري ناستې وروسته که چيري دا عوارض راپيش سي نو د اما صاحب رحمه الله په نز یو فرض یعني خروج بفعل المصلي باقي دی نو لمونځ باطل سو، د صاحبینو په نز فرض د لمانځه پوره سوي دي نو د هغوی په نز لمونځ پوره دی، لکه څنګه چي دا عوارض د سلام ګرځولو وروسته راپيش سوي يي او د سلام وروسته خو لازمي خبره ده چي دا عوارض مفسد د لمانځه د هيچا په نز نه دي.

وَالثَّامِنَةُ تَعْدِيْلُ الْاَرْكَانِ عِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ فَرْضٌ لِمَا ذَكَرْنَا مِنَ الْحَدِيْثِ وَعِنْدَهُمَا مِنَ الْوَاجِبَاتِ وَمَاسِوٰهُ مِنَ الْوَاجِبَاتِ مِنْهَا تَعِيْنُ الْفَاتِحَةِ وَتَعِيْنُ الْقُرَاءَةِ فِى الْاُوْلَيَيْنِ وَالْاِقْتِصَارُ فِيْهِمَا عَلٰى مَرَّةٍ وَتَقْدِيْمُهَا عَلَى السُّوْرَةِ اَوِالْاٰيَاتِ اِلَيْهَا وَالْجَهْرُ فِيْمَا يُجْهَرُ وَالْمُخَافَتَةُ فِيْمَا يُخَافَتُ وَقِرَاءَةُ الْقُنُوْتِ وَقِرَاءَةُ التَّشَهُّدِ فِى الْقَعْدَتَيْنِ وَفِىْ رِوَايَةٍ فِى

الْقَعْدَةِ الْاَخِيْرَةِ وَالْقَعْدَةُ الْاُوْلٰى وَسَجْدَةُ التِّلَاوَةِ وَسَجْدَةُ السَّهْوِ وَتَكْبِيْرَاتُ الْعِيْدَيْنِ وَالْاِنْتِقَالُ مِنَ الْفَرْضِ اِلَى الْفَرْضِ.

ژباړه: اتم فرض د لمانځه تعدیل د ارکانو دی، یعني په ارامه سره هر رکن اداکول، دا د ابویوسف رحمه الله په نز د هغه حدیث پر بنا چي موږ ذکر کړ فرض دی، او د طرفینو په نِز واجب دی، او د دې څخه علاوه د نورو واجباتو څخه دي په کوم کي چي د سورة الفاتحي او قرآئت په اول دوو رکعاتو کي متعین کول او په دې دواړو کي صرف په یوه وار باندي اکتفاء کول او سورة الفاتحه په سورة باندي مخکي کول او سورة یا آیات د فاتحې سره متصلول او د جهر په ځای کي جهر، او د اخفاء په ځای کي اخفاء کول او دعاء قنوت ویل او په دوو ناستو کي التحیاته او د یوه روایت مطابق صرف په اخیري ناسته کي ویل او قرآئت اولی او سجده د تلاوت او سجده سهوه او د اخترو تکبیرونه او د یوه فرض څخه د بل فرض و طرف ته منتقل کیدل .

تشریح: په دې عبارت کي مصنف رحمه الله د اتم فرض تعدیل د ارکانو بیان کوي، دا صرف د ابویوسف رحمه الله په نِز فرض دي د دغه قائل امام شافعي رحمه الله دی او فایده د اختلاف داده چي د تعدیل ارکانو بغیر د طرفینو په نِز لمونځ جائز دی مګر د امام یوسف رحمه الله په نز نه دی جائز، د امام یوسف رحمه الله دلیل د یوه اعرابي خلاد بن رافع رضی الله تعالی عنه لپاره د علیه السلام مبارک فرمان دی چي " فَاِنَّکَ لَم تُصَلِّ " چي د تعدیل ارکان په پرېښوولو سره علیه السلام د لمانځه نفي کړي دي ، دا شان یې د فرضو څخه، ولي چي د فرضو څخه علاوه د منتفي کیدل د لمانځه نفي مستلزمي نه دي نو ثابته سوه چي په لمانځه کي تعدیل د ارکانو فرض دی، طرفین وایي چي الله تعالی په قرآن پاک صرف د رکوع او سجدې حکم کړی دی او رکوع

مطلقًا كښته كېدو ته او سجده په پست كيدو سره پر مځكه باندي د تندي ايښولو ته ويل كيږي او په حديث كي د اعرابی د هغوی څخه زيادت تعديل د اركانو نه سي كيدی، تر دې وروسته مصنفﷺ د لمانځه واجبات ذكر كړي دي او د واجباتو څخه مراد په لمانځه كي دننه هغه ضروري اعمال دي چي د هغو بغير لمونځ خو پوره كيږي مګر د هغو په پرېښولو سره سجده سهوه واجب كيږي، مګر مصنفﷺ دلته د واجباتو په ذكر كولو سره د دوو ذكر پري ايښی دی او هغه په لاندي ډول دي:

۱: كوم افعال چي مكرر شروع سوي دي په هغو كي د ترتيب مراعت كول، كه يوچا په ايره سره د اول ركعات دوهمه سجده پرېښووله او ولاړ سو ركعات يي پوره كړ نو په لمانځه كي په ياد راتلو سره دي پرېښوول سوي سجده ادا كړي او د ترتيب د پرېښوولو په وجه سره سجده سهوه واجب ده.

۲: د لمانځه څخه د سلام په لفظ سره وتل هم واجب دي.

فصل في صفت الصّلٰوة

(دا فصل په بيان کي د لمانځه د صفت دی)

وَاِذَا اَرَادَ الرَّجُلُ اَنْ يَّدْخُلَ فِي الصَّلٰوةِ نَوٰی وَاَخْرَجَ يَدَيْهِ مِنْ كُمَّيْهِ ثُمَّ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ مَعَ التَّكْبِيْرِ وَذُكِرَ فِي الْهِدَايَةِ اَنْ يَّرْفَعَ يَدَيْهِ اَوَّلًا ثُمَّ يُكَبِّرُ حَتّٰى يُحَاذِيَ بِاِبْهَامَيْهِ شَحْمَتَيْ اُذُنَيْهِ وَيُفَرِّجُ اَصَابِعَهٗ لَاكُلَّ التَّفْرِيْجِ وَيُوَجِّهُ بَطْنَ كَفَّيْهِ نَحْوَ الْقِبْلَةِ وَالْمَرْءَةُ تَرْفَعُ يَدَيْهَا حِذَاءَ ثَدْيَيْهَا وَالْمُقْتَدِیْ يُكَبِّرُ تَكْبِيْرًا مُقَارِنًا بِتَكْبِيْرِ الْاِمَامِ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَعِنْدَهُمَا يُكَبِّرُ بَعْدَ تَكْبِيْرِ الْاِمَامِ وَالْخِلَافُ فِي الْاَفْضَلِيَّةِ وَلَا يَتْرُكُ رَفْعُ الْيَدَيْنِ وَلَوِاعْتَادَ تَرْكَهٗ يَاْثِمُ.

ژباړه: چي کله سړی په لمانځه کي د داخيلدو اراده وکړي نو دي نيت وکړي او دواړه لاسونه دي د لستوڼو څخه راوباسي الله اکبر دي ووايي او د تکبير سره دي لاسونه پورته کړي، او په هدايه کي دي چي اول دي لاسونه پورته کړي د هغه وروسته دي تکبير ووايي تر څو پوري چي د غوږو د ښيلی پوري ګوتي برابري سي او ګوتي دي خلاصي ونيسي مګر ډېري خلاصي دي نه وي او لاسونه (ورغوي) دي قبله ته مخ کړي او ښځه دي د سينې په برابر لاس پورته کړي او مقتدی د امام ابو حنيفه رحمه الله په نز د امام د تکبير سره پيوست دي تکبير ووايي او د صاحبينو په نز د امام د تکبير وروسته دي تکبير ووايي او اختلاف صرف په افضليت کي دی او لاس پورته کول دي نه پرېږدي که چېري يې د پرېښوولو عادت سو نو ګناهګار سو.

تشريح: په دې فصل کي مصنف رحمه الله د اول څخه تر اخيره پوري د لمانځه ترتيب

بانوي چي د علیه السلام مبارک د زماني څخه تر ننه پوري په نقل متواتر سره منقول دي چي کله یو سړی لمونځ شروع کول غواړي نو تر ټولو اول په لمانځه کي د داخلیدو نیت شرط دی د هغه وروسته چي کله د تکبري تحریمه لپاره لاس پورته کړي نو مستحب دی چي د نارینه لاسونه د لستوڼو څخه راوتلي وي او د ښځي لپاره بهتره داده چي لاسونه په لستوڼي کي وي، که څه هم تر څنګلي پوري لاس د ښځي لپاره هم په عورت کي نه دی داخل، او د پورته کولو حد د نارینه لپاره دادی چي ګوتي د غوږ د شپیلۍ سره برابري سي او ښځه به د سینې په برابر دا ډول لاس پورته کوي چي لاسونه یي د سینې او ګوتو سرونه سره برابر وي د لاس پورته کولو د وخت په باره کي د فقهاء کرامو یو څه اختلاف دی مګر صاحب د هدایي ویلي دي چي اصح دادی چي اول دواړه لاسونه پورته کړي بیا تکبري ووایي په دغه باندي فتوی ده او د دې قول تائید د وائل بن حجر رضی الله تعالی عنه د حدیث څخه هم کیږي (ان النبی علیه السلام حِينَ قَامَ اِلَى الصَّلٰوةِ يَرفَعُ يَدَيهِ ثُمَّ يُكَبِّرُ) یعني نبی علیه السلام چي کوم وخت د لمانځه لپاره به ولاړیدی نو خپل دواړه لاسونه به یې پورته کول بیا یي تکبیر وایه، صاحب کتاب ویلي دي که چېري چا د تکبیري تحریمي په وخت کي د رفع یدین پرېښوولو عادت جوړ کړ نو ګناهګار دی ولي چي دا سنت مؤکده دی .

ثُمَّ يَضَعُ يَمِينَهُ عَلٰى يُسَارِهِ وَيَقْبِضُ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى رُسْغَ يَدِهِ الْيُسْرٰى وَيَضَعُهُمَا تَحْتَ السُّرَّةِ وَالْمَرْءَةُ تَضَعُهُمَا تَحْتَ ثَدْيَيْهَا ثُمَّ يَقُوْلُ سُبْحٰنَكَ اَللّٰهُمَّ اِلٰى اٰخِرِهِ وَاِنْ زَادَ وَجَلَّ ثَنَاۗئُكَ لَايَمْنَعُ وَاِنْ سَكَتَ لَايُؤْمَرُ بِهِ وَيَقُوْلُ اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ حَنِيْفًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ الخ عِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ ثُمَّ فِيْ

رِوَايَةٍ يَقُوْلُ قَبْلَ التَّكْبِيْرِ وَفِيْ رِوَايَةٍ بَعْدَ التَّكْبِيْرِ وَعِنْدَهُمَا يَقُوْلُ قَبْلَ الْاِفْتِتَاحِ يَعْنِيْ قَبْلَ النِّيَّةِ وَلَا يَقُوْلُ بَعْدَ النِّيَّةِ قَبْلَ التَّكْبِيْرِ بِالْاِجْمَاعِ ثُمَّ يَتَعَوَّذُ.

ژباړه: بیا دي راسته لاس په چپه لاس کښېږدي او په خپل لاس سره د دا بل لاس د مړوندو نیولو سره دواړه لاسونه دي د نُو لاندي کښېږدي او ښځه دي د خپلي سینې لاندي کښېږدي او تر اخیري پوري دي" سبحانک اللهم "ووایي که چیري د"وجل ثناؤک "زیادت یي وکړ نو نه منعه کیږي،که چپ سو نو د دې امر نه ورکول کیږي او د ابویوسف رحمه الله په نز" اِنِّي وَجَّهتُ وَجهِيَ لِلَّذِي الخ "ووایي بیا په یوه روایت کي د تکبیر څخه د مخه په بل روایت کي د تکبیر وروسته ووایي او د طرفینو په نز د لمانځه د شروع کولو یعني د نیت څخه ترمخه دي ووایي او د نیت وروسته د تکبیر څخه ترمخه بالاتفاق دي نه وایي.

تشریح: په لمانځه کي راسته لاس په چپه لاس ایښوول مسنون دی، حضرت علي رضي الله عنه وایي" من السنة وضع الیمین علی الشماله تحت السرة "او په ابوداود کي راغلي دي چي د ابن مسعود رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چي هغه لمونځ کوی هغه چپه لاس په راسته لاس کښیښووی مګر چي کله علیه السلام ولیدی نو د ابن مسعود راسته لاس یي په چپه لاس کښیښودی، د ایښوولو کیفیت دادی چي د راسته لاس ورغوی د چپه لاس پر شا کښېږدي او د راسته لاس په ګوتو او کوچنۍ ګوتو سره دي د چپه لاس شا ونیسي، زموږ په نز افضل دادی چي پر نُو دي لاس وتړي ولي چي پر نو باندي لاس تړلو کي تعظیم زیات دی او په لمانځه کي تعظیم مقصود دی، بیا د لاس تړلو وروسته دي ثنا ووایي او د ځینو غیر مشهورو روایاتو په بناء که چیري چا" وجل ثناؤک "الفاظ زیات کړل نو د هغه منعه کول ضروري نه دی، البته په فرائضو کي د دې الفاظو زیاتول بهتر نه دی، پاته سوه دا خبره چي دعا

سره يو بله دعا ورسره کړي که نه؟ نو په دې باره کي د طرفينو رحمهما الله مذهب دا دی چي د ثنا سره بله دعا نه کي ورسره او امام يوسف رحمه الله وايي چي لمونځ کوونکی د ثناء سره" انی وجهت وجهی للذي.....الخ "دعا دي ورسره کړي، البته دا مسئله اتفاقي ده چي د نيت وروسته او د تکبير څخه ترمخه دي نه وايي د دې لپاره چي نيت د تکبير سره اتصال وسي.

اَمَّا التَّعَوُّذُ فَتَبَعٌ لِلثَّنَاءِ عِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ حَتّٰى اَنَّهُ يَأْتِيْ بِهِ الْمُقْتَدِيْ وَفِي الْعِيْدَيْنِ يَأْتِيْ بِهِ قَبْلَ التَّكْبِيْرَاتِ بَعْدَ الثَّنَآءِ وَاَمَّا الْمَسْبُوْقُ فَلَا يَأْتِيْ بِهِ عِنْدَهُمَا اِلَّا بَعْدَ مُفَارَقَةِ الْاِمَامِ وَالْمَسْبُوْقُ يَأْتِيْ بِالثَّنَآءِ اِذَا اَدْرَكَ الْاِمَامَ حَالَةَ الْمُخَافَةِ ثُمَّ اِذَا قَامَ اِلٰى قَضَآءِ مَاسَبَقَ بِهِ يَأْتِيْ بِهِ اَيْضًا كَذَا ذَكَرَهُ فِي الْمُلْتَقَطِ وَاِذَا اَدْرَكَ الْاِمَامَ وَهُوَ يَجْهَرُ لَايَأْتِيْ بِالثَّنَآءِ بَلْ يَسْتَمِعُ وَيُنْصِتُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يَأْتِيْ بِالثَّنَآءِ عِنْدَ سَكَتَاتِ الْاِمَامِ كَلِمَةً كَلِمَةً وَعَنِ الْفَقِيْهِ اَبِيْ جَعْفَرٍ اِذَا اَدْرَكَ الْاِمَامَ فِي الْفَاتِحَةِ يُثْنِيْ بِالْاِتِّفَاقِ ذَكَرَهُ فِي الذَّخِيْرَةِ وَاَمَّا فِي الْجُمُعَةِ وَالْعِيْدَيْنِ اِذَاكَانَ بَعِيْدًا عَنِ الْاِمَامِ فَقَدِ اخْتَلَفَ الْمُتَاَخِّرُوْنَ فِيْهِ وَاِنْ اَدْرَكَ فِي الرُّكُوْعِ يَأْتِيْ بِهِ قَآئِمًا وَاِلَّا يَرْكَعُ وَيُتَابِعُ الْاِمَامُ وَكَذَا اِذَا اَدْرَكَ فِي السَّجْدَةِ الْاُوْلٰى وَلَايَأْتِيْ بِالرُّكُوْعِ وَلَايَكُوْنُ مُدْرِكًا لِتِلْكَ الرَّكْعَةِ مَالَمْ يُشَارِكِ الْاِمَامَ فِي الرُّكُوْعِ كُلِّهِ اَوْمِقْدَارَ تَسْبِيْحَةٍ مِنْهُ وَفِي الذَّخِيْرَةِ وَاِنْ سَوّٰى ظَهْرَهُ فِي الرُّكُوْعِ صَارَ مُدْرِكًا سَوَآءٌ قَدَرَ عَلَى التَّسْبِيْحِ اَوْلَمْ يَقْدِرْ وَاِنْ اَدْرَكَ وَهُوَ فِي الْقَعْدَةِ قَالَ بَعْضُهُمْ يُكَبِّرُ وَيَقْعُدُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يَأْتِيْ بِالثَّنَآءِ ثُمَّ

يَقْعُدُ وَلَا يَتَعَوَّذُ اِلَّا بَعْدَ الثَّنَآءِ ثُمَّ يُسَمِّيْ فَيَأْتِيْ بِهَا فِيْ اَوَّلِ كُلِّ رَكْعَةٍ اِحْتِيَاطًا لِاَنَّ اَكْثَرُ الْمَشَايِخِ عَلٰى هٰذَا اَمَّا الْاِمَامُ اِذَا جَهَرَ فَلَا يَأْتِيْ بِهَا وَاِذَا خَافَتَ يَأْتِيْ بِهَا وَاَمَّا التَّسْمِيَةُ عِنْدَ اِبْتِدَآءِ السُّوْرَةِ فَاِنَّهُ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ لَا يَأْتِيْ بِهَا وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ يَأْتِيْ بِهَا اِذَا خَافَتَ.

ژباړه: اعوذ بالله د ابویوسفرحمه الله په نِز د ثنا تابع ده تر دې پوري چي مقتدي يي هم وايي او د اختر د تکبيراتو څخه د مخه او د ثنا وروسته به وايي او مسبوق به يي د طرفينو په نِز نه وايي مګر د امام څخه د جلا کيدو وروسته مسبوق چي کله امام په حالت اخفا کي ونيسي نو نه دي وايي بلکي قرآئت دي ووايي او ځيني علماء وايي چي د امام د چپ کيدو په وخت کي دي يوه يوه کلمه وايي او د فقيه ابو جعفر څخه منقول دي چي کله امام په فاتحه کي ونيسي نو بالاتفاق دي ثنا ووايي دا په ذخيره کي ذکر دي، په جمعه او د اخترو په لمانځه کي چي کله د امام څخه ليري وي نو په دې کي د متاخرينو علماؤ اختلاف دی او چي کله امام په رکوع کي ونيسي نو دي فکر وکړي که چېري د هغه غالب ګمان دا وي چي ثنا يي وويله نو بيا هم د امام سره د رکوع په يوڅه حصې کي شريک سي نو دي په ولاړه سره ووايي که نه نو دي رکوع وکړي د امام متابعت دي وکړي ، دغه ډول که چېري يې په اوله رکوع کي ونيوی او رکوع دي نه کوي کنې د دې رکعات نيونکی سو تر څه وخته پوري چي د امام سره مکمل يا د يوه تسبيح برابر په رکوع کي شريک نه سي، په ذخيره کي دي که چېري يي په رکوع کي ملا سيده کړه نو د رکوع نيونکی سو که په تسبيح باندي قادر وي او که نه او که چېري يي امام د ناستي په حالت کي ونيوی نو ځينوعلماؤ ويلي دي چي په تکبير ويلو سره دي کښيني او ځيني وايي چي د ثناويلو وروسته

دي كښيني او صرف د ثنا وروسته" اعوذ بالله "وايي بيا بسم الله او احتياطاً د هر ركعات په شروع كي دي بسم الله وايي ولي چي د اكثرو مشائخو دغه قول دی او امام چي كله په زوره قرائت وايي نو نه دي وايي چي كله اخفا وكړي نو دي دوايي او د هر سورت په ابتداء كي د امام ابوحنيفه رحمه الله په نِز دي نه وايي او د امام محمد رحمه الله په نِز دي د اخفاء په حالت كي وايي.

تشريح: زموږ په نِز د لمانځه په شروع كي اعوذ بالله مسنونه ده ځينو علماؤ مستحب هم ليكلي ده، اعوذ بالله د قرآئت تابع ده كه د ثنا نو په دې باره كي زموږ د علماؤ اختلاف دی، چنانچي د طرفينو په نِزتعوذ د قرآئت تابع ده او د امام يوسف رحمه الله په نِز د ثنا تابع ده نو د طرفينو په نِز په كوم چاچي قرآئت واجب وي هغه به تعوذ وايي، حتّى چي مسبوق به تعوذ وايي ولي چي په هغه باندي په فوت شده ركعات كي قرآئت واجب دی البته مقتدی به تعوذ نه وايي ولي چي په هغه باندي قرآئت نه دی واجب او د اخترو په لمانځه كي تعوذ به د اختر د تكبيرو وروسته وايي ولي چي د اخترو په لمانځه كي تكبيرات عيد په اول ركعات كي د قرآئت څخه دمخه كيږي او د امام ابو يوسف رحمه الله په نِز څوک چي ثنا وايي هغه به تعوذ هم وايي ابو يوسف رحمه الله وايي چي تعوذ د ثنا د جنس څخه ده ولي چي څه ډول ثنا دعا ده دغه ډول تعوذ هم يوه دعا ده د هم جنس كيدو په وجه تعوذ د ثنا تابع ده.

او طرفين په دليل كي قول د باري تعالى (فَاِذَا قَرَأتَ الْقُرآنَ فَاستَعِذ بِاللهِ) يعني چي كله د قرآن د تلاوت اراده كوي نو اعوذ بالله دي وايي، او چي كله امام قرآئت شروع كړی وي نو مقتدی دي ثنا نه وايي بلكي چپ دي سي د امام قرآئت دي واوري، امام فقيه ابوجعفر هندواني رحمه الله ويلي دي كه چېري امام سورة فاتحه وايي نو په دې دوران كي ثنا ويلی سي مگر صحيح داده چي د نص قرآني مطلق په وجه نه د قرآئت فاتحه او نه د قرآئت سورة په وخت كي ثنا ووايي البته هغه شخص چي د

امام څخه لیري وي نو په دې باره کې د علماؤ اختلاف دی چې ثناء دې ووایي که نه؟ قول اصح دادی چې ثناء دې نه وایي ولې که چېرې د هغه سرې لپاره استماع ممکنه نه وي نو دوهم فرض یعني انصات خو کولای سي او د ثنا سره انصات چپ والی نه سي کیدی که چېرې مقتدی امام په داسې حالت کې ونیسي چې هغه رکوع کوي نو که چېرې د مقتدی غالبه رایه دا وي چې امام دومره اوږده رکوع کوي چې زه په دې دوران کې ثنا هم ویلای سم او په رکوع کې هم شامل کیدی سم نو دې ودریږي د تکبیري تحریمي وروسته دې ثناء ووایي او په رکوع کې دې شریک سي که چېرې د ثنا په وجه رکوع فوت کیږي نو د ثنا په نسبت په رکوع کې شمولیت بهتر دی چې دا رکعات د جماعت سره سي دغه ډول که چېرې فقط په یوې سجدې کې د شمولیت احتمال وي نو په سجده کې شمولیت اولی دی،او ثنا دې پرېږدي، تسمیه زموږ د علماؤ په نِز نه د فاتحې جز دی او نه د یوه بل سورة بلکې د سورتو په منځ کې د جلاوالي لپاره نازله سوې ده، البته د سورة النمل آیت" اِنَّهُ مِنَ السُلَیمَانَ وَاِنَّهُ بسم الله الرحمٰن الرحیم "کې بالاتفاق د قرآن جز دی، پاته سوه دا خبره چې بسم الله په هر رکعات کې د سورة فاتحې څخه د مخه ووایي یا فقط په اول رکعات کې نو د امام ابوحنیفه رحمه الله څخه د یوه روایت مطابق د هر رکعات په شروع کې دې بسم الله ووایي احتیاط په دې کې دی ولې چې د ځینو علماؤ د قول مطابق بسم الله د سورة فاتحې جز دی نه چېرې چې سورة فاتحه ویل کیږي هلته په هر رکعات کې د بسم الله ویل هم ضروري دي د دې لپاره چې د اختلاف څخه ځان وساتل سي صاحب د هدایې ویلي دي چې په هر رکعات کې بسم الله ویل د حضراتو صاحبینو قول دی یایې وویل چې سورة فاتحه او د سورة په منځ کې دې بسم الله نه وایي البته امام محمد رحمه الله وایي چې په خفي لمانځه کې بسم الله د فاتحې او سورة په منځ کې ویلی سي مگر په جهري لمانځه کې دې نه وایي.

ثُمَّ يَقْرَءُ الْفَاتِحَةَ وَاِذَاقَالَ الْاِمَامُ فِيْ اٰخِرِهَا وَلَا الضَّآلِّيْنَ يَقُوْلُ اٰمِيْنَ وَالْمُؤْتَمُّ يَقُوْلُهَا وَيُخْفُوْنَهَا ثُمَّ يَضُمُّ سُوْرَةً اَوْثَلٰثَ اٰيَاتٍ خَرَجَ عَنْ حَدِّ الْكَرَاهَةِ وَلَمْ يَدْخُلْ فِيْ حَدِّ الْاِسْتِحْبَابِ لِاَنَّ الْوَاجِبَ هُوَ ضَمُّ السُّوْرَةِ اَوِ الْاٰيَاتِ اِلَيْهَا وَالْمُسْتَحَبُّ اَنْ يَقْرَءَ فِي السَّفَرِ حَالَةَ الضَّرُوْرَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ اَىَّ سُوْرَةٍ شَآءَ وَفِي السَّفَرِ حَالَةَ الْاِخْتِيَارِ يَقْرَءُ فِي الْفَجْرِ سُوْرَةَ الْبُرُوْجِ وَنَحْوَهَا وَفِي الظُّهْرِ كَذٰلِكَ وَفِي الْعَصْرِ وَالْعِشَآءِ دُوْنَ ذٰلِكَ وَفِي الْمَغْرِبِ بِالْقِصَارِ جِدًّا وَفِي الْحَضَرِ اِذَا خَافَ فَوْتَ الْوَقْتِ يَقْرَءُ قَدْرَ مَالَا تَفُوْتُهُ الصَّلٰوةُ وَاِنْ لَّمْ يَخَفْ فَوْتَ الْوَقْتِ يَقْرَءُ فِيْ صَلٰوةِ الْفَجْرِ بِاَرْبَعِيْنَ اَوْخَمْسِيْنَ اَوْسِتِّيْنَ اٰيَةً وَفِي الظُّهْرِ مِثْلَهُ اَوْدُوْنَهُ وَفِي الْعَصْرِ وَالْعِشَآءِ كَذٰلِكَ وَقَالَ الْقُدُوْرِيُّ يَقْرَءُ فِي الْفَجْرِ بِطِوَالِ الْمُفَصَّلِ وَفِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَالْعِشَآءِ بِاَوْسَاطِ الْمُفَصَّلِ وَفِي الْمَغْرِبِ بِقِصَارِ الْمُفَصَّلِ اَمَّا الطِّوَالُ فَمِنْ سُوْرَةِ الْحُجُرَاتِ اِلٰى سُوْرَةِ الْبُرُوْجِ وَاَمَّا الْاَوْسَاطُ فَمِنْ سُوْرَةِ الْبُرُوْجِ اِلٰى سُوْرَةِ لَمْ يَكُنِ وَاَمَّا الْقِصَارُ فَمِنْ سُوْرَةِ لَمْ يَكُنِ اِلٰى اٰخِرِ الْقُرْاٰنِ وَيُطِيْلُ الْاِمَامُ فِي الْفَجْرِ الرَّكْعَةَ الْاُوْلٰى عَلَى الثَّانِيَةِ رَكْعَتَا الظُّهْرِ وَمَاسِوٰهُمَا سَوَاءٌ وَقَالَ مُحَمَّدٌ اَحَبُّ اِلَىَّ اَنْ يُطِيْلَ الْاُوْلٰى عَلَى الثَّانِيَةِ فِي الصَّلٰوةِ كُلِّهَا وَاَمَّا اِطَالَةُ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ عَلَى الْاُوْلٰى فَمَكْرُوْهٌ بِالْاِجْمَاعِ اِنْ كَانَتْ بِثَلٰثِ اٰيَاتٍ اَوْفَوْقَهَا وَاِنْ كَانَتْ اٰيَةً اَوْ اٰيَتَيْنِ لَا تُكْرَهُ اَمَّا فِي السُّنَنِ وَالنَّوَافِلِ فَيُسَوِّىْ بَيْنَ الرَّكْعَتَيْنِ اِلَّا اِذَا كَانَ مَرْوِيًّا اَوْمَاثُوْرًا فَاِنَّهُ يُصَلِّىْ كَمَا جَآءَ فِي الرِّوَايَةِ اَوِ الْاَثَرِ

ژباړه: بیا دي الحمدلله ووایي او چي کله امام په اخر کي ولاالضالین ووایي نو دي امین هم ووایي او مقتدی دي هم کرار ووایي بیا دي یو سورة یا درې آیاته ور یوځای کړي که چېري یو آیت یا دوه ایتونه کوچني کوچني یې وویل نو د کراهت څخه نه ووتی او که چېري یې درې ایاته لنډ یا یو آیت د درو په برابر ووایه نو د حد کراهت څخه ووتی مګر په حد کي د استحباب نه سو داخل ولي چي واجب مقدار د سورة یا آیت د فاتحې سره یوځای کول دي او مستحب مقدار د سفر په حالت کي ضرورت دا چي د سورت سره یو بل سورة هم ووایي او د اختیار په حالت کي د سهار په لمانځه کي سورة البروج یا د هغه په مثل یو بل سورة ووایي او د ماپښین په لمانځه کي هم دغه ډول او په ماځیګر او ماخستن د هغه څخه کم او په ماښام کي ډېر کم او په حالت کي د حضر چي کله د وقت د فوتېدلو بیره وي نو دي دومره مقدار قرآئت ووایي چي لمونځ نسي فوت که چېري د قضاکېدو بیره نه وي نو د سهار په لمانځه کي څلوېښت یا پنځوس یا شپیته ایتونه او په ماپښین کي هم دا ډول یا د دې څخه څه کم دي ووایي او په ماځیګر او ماخستن کي هم، او قدوري رحمه الله ویلي دي چي په سهار لمانځه کي اوږده لنډ ایتونه ووایي او په ماپښین، ماځیګر او ماخستن کي درمیانه مفصل او په ماښام کي لنډ سورة دي ووایي او اوږده سورتونه د سورة الحجرات څخه بیا تر سورة البروج پوري دی او درمیانه د سورة البروج څخه تر سورة لم یکن الذي پوري دی، او لنډ د سورة لم یکن الذي څخه بیا د تر آخر قران پوري دی، امام دي د سهار اول رکعات په دوهم باندي اوږد کړي او د ماپښین د دوو رکعاتو څخه علاوه نور دي ټوله برابرکړي، امام محمد رحمه الله ویلي چي زه دا خوښومه چي په ټولو لمونځوکي اول رکعات د دوهم څخه لوی وي، او دوهم رکعات د اول څخه اوږدول بالاتفاق مکروه دی، مګر درې ایاته یا د هغو څخه زیات وي که چېري یو یا دوه ایاتونه وي نو نه دی مکروه، په

سنتو او نوافلو کي به په دواړو رکعاتو کي برابري وي مګر دا چي مروي يا ماثور وي نو هغه ډول به يي وايي څه ډول چي روايت دی يا په اثر کي منقول دی.

تشريح: په علماؤ کي په دې باره کي اختلاف دی چي په لمانځه کي د قرآئت څومره مقدار فرض دی زموږ د امام ابو حنيفه رحمه الله قول دی چي مطلقًا قرآئت د قران فرض دی که څه هم يو ايت وي او سورة فاتحه او د هغه سره يو سورة يوځای کول دا دواړه د واجباتو څخه دي، د سورة فاتحې په اختتام چي کله امام ولاالضالين ووايي نو امام او مقتدی دي دواړو ته آمين ويل پکار دي ولي چي عليه السلام ويل" اِذَا اَمَنَ الاِمَام فَامُنُوا "يعني چي کله امام امين ووايي نو تاسي يي هم ووایاست، د دې وروسته مصنف رحمه الله په حالت او حضر کي د قرآئت واجبه ومسنونه ذکر کولو سره ويلي دي چي په سفر کي د سورة فاتحې چي هر سورة يوځای کړي سنت ادا کيږي ولي چي د عليه السلام څخه مروي دی چي عليه السلام مبارک په حالت د سفر کي د سهار په لمانځه کي" قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس " ويلي دي مګر دا قدر تخفيف هغه وخت دی چي کله مسافر په تلوار کي وي او که چيري د امن و قرار په حالت کي وي مثلا په يوه منزل باندي يي قرار وي او اراده يي دا وي په اطمينان سره روان سي نو په داسي سورت کي د سهار په لمانځه کي "والسماء ذات البروج "يا د ده په مثل يو بل سورة دي ووايي يعني چي کله يو سړی پر خپل مقام باندي وي نو د سهار په دواړو رکعاتو کي د سورة فاتحې څخه علاوه دېرش، څلويښت اياتونه ووايي امام ته پکار ده چي د مقتدی په حالت باندي نظر رساتي.

که چيري مقتدی جوړ وي او د قرآن د اوريدو رغبت لري نو دي اوږد قرآئت وايي او که چيري مقتدی سست او کاهل وي نو دي اوږد قرآئت نه وايي، سهار کوم قرآئت چي مصنف رحمه الله په تفصيل سره ذکر کړی دی د هغه په مثل دي په ماپښين

کي هم ووايي ولي چي په دې دواړو وختو کي وسعت موجود دی البته امام محمد رحمه الله په مبسوط کي ويلي دي چي ماپښين د مشغوليت وخت دی لهذا په دې کي د سهار په نسبت کم قرآئت دي ووېل سي، د دې وروسته بيا مصنف رحمه الله د امام قدوري د قول په نقل کولو سره ويلي دي چي د سهار په لمانځه کي طوال مفصل يعني د سورة الحجرات څخه تر سورة بروج پوري دي يو سورة ووايي او په ماپښين، مازيګر او ماخستن کي اوساط مفصل يعني د سورة بروج څخه تر لم يكن الذي پوري يو سورة دي ووايي او د ماښام په لمانځه کي د سورة لم يكن الذي څخه تر آخر قرآن پوري يو مختصر سورة ووايي، د سهار په اول رکعات کي د دوهم په نسبت دي زيات قرآئت ووايي چي د عليه الصلوة والسلام د زمانې څخه تر ننه پوري دغه طريقه را روانه ده او امام محمد رحمه الله ويلي دي چي صرف په سهار کي نه بلکي په ټولو لمونځوکي اول رکعات په دوهم باندي اوږدول مستحب دی، او د رکعات ثانيه طول کول بالاتفاق مکروه دی، مګر دا طول چي کله د درو اياتو څخه کم مقدار وي نو په دې کي هيڅ کراهت نسته ولي د دې څخه احتراز کول بغير د حرج څخه ممکن نه دی او حرج شريعت اسلاميه دفعه کړی دی دا ټول بيان د فرائضو په باره کي دی د نوافلو دواړه رکعاتونه برابر پکار دي البته که څوک لمونځ په خاص ترتيب سره په يوه روايت يا د صحابی په اثر کي منقول وي نو هغه لمونځ دي په هغه پههيت وترکيب سره وکړل سي که څه هم دوهم رکعات د اول څخه لوی سي.

فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الْقِرَاءَةِ يُخِرُّ رَاكِعًا مُكَبِّرًا وَيَنْبَغِيْ اَنْ يَّكُوْنَ اِبْتِدَآءَ تَكْبِيْرِهٖ عِنْدَ اَوَّلِ الْخُرُوْرِ وَالْفَرَاغُ مِنْهُ عِنْدَ الْاِسْتِوَآءِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ اِذَا اَتَمَّ الْقِرَاءَةَ حَالَةَ الْخُرُوْرِ لَابَاْسَ بِهٖ اَنْ يَّكُوْنَ مَابَقِيَ مِنَ الْقِرَاءَةِ حَرْفًا اَوْ كَلِمَةً وَالْاَوَّلُ اَصَحُّ وَيَضَعُ يَدَيْهِ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ وَيُفَرِّجُ اَصَابِعَهٗ وَيَبْسُطُ ظَهْرَهٗ وَلَايَرْفَعُ رَاْسَهٗ وَلَا يُنَكِّسُهٗ

وَيَقُوْلُ فِيْ رُكُوْعِهٖ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ ثَلٰثًا وَذٰلِكَ اَدْنٰهُ وَاِنْ زَادَ فَهُوَ اَفْضَلُ وَاِنَّهُ يَخْتِمُ عَلٰى وِتْرٍ وَاِنِ اقْتَصَرَ عَلٰى مَرَّةٍ اَوْتَرَكَ بِالْكُلِّيَّةِ جَازَتْ صَلٰوتُهُ وَيَكْرَهُ وَرُوِيَ عَنْ مُطِيْعِ الْبَلْخِيْ اَنَّ تَسْبِيْحَ الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ رُكْنٌ حَتّٰى لَوْتَرَكَهُ لَاتَجُوْزُ صَلٰوتُهُ وَلَايَنْبَغِيْ لِلْاِمَامِ اَنْ يُّطِيْلَ التَّسْبِيْحَ عَلٰى وَجْهٍ يَّمُلُّ بِهِ الْقَوْمُ لِاَنَّهُ سَبَبُ التَّنْفِيْرِ وَاِنَّهُ مَكْرُوْهٌ وَلَوْ اَطَالَ الرُّكُوْعَ لِاِدْرَاكِ الْجَآئِيْ لَاتَقَرُّبًا بِهٖ لِلّٰهِ فَهُوَ مَكْرُوْهٌ وَلَايَكْفُرُ وَلَوْ اَطَالَ تَقَرُّبًا لِلّٰهِ تَعَالٰى فَلَابَأْسَ بِهٖ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يُطِيْلُ التَّسْبِيْحَاتِ ثُمَّ يَرْفَعُ رَاْسَهُ وَيَقُوْلُ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ وَاِنْكَانَ الْمُصَلِّيْ مُقْتَدِيًا يَاْتِيْ بِالتَّحْمِيْدِ وَلَايَاْتِيْ بِالتَّسْمِيْعِ عِنْدَنَا وَاِنْكَانَ مُنْفَرِدًا يَاْتِيْ بِهِمَا اَمَّا الْاِمَامُ فَيَاْتِيْ بِالتَّحْمِيْدِ اَيْضًا عَلٰى قَوْلِهِمَا وَفِيْ رِوَايَةٍ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وَلَايَزِيْدُ عَلٰى هٰذَا وَيُرْسِلُ الْيَدَيْنِ فِي الْقَوْمَةِ كَذَا قَالَ الصَّدْرُ الشَّهِيْدُ فِيْ وَاقِعَاتِهٖ وَذَكَرَ السَّيِّدُ الْاِمَامُ فِي الْمُلْتَقَطِ اَنَّهُ يَاْخُذُ الْيَدَ الْيُسْرٰى بِالْيُمْنٰى فِيْ تِلْكَ الْقَوْمَةِ عَلٰى قَوْلِهِمَا وَفِيْ صَلٰوةِ الْجَنَازَةِ وَوَقْتِ الثَّنَآءِ وَالْقُنُوْتِ يَاْخُذُ عَلٰى قَوْلِ اَكْثَرِ الْمَشَايِخِ وَفِيْ تَكْبِيْرَاتِ الْعِيْدَيْنِ يُرْسِلُ.

ژباړه: چې کله د قرآئت څخه فارغه سي نو د رکوع لپاره د تکبير ويلو سره دي کښته سي او مناسبه ده چې د تکبير ابتداء د اول کښته کېدو سره وي او د دغه د فراغت څخه چې کله ملا برابره سي او ځينو علماء وو ويلي دي چې کله قرآئت د کښته والي په حالت کي پوره سي نو په دې کي هيڅ قباحت نسته چې يو حرف يا کلمه باقي وي او اول قول اصح دی، دواړه لاسونه دي په ځنګنو کښېږدي او ګوتي

دي خلاصي ونيسي او ملا دي هواره او سيده کړي او سر دي پورته نه نيسي او نه دي لاندي کوي او په خپل رکوع کي دي درې واره" سبحان ربی العظيم "ووايي او دا ادنٰی مرتبه ده که چېري يي د دې څخه زيات ووايي نو بهتره ده او په طاق به يې ختم وي که چېري په يوه وار باندي اقتصار وکړي يا يي بالکل ترک کړه نو هغه لمونځ جائز دی مگر مکروه دی، او د مطيع بلخي رحمه الله څخه مروي دي چي د رکوع او سجودو درې تسبيحات رکن دي تر دې پوري که چېري دا يي پرېښوول نو د هغه لمونځ جائز نه دی او د امام لپاره مناسب نه دی چي تسبيحاتو ته دومره اوږدوالی ورکړي چي قوم ناراضه سي ولي چي دا د نفرت سبب دی او دا مکروه دی او که چېري يي رکوع د رضا خداوندي څخه قطع نظر صرف د راتلونکو خلگو لپاره اوږدوالی ورکړ نو دا مکروه دي او په دې عمل سره نه کافر کيږي، که چېري يي د الله تعالی د خوشنودی لپاره اوږده کړه نو په دې کي هيڅ حرج نسته ځينو ويلي دي چي تسبيحاتو ته دي اوږدوالی ورکړي بيا دي سر پورته کړي او" سمع الله لمن حمده "دي ووايي که چېري لمونځ کونکی مقتدي وي نو دي صرف" لک الحمد " ووايي او سمع الله دي نه وايي که منفرد وي نو دي دواړه ووايي او امام دي هم د صاحبينو په قول" ربنا لک الحمد "ووايي او په يوه روايت کي راغلي دي چي "اللهم ربنا لک الحمد "دي ووايي او په دې کي دي هيڅ زياتوالی نه کوي او په قومه کي دي لاسونه ايله پرېږدي دغه ډول صدر الشهيد په واقعاتو کي ويلي دي او سيد الامام په ملتقط کي ذکر کړي دي چي په دې قومه کي د صاحبينو په قول دي چپه لاس په راسته لاس ونيسي او د جنازې د لمانځه د ثناء ويلو او دعاي قنوت کي د اکثره علماؤ په قول باندي او په تکبيرات عيدين کي دي هم ارسال وکړي.

تشريح: مصنف رحمه الله وايي چي کله د قرآئت څخه فارغه سي نو په رکوع کي د تللو سره دي تکبير ووايي يعني رکوع ته د کښېنته کېدو په وخت کي دي تکبر شروع

کړي او په رکوع کي دي پوره کړي، د ځینو علماؤ قول دادی چي په ولاړه دي تکبیر ختم کړي بیا دي د رکوع لپاره کښته سي مګر د صاحب کتاب قول ډېر معتبر دی او دغه قول اکثرو مشایخو معتبر کړی دی چي په ولاړه سره دي تکبیر ختم کړي بیا دي د رکوع لپاره کښته سي مګر د صاحب کتاب قول ډېر معتبر دی او دغه قول اکثرو مشائخو معتبر کړی دی او د دې قول تائید د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د روایت سوي حدیث څخه هم کیږي چي "کان یکبر فی کل خفض ورفع) په ولاړه او ناستي اوابوبکر وعمر" یعني علیه السلام مبارک به تکبیر وایه په هر کښته کېدو او پورته کیدو او په ولاړېدو او په ناسته کي او ابوبکر صدیق او عمر به هم وایه، د دې حدیث څخه و رکوع په تللو کي د تکبیر ویل ثابت دي البته د قرآئت څخه د ولاړي په حالت کي فراغت پکار دی تر دې وروسته مصنف رحمه الله د رکوع مسنونه طریقه بیان کړي ده چي لمونځ کونکی دي په خپلو دواړو لاسو سره دواړه ځنګنونه ونیسي او د لاس د ګوتو په مابینځ کي خلاص والی پریږدي، ملا دي همواره او برابره ونیسي سر دي نه پورته او نه لاندي کوي یعني د اوږو د سطحي سره دي هموار کړي درې واره دي" سبحان ربی العظیم "ووایي او درې واره ویل کم از کم مقدار دی د دې څخه زیات ویل پکار دي مګر دا خیال به کوي چي په طاق باندي ختم سي، امام ته د مقتدیانو خیال کول ضروري دی د دې لپاره چي څوک د جماعت د لمانځه څخه نه سي بیزاره او د امام په رکوع کي دننه د خلګو انتظار کول مکروه تحریمي دي ، امام ابو یوسف رحمه الله ویلي دي چي ما د خپل استاذ محترم حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله څخه په دې باره کي پوښتنه وکړه نو ده وویل چي ماته په هغه امام د ډېرعظیم مصیبت خوف دی البته په دې عمل سره نه کافر کیږي ولي چي هغه په لمانځه کي د غیرالله رعایت کړی دی مګر د غیرالله عبادت یې نه دی کړی

فَاِذَا اطْمَانَّ قَآئِمًا كَبَّرَ بِالْخُرُوْرِ وَسَجَدَ وَيَضَعُ رُكْبَتَيْهِ اَوَّلًا ثُمَّ يَدَيْهِ ثُمَّ وَجْهَهُ بَيْنَ كَفَّيْهِ عَلَى الْاَرْضِ وَيُبْدِيْ ضِبْعَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ وَيُجَافِيْ بَطْنَهُ عَنْ فَخْذَيْهِ وَالْمَرْءَةُ تَنْخَفِضُ فِيْ سُجُوْدِهَا وَتَلْزِقُ بَطْنَهَا بِفَخْذَيْهَا وَيَقُوْلُ فِيْ سُجُوْدِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى ثَلٰثًا وَذٰلِكَ اَدْنٰهُ وَاِنْ زَادَفَهُوَ اَفْضَلُ وَيَتْرُكُ عَلٰى وِتْرٍ ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيَقْعُدُ وَيَضَعُ يَدَيْهِ عَلٰى فَخْذَيْهِ فَاِذَا اطْمَانَّ قَاعِدًا كَبَّرَ وَسَجَدَ ثَانِيًا وَاِنْ رَفَعَ رَأْسَهُ قَلِيْلًا ثُمَّ سَجَدَ نَظَرَ اِنْ كَانَ اِلَى السُّجُوْدِ اَقْرَبُ اِلَى الْقُعُوْدِ لَايَجْزِيهِ وَذُكِرَ فِي الْمُلْتَقَطِ اَنَّهُ يَجْزِيْهِ فَاِذَا فَرَغَ مِنَ السَّجْدَةِ يَنْهَضُ وَلَا يَقْعُدُ وَلَا يَعْتَمِدُ بِيَدَيْهِ عَلَى الْاَرْضِ اِلَّا مِنْ عُذْرٍ وَيَفْعَلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ مَافَعَلَ فِي الْاُوْلٰى اِلَّا اَنَّهُ لَايَسْتَفْتِحُ فِيْهَا وَلَايَتَعَوَّذُ وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ اِلَّا فِي التَّكْبِيْرَةِ الْاُوْلٰى وَاِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ فِي الرَّكْعَةِ اِفْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَجَلَسَ عَلَيْهَا وَنَصَبَ الْيُمْنٰى نَصْبًا وَيُوَجِّهُ اَصَابِعَهُ نَحْوَ الْقِبْلَةِ وَيَضَعُ يَدَيْهِ عَلٰى فَخْذَيْهِ وَيُفَرِّجُ اَصَابِعَهُ لَاكُلَّاالتَّفْرِيْجِ.

ژباړه: چي کله ولاړ سي او مطمئن سي نو په کښته کېدو سره تکبير، د ورغوو مابينځ دي پر مځکه کښېږدي او خپل بازو دي د اړخو څخه پورته کښېږدي او خپل نس دي د ورنو څخه جلا ونيسي او ښځه دي په خپله سجده کي پوره کښته سي او خپل نس دي د ورنو سره يوځای کړي، او لمونځ کونکی به درې واره په سجده کي سبحان ربی الاعلی وايي او دا کم دي که يي د دې څخه زيات کړي نو بهتره ده، په

طاق عدد به يي ختمه وي د دې وروسته دي خپل سر پورته کړي کښېني به نې او دواړه لاسونه دي په خپل ورنو باندي کښېږدي چي کله کښيني مطمئين سي نو دي تکبير ووايي او دوهمه سجده دي وکړي او که چېري يي معمولي سر پورته کړ نو به کتل کيږي که چېري د ناستي څخه زيات و سجدې ته نژدې وو نو جائز نه ده او په ملتقط کي ذکر دي چي جائز ده، چي کله د دوهمي سجدې څخه فارغه سي نو دي ولاړ سي او نه دي کښيني او په لاسو سره دي پر مځکه باندي ټينک نه لګوي مګر د عذر په وجه پرواه نه که يي، په دوهم رکعات کي دي هم دغه افعال وکړي لکه څنګه چي يې په اول رکعات کي وکړل مګر ثناء به نه وايي او نه به تعوذ وايي او نه به دواړه لاسونه پورته کوي مګر نه په اول تکبير کي، چي کله يې په دوهم رکعات کي د دوهمي سجدې څخه سر پورته کړ نو دي چپه پښه وغوړوي او په هغه دي کښيني او راسته پښه دي ودروي او ګوتي دي د قبلې وطرف ته سيده کړي او دواړه لاسونه په خپل ورنو باندي کښېږدي او ګوتي دي خلاصي کړي مګر ډېري دي نه خلاصه يي.

تشريح: چي کله لمونځ کونکی د رکوع څخه سيده ودريږي نو په تکبير ويلو سره دي سيده وسجدې ته ولاړ سي او تعديل د ارکانو يعني قومه وجلسه د امام ابويوسف رحمه الله په نز فرض دي او د طرفينو په نِز واجب دي، د نارينه لپاره د سجدې کيفيت دادی چي د ټولو اول ځنګنونه پر مځکه کښېږدي او دواړه لاسونه دي پر مځکه ولګوي او مخ دي د دواړو لاسو په مابينځ کي او دواړه لاسونه دي د غوږو په مقابل کي کښېږدي، دليل د وائل بن حجر رضي الله عنه حديث دی چي دی وايي چي " ما رسول الله صلی الله عليه وسلم وليدی چي عليه السلام به دغسي وکړه خپل نس مبارک به يې د نس څخه جلا ايښووی او اوږې يي د مځکي څخه پورته ايښوولي تر دې پوري که چېري د بزې بچي د عليه السلام مبارک د لاسو لاندي تيريدل غوښتل نو تيريدای سوای، البته لاسونه دي دومره نه غوړه وي چي يو درد محسوس کړي،

ګوتي دي حتی الوسعه قبلې ته سیده کړي ولي چي علیه السلام ویلي دي چي کله مؤمن بنده سجده کوي نو د هغه هر اندام سجده کوي، نو درې واره دي سبحان ربی الاعلی ووايي د درو وارو څخه کمول مکروه دي مګر په دې باندي اضافه کول مستحب دي په دې شرط چي په طاق عدد ختم سي.

ښځه دي د سجدې په وخت کي ښه پسته سي یعني مځکي ته دي نژدې سي او نس دي د ورنو سره یوځای کړي ولي چي په دې ډول سجده کولو کي د ښځي لپاره زیات ستر دی او د ښځو څخه ستر مطلوب دی، بیا دي د اولي سجدې څخه سر پورته کړي او تکبیر دي ووايي، په دې باره کي د علماؤ اختلاف دی چي څومره سر پورته کول ضروري دي، ځینو علماؤ ویلي دي که چېري یې دومره مقدار سر پورته کړ چي لیدونکی دا وګڼي چي هغه د دوهمي سجدې لپاره خپل سر پورته کړی دی، او ځینو ویلي دي چي رفعه ادنٰی مقدار یعني چي په هغه د سر پورته کولو اطلاق کیدی سي دا قدر سر پورته کول معتبر دی، مګر صاحب د کتاب د قول اصح نقل کولو سره ویلي دي که چېري یې دومره پورته کړ چي په نسبت د ناستي وسجدې ته ډېر نژدې وو نو دوهمه سجده نه ده جائز که چېري د سجدې په نسبت ناستي ته زیات نژدې وو نو جائز ده ولي چي هغه په دې صورت کي ناست شمارل کیږي او دوهمه سجده متحقق کیږي، د اول رکعات د فراغت څخه وروسته به لمونځ کونکی دوهم رکعات کوي او هغه ټوله کارونه به کوي چي په اول رکعات کي یې کړي وي مګر په دوهم رکعات کي ثناء او اعوذبالله دي نه وايي او نه دي په تکبیر سره لاس پورته کوي چي کله د دوهم رکعات د دوهمي سجدې څخه سر پورته کړ نو دي چپه پښه وغوړوي په هغه دي کښیني او راسته دي ودروي، ښځه دي په خپل چپه کوناټي باندي کښیني او دواړي پښې دي راسته طرف ته وباسي ولي چي دا ډول ناسته د ښځي لپاره زیاته پرده ده.

ثُمَّ يَتَشَهَّدُ وَيَقُوْلُ اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰتُ وَالطَّيِّبٰتُ اِلٰى قَوْلِهٖ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ وَلَايَزِيْدُ عَلٰى هٰذَا فِى الْقَعْدَةِ الْاُوْلٰى فَاِنْ زَادَ قَالَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ اِذَاقَالَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ سَاهِيًا يَجِبُ عَلَيْهِ سَجْدَتَا السَّهْوِ وَعَنْ اَبِىْ حَنِيْفَةَ اِذَاكَانَ حَرْفًا فَعَلَيْهِ سَجْدَتَا السَّهْوِ وَاَكْثَرُ الْمَشَايِخِ عَلٰى ذَا فَاِذَاقَامَ اِلَى الثَّالِثَةِ لَايَعْتَمِدُ بِيَدَيْهِ عَلَى الْاَرْضِ وَاِنِ اعْتَمَدَ فَلَا بَأْسَ بِهٖ وَاِنْ كَانَتِ الصَّلٰوةُ فَرِيْضَةً فَهُوَ مُخَيَّرٌ فِيْمَا بَعْدَ الْاُوْلَيَيْنِ بَيْنَ اَنْ يَّقْرَءَ وَبَيْنَ اَنْ يُّسَبِّحَ وَبَيْنَ اَنْ يَّسْكُتَ وَالْقِرَائَةُ اَفْضَلُ فَاِنْ قَرَءَ يَقْرَءُ الْفَاتِحَةَ فَحَسْبُ وَلَا يَزِيْدُ عَلَيْهِ شَيْئًا فَاِنْ ضَمَّ السُّوْرَةَ سَاهِيًا يَجِبُ عَلَيْهِ سَجْدَتَا السَّهْوِ فِىْ قَوْلِ اَبِىْ يُوْسُفَ وَفِىْ اَظْهَرِ الرِّوَايَاتِ لَايَجِبُ وَاَمَّا اِذَا كَانَتِ الصَّلٰوةُ سُنَّةً اَوْنَفْلًا فَيَبْدَءُ فِى الرَّكْعَةِ الثَّالِثَةِ كَمَا يَبْتَدِئُ فِى الرَّكْعَةِ الْاُوْلٰى يَعْنِىْ اَنَّهٗ يَاْتِىْ بِالثَّنَاۤءِ وَالتَّعَوُّذِ لِاَنَّ كُلَّ شُفْعٍ مِّنَ النَّفْلِ صَلٰوةٌ عَلٰحِدَةٌ.

ژباړه: بیا دي التحیاته ووايي" التحیات لله والطیبات..... تر عبده ورسوله "پوري او په اوله ناسته کي دي د دې څه زیاتوال نه کوي که چېري يې زیاتوالی وکړ نو ځینو علماؤ ویلي دي چي کله" اللهم صلي علی محمد وعلی ال محمد "په غلطی سره ووایي نو په هغه د سهوي دوې سجدې واجب دي او د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه روایت دی چي په یوه حرف سره هم په هغه باندي سجده سهوه سته او اکثرو علماء وو په دې قول دی، نو چي کله د دریم رکعات لپاره ولاړېږي نو په مځکه باندي دي لاسونه ټینګ نه لګوي که چېري يې ولګوي نو هيڅ قباحت نشته او که چېري فرض لمونځ وي نو د هغه په اول رکعاتو کي اختیار دی که قرآئت وایي او که چپ پاته

کبیري او قرآئت افضل دی چې کله قرآئت وايي نو فقط سورة فاتحه کافي ده او په دې باندې دې هيڅ نه اضافه کوي که چېرې يې په غلطۍ سره سورة ورسره کړ نو د امام ابويوسف رحمه الله په قول په هغه باندې سجده سهوه واجب ده او په اظهر الروایاتو کې واجب نه ده او چې کله لمونځ نفل یا سنت وي نو دريم رکعات دې د اول رکعات په مثل شروع کړي يعني دا چې ثناء او اعوذبالله ووايي ولې چې د نفل دواړه رکعاتونه جلا جلا لمونځ دی .

تشريح: په اوله ناسته او دوهمې ناستې دواړو کې د اصح قول پر بنا د التحیاتي مختلف الفاظ منقول دي علماء احنافو د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه التحیاته اختیار کړي ده ولې چې ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې علیه السلام مبارک زما لاس ونیوی او ماته يې د التحیاتي تعلیم راکړ او د علیه السلام په لاس نیولو سره تعلیم ورکول مفید تاکید دی، اکثره محدثینو د ابن مسعود رضي الله عنه التحیاته دنورو په مقابله کې د سَنَد په لحاظ احسنه تسلیم کړي ده او دا هم د صحیح سند سره مروي دی چې حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه په منبر د علیه السلام مبارک خلکو ته د ابن مسعود رضي الله عنه د تشهد تعلیم ورکړ.

په اوله ناسته کې دې په اندازه د التحیاتي اضافه نه کوي که چېرې يې سهوًا لږ اضافه وکړه نو په دې باره کې د علماؤ اختلاف دی چې د څومره مقدار په زیادت سره سجده سهوه واجب ده؟ صاحب د کبیري د مختلفو اقوالو د نقل کولو وروسته د قول فیصله کړي ده چې کم از کم" اللهم صلي علی محمد "پوري ویل یا په دومره مقدار د چپ کښې نستلو سره چونکې د بل رکن یعني ولاړې تاخیر محقق کیږي د دې لپاره سجده سهوه واجب ده او فقط د یوه حرف په زیاتولو سره سجده سهوه نه ده واجب، د ماپښین ، ماخیګر او ماخستن اخیري دوو رکعاتو کې او د ماښام اخیري رکعات کې به سورة وايي، د سورة ورسره کولو وجوب په اولو دوو رکعاتو کې دی

که څېري يې په غلطۍ سره سورت ووايه نو د اصح قول مطابق په هغه باندي سجده سهوه نسته ولي چي په دې رکعاتو کي هم قرآئت مشروع دی او په دې کي هېڅ مقدار معين نه دی، په نوافلو او سنتو کي مصنف رحمه الله ويل چي په دريم رکعات کي د اول رکعات په مثل ثناء او اعوذبالله او بسم الله دي ووايي ولي چي په نوافلو کي د څومره رکعاتو نيت وتړل سي بهر حال هغه په دوو دوو رکعاتو کي عليحده لمونځ شمارل کيږي، البته سنتي مؤکده لکه د ماپښين او د جمعې د سنتو په باره کي علماؤ ليکلي دي چي دا ټوله څلور رکعاته يو لمونځ دی د دې لپاره د حضراتو شيخينو رحمهم الله په نِز د يوې اولي ناستي په ترک کولو سره لمونځ نه فاسديږي نو د دې سنتو مؤکده په دريم رکعات کي ثنا او تعوذ دي هم نه وايي دغه ډول د نورو نوافلو په مثل په اوله ناسته کي د التحياتي وروسته درود يا دعا دي نه وايي بلکي د دريم رکعات لپاره ولاړيدل پکار دي.

وَيَقْعُدُ فِي الْقَعْدَةِ الْاَخِيْرَةِ مِثْلَ مَاقَعَدَ فِي الْاُوْلٰى وَالْمَرْاَةُ تَقْعُدُ عَلٰى اِلْيَتِهَا الْيُسْرٰى فِي الْقَعْدَتَيْنِ وَتُخْرِجُ كِلْتَا رِجْلَيْهَا مِنَ الْجَانِبِ الْاَيْمَنِ وَتَشَهَّدَ فَاِذَا اَتَمَّ التَّشَهُّدُ يُصَلِّىْ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ وَيَسْتَغْفِرُ لِنَفْسِهٖ وَلِوَالِدَيْهِ اِنْ كَانَا مُؤْمِنَيْنِ وَلِجَمِيْعِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَيَدْعُوْ بَالدَّعْوَاتِ الْمَاثُوْرَةِ وَبِمَا يَشْبُهُ اَلْفَاظَ الْقُرْاٰنَ وَلَايَدْعُوْبِمَا يُّبَهُ كَلَامَ النَّاسِ نَحْوُ قَوْلِهٖ اَللّٰهُمَّ اَلْبَسْنِىْ اَوْ اَللّٰهُمَّ زَوِّجْنِىْ فُلَانَةَ حَتّٰى لَوْقَالَ ذٰلِكَ فِىْ وَسْطِ الصَّلٰوةِ تَفْسُدُ صَلٰوتُهٗ وَرُوِىَ عَنْ بُعْضِ الْمَشَايِخِ اَنَّهٗ قَالَ لَايَقُوْلُ والصلوة على النبى وارحم محمداً واكثر المشايخ على انه يقول لِلتَّوَارُثِ فِيْهِ وَيَقُوْلُ وَرَحِمْتَ وَلَايَقُوْلُ تَرَحَمْتَ وَاِنْ قَال تَرَحَمْتَ بالتَحفِيْفِ فَهُوَ خَطَاً وَلَوْقَالَ تَرَحَّمْتَ بِالتَّشْدِيْدِ يَجُوْزُ

وَلَایَقُوْلُ فِی الْحَالَیْنِ رَبَّنَا اِنَّکَ حَمِیْدٌ وَلَوْ قَالَ لَابَاسَ بِیْ وَیُشِیْرُ بِالسُّبَابَةِ اِذَا انْتَھٰی اِلَی الشَّھَادَتَیْنِ وَقَالَ فِی الْوَاقِعَاتِ لَایُشِیْرُ فَاِنْ اَشَارَ یَقْعُدُ الْخِنْصَرَ وَالْبِنْصَرَ وَیُحَلِّقُ الْوُسْطٰی بِالْاِبْهَامِ.

ژباړه: په اخیره ناسته کي د اولي ناستي په راز کښینستل پکار دي او ښځه به په دواړو ناستو کي په چپه ارخ کښیني او دواړي پښي به چپه طرف ته راباسي چي کله التحیات پوره سي نو دي په علیه السلام درود شریف ووایي او د خپل مور او پلار لپاره که چېري مومنان وي د هغوی لپاره او د ټولو مؤمنانو نر او ښځو لپاره دي مغفرت طلب کړي او د منقولو دعاؤ سره چي کوم الفاظ د قرآن سره مشابه دي په هغه سره دي دعا وکړي، او په هغه الفاظو سره دي دعا نه کوي چي د خلګو د کلام سره مشابه وي لکه څنګه چي ووایي یا الله ماته کالي راکړي یا الله ماته فلانۍ ښځه راکړي تر دې پوري که چېري یي دا الفاظ د لمانځه په منځ کي ووېل نو د هغه لمونځ فاسدیږي او د ځینو علماؤ څخه منقول دي چي په درود شریف کي وارحم محمد دي نه وایي او اکثره علماء وایي چي د توارث جاري کیدو په وجه دي دا الفاظ وایي او رحمت دي ووایي ترحمت دي نه وایي که چېري په تخفیف سره ترحمت ووایي نو دا غلطي ده که په تشدد سره ترحمت ووایي نو جائز دي او په دواړو حالتو کي" ربنا انک حمید مجید "دي نه وایي که چېري یي ووېل نو په دې کي هیڅ حرج نسته او چي کله شهادتینو ته را ورسیږي نو دي په سبابه ګوتي سره اشاره وکړي، او په واقعات کي راغلي دي چي اشاره دي نه کوي که چېري یي اشاره وکړه نو کوچنۍ او د څنګ والا ګوته په کړه ایښوولو سره د درمیاني ګوتي سره دي حلقه جوړه کړي.

تشریح: مصنف رحمه الله وایي چي په اخیره ناسته کي دي هم د اولي ناستي په هیئت

ښني او ښځه به په دواړو ناستو کي د تورک په حالت کي کښيني او تورک دا دی
چي په چپه اړخ باندي کښيني دواړي پښي راسته طرف ته وباسي ولي چي په دې
حالت کي د ښځي لپاره ډېر ستر دی، تر هغه پوري چي په قعده کي التحياته پوره سي
نو دي په نبی عليه السلام باندي درود وويل سي او دا درود د فقهاؤ کرامو په نزد
سنت دی، امام شافعي رحمه الله يي د فرضيت قائل دی مگر د شافعي رحمه الله مذهب
مشهوره امام علامه خطابي خپله ويلي دي چي په دې مسئله کي ماته د امام
شافعي رحمه الله هيڅ سند نه دی معلوم، صاحب کبيري ليکلي دي چي د امام
محمد رحمه الله څخه د درود شريف په باره کي پوښتنه وسوه چي کوم درود بايد وويل
سي نو ده وويل چي دا درود واياست (اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا
صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ . اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ
وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْد).
دغه درود د کعب بن عرجه رضی الله تعالی عنه په حديث کي صحيحين نقل کړی
دی او په اشرف الهدايه جلد دوهم کي مولانا جميل احمد سکروډوي ليکلي دي چي
حضرت علی ابن عباس او جابر رضی الله تعالی عنهما و عليه السلام مبارک ته
وويل چي موږ ته په تاسو باندي د سلام کولو طريقه خو معلومه ده مگر درود څه
ډول واستوو نو عليه السلام مبارک دا راز وويل (اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ
مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ . اَللّٰهُمَّ بَارِكْ
عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ
مَّجِيْد)

د دغه درود په باره کي مصنف رحمه الله د وضاحت کولو سره وویل چي ځینو علماؤ د وارحم محمدا الفاظ نه ویل بهتر ګڼلي دي ولي چي انبیاء علیهم السلام د هر ډول تقصیراتو څخه پاک دی او رحم د څه خطائي وروسته کیږي او اکثره علماء وایي چي چونکي دا الفاظ په روایت کي منقول دي د دې لپاره ویل پکار دي، تر دې وروسته مصنف رحمه الله وایي که چیري د تخفیف سره ترحمت یعني بسکون الراء دا الفاظ ووایي نو دا د لغت په اعتبار غلط دي بلکي بالتشدد الخاء یعني په باب تفعیل سره ترحمت ویل پکار دي، په دې درود کي د مصنف رحمه الله په نِز د فی العالمین وروسته د انک حمید مجید الفاظ په حدیث مبارک کي ثابت نه دي د دې لپاره يې نه ویلو ته بهتر ویلي دي، د دورد شریف د فراغت څخه وروسته په عربی ژبه کي د خپل مور او پلار لپاره او د ټولو مؤمنانو او مؤمناتو لپاره دي دعا کوي یعني چي کومي دعاګاني د علیه السلام مبارک او د هغه د مبارکو اصحابو څخه نقل سوي دي هغه دي وایي، او داسي دعا دي نه کوي چي د خلکو د خبرو سره مشابه وي یعني د کومو شیانو چي د بندګانو څخه غوښتل محال نه وي لکه اللهم زوجنا فلانة وغیره، چي کله په التحیاته کي په اشهد الله ته را ورسیږي نو د اشارې ګوته دي د لا په وخت کي پورته کړي او په الا الله دي کښیږدي او دا اشاره کول د صحیح احادیثو څخه ثابته ده.

فَإِذَا فَرَغَ مِنَ الْأَدْعِيَةِ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِيْنِهِ وَيَقُوْلُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَلَا يَقُوْلُ فِيْ هٰذَا السَّلَامِ وَبَرَكَاتُهُ كَذَا ذُكِرَ فِي الْمُحِيْطِ وَيَنْوِيْ بِالتَّسْلِيْمَةِ الْأُوْلٰى عَنْ يَمِيْنِهِ مِنَ الْمَلٰئِكَتِهِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَعَنْ يَسَارِهِ مِثْلُ ذٰلِكَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يَنْوِي الْحَفَظَةَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يَنْوِيْ جَمِيْعَ مَنْ مَعَهُ مِنَ الْمَلٰئِكَةِ لِاَنَّهُ قَدِ اخْتَلَفَ الْاَخْبَارُ قِيْلَ

اَنَّ مَعَ کُلِّ مُؤْمِنٍ خَمْسًا مِّنَ الْمَلَآئِکَةِ وَقِیْلَ سِتُّوْنَ وَیَنْوِی الْمُقْتَدِیْ اِمَامَهٗ بِالتَّسْلِیْمَةِ الْاُوْلٰی اِنْ کَانَ عَنْ یَمِیْنِهٖ اَوْ بِحِذَآئِهٖ وَفِی الْاُخْرٰی اِنْ کَانَ یُّسَارِهٖ وَیَنْبَغِیْ اَنْ یَّکُوْنَ مُنْتَهٰی بَصَرِهٖ فِیْ قِیَامِهٖ اِلٰی مَوْضِعِ سُجُوْدِهٖ وَفِی الرُّکُوْعِ اِلٰی ظَهْرِ قَدَمَیْهِ وَفِی السُّجُوْدِ اِلٰی اَرْنَبَةِ اَنْفِهٖ وَفِیْ قُعُوْدِهٖ اِلٰی حِجْرِهٖ وَالسُّنَّةُ لِلْاِمَامِ السَّلَامِ اَنْ یَّکُوْنَ التَّسْلِیْمَةُ الثَّانِیَةُ اَخْفَضَ مِنَ الْاُوْلٰی وَمِنَ الْمَشَایِخِ مَنْ قَالَ یَخْفِضُ الثَّانِیَةُ.

ژباړه: نو چي کله د دعاوو څخه فارغه سي نو دي راسته طرف ته سلام وګرځوي السلام عليکم دي ووايي او په سلام کي دي وبرکاته الفاظ نه وايي دا ډول په محيط کي مذکور دي، او د راسته طرف په سلام ګرځولو کي دي د ملائکه او د مؤمنانو نيت وکړي او چپه طرف ته هم داسي ووايي ځينو علماؤ ويلي دي چي د حفظه د فرشتو نيت دي وکړي او ځينو علماؤ ويلي دي د دې سره دي د ټولو موجوده فرشتو نيت وکړي ولي چي په دې باره کي احاديث مختلف دي، ويل سوي دي چي د هر مومن سره اووه، پنځه يا د يوه قول مطابق شپيته فرشتې دي.

مقتدى به د امام نيت کوي په اول سلام کي که چېري هغه راسته طرف ته يا د هغه په برابر ولاړ وي او په دوهم سلام کي که چېري چپه طرف ته وي او مناسب دی چي خپل نظر په ولاړه کي د سجدې وځای ته او په رکوع کي پښو ته، او په سجده کي د پوزي نرمۍ ته، او په ناسته که د خپل ځيګر وطرف ته کړي، د امام لپاره په سلام کي مسنون دي چي دوهم سلام د اول څخه کرار وي او ځينو علماؤ ويلي دي چي دوهم سلام خفيه وي.

تشريح: د درود شريف او د دعاء د فراغت څخه وروسته دواړه طرف ته دي سلام وګرځوي اول راسته طرف ته بيا چپه طرف ته او د سلام په الفاظو السلام عليکم کي

دي د وبركاته الفاظ نه اضافه كوي ولي چي د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه داسي منقول دي، او د اول سلام ګرځولو په وخت كي دي د هغه خلګو نيت وكړي چي د هغه راسته طرف ته دي، كه انسانان وي او كه ملائكي، او دغه سي دي چپه طرف ته د سلام ګرځولو په وخت كي د هغو نيت دي وكړي چي د هغه چپه طرف ته وي، د مقتدي لپاره د امام نيت هم ضروري دى كه چېري امام راسته طرف ته وي يا محاذي وي نو په اول سلام كي دي د هغه نيت وكړي كه چېري چپه طرف ته وي نو په دوهم سلام كي دي د هغه نيت وكړي امام محمد رحمه الله ويلي دي كه چېري مقتدى سيده د امام شاته وي يعني محاذي وي نو دي د دواړو طرفو په سلام كي د امام نيت وكړي او د امام لپاره په سلام ګرځولو كي ښه ده چي دوهم سلام د اول په نسبت په آواز كي كښته وي مګر بالكل به خفيه نه وي، لكه څرنګه چي د ځينو مشائخو خيال دى، وروسته د دې مصنف رحمه الله د لمانځه د اداب بيان كړ او سره ودې خبري ته توجه راګرځولې ده ، لمونځ كونكي ته په لمانځه كي دلته هغه كتل ته دي پكار بلكي په ولاړه كي د سجدې ځاى ته، په ركوع كي پښو ته، په سجده كي د پوزي نرمۍ ته او په ناسته كي د خپل ځيګر وطرف ته نظر كول پكار دي چي په لمانځه كي د حضوري كيفيت نصيب سي.

فَاِذَا تَمَّتْ صَلٰوةُ الْاِمَامِ فَهُوَ مُخَيَّرٌ اِنْ شَآءَ اِنْحَرَفَ عَنْ يُسَارِهٖ وَاِنْ شَآءَ اِنْحَرَفَ وَعَنْ يَمِيْنِهٖ وَاِنْ شَآءَ ذَهَبَ اِلٰى حَوَائِجِهٖ وَاِنْ شَآءَ اسْتَقْبَلَ النَّاسَ بِوَجْهِهٖ وَهٰذَا اِذَا لَمْ يَكُنْ بِحِذَآئِهٖ مُصَلٍّ سَوَآءٌ كَانَ الْمُصَلِّيْ فِي الصَّفِّ الْاَوَّلِ اَوِالْاٰخِرِ وَالْاِسْتِقْبَالُ اِلَى الْمُصَلِّيْ مَكْرُوْهٌ هٰذَا اِذَا لَمْ يَكُنْ بَعْدَ الْمَكْتُوْبَةِ تَطَوُّعٌ فَاِنْ كَانَ بَعْدَهَ تَطَوُّعٌ يَقُوْمُ اِلَى التَّطَوُّعِ وَيُكْرَهُ تَاخِيْرُ السُّنَّةِ عَنْ حَالِ اَدَآءِ الْفَرِيْضَةِ فَاِذَا قَامَ اِلَى التَّطَوُّعِ لَا يَتَطَوَّعُ فِيْ

مَكَانَهِ بَلْ يَتَقَدَّمُا اَوْيَتَاَخَّرُ اَوْ يَنْحِرَفُ يَمِيْنًا اَوْشِمَالًا اَوْيَذْهَبُ اِلٰى بَيْتِهِ فَيَتَطَوَّعُ فِيْهِ وَمِنَ الْمَشَايِخِ مَنْ قَالَ اِنْ كَانَ اِمَامًا يَتَطَوَّعُ عَنْ يُسَارِ الْمِحْرَابِ وَقَالَ شَمْسُ الْاَئِمَّةَ الْحُلْوَنِيْ هٰذَا اِذَا لَمْ يَكُنْ مِنْ قَصْدِهِ الْاِشْتِغَالُ بِالدُّعَآءِ فَاِنْكَانَ لَهُ وِرْدٌ يَقْضِيْهِ بَعْدَ الْمَكْتُوْبَاتِ فَاِنَّهُ يَقُوْمُ عَنْ مُّصَلَّاهُ فَيَقْضِيْ وِرْدَهُ قَآئِمًا وَاِنْ شَآءَ جَلَسَ فِيْ نَاحِيَةٍ مِّنَ الْمَسْجِدِ فَيَقْضِيْ وِرْدَهُ ثُمَّ يَقُوْمُ اِلَى التَّطَوُّعِ كِلَاهُمَا مَرْوِيٌّ عَنِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَمَاذُكِرَ فِيْ اِبْتِدَآءِ الْمَسْئَلَةِ دَلِيْلٌ عَلٰى كَرَاهَةِ تَاخِيْرُ السُّنَّةِ وَمَاذُكِرَ فِيْ غَيْرِهَا دَلِيْلٌ عَلَى الْجَوَازِ ذَكَرَهاُ جَازَ وَالْاَحْسَنُ اَنْ يُتَطَوَّعَا فِيْ مَكَانٍ اٰخَرَ.

ژباړه: چي کله د امام صاحب لمونځ پوره سي نو هغه ته اختيار دی که چېري وغواړي چي راسته طرف ته وګرځي او که وغواړي د خپل ضرورت پوره کولو لپاره دي ولاړ سي که چېري وغواړي نو خلکو ته دي مخامخ سي دا هلته دی چي کله د هغه په مقابل کي يو لمونځ کوونکی نه وي که لمونځ کونکی په اول صف کي وي او که په اخيري صف کي، د لمونځ کونکي مخته تېرېدل مکروه دي او دا هلته دي که چېري د فرائضو وروسته نوافل نه وي که چېري د دې وروسته نوافل وي نو دي د نوافلو د اداکېدو لپاره ودرېږي او د سنتو په‌ادا کولوکي د فرائضو وروسته ځنډوالی مکروه دی، نو چي کله د نوافلو لپاره ولاړ سي نو په دغه ځای دي نفل نه کوي بلکي مخ ته شاته راسته چپه طرف‌نه‌دي سي يا دي خپل کور ته ولاړ سي هلته دي نفل وکړي او د مشائخو ځنې ويلي دي چي امام وي نو دي د محراب چپه طرف ته نوافل وکړي، او شمس الائمه حلواني رحمه الله ويلي دي چي دا هلته پکار ده‌چي کله د هغه په

دعا کي د مشغولیت اراده نه وي که چېري د هغه ځه وظائف وي کوم چي هغه د فرائضو وروسته ادا کوي نو هغه دي د خپل مصلي ځخه ولاړ سي خپل وظايف دي په ولاړه سره پوره کړي یا دي د مسجد په کونج کي کښېني او خپل ورد دي پوره کړي، بیا دي د نوافلو لپاره ولاړ سي دا دواړه د صحابه کرامو رضي الله عنهم ځخه منقول دي او کومه خبره چي د مسئلې په ابتداء کي مذکوره ده هغه د تاخیر سنت د مکروهیت دلیل دی او چي په اخیر کي ذکر ده هغه په جواز دلیل دی دا په محیط کي ذکرسوي دي او مقتدی و منفرد که چېري لږ ناوخته کړي نو بلا کراهته جائز دی که چېري .واړه په خپل ځایو کي د نوافلو لپاره ودرېدل نو جائز دی او بهتره داده چي دا دواړه په یو بل ځای کي نوافل وکړي.

تشریح: د لمانځه د پوره کېدلو وروسته امام ته اختیار دی چي کوم طرف ته هغه وغواړي بدل دي سي، ولي چي په مختلفو روایاتو کي د علیه السلام ځخه په دواړو جهتو کي منحرف کېدل یعني کله راسته او کله چپه طرف ته ګرځېدل ثابت دي او د دې سره سره دا هم اختیار دی چي خپل د ضرورت لپاره ولاړ سي ولي چي کله لمونځ پوره سي نو د خپل حوائجو پوره کولو په باره کي الله تعالی ویلي دي" فاقضیت الصلوٰة فانتشروا فی الارض "یعنی چي کله لمونځ وسي نو د هغه وروسته په ځمکه کي وغوړېږئ، او امر کم ازکم د اباحت لپاره وي نو د ضرورت پوره کولو لپاره تلل مباح دي یا په راسته یا چپه جانب انحراف کولو په ځای بالکل خلکو ته مخامخ سي لکه ځنګه چي د سمره بن جبدب ځخه په صحیحینو کي روایت دی چي علیه السلام کله د لمانځه ځخه فارغه سو نو به یې مخ مبارک زموږ وطرف ته کړ او په مسلم شریف کي د جابر بن سمره رضي الله عنه ځخه روایت دی چي علیه السلام د سهار د لمونځ کولو وروسته د خپل ځای ځخه نه پورته کېدی تر هغه وخته پوري چي لمر به را وختی او صحابه کرام رضي الله عنهم به د جاهلیت د کیسو په ذکر سره خندله او علیه السلام

مبارک به هم تبسم کوی، مګر امام ته د دې خبرې خیال کول پکار دي چي مخامخ ورک لمونځ نه کوي ولي چي د لمونځ کونکي په مخ کي کښېنستل او خبري کول مکروه دي، که چېري د فرائضو وروسته یوڅه سنت مؤکده وي نو دې صرف" اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت یا ذالجلال والاکرام "ویلو وروسته دي فوراً د سنت کولو لپاره ولاړ سي ولي چي سنت د فرائضو څخه وروسته کول مکروه دي، یا مذکور بالا دعاء یعني اللهم انت السلام.....الخ څخه علاوه چي کومي دعاوي په احادیثو کي مذکوري دي هغه هم ویلای سي لکه څنګه چي په صحیحینو کي د حضرت مغیره رضي الله عنه څخه روایت دی چي علیه السلام د فرض لمانځه وروسته دا دعا کوله" لا اله الا الله وحده لاشریک له، له الملک وله الحمد وهو علی کل شئ قدیر الله لا مانع لما اعطیت ولا معطی لما منعت ولا ینفع ذالجد منک الجدة، مګر د فرائضو څخه علاوه د نوافلو او سنتو ادا کولو په وخت بالکل په هغه ځای درېدل نه دي پکار بلکي یو څو قدمه مخته یا شاته یا راسته یا چپه طرف ته کیدل پکار دي لکه څنګه چي امام ابوداود او امام ترمذي رحهم الله د مغیره بن شعبه څخه نقل کړی دی چي علیه السلام مبارک وویل چي امام دې په هغه ځای چېري چي فرض لمونځ وکړي هلته دي لمونځ او نفل نه کوي تر دې پوري چي د هغه څخه واوړي، یا کورته ولاړ سي نور لمونځ هلته ادا کړي د دې لپاره چي په کور کي په نوافلو کولو کي ډېر احادیث وارد سوي دي مګر دا هلته دي چي کله د هغه یقین وي چي زه به په کور کي د لمانځه څخه علاوه په بل شي کي نه مشغوله کیږم، لکه څنګه چي په خلاصة الفتاوی کي ذکر سوي دي چي مثلاً که چېري یو سړی د ماښام دوې رکعته د فرض لمونځ ادا کولو وروسته د سنت ادا کولو اراده وکړي نو که چېري د هغه دا ېیره وي چي کورته ولاړ سم په یو بل مشغله کي به مشغول سم نو دا سړی دي سنت په مسجد کي ادا کړي که چېري دا ېیره نه وي نو په کور کي دي ادا

کړي او دا حال د ټولو سنتو دی، که د یوسړي د فرائضو وروسته د څه وظائفو او
اورادو کولو عادت وي نو هغه دي د خپل ځای څخه ولاړ سي په ولاړه کي دي خپل
وظائف پوره کړي یا د مسجد په یو کونج کي دي د ناستي په حالت کي پوره کړي،
صاحب کتاب وایي چي په ولاړي سره د وظائف ویل یا په ناستي سره د وظائف کول
دواړي طریقې د صحابه کرام رضوان الله تعالی علیهم اجمعین څخه منقولي دي، او
کومو علماؤ چي د سنتو و تاخیر ته مکروه ویلي دي د هغه څخه مراد مکروه تنزیهي
دي، دغه ډول د باجماعت لمانځه د فراغت څخه وروسته د جماعت والا د صفو
ماتول مستحب دي د دې لپاره چي نیوی راتلونکي سړي دا نه کړي محسوسه چي
جماعت تر اوسه پوري سته، او د صحیح قول مطابق امام او مقتدیانو دواړو لپاره د
خپلو ځایو څخه انحراف کول پکار دي که څه هم صاحب کتاب د دوی په مابینځ کي
فرق بیان کړی دی، البته امام چونکي پیشوا مقتدا وي د دې لپاره هغه ته عوام
الناس څخه زیات د مستحباتو خیال کول پکار دي او پر هغه د مکروهاتو څخه
احتیاط کول ضروري دي، د دې لپاره چي باعث د فتني نه سي، والله اعلم و اتم.

فصل په بيان کي د مکروهاتو او غير مکروهاتو دی

فَصْلٌ فِيمَا يُكْرَهُ فِي الصَّلٰوةِ وَمَا لَايُكْرَهُ

يُكْرَهُ لِلْمُصَلِّيْ اَنْ يُّغَطِّيَ فَاهُ اِلَّا عِنْدَ التَّثَاؤُبِ وَالْاَدَبُ عِنْدَ التَّثَاؤُبِ اَنْ يَّكْظِمَ اِنْ قَدَرَ وَاِنْ لَّمْ يَقْدِرْ فَلَابَاْسَ بِاَنْ يَّضَعَ يَدَهُ اَوْكُمَّهُ عَلٰى فِيْهِ وَيُكْرَهُ الْاِعْتِجَارُ وَهُوَ اَنْ يَلُفَّ بَعْضَ الْعِمَامَةِ عَلٰى رَأْسِهٖ وَيَجْعَلَ طَرَفًا مِّنْهُ شِبْهَ اُمْعُجَرِ لِلنِّسَآءِ وَيَلُفُّ حَوْلَ وَجْهِهٖ وَقَالَ بَعْضُهُمْ اَنْ يَّشُدَّهُ بِصَمْغٍ اَوْيَلُفَّ ذَوَابَتَيْهِ حَوْلَ رَاْسِهٖ كَمَا يَفْعَلُهُ النِّسَآءُ فِيْ بَعْضِ الْاَوْقَاتِ اَوْاَنْ يَّجْمَعَ الشَّعْرَ كُلَّهُ مِنْ قِبَلِ الْقَفَاءِ وَيُمْسِكَهُ بِخَيْطٍ اَوْبِخِرْقَةٍ كَيْلَا يُصِيْبُ الْاَرْضَ اِذَا سَجَدَ وَيُكْرَهُ وَضْعُ الْيَدِ قَبْلَ الرُّكْبَةِ اِذَا سَجَدَ وَرَفْعُهَا قَبْلَهَا اِذَاقَامَ اِلَّا مِنْ عُذْرٍ وَيُكْرَهُ اَنْ يَّنْقِرَ كَنَقْرِ الدِّيْكِ وَاَنْ يُّقْعِيَ اِقْعَآءَ الْكَلْبِ وَهُوَ اَنْ يَّضَعَ اَلْيَتَيْهِ عَلَى الْاَرْضِ وَيَنْصِبُ فَخْذَيْهِ وَقِيْلَ اَنْ يَنْصِبَ يَدَيْهِ اَمَامَهُ نَصْبًا وَلْاَوَّلُ اَصَحُّ وَاَنْ يُّفْرِشَ ذِرَاعَيْهِ اِفْتِرَاشَ الثَّعْلَبِ وَاَنْ يَرْفَعَ يَدَيْهِ عِنْدَ الركوع وَعِنْدَ رَفْعِ الرَّاْسِ مِنَ الرُّكُوْعِ وَاَنْ يَّسْدِلَ ثَوْبَهُ وَهُوَ اَنْ يَضَعَهُ عَلٰى رَاْسِهٖ اَوْكَتِفَيْهِ وَيُرْسِلَ اَطْرَافَهُ مِنْ جَوَانِبِهٖ وَلَوْ صَلّٰى فِيْ قَبَآءٍ مُّطَرَّفٍ اَوْبَارَانِيٍّ يَنْبَغِيْ اَنْ يُّدْخِلَ يَدَيْهِ فِيْ كُمَّيْهِ وَيَشُدُّ الْقَبَآءَ بِالْمِنْطَقَةِ اِحْتِرَازًا عَنِ السَّدْلِ وَعَنِ الْفَقِيْهِ اَبِيْ جَعْفَرٍ اَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ اِذَا صَلّٰى مَعَ الْقَبَآءِ وَهُوَ غَيْرُ مَشْدُوْدَ الْوَسْطِ فَهُوَ مُسِيْءٌ وَيُكْرَهُ اَنْ يَّلُفَّ اَوْيَرْفَعَهُ كَيْلَا يَتَتَرَّبَ وَيُكْرَهُ كُلُّ مَاهُوَ مِنْ اَخْلَاقِ الْجَبَابِرَةِ.

ژباړه: د لمونځ کونکي لپاره د خولې پټول مکروه دي مګر د ارږمې په وخت کې مستحب دی که چېرې يې قدرت وي نو دې خوله بنده کړي او که قادر نه وي نو هيڅ باک نسته په خوله باندې دې خپل لاس يا لستوڼی کښېږدي او اعتجار مکروه دی. اعتجار دې ته وايي چې د لنګوټې يوه حصه په سر باندې وتړي او د هغې يوه حصه د ښځو د معجر و طرف ته کړي او په مخ دې يې را وګرځوي، ځينو علماؤ ويلې دي چې د سر د شاه وخواته دې دسمال وتړي او کوپړۍ دې ښکاره پرېږدي او عکس مکروه دی، د دې څخه مراد دادی چې ټوله وربښتان په ګوند سره ومښلوي يا دواړې ګوندې دې په سر راواړه وي لکه څنګه چې يې ځيني وختونه ښځې کوي يا دا چې ټوله وربښتان شاته د غاړې وخواته کړي په يوه تار يا کالو سره دې وتړي د دې لپاره چې کله هغه سجده کوي نو پر مځکه باندې نه لګيږي، د سجدې په وخت کې د لاسو په څنګنو اينبوول او مخکې تر ولاړې پورته کول مکروه دي مګر چې د عذر د وجې څخه وي هغه جلا دی، او دا مکروه دی چې د چرګي په ډول په سجدې باندې غوټه ووهي او دا چې د سپي په مثل کښيني يا دواړې اوږې په مځکه کښېږدي او دواړه ورنونه ودره وي او ويلي يې دي چې دواړه لاسونه مخته ودروي، او اول قول زيات صحيح دی او دا چې د ګيدړي په مثل خپل لاسونه وغوړوي او رکوع ته د تلو په وخت کې او د رکوع څخه د پورته کېدو په وخت لاسونه پورته کړي او دا چې کالي داسې را وزړوي چې هغه د اوږو دواړو طرفو ته وزړوي، په قدوري کې راغلي دي چې هغه خپل کالي په سر يا په اوږو وزړوي او د کالو دواړه اطراف د خپلو دواړو اوږو طرف ته وزړوي، او که چېرې په منقش يا باراني چوغه که لمونځ وکړي نو مناسبه ده چې خپل دواړه لاسونه په دې لستوڼي کې داخل کړي او چوغه په پټۍ سره وتړي د دې لپاره چې د سَدَل څخه احتراز وسي، او د فقيه ابو جعفر څخه روايت دی چې کله څوک په داسې چوغه کې لمونځ وکړي چې په منځ کې تړلې نه وي نو

نه ګناهګار دی او مکروه دی چي هغه را ټوله کړي يا يې را پورته کړي چي په ګرد ودوړو نه سي، په لمانځه کي هر هغه فعل مکروه دی چي د متکبرينو د عاداتو څخه وي.

تشريح: مصنف رحمه الله په دې فصل کي د لمانځه مکروهات بيانوي مګر په دې ضمن کي د ځينو غيري مکروهاتو بيان هم کيږي ولي چي د ځينو اعمالو يو څه صورتونه مکروه او يو څه غير مکروه دي.

د مکروه دوه قسمونه دي: (۱) مکروه تحريمي، (۲) مکروه تنزيهي چي ترک يې واجب دی مکروه تحريمي لازمي راځي او ترک د سنت بغير د عذره مکروه تنزيهي لازمي راځي، او مصنف رحمه الله وايي چي په لمانځه کي پوزه خوله بغير د څه عذره پټول مکروه دي مګر دا چي د اړږمي په وجه وي مګر د اړږمي راتلو په وخت کي هم بهتره ده چي څومره کيداى سي خوله دي د خلاصولو څخه وساتي، که چيري په دې نه وي قادر نو په خوله دي لاس يا لستوڼى کښيږدي لکه څنګه چي په ترمذي شريف کي روايت دی چي عليه السلام وويل اړږمى په لمانځه کي د شيطان له طرفه څخه ده چي کله خلګو ته اړږمى راسي نو حت المقدور دي خوله بنده ساتي، او په يوه روايت کي راغلي دي چي خپل لاس دي په خوله باندي کښيږدي

اعتجار هم مکروه دی صاحب کتاب د علماؤ څخه د اعتجار مختلف اقوال نقل کړي دي، ځينو علماؤ ويلي دي چي د اعتجار معنى داده چي د سر يو څه حصه په سر باندي وتړي پاته حصه د مخ په شاوخوا کي او د هغه لنګوټه د ښځو د معجر په مثل سي او معجر هغه کالو ته ويل کيږي چي ښځي خپل سر باندي تړي، او ځينو ويلي دي چي اعجار دادی چي د سر شاوخوا په دسمال وغيره سره وتړي او کوپړى ايله پريږدي، د اعتجار تعريف په فتاوى قاضيخان کي ذکر سوى دی چونکي په اعتجار کي د ښځو سره تشبيه ده د دې لپاره مکروه دی، او په مغقوص الشعر حالت

کي لمونځ کول مکروه دی یعني د سر وریښتان د سر په پورته حصې باندي وتړي لکه څنګه چي یې ځیني وختونه ښځي کوي او دغه عمل یي که چېري د لمانځه په دوران کي وکړ نو لمونځ فاسد دی ولي چي دا عمل کثیر دی او دغه ډول لمونځ په تلوار سره د چرګ په ډول غوټه وهل مکروه تحریمي دی ولي چي په دې کي واجب طمانیه فوت کیږي، دغه ډول په لمانځه کي د سپي په مثل کښېنستل او په سجده کي د خپل لاسو غوړول مکروه دي، په مسند امام احمد کي د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي زه علیه السلام مبارک د درو خبرو څخه منعه کړم چي د چرګ په مثل غوټه ووهم او د سپي په مثل کښېنم او د کیدړي په مثل لاس وغوړوم، د کالو سدل کول مکروه دی یعنی چي کالي په خپل بدن باندي داسي را وغوړ وي چي د اغوستلو په شکل کي نه وي ولي چي امام داؤد د حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت نقل کړی دی چي علیه السلام په لمانځه کي د سدل څخه منع کړي ده، دغه ډول و سجدې ته د تلو په وخت کي خپل لمن وغیره نیول په دې مقصد چي خاوري وغیره نه باندي ولګیږي مکروه دی، د صحاح سته حدیث دی چي علیه السلام وویل چي ماته حکم را کړل سوی دی چي په اوو اندامو باندي سجده وکړم او زه وریښتان او کالي نه ونیسم.

المختصر دا چي هغه ټوله افعال په لمانځه کي مکروه دي چي د هغه څخه غرور او تکبر ښکاره یږي ولي چي په لمانځه کي د الله تعالی ومخته عاجزي کول پکار دي.

وَيُكْرَهُ اَنْ يُّصَلِّيَ فِي اِزَارٍ وَّاَنْ يُّصَلِّيَ حَاسِرًا رَأْسَهُ تَكَاسُلًا اَوْتَهَاوُنًا وَلَابَأْسَ اِذَا فَعَلَهُ تَذَلُّلًا وَّخُشُوْعًا وَيُكْرَهُ اَنْ يُّصَلِّيَ فِيْ ثِيَابِ الْبَذِلَةِ وَاُمْهَنَّةِ وَالْمُسْتَحَبُّ اَنْ يُّصَلِّيَ فِيْ ثَلٰثَةِ اَثْوَابٍ قَمِيْصٌ وَاِزَارٌ وَعَمَامَةٌ وَعَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ اَنَّهُ كَانَ يَلْبِسُ اَحْسَنَ ثِيَابِهِ لِلصَّلٰوةِ وَالْمَرْءَةُ تُصَلِّيْ فِيْ ثَلٰثَةِ اَثْوَابٍ قَمِيْصٌ وَخِمَارٌ وَمِقْنَعَةٌ وَيُكْرَهُ اَنْ يَّرْفَعَ رَأْسَهُ

أَوْيَنْكِسَهُ فِي الرُّكُوْعِ وَاَنْ يَّبْعَثَ بِثَوْبِهِ اَوْبِشَيْءٍ مِّنْ جَسَدِهِ وَاَنْ يُّفَرْقِعَ اَصَابِعَهُ اَوْيُشَبِّكَ بَيْنَ اَصَابِعِهِ وَاَنْ يَّجْعَلَ يَدَيْهِ عَلٰى خَاصِرَتِهِ وَاَنْ يُّقَلِّبَ الْحَصٰى اِلَّا اَنْ لَّايُمَكِّنَهُ الْحَصٰى مِنَ السُّجُوْدِ عَلَيْهِ فَيُسَوِّيْهِ مَرَّتَيْنِ وَفِيْ اَظْهَرِ الرِّوَايَتَيْنِ اَنَّهُ يُسَوِّيْهِ مَرَّةً وَاَنْ يَّتَرَبَّعَ فِيْ جُلُوْسِهِ اِلَّا مَنْ عُذْرٍ وَاَنْ يَّغْمِضَ عَيْنَيْهِ وَاَنْ يَلْتَفِتَ يَمِيْنًا اَوْشِمَالًا وَاَنْ يَّسْجُدَ عَلٰى كَوْرِ عَمَامَتِهِ وَاَنْ يَّتَنَحْنَحَ قَصْدًا يَعْنِيْ اِخْتِيَارًا اِذَاكَانَ صَوْتًا لَاحَرْفَ لَهُ وَكَذَالَوْكَانَ لَهُ حَرْفٌ وَاحِدٌ اَمَّا السُّعَالُ الْمَدْفُوْعُ اِلَيْهِ فَلَيْكُرَهُ وَالْاَحْسَنُ اَنْ يَّدْفَعَ سُعَالَهُ اَنْ قَدَرَ وَاَنْ يَّرُدَّ الْمُصَلِّيْ السَّلَامَ بِيَدِهِ وَاَنْ يَّحْمِلَ الصَّبِيَّ فِيْ صَلٰوتِهِ وَاَنْ يَّتَخَتَّمَ قَصْدًا وَاَنْ يَّضَعَ فِيْهِ دَرَاهِمَ وَدَنَانِيْرَ بِحَيْثُ لَايَمْنَعُهُ عَنِ الْقِرَاءَةِ وَاِنْ مَنَعَهُ عَنْ اَدَاءِ الْحُرُوْفِ اَفْسَدَهَا وَاَنْ يَّنْفُخَ يَعْنِيْ نَفْخًا لَايُسْمَعُ صَوْتُهُ وَاَنْ يَّبْتَلِعَ مَابَيْنَ اَسْنَانِهِ اَنْ كَانَ قَلِيْلًا وَاِنْ كَانَ كَثِيْرًا زَائِدًا عَلٰى قَدْرِ الْحِمَّصَةِ تَفْسُدُ.

ژباړه: په لونګ کي ببله عذره لمونځ کول مکروه دی. ودغه شان په سستی او سستی په وجه سره په لغ سر لمونځ وکړي، که د عاجزی په وجه وي نو هيڅ باک نسته. او مکروه دی چي د مزدوری په کالو کي لمونځ وکړي بلکي مستحب دی چي په درو کالو کي قميص، پرتوګ او په لنګوټه کي لمونځ وکړي. او د امام ابوحنيفه رحمه الله څخه روايت دی چي هغه به د لمانځه لپاره خپل ښه کالي استعمال او ښځي دي په درو کالو کي قميص لوی چادر او پوړني کي لمونځ وکړي. مکروه دی چي په رکوع کي سر د خپل ملا څخه پورته يا کښته کړي او دا چي خپل کالو ته د

جسم په یوه حصه بازی کوي مګر دا چي په هغوی باندي سجده کول ممکنه نه وي نو هغه یو یا دوه واره برابر کړي او په اظهر روایاتو کي راغلي دي چي صرف یو وار دي برابر کړي، چي په لمانځه کي بېله عذره چارځانو کښېني او بل دا چي سترګي پټي کړي راسته یا چپه طرف ته وګوري او بل دا چي د لنګوټې په پیچ (وَل) باندي سجده وکړي او بل قصدًا په خپل اختیار سره غاړه صفا کړي صرف اواز وي او یو حرف ادا نه وي یا صرف یو حرف ادا وي، ضروري توخی مکروه نه دی او بهتره داده که چېري قادر وي نو توخي ودروي او بل چي په لمانځه کي د لاس په اشاره سره د سلام ځواب ورکړي او یا په لمانځه کي کوچنی په غېږ کي ونیسي او دا چي قصداً پوزه صفا کړي او بل دا چي په داسي طریقه سره په خوله کي دراهم کښېږدي چي د قرآئت لپاره مانع وي نو لمونځ فاسده وي، او بل دا چي پوه کړي داسي پوه چي د هغه اواز څوک ته واوري او دا چي د غاښو په مابینځ کي بند شی تېر کړي که چېري کم وي مګر چي کله د نخود د دانې د مقدار څخه زیات وي نو لمونځ فاسده وي.

تشریح: د مکروهاتو د بیان کولو سره مصنف رحمه الله وايي چي فقط یو چادر یعني تهبند یا صرف په پرتوګ کي بېله قمیصه لمونځ کول مکروه دی البته که چېري د عذر پر بنا وي یعني قمیص یا دوهم چادر نه وي یا د لمونځ کونکي په بدن کي داسي زخم وي چي د هغه په وجه د قمیص استعمال نه سي کولای نو فقط په یوه چادر یا په پرتوګ کي لمونځ جائز دی مګر دا هم ضروري ده چي په هغه کي د نو څخه تر ځنګنو پوري پټ وي د دې لپاره چي ستر د عورت وسي که نه وي د فرض مقدار نه پوره کېدو په وجه لمونځ فاسد کېږي، دغه ډول خالصتاً د سُستی په بیناد باندي د تر په لڅ سر لمونځ کول مکروه دی، د محنت او مزدورۍ په کالو کي هم لمونځ کول مکروه دی ولي چي اکثره دا کالي خیرن وي او د الله تعالی په حضور کي په داسي کالو کي درېدل په کومو کي چي د خلکو ومخ ته په راتلو سره شرم

محسوس کیږي د لوی کومینګې خبره ده زموږ د اکابرو رحمهم الله هم دغه معمول وی دی چي د لمانځه لپاره به یې ښه کالي اغوستل، لکه څنګه چي صاحب کتاب د امام الهمام قدوة الانان حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله عادت مبارک بیان کړی دی. دغه ډول په لمانځه کي یا د لمانځه څخه علاوه په عام حالاتو کي هم د ګوتو ټکان کول مکروه دي، په المصلی کي راغلي دي چي په ګوتو ټکان کول د قوم لوط عمل دی نو د دې مشابهت په وجه دا عمل مکروه دی، او که چیري په ډبرو والا مځکي باندي د سجدې کولو په وخت کي ډبري په سجده کولو کي مانع وي نو هغه یو یا دوه واره په لاس سره لیري کولای سي د دې څخه زیات په دې ډبرو مشغوله کېدل مکروه دي او په لمانځه کي چارځانو کښېنستل ثابت دي، په لمانځه کي د سترګو پټول مکروه دي ولي چي دا د اهلِ کتابو عادت دی او علیه السلام د دا ډول کولو څخه منعه کړي ده او په لمانځه کي دلته هلته کتل هم مکروه دي په یوه روایت کي یې دا د شیطان په حصه یاده کړې ده او دغه ډول په لمانځه کي بېله د څه عذره پوره کل، ټوخل وغیره مکروه دي او هغه ټوخی په لمانځه کي ازخود راسي د هغه په باره کي هم چي څومره کېدی سي د نیولو کوشش دي وکړي، دغه ډول په لمانځه کي د سلام ځواب د لاس یا سر په اشارې سره ورکول مکروه دي البته که چیري یې د سلام په نیت د چا سره مصافحه وکړه نو لمونځ یې فاسدیږي، دغه ډول په لمانځه کي د کوچني پورته کول مکروه دي او په یوه حدیث کي راغلي دي چي علیه السلام مبارک خپله لمسۍ امامه بنت ابی العاص رضی الله عنها په خپلو اوږو مبارکو باندي پورته کړي وه نو دا د هغه زمانې روایت دی چي په هغه زمانه کي په لمانځه کي دا شیان مباح وه، په لمانځه کي د بلغم یا پوزي مواد غورځول مکروه دي البته د زکام یا سخت ټوخي په وجه چي کله د دې د غورځولو سره خلاصون نه وي نو دي په راسته چپه معمولي حرکت سره وغورځوي یا دي پخپل دُسمال یا په بل شي کي تو کړي

وروسته دې وموږي، او په لمانځه کي دي د قبلې وطرف ته نه توه که وي ولي چې
په حديث مبارک کي د دې څخه ممانعت وارد سوی دی.

وَاَنْ يَّجْهَرَ بِالتَّسْمِيَةِ وَالتَّامِيْنِ وَاَنْ يُّتِمَّ الْقِرَاءَةَ فِي الرُّكُوْعِ وَاَنْ يَّعُدَّ الْاٰيَ اَوِ التَّسْبِيْحَ اَوِ السُّوْرَةَ يَعْنِي الْعَدَّ بِالْاَصَابِعِ عِنْدَ اَبِيْحَنِيْفَةَ وَقَالَا لَابَأْسَ بِهٖ ثُمَّ مِنْ مَشَايِخِنَا مَنْ قَالَ لَاخِلَافَ فِي التَّطَوُّعِ اَنَّهٗ لَايُكْرَهُ وَمِنْهُمْ مَّنْ قَالَ الْخِلَافُ فِي التَّطَوُّعِ لَافِي الْمَكْتُوْبَةِ قَالَ اَبُوْجَعْفَرٍ فِيْمَا يُكْرَهُ وَفِي الْخَاقَانِيَّةِ اِنْ غَمَزَ بِرُؤُسِ الْاَصَابِعِ لَايُكْرَهُ وَفِيْ مَوْضِعٍ اٰخَرَ لَوِاحْتَاجَ اِلَيْهَا كَمَا فِيْ صَلٰوةِ التَّسْبِيْحِ عَدَّهَا اِشَارَةً بِالْاَنَامِلِ اَوْبِقَلْبِهٖ وَيُكْرَهُ اَنْ يَّتَّكِاَ عَلٰى حَآئِطٍ اَوْ وَعَلٰى عَصًا اِتِّكَاءً لَّامِنْ عُذْرٍ وَاَنْ يَّخْطُوَ خُطُوَاتٍ بِغَيْرِ عُذْرٍ هٰذَا اِذَا وَقَفَ بَعْدَ كُلِّ خُطْوَةٍ وَاِنْ لَّمْ يَقِفْ تَفْسُدُ اِذَا كَانَ بِغَيْرِ عُذْرٍ وَيُكْرَهُ اَخْذُ الْقُمْلَةِ اَوِالْبُرْغُوْثِ وَقَتْلُهٗ اَوْدَفْنُهٗ وَلَابَاْسَ بِقَتْلِ الْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ قَالُوْا هٰذَا اِذَا لَمْ يَحْتَجْ اِلَى الْمَشْيِ وَلَا اِلَى الْمُعَالَجَةِ فَاَمَّا اِذَا احْتَاجَ فَمَشٰى وَعَالَجَ تَفْسُدَ.

ژباړه: او دا چي په لمانځه کي په بسم الله سره او په اٰمين سره په زوره والى وکړي، يا دا چي قرآئت په رکوع کي پوره کړي ، د امام ابو حنيفه رحمه الله په نِز مکروه دی چي آيات، تسبيحات يا سورتونه په ګوتو سره شمارکړي، صاحبين وايي چي په دې کي هيڅ باک نسته، زموږ علماؤ ويلي دي چي د نوافلو په باره کي هيڅ اختلاف نسته بلکي هغه په دې کي مکروه دي او ځينو ويلي دي چي اختلا ف خو په نوافلو کي دی په فرضو کي نه دی، ابو جعفر رحمه الله ويلي دي چي دواړه مکروه دي او په خاقانيه

ي راغلي دي چي د ګوتو پر سرو یې اشاره وکړه نو هغه مکروه نه دی او دوهم ځای
ه چېري ضرورت وي لکه څنګه چي په صلوة تسبیح کي نو په ګوتو سره یا په زړه
ي شماربږي، او مکروه دی چي په دیوال یا په لکړه بېله عذره تکیه ولګوي او دا
بي د عذره بغیر څو قدمه واخلي او دا مکروه هلته دی چي کله د هر قدم وروسته
ودربږي که چېري نه ودربدی نو لمونځ مکروه کیږي چي کله بېله عذره وي نو مکروه
ي، د مار او لړم په قتل کولو کي هيڅ حرج نسته علماؤ ويلي دي چي دا حکم هلته
ی چي کله د راتلو یا تلو د ترکیب کولو محتاج نه وي که چېري د دې ضرورت وو
و ولاړی او ترکیب یې وکړ نو لمونځ فاسد دی .

تشریح: په لمانځه کي د قرآئت په وخت کي دومره تلوار کول چي قرآئت په رکوع
کي مکمل سي ولي چي رکوع د قرآئت ځای نه دی، او په لمانځه کي د ایاتو یا
تسبیحاتو شمارل مکروه دي البته په صلوۃ تسبیح کي ضرورتًا د دې اجازت ورکول
سوی دی مګر په صلوۃ تسبیح کي به هم واضحه اشاره نه وي بلکي د ګوتو په بندو
سره دي شمار کړل سي بلا عذره په لمانځه کي تکیه لګول مکروه دي دغه ډول په
لمانځه کي د کاهلۍ په ښکاره کولو سره راسته چپه طرف ته پښي کږېدل مکروه دي
بلکي په لمانځه کي چاق او چوبند تریدل پکار دي او په لمانځه کي د شپږو، کیکو
وغیره مړه کول د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نِز مکروه دی امام محمد رحمه الله ویلي
دي چي په دې کي هیڅ باک نسته امام قاضیخان د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه دا
روایت نقل کړی دی چي کله د لمانځه په وخت کي دا شیان د ضرر سبب سي یعني د
لمانځه په وخت کي یې خوري نو د دفعي ضرر لپاره د هغو مړه کول بهتر دي او د
لوی ژوندي پرېښودل مکروه دي ، دغه ډول د مار او لړم قتل کول هم په لمانځه
کي جائز دي لکه څنګه چي امام ترمذي روایت نقل کړی دی چي علیه السلام وویل
په لمانځه کي مار او لړم قتل کوئ البته که چېري د هغوی د مړه کولو لپاره د لوی

شي تيار كولو ضروت سي مثلاً د لكړي، ډبري وغيره پيدا كولو ضرورت پيښ سي نو د عمل كثير په وجه د ځينو علماؤ په نز لمونځ مفسد دى.

وَيُكْرَهُ تَرْكُ الطَّمَانِيَّةِ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ وَتِكْرَارُ السُّوْرَةِ فِي الْفَرْضِ اِذَا كَانَ قَادِرًا عَلٰى قِرَاءَةِ سُوْرَةٍ اُخْرٰى وَلَا يُكْرَهُ فِي التَّطَوُّعِ وَيُكْرَهُ تَطْوِيْلُ الرَّكْعَةِ الْاُوْلٰى عَلَى الثَّانِيَةِ فِي التَّطَوُّعِ اِلَّا اِذَا كَانَ مَرْوِيًّا اَوْمَاثُوْرًا وَتَطْوِيْلُ الثَّانِيَةِ فِيْ جَمِيْعِ الصَّلٰوتِ مَكْرُوْهٌ وَيُكْرَهُ نَزْعُ الْقَمِيْصِ وَالْقَلَنْسُوَةِ وَلَبْسُهُمَا بِعَمَلٍ يَسِيْرٍ وَيُكْرَهُ اَنْ يَّشُمَّ طِيْبًا وَاَنْ يَّرْمِيَ بُزَاقَهُ اَوْنُخَامَتَهُ وَاَنْ يُّرَوِّحَ بِثَوْبِهِ اَوْبِمِرْوَحَتِهِ مَرَّةً اَوْمَرَّتَيْنِ وَاِنْ رَوَّحَ ثَلٰثَ مَرَّتٍ مُتَوَالِيَاتٍ تَفْسُدُ وَاَنْ يَرْفَعَ كُمَّهُ اَلَى الْمِرْفَقَيْنِ وَاَنْ لَّا يَشَعَ يَدَهُ فِيْ مَوْضِعِهَا اِلَّامِنْ عُذْرٍ وَاَنْ يَّقْرَءَ الْقُرْاٰنَ فِيْ غَيْرِ حَالَةِ الْقِيَامِ وَاَنْ وَاَنْ يَّتْرُكَ التَّسْبِيْحَاتِ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ وَاَنْ يَّنْقُصَ مَنْ ثَلٰثِ تَسْبِيْحَاتٍ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدَ وَاَنْ يَّاْتِيَ بَالْاَذْكَارِ الْمَشْرُوْعَةِ فِي الْاِنْتِقَالَاتِ بَعْدَ تَمَامِ الْاِنْتِقَالِ وَفِيْهِ كَرَاهَتَانِ تَرْكُهَا فِيْ مَوْضِعِهِ وَتَحْصِيْلُهَا فِيْ غَيْرِ مَوْضِعِهِ وَيُكْرَهُ اَنْ يَّمْسَحَ عَرَقَهُ اَوِالتُّرَابَ عَنْ جُبْهَتِهِ فِيْ اَثْنَآءِ الصَّلٰوةِ اَوْفِي التَّشَهُّدِ قَبْلَ السَّلَامِ وَلَا بَاْسَ لِلْمُتَطَوِّعِ الْمُنْفَرِدِ اَنْ يَّتَعَوَّذَ مِنَ النَّارِ اَوْاَنْ يَّسْئَالَ الرَّحْمَتَه عِنْدَ اٰيَةِ الرَّحْمَةِ اَوْ يَسْتَغْفِرَ وَاِنْ كَانَ فِي الْفَرْضِ يُكْرَهُ وَاَمَّا الْاِمَامُ وَالْمُقْتَدِيْ فَلَا يَفْعَلُ ذٰلِكَ لَافِي الْفَرْضِ وَلَا فِي النَّفْلِ.

ژباړه: په ركوع او سجدو كي ترك طمانيت مكروه دى او په فرائضو كي د

سورت تکرار چي د بل سورت په قرآئت قادر وي او د دوهم رکعات اوږدول په هر لمانځه کي مکروه دي او په عمل يسير معمولي حرکت سره د قميص يا خولی ايستل يا اغوستل مکروه دي، او مکروه دی چي خوشبويي بوی کړي او ناړي يا د پوزي مواد خارج کړي او دا چي په خپلو کالو باندي پنکه ووهي که چېري يې درې واره متواتر پنکه ووهل نو لمونځ فاسد سو، او دا چي لستوڼي ترڅنګلو پوري پورته کړي او بل دا چي لاس د خپل ځای څخه علاوه بل ځای کښېږدي مگر نه د عذر په وجه، او بل دا چي د قرآن قرآئت د ولاړي څخه ماسوای بل ځای يې ووايي، او دا چي په رکوع او سجودو کي تسبيحات پرېږدي او دا چي د درې واري څخه يي کم کړي او دا چي د انتقالاتو جائز اذکار د منتقل کېدو وروسته وکړي او په دې کي دوه قسمه کراهيت دی يو دا چي د دې اذکارو په خپل ځای کي پرېښودل او دا چي د خپل ځای علاوه ادا کول، او مکروه دی چي د لمانځ په وخت د خپل تندي څخه په ناسته کي د سلام څخه تر مخه خوله يا خاوري صفا کړي او د يوازي لمونځ کونکي لپاره هيڅ باک نسته چي هغه د اور څخه پناه يا د ايت رحمت په ويلو سره د رحمت پوښتنه وکړي او د ځان لپاره د الله تعالی سره مغفرت طلب کړي که چېري په فرض لمانځه کي وي نو مکروه دی که چېري امام او مقتدی په جماعت سره لمونځ کوي نو دي په فرضو او نفلو دواړو لمنځو کي دا سي نه کوي.

تشريح: د رکوع وروسته په قرمه او د دواړو سجدو په مبينځ کي ناسته واجب ده او خلاف د واجب مکروه تحريمي دی د دې لپاره مصنف رحمه الله ترک طمانيت په مکروهات کي شمار کړي دي، د غه ډول په دوهم رکعات کي هغه اول سورت بلاعذره ويل مکروه دي البته که چېري يې بل سورت ياد نه وي نو هغه اول سورت ويلای سي يا مثلاً په اول رکعات کي د قران اخري سورت" قل اعوذ برب الناس " ووايي نو په دوهم رکعات کي بل سورت ويل مکرو نه دی او دا حکم د فرض لمانځه دی

چي په لمانځه کي دا ډول تکرار مکروه نه دی او په لمانځه کي د عمل یسیر سره خولی یا بل شی پر سر اینبوول یا لیري کول دواړه مکروه دي مګر چي کله عمل کثیر سي یعني په لمانځه کي دومره زیات حرکت وسي چي بل څوک دا ووینی نو لمونځ کونکی د لمانځه والا نه کړي محسوس نو په دې سره لمونځ فاسد کیږي، په رکوع او سجده کي د تسبیحاتو بالکل پرې ښوول یا د درې واره څخه کم ویل د خلاف سنت کیدو په وجه مکروه دی، دغه ډول کوم اذکار چي د یوه رکن څخه بل رکن ته د منتقل کېدو په وخت کي ویل کیږي مثلاً د رکوع څخه د پورته کیدو په وخت کي" سمع الله لمن حمده "یا و سجدې ته د تلو په وخت کي الله اکبر ووایي نو دا اذکار به دا ډول ادا کول کیږي چي څنګه د رکوع څخه پورته سي نو دي فوراً د"سمع الله لمن حمده "څخه شروع کړي او د ملا د سیده کولو پوري دي دا ختم کړي ولي چي دا اذکار د انتقالاتو لپاره وضعه کړل سوي دي نو چي کله دا اذکار د مکمل کیدو وروسته وویل سي نو هم کراهیت راځي یو دا چي دا اذکار یې په خپل مقاماتو نه کړه ادا بل دا چي په غیر مشروع ځای کي یې ادا کړل.

وَلَابَأْسَ بِأَنْ يُّصَلِّيَ اِلٰى ظَهْرِ رَجُلٍ قَاعِدٍ يَتَحَدَّثُ اَوْيُصَلِّيْ وَبَيْنَ يَدَيْهِ مَصْحَفٌ مُعَلَّقٌ اَوْسَيْفٌ مُعَلَّقٌ اَوْعَلٰى بِسَاطٍ فِيْهِ تَصَاوِيْرُ وَلَايَسْجُدُ عَلَى التَّصَاوِيْرِ وَيَكْرَهُ اَنْ يَسْجُدَ عَلَيْهَا وَيَكْرَهُ اَنْ تَكُوْنَ فَوْقَ رَأْسِهٖ فِي السَّقْفِ اَوْبَيْنَ يَدَيْهِ اَوْ بِحِذَآئِهٖ تَصَاوِيْرُ اَوْصُوْرَةٌ مَوْضُوْعَةٌ اَوْمُعَلَّقَةٌ وَاَمَّا اِذَا كَانَتْ مَقْطُوْعَةَ الرَّأْسِ يَعْنِيْ بِهٖ اِذَالَمْ يَكُنْ لَهُ رَأْسٌ اَوْكَانَ نَهٗ فَمَحَاهُ بِخَيْطٍ اَوْكَانَتْ صَغِيْرَةً لَاتَبْدُوْ لِلنَّاظِرِ فَلَايَكْرَهُ وَلَابَأْسَ بِاَنْ يُّصَلِّيَ عَلَى الطَّنَافِسِ وَاللُّبُوْدِ وَسَائِرِ الْفُرُشِ اِنْ كَانَ الْمَفْرُوْشُ رَقِيْقًا وَالصَّلٰوةُ عَلَى الْاَرْضِ وَمَا اَنْبَتَهَا الْاَرْضُ اَفْضَلُ وَلَابَأْسَ بِاَنْ يَكُوْنَ مَقَامُ الْاِمَامِ فِي الْمَسْجِدِ وَسُجُوْدُهٗ فِي الطَّاقِ وَيَكْرَهُ اَنْ يَقُوْمَ

بالاتفاق وَيُكْرَهُ اَن يَّنْفَرِدَ فِيْ مَكَانٍ هُوَاَعْلٰى مِنْ مَكَانِ الْقَوْمِ اِذَا لَمْ يَكُنْ بَعْضُ الْقَوْمِ مَعَهُ فَاِنِ انْفَرَدَ بِالْمَكَانِ الْاَسْفَلِ اِخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِيْهِ وَيُكْرَهُ لِلْمُقْتَدِيْ اَنْ يَّقُوْمُ خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهُ اِلَّا اِذَا لَمْ يَجِدْ فِي الصَّفِّ فُرْجَةً وَكَذَا يُكْرَهُ لِلْمُنْفَرِدِ اَنْ يَّقُوْمَ فِيْ خِلَالِ الصَّفِّ فَيُصَلِّيْ فَيُخَالِفُهُمْ فِي الْقِيَامِ وَالْقُعُوْدِ.

ژباړه: او هيڅ باک نسته چي د خبرو والا شخص د ناست سړي ترشاه لمونځ وکړي او د هغه مخته قران پاک يا ځيړيدلي توره وي يا په داسي چټايي باندي لمونځ وکړي چي په هغه کي تصويرونه (عکسونه) وي او په تصويرو باندي سجده نه وکړي او مکروه دی چي د هغه د سر پورته يا د هغه مخامخ تصوير وي يا د هغه مخ ته پروت وي. اځريدلی يو صورت وي مګر که چيري يې سر کاټ وي يعني سر يې نه وي يا يې سر وي مګر خراب کړی يې وي يا دومره کوچنی وي چي کتونکي ته نه ښکاره کيږي نو مکروه نه دی او هيڅ باک نسته چي لمونځ وکړي په چټايانو باندي او د وړی څخه په جوړ سوی فرش او په تمام غوړونکو شيانو باندي که څه هم نرم وي، او لمونځ په مځکه او په هغه شي چي مځکه شين کړی وي افضل دی، او هيڅ باک نسته چي د امام د ولاړي ځای په مسجد کي وي او د هغه سجوده په محراب کي وي، او مکروه دی چي په محراب کي ودريږي او مکروه دی چي د قوم د ځای څخه په لوړ ځای يوازي ودريږي چي کله د هغه سره د قوم هيڅ څوک نه وي که چيري يوازي په لاندي ځای کي ودريدی نو په دې کي د علماؤ اختلاف دی، د مقتدي لپاره مکروه دی چي يوازي د صف شاته ودريږي مګر نه چي په صف کي ګنجائش نه وي، دغه ډول د يواځي سړي لپاره مکروه دی چي د صف په مابينځ کي لمونځ وکړي په ولاړه او ناسته وغيره کي د خلګو مخالفت وکړي.

تشريح: ځينو علماؤ ذکر کړي دي چي اهل کتاب به د لمانځه په وخت کي د خپل

ځان سره مقدس کتاب ایښوول د دې لپاره چې کله قرآن پاک مخته وي نو د اهل کتاب سره د تشبیه په وجه دا سي کول مکروه دي مګر صاحب المصلی د هغو فقهاؤ قول اختیار کړی دی چې وايي چې اهل کتاب به د قرآئت لپاره خپل کتاب خپل مخ ته ایښودی د عبادت/سجدې لپاره نه لهذا که چېرې څوک د دې مقصد لپاره قرآن پاک مخته کښیږدي نو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نِزِ مکروه دی دغه ډول د ځینو علماؤ د قول مطابق د توري د مخامخ کیدو په صورت کي هم لمونځ مکروه دی ولي چې دا آله د جنګ ده او لمونځ د عاجزۍ حالت دی نو دا د حالت د لمانځه مناسب نه دی، دغه ډول د یو روح لرونکي د تصویر مخامخ کیدل یا پورته یا راسته چپه طرف ته په وخت کي هم لمونځ مکروه دی البته که چېرې شاته وي یا لاندې د سجدې د ځای څخه علاوه بل ځای وي نو مکروه نه دی لکه څنګه چې د سجودو په بیان کي تیر سوی دی که چېرې د امام قدم په مسجد کي وي او سجده په محراب کي کوي نو دا نه دی مکروی د دې لپاره چې کله قدم په مسجد کي وي نو د مقتدیانو برابر دی که څه هم سجده په محراب کي دننه کیږي او که چېرې د امام قدم هم په محراب کي وي او یواځې ولاړ وي نو مکروه دی ولي چې دا د اهل کتابو طریقه ده چې هغوی به د خپل امام ځای مخصوص کوی او د فقیه ابوجعفر رحمه الله په وجه سره کراهت دا منقول دی چې په دې صورت کي په لیرو مقدیانو باندي د امام حال مخفي کیږي حاصل دا چې امام محمد رحمه الله په جامع الصغیر کي د امام په محراب کي درېدل مکروه لیکلي دي او هیڅ تفصیل یې نه وکړ د دې لپاره چې د کراهت په سبب کي مشائخو اختلاف وکړ ځینو د امام حالت مشتبه کیدل بیان کړ او ځینو د تشبیه د اهل کتاب ذکر کړ، لکه څنګه چې د امام سرخسي رحمه الله څخه دغه وجه د کراهت منقوله ده نهه چې کله محراب نه د اهل کتاب د علیحده حجر په ډول وي نو په ده کي په مقتدیانو د امام حالت مشتبه کیږي نو په محراب کي دریدل مکروه نه دي لکه څنګه چې

شارح هدايه حافظ ابن الهمام رحمه الله ويلي دي چي د امام يو خاص مقام ممتاز كيدل شرعاً مطلوب دى او په هغه باندي مقدم كيدل واجب دي او محرابونه د دور نبوي نه را روان دي نو په ځينو خبرو كي د اهل كتابو سره لږ موافقت څه نيوى خبره نه ده لهٰذا په محراب كي د امام دريدل مكروه نه دي پكار، دغه ډول د امام لپاره يوازي په پورته ځاى باندي دريدل مكروه دي او د بلندى په مقدار كي د علماؤ اختلاف دى او مختار قول دادى چي دومره پورته والى مكروه دى په كوم سره چي د امام او خلكو امتياز وسي، علامه شوكاني رحمه الله ښكاره الرايه هم دغه قول ګڼلى دى علامه شامي رحمه الله يوازي په پورته ځاى دريدل مكروه تحريمي ليكلى دى، كه چيري مقتديان ټوله د امام څخه پورته وي او امام په لاندي ځاى وي نو د اصح قول مطابق دا هم مكروه دى ولي چي په دې سره د امام حقارت لازم راځي، مګر په دې صورت كي كراهيت تنزيهي دى، دغه ډول مكروه دى چي كله په مخ صف كي ګنجائش وي او څوک شاته يوازي ودريږي ولي چي عليه السلام مبارک د صفو د پوره كولو حكم كړى دى، دغه ډول ځينو علماؤ ليكلي دي كه چيري په صف كي خالي ځاى نه كړي پيدا نو بيا دي هم يواځي نه دريږي بلكي يو لمونځ كونكى دي د مخ صف څخه خپل په برابر راكش كړي مګر زموږ په زمانه كي نه كشول بهتر دى ولي چي په خلكو كي جهل زيات دى چي اكثره خلګ په مسئله د نه پوهيدو په وجه جنګ كوي.

وَتُكْرَهُ الصَّلٰوةُ فِي الطَّرِيْقِ الْعَامَّةِ وَتُكْرَهُ فِي الصَّحْرَآءِ مِنْ غَيْرِ سُتْرَةٍ اِذَا خَافَ الْمُرُوْرُ بَيْنَ يَدَيْهِ وَيُكْرَهُ فِيْ مَعَاطِنِ الْاِبِلِ وَالْمَزْبَلَةِ وَالْمَجْزَرَةِ وَالْمُغْتَسَلِ وَالْحَمَّامِ وَالْمَقْبَرَةِ وَعَلٰى سَطْحِ الْكَعْبَةِ وَفِي الْفَتَاوٰى اِذَا اَعَدَّ مَوْضِعًا فِي الْحَمَّامِ لَيْسَ فِيْهِ تِمْثَالٌ وَصَلّٰى فِيْهِ لَا بَاْسَ وَكَذَا فِي الْمَقْبَرَةِ اِذَا كَانَ فِيْهَا مَوْضِعٌ اُعِدَّ لِلصَّلٰوةِ وَلَيْسَ فِيْهِ قَبْرٌ

وَيُكْرَهُ اَنْ يَقْرَءَ كَلِمَةً اَوْكَلِمَتَيْنِ مِنْ سُوْرَةٍ ثُمَّ يَتْرُكَ وَيَبْدَأُ مِنْ سُوْرَةٍ اُخْرٰى وَيُكْرَهُ لِلْاِمَامِ اَنْ يَؤُمَّ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُوْنَ بِخَصْلَةٍ وَاَنْ يَشُقَّ عَلَيْهِمْ بِالتَّطْوِيْلِ وَاَنْ يُعَجِّلَهُمْ عَنْ اِكْمَالِ السُّنَّةِ وَاَنْ يُلْجِئَهُمْ اِلَى الْفَتْحِ عَلَيْهِ وَعَلَيْهِ اَنْ يَقْرَءَ مَاتَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ وَاَنْ عُرِضَ لَهُ شَيْءٌ اِنْتَقَلَ اِلٰى اٰيَةٍ اُخْرٰى اَوْيَرْكَعُ اِنْ قَرَءَ مَايَكْفِيْهِ وَيُكْرَهُ اَنْ يَمْكُثَ فِيْ مَكَانِهِ بَعْدَ مَاسَلَّمَ فِيْ صَلٰوةٍ بَعْدَهَا سُنَّةٌ اِلَّا قَدْرَمَا يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَاذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ وَبِهٖ وَرَدَالْاَثَرُ وَيُكْرَهُ تَقْدِيْمُ الْعَبْدِ وَالْاَعْرَابِيِّ وَالْاَعْمٰى وَالْفَاسِقِ وَوَلَدِ الزِّنَا فَاِنْ تَقَدَّمُوْا جَازَ اَرَادَ بِالْاَعْرَابِيِّ الْجَاهِلَ وَيُكْرَهُ التَّنَفُّلُ قَبْلَ صَلٰوةِ الْعِيْدِ وَبَعْدَهَا فِي الْجَبَانَةِ وَيَتَنَفَّلُ فِيْ مَسْجِدِهٖ اَوْفِيْ بَيْتِهٖ وَيُكْرَهُ اَنْ يَدْخُلَ فِي الصَّلٰوةِ وَقَدْ اَخَذَهُ غَائِطٌ اَوْبَوْلٌ وَاِنْ كَانَ الْاِهْتِمَامُ بِهِمَا يَشْغُلُهُ عَنْهَا يَقْطَعُهَا وَاِنْ مَضٰى عَلَيْهَا اَجْزَاهُ وَقَدْ اَسَاءَ وَكَذَا اِنْ اَخَذَهُ بَعْدَ الْاِفْتِتَاحِ وَيُكْرَهُ اَنْ تَكُوْنَ قِبْلَةُ الْمَسْجِدِ اِلَى الْمَخْرَجِ اَوْاِلَى الْحَمَّامِ اَوْقَبْرٍ وَاِنْ صَلّٰى فِيْ بَيْتِهٖ وَقِبْلَتُهٗ اِلَى الْحَمَّامِ فَلَابَأْسَ وَيُكْرَهُ الْمُرُوْرُ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ اِذَا لَمْ يَكُنْ عِنْدَهٗ حَائِلٌ نَحْوَ السُّتْرَةِ اَوِ الْاُسْطُوَانَةِ اَوْنَحْوِهِمَا.

ژباړه: په شارع عام کي لمونځ کول مکروه دي او مکروه په صحرا کي بيله سُترې چي کله سخته د تيريدو بيره وي او د اوښانو د کښيناستلو په ځای کي. په قصابه غسل خانه او مقبره کي او په سطح کعبه باندي مکروه دی. په فتاوی کي راغلي دي چي کله په حمام کي يو داسي ځای جوړ سوی وي په کوم کي چي تصوير نه وي نو

په هغه کي يې لمونځ وکړ نو په دې کي هيڅ باک نسته او دغه ډول په مقبره کي چي
کله يې د لمانځه لپاره يو داسي ځای جوړ کړی وي په کوم کي چي قبر نه وي او
مکروه دی چي يوه يا دوې کلماتي د يوه سورت څخه ووايي او پرېښودل سي او
دوهم سورت شروع کړل سي، د امام لپاره مکروه دی چي هغه د قوم امامت وکړي او
هغه د ده څخه د يوه عادت په وجه نفرت کوي يا په قوم باندي د طوالت په وجه بوج
راچوي يا د سنت مقدار په پوره کولو سره په هغوی زور وکړي يا د هغوی څخه د
لقمه ورکولو طمعه وکړي او په هغه باندي لازم دی چي په قرآن کي کوم هغه ته
اسانه وي هغه ووايي او که چېري د هغه لپاره څه بندش سي نو دوهم ايت ته منتقل
سي يا ركوع وكړي كه يې په قدر د كفايت قرآئت ويلی وي او مکروه دی چي په
خپل ځای باندی ولاړ اوسي د هغه لمانځه وروسته د کوم وروسته چي سنت وي مګر
دا قدر چي صرف" اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت يا زوالجلال والاکرام "
ووايي او په دغه باندي اثر وارد دی او مکروه دی د امامت لپاره د غلام، اعرابي،
ړوند، فاسق او حرامي مخته کول مګر که چېري مخته سو نو لمونځ جائز دی او د
اعرابي څخه مراد جاهل دی او په عيدګاه کي د اختر د لمانځه څخه دمخه نوافل
مکروه دي، په خپل کور يا مسجد کي لمونځ وکړي او مکروه دی چي په لمانځه کي
په داسي حالت کي داخل سي چي په هغه باندي د پاخانه يا بولو زور وي او که
چېري د هغو وطرف ته توجه هغه د لمانځه څخه مشغول کړي نو دي لمونځ قطعه
کړي او که چېري يې لمونځ وکړ نو جائز دی مګر ګناهګار سو، دغه ډول که چېري د
شروع کولو وروسته په هغه بوج سو او مکروه دی چي مسجد قبله د بيت الخلا يا
صنم يا قبر وطرف ته وي او که يې په خپل کور کي لمونځ وکړ او د هغه قبله د
حمام وطرف ته وه نو هيڅ باک نسته او مکروه دی د لمونځ کونکي مخ ته تيريدل
هر کله د هغه مخ ته څه حائل نه وي لکه سُتره يا ستن يا د هغو په مثل يو بل شی.

تشريح: په کومه لار چي د عامو خلګو تګ راتګ وي په هغه کي لمونځ کول مکروه دي ولي چي د خلګو عام تيرېدلو په وجه په لمانځه کي خشوع او خضوع نه پاته کيږي او په يوه روايت کي دي چي نبی کريم صلی الله عليه وسلم په اووه ځايو کي د لمونځ کولو څخه منعه کړي ده د کوم څخه چي يوه لار هم ده، د قرآئت ويلو په وخت کي يوه يا دوې کلمې ويلو وروسته دوهم سورت شروع کول مکروه دی ولي چي دا ډول د يوه ايت په بل ايت باندي بلا دليله د فضيلت شائبه پيدا کيږي د دې لپاره که چېري د عذر په وجه وي يعني چي کله دا ايت په کوم چي يې شروع کړي ده ايريې سي او په قدر د مياجوز به الصلوة هم نه وي کړی نو د بل ايت وطرف ته منتقل کېدل مکروه نه دی، د داسي امامت هم مکروه دی د چا څخه چي قوم د يوه مکروه خصلت په وجه منتفر وي او په حديث شريف کي راغلي دي د داسي امام د لمانځه د نه قبوليت عذاب راغلی دی مګر که چېري د قوم نفرت بلا د څه شرعي عذر خاص د ذاتي عناد په وجه وي نو د الله تعالی په نز داسي خلګ خوښ نه دي بلکي په يوه حديث کي عليه السلام مبارک د کامل ايمان دا علامه بيان کړي ده چي د کامل ايمان والا محبت او نفرت صرف د الله تعالی لپاره دی، د امام په مقدر د سنت قرآئت اوږدول چي په قوم بوج سي مکروه دی دغه ډول د قوم په مطالبه باندي د مقدار سنت څخه کمول هم مکروه دی او د فرائضو کولو وروسته تر ډېره پوري کښينستل هم مکروه دي او د امامت لپاره د غلام يا صحرايي مخته کول هم مکروه دی ولي چي په هغوی کي جهل غالب وي او د مسائل نماز او مسائل امامت څخه خبره وي، د ړانده امامت هم مکروه دی ولي چي هغه د بينا انسان په مثل صفيي نه سي کولای او نه د قبلې وطرف ته صحيح مخ کولای سي، د فاسق او حرامي امامت د دې لپاره مکروه دی چي هغه د خلګو په نظر کي حقير کتل کيږي او د امام رتبه بلنده ده مګر که چېري د دا مذکور بالا خلګو څخه څوک مخته سي امامت وکړي نو

جائز دی او د دې لمانځه اعاده نسته، د اختر په ورځ په عیدګاه د اختر د لمانځه څخه ترمخه یا وروسته نوافل مکروه دي البته د اختر د لمانځه وروسته د عیدګاه څخه علاوه بل ځای نوافل کولای سي، لمونځ کول د بولو وبیزار د زور سره یا د دوی څخه د یوه سره یا د هوا د نیولو سره مکروه تحریمي دی د ابو داود شریف په یوه روایت کي دی چي حلال نه دی یوه ته چي ایمان لري چي لمونځ وکړي په داسي حالت کي چي هغه بولي تینګي کړي وي تر هغه وخته پوري چي د هغه څخه فارغه سي، دغه صورت د پاخانه هم دی، د مسجد د محراب مخته ګندګي کوړه جوړول مکروه دی ولي چي په دې ترک تعظیم لازم راځي او په مسجد کي بدبویي محسوسه کیږي لهذا د دې خبرو څخه اجتناب کول پکار دي الغرض دا چي هر هغه فعل په لمانځه کي مکروه دی چي په توجه الی الله کي فرق راولي.

فصل د سنتو په بیان کې

(فَصْلٌ فِي السُّنَنِ)

اَوَّلُهَا الْاَذَانُ وَرَفْعُ الْيَدَيْنِ مَعَ التَّكْبِيْرِ وَنَشْرُ الْاَبعِ وَجَهْرُ الْاِمَامِ بِالتَّكْبِيْرِ وَالثَّنَآءُ وَالتَّعَوُّذُ وَالتَّسْمِيَةُ وَالتَّامِيْنُ وَالْاِخْفَآءُ بِهِنَّ اِمَامًا كَانَ اَوْمُقْتَدِيًا وَوَضْعُ الْيَمِيْنِ عَلَى الشِّمَالِ وَتَحْتَ السُّرَّةِ لِلرِّجَالِ وَعَلَى الصَّدْرِ لِلْمَرْآةِ وَالتَّكْبِيْرَاتُ الَّتِيْ يُؤْتٰى بِهَا فِيْ خِلَالِ الصَّلٰوةِ وَتَسْبِيْحَاتُ الرُّكُوْعِ وَتَسْبِيْحَاتُ السُّجُوْدِ وَاَخْذُ الرُّكْبَتَيْنِ بِالْيَدَيْنِ فِي الرُّكُوْعِ مُنْفَرِجًا اَصَابِعَهُ وَافْتِرَاشُ الرِّجْلِ الْيُسْرٰى وَالْقُعُوْدُ عَلَيْهَا وَنَصْبُ الْيُمْنٰى وَالصَّلٰوةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمْ بَعْدَ التَّشَهُّدِ فِي الْقَعْدَةِ الْاَخِيْرَةِ وَالدُّعَآءُ بِمَا يُشْبِهُ اَلْفَاظَ الْقُرْاٰنِ وَالْاِشَارَةُ بِالْمُسَبِّحَةِ عِنْدَ ذِكْرِ الشَّهَادَتَيْنِ فِيْ بَعْضِ الرِّوَايَاتِ كَمَا ذَكَرْنَا وَقِيْلَ قِرَآءَةُ الْفَاتِحَةِ فِي الْاُخْرَيَيْنِ فِي الْفَرَائِضِ وَالْخُرُوْجُ بِلَفْظِ السَّلَامِ وَالسَّلَامُ عَنْ يَمِيْنِهٖ وَيُسَارِهٖ وَقِيْلَ بَعْضُ هٰذِي الْاَفْعَالِ اَدَبٌ وَمَاذَكَرْنَا مِمَّا سِوٰى ذٰلِكَ فَهُوَ اٰدَابٌ

ژباړه: اول سنت اذان دی، د تکبیر سره د لاسو پورته کول، د ګوتو خلاصول، د امام تکبیر بالجهر کول، ثناء او اعوذبالله او بسم الله ویل او امین ویل په دې ټولو کې کرار والی دی که امام وي او که مقتدی، د راسته لاس په چپه ایښوول او د نارینه لپاره زیرناف او د ښځو لپاره په سینه لاس ایښوول او هغه تکبیرونه چې په مابینځ کې دلمانځه وي د رکوع او سجودو تسبیحات او په رکوع کې په خلاصو

ګوتو سره د ځنګنو نيول او د چپه پښي په غوړولو سره په هغې کښينستل د راسته پښې درول په اخيره ناسته کي د تشهد وروسته په نبی کريم صلی الله عليه وسلم باندي درود ويل، مشابه د قران الفاظو سره دعاء کول او د شهادتينو ويلو په وخت کي د ځينو رواياتو مطابق لکه څنګه چي موږ ذکر کړي دي د شهادت په ګوتي سره اشاره کول، او ويل سوي دي چي د فرائضو په اخيري دوو رکعاتو کي د فاتحې ويل او په لفظ سلام سره د لمانځه څخه وتل، راسته چپه طرف ته سلام ګرځول او ويل سوي دي چي د دوی څخه ځيني افعال مستحب دي او د هغوی څخه علاوه چي موږ ذکر کړه هغه آداب دی.

تشريح: د باجماعته پنځو لمنځو لپاره اذان که ادا وي او که قضا، د جمعې د لمانځه لپاره اذان او اقامت کول سنت دي او ځينو مشائخو د وجوب قول ويلی دی ولي چي امام محمد رحمه الله وايي که چېري جمله اهل بلد اذان پرېږدي نو موږ به د هغوی سره جنګ کوو، د جمهورو علماؤ په نِز د اذان مشروعيت د هجرت وروسته په مدينه منوره کي د حضرت عبدالله بن زيد رضی الله تعالی عنه د خوب څخه وسو، ملا علي قاري رحمه الله په مرقات کي ليکلي دي چي په دې باندي د امت اتفاق دی چي په وخت د تکبيري تحريمه رفع يدين منسون دی مګر لاسونه تر کوم ځايه پورته کول په دې سلسله کي روايتونه مختلف دي.

د احنافو رحمهم الله په نِز د وائل بن حجر رضی الله عنه روايت ډېر معتبر دی چي په هغه کي نبی کريم عليه السلام به چي کله تکبير وايه نو دواړه لاسونه به يې د غوږو په مقابل کي پورته کول البته ښځه به د سينې او د ثدينو (تيانو) په مقابل کي صرف د تروږو پوري لاس پورته کوی ولي چي دا طريقه د هغه لپاره د زياتي پردې ده د تکبيري تحريمي وروسته د ولاړي په حالت کي په راسته لاس سره د چپه لاس نيول او زيرناف ايښوول سنت نبوي دی د دې وروسته په ثناء ويلو سره د سورت

فاتحې څخه ترمخه اعوذبالله او بسم الله په خفيه طور سره ويل لکه څنګه چي الله تعالی په قران پاک کي ويلي دي نو چي کله وواياست قران نو د الله تعالی پناه واخلئ د شيطان مردود څخه، دغه ډول بسم الله هم په حديث مشهوره ووکي نقل ده، په رکوع کي په خلاصو ګوتو سره ځنګنونه نيول هم سنت دي لکه څنګه چي عليه السلام ته حضرت انس رضي الله عنه ويلي وه چي کله ته رکوع کوي نو دواړه لاسونه په خپلو ځنګنو باندي کښېږده او په ګوتو کي خلاصوالی وکړه چي کله د رکوع او سجودي څخه فارغه سي د ناستي کولو اراده يې وي نو مسنون دادی چي چپه پښه وغوړوي او راسته پښه ودروي او که چېري ښځه وي نو په خپل چپه کوناټي باندي دي کښيني او دواړي پښي دي راسته طرف ته وباسي ولي چي دا حالت د هغې لپاره زيات ساتر دی، د لمانځه په اخيري ناسته کي په عليه السلام باندي درود وواياست او د ټولو مسلمانانو لپاره دعا وکړئ.

په صحيحينو کي د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي عليه السلام مبارک ارشاد ووايه چي کله ستاسي څخه څوک د اخيري التحياتي څخه فارغه سي نو د څلورو شيانو څخه دي د الله تعالی پناه وغواړي ۱ د عذاب جهنم، ۲ قبر، ۳ د ژوند او مرګ د فتنې څخه، ۴ او د فتنې مسيح دجال د شر څخه.

دا فصل په بیان کې د نوافلو دی

(فَصْلٌ فِي النَّوَافِلِ)

اِعْلَمْ اَنَّ السُّنَّةَ قَبْلَ الْفَجْرِ رَكْعَتَانِ وَاَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَانِ بَعْدَهَا وَاَرْبَعٌ قَبْلَ الْعَصْرِ وَرَكْعَتَانِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَاَرْبَعٌ قَبْلَ الْعِشَآءِ وَاَرْبَعٌ بَعْدَهَا وَاِنْ شَآءَ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ وَمَا ذَكَرْنَا قَبْلَ الْعَصْرِ وَالْعِشَآءِ فَذٰلِكَ مُسْتَحَبٌّ وَفِي الْمُحِيْطِ اِنْ تَطَوَّعَ قَبْلَ الْعَصْرِ بِاَرْبَعٍ وَقَبْلَ الْعِشَآءِ بِاَرْبَعٍ فَحَسَنٌ لِاَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يُوَاظِبْ عَلَيْهِمَا وَقَبْلَ الْجُمُعَةِ اَرْبَعٌ وَبَعْدَهَا اَرْبَعٌ وَعِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ سِتٌّ وَالْاَفْضَلُ عِنْدَنَا اَنْ يُّصَلِّيَ اَرْبَعٌ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ وَاَمَّا سُبْحَةُ الضُّحٰى فَقَدْ وَرَدَةِ الْاَحَادِيْثُ فِيْهَا مِنْ رَكْعَتَيْنِ اِلَى اثْنَتَيْ عَشْرَةِ رَكْعَةً ثُمَّ الْاَفْضَلُ فِيْ صَلٰوةِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ اَرْبَعُ رَكْعَاتٍ بِتَحْرِيْمَةٍ وَّاحِدَةٍ عِنْدَهُ وَقَالَا فِي اللَّيْلِ رَكْعَتَانِ وَالزِّيَادَةُ عَلٰى ثَمَانِيْ رَكْعَاتٍ لَيْلًا وَعَلٰى اَرْبَعٍ نَهَارًا بِالْاِجْمَاعِ.

ژباړه: پوه سه چې د سهار څخه د مخه دوه رکعاته سنت او د ماپښین څخه د مخه څلور او وروسته دوه رکعاته دي او څلور د مازیگر څخه د مخه او دوه رکعاته د ماښام وروسته او د ماخستن څخه د مخه څلور او د هغه وروسته څلور رکعاته که یې خوښه وي نو دوه دي کړي، او کوم چې موږ د مازیگر او ماخستن څخه د مخه ذکر کړي دي نو هغه مستحب دي او په محیط کې راغلي دي که چیرې د مازیگر او ماخستن څخه د مخه نوافل وکړي نو دا بهتره ده ولې چې نبی کریم علیه السلام په

دې باندې همیشه توب نه دی کړی او د فرض جمعې څخه د مخه او وروسته هم څلور رکعاته دي او د ابو یوسف رحمه الله په نِز شپږ دي او زموږ په نِز افضل دادی چې اول څلور رکعاته وکړي بیا دوه او د ځابنت په نوافلو کې د دوو رکعاتو څخه بیا تر دوولس رکعاتو پورې احادیث وارد سوي دي بیا د امام ابوحنیفه رحمه الله په نِز د ورځې او شپې په نوافلو کې په یوه نیت سره څلور رکعاته کول بهتر دي او صاحبین رحمهم الله وایي د شپې په لمانځه کې دوه رکعاته بهتر دي او په اتو رکعاتو باندې په یوه تکبیري تحریمه سره په ورځ او شپه کې زیادت بالاجماع مکروه دی.

تشریح: د ماپښین او د جمعې د فرائضو څخه د مخه څلور رکعاتونه سنت مؤکده دي او څلور وروسته د جمعې په یوه سلام سره او که چېري یې په دوه سلامه سره کوي نو د سنت قائم مقام نه کیږي او دوه رکعاتونه د سهار څخه مخکې او دوه د ماپښین وروسته او ماښام او ماخستن وروسته سنت مؤکده دي، په درمختار کې دي چې اول سنتونه د شیطان د طمعې د قطعه کولو په واسطه مشروع سوی دي یعنې چې کله انسان سنتونه کوي نو شیطان وایي چې کوم شی په هغه فرض نه وو هغه یې نه پرېښودی نو دا به څنګه پرېږدي نو په هغه فرض دی او د وروسته سنت د نقصان د پوره کولو لپاره یعنې په فرائضو کې که چېري په څه عذر مثلاً په ایره وغیره سره یو څه کمي یا پیښي سوي وي نو د وروسته سنت چې هغه ترڅه وخته پورې کوي او څلور رکعاتونه د ماځیګر او ماخستن څخه د مخه او څلور رکعاته د ماخستن وروسته مستحب دي لکه څنګه چې په ترمذي شریف کې روایت دی چې کوم څوک محافظت کوي په څلورو رکعاتو باندې د ماپښین څخه د مخه او څلور وروسته د ماپښین نو الله تعالی په هغه باندې د دوږخ اور حرامه وي، د امام ابو یوسف رحمه الله په نِزد جمعې وروسته شپږ رکعات سنت دي چې هغه د حضرت علی رضی الله عنه څخه منقول دي د دې لپاره علماء وایي چې بهتره داده چې اول څلور رکعاته وکړي

یا دوه رکعاته سنت وکړي او د څلور رکعاتو څخه زيات په يوه تحريمه باندي په ورځ کي او په شپه کي په اتو رکعاتو کي د يوه تکبيري تحريمه څخه زيادت کول مکروه دي چي د دې څخه زائد په احاديثو کي نه دي وارد سوي البته افضل امام ابوحنيفه په نِز په شپه او ورځ کي په يوه سلام سره څلور رکعاته کول دي او صاحبين رحمهما الله ويلي دي چي د شپې په لمانځه کي دوه رکعاته کول بهتر دي او مختار د صاحبينو په قول باندي فتویٰ نقل کړي ده.

مَنْ شَرَعَ فِيْ صَلٰوةِ التَّطَوُّعِ اَوْفِيْ صَوْمِ التَّطَوُّعِ ثُمَّ اَفْسَدَهُمَا فَعَلَيْهِ قَضَآئُهُمَا وَاِنْ شَرَعَ فِي التَّطَوُّعِ بِنِيَّةِ الْاَرْبَعِ ثُمَّ فَطَعَ لَايَلْزَمُهُ اَلَّاشُفْعٌ خِلَافًا لِّاَبِيْ يُوْسُفَ قَالُوْا هٰذَا فِيْ غَيْرِ السُّنَنِ اَمَّا اِذَا شَرَعَ فِى الاربع من السنن ثُمَّ قَطَعَ يَلْزَمُهُ اَرْبَعٌ فَاِنْشرعَ فِيْ الْاَرْبَعِ وَلَمْ يَقْعُدْ فِيْ اٰخِرِ الثَّانِيَةِ فَسَدَتْ عِنْدَ مُحَمَّدٍ وَزُفَرَ وَيَقْضِى الْاُوْلَيَيْنِ وَقَلَا لَاتُفْسِدُ وَكُلُّ رَكْعَتَيْنِ اَذَا اَفْسَدَهُمَا فَعَلَيْهِ قَضَآءُ هُمَا دُوْنَ ضَآءُ مَاقَبْلَهُمَا وَلَوْافْتَتَحَ التَّطَوُّعَ قَآئِمًا ثُمَّ قَعَدَ مَنْ غَيْرِ عُذْرٍجَازَ وَاِنْ نَذَرَ صَلٰوةً وَلَمْ يَقُلْ اَنَّهُ قَآئِمًا اَوْقَاعِدًا يَلْزَمُهُ قَآئِمًا وَاِنْ صَلّٰى قَاعِدًا قِيْلَ يَجُوْزُ قِيَاسًا وَطُوْلُ الْقِيَامِ اَفْضَلُ مَنْ عَدَدِ الرَّكْعَاتِ.

ژباړه: چا چي په نفلي لمانځه يا په نفلي روژه شروع وکړه بيايې فاسده کړه نو په هغه باندي د دواړو قضا ده او که چېري يې نفلي لمونځ د څلور رکعاتو په نيت د شروع کولو وروسته قطعه کړ نو په هغه باندي فقط دوه رکعاته لازم دي په خلاف د ابويوسف رحمه الله، علماؤ ويلي دي چي دا قاعده د سنت څخه علاوه ده که چېري يې څلور سنت شروع کړه او بيايې قطعه کړل نو په هغه باندي څلور لازم دي که يې

ځلور شروع کړل او د دوهم رکعات په آخر کې نه کښېنستی نو د امام زفرؒ په نِز لمونځ فاسد سو او حضرات شيخين وايي چې فاسد نه سو او هر هغه دوه رکعاته کوم چې فاسد کړل نو په هغه باندي د هغو قضاده نه د ماقبل رکعاتو او که چېري يې نفلي لمونځ په حالت د ولاړه کي شروع کړ بيا د عذر په وجه کښېنستی نو جائز دی او که چېري يې لمونځ نذر کړ او د درېدو يا کښېنستو تعين يې نه وکړ نو په هغه باندي په ولاړه ادا کول لازم دي که چېري يې په ناسته لمونځ وکړ نو بناء برقياس جائز دی او ولاړه د په اوږدو رکعاتو کي زياته بهتره ده.

تشريح: په کوم نفلي عبادت چې شروع وکړل سي نو هغه د انسان پر ذمه لازم کيږي، ابوداود ترمذي او نسائي د ام المؤمنين حضرت عائشې صديقې رضی الله تعالی عنها څخه نقل کړی دی چې زه او حضرت حفصه رضی الله تعالی عنها روژه داري وو نو موږ ته ډوډۍ پيش سوه چې د هغه و خوراک ته مي زړه ولاړ سو نو موږ هغه وخوړله بيا رسول الله عليه السلام تشريف راوړی نو حضرت حفصېؓ په پوښتنه کولو زما سره مخکي سوه او هغه د خپل پلار لور وه يعني د پلار په مثل جرات منده وه پوښتنه يې وکړه چې يا رسول الله موږ روژه داري وو نو زموږ مخته ډوډوۍ پيش سوه کوم خوراک ته چې زموږ زړه ولاړ سو نو موږ هغه وخوړی، د دې په باره کي شرعاً څه حکم دی؟ عليه السلام ارشاد ووايه چې تاسي دواړي په بله ورځ کي د دې روژې قضاء راوړی، چونکي لمونځ چې کله نفل د دې حديث په رُو سره د هغه قضا لازمه ده دا حکم د احنافو او امام مالکؒ په نِز دی او امام شافعيؒ او امام احمدؒ د حج او عمرې څخه علاوه په بل هيڅ نفل عبادت په شروع کولو کي د لزوم قائل نه دي، که چېري د نفلي لمانځه دوه يا د دوو څخه زيات نيت يې وکړ بيايې فاسد کړ نو د طرفينو په نِز فقط د دوو رکعاتو قضاء واجب ده ولي چې د نفل هره شفعه جلا جلا ده، او امام ابويوسفؒ بيا د نذر ډول په شروع

کي په تکبيري تحريمه سره د نيت اعتبار کړی دی د دې لپاره د هغه په نِز د څومره رکعاتو نيت چي يې تړلی وي هغومره قضا لازمه ده البته د فرض پنګانه سره کېدونکي سنت مؤکده بالاتفاق د ټولو قضاء لازمه ده مثلاً د ماپښين څخه د مخه د څلور سنت شروع کولو وروسته که چېري يې هغه فاسد کړل نو د څلورو رکعاتو قضاء ضروري ده ولې چي دا په يوه سلام سره شروع سوي دي، دغه ډول د عليه السلام څخة نقل دي، اوس چونکي اول ذکر کړل سوی دي چي ټوله نوافل په اصل کي دوه دوه رکعاته جلا جلا لمونځ دی که په يوه نيت سره زيات هم وکړي نو پوښتنه دا پيدا کيږي چي مثلاً که چېري يې د څلورو رکعاتو د نفلي لمانځه نيت وکړ او د دوو رکعاتو وروسته يې ناسته ايره سي او د څلورم لپاره ولاړ سي نو د فرض قعده پرېښودلو په وجه د هغه لمونځ فاسديږي که نه؟ امام محمد رحمه الله او امام زفر رحمه الله وايي چي د هغه لمونځ فاسديږي ولي چي نفل يوه يوه شفعه علېحده لمونځ دی نو دا ناسته فرض سوه او د فرض په پرېښوولو سره لمونځ فاسد کيږي امام ابوحنيفه رحمه الله او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چي په نوافلو کي د دوو رکعاتو وروسته ناسته خپله بذاته فرض نه ده بلکي هغه د لمانځه د قطعه کولو لپاره يعني د خروج از نماز په وجه فرض ده چي هغه د ناستي بغير مشروع نه دي نو چي کله يې د خروج نيت نه وي کړی نو ناسته هم نه فرض کيږي، د صاحب کتاب په نِز د ولاړي اوږدوالی د کثرت رکعات څخه افضل دی او دا د امام ابوحنيفه رحمه الله قول دی ولي چي ولاړه کله اوږده سي نو په هغه کي قرآئت زياتيږي او قرآئت که چېري ټوله قرآن ته ورسيږي ټوله فرض به فرض يي په خلاف د رکوع او د سجدې د تسبيحاتو چي هغه فرض نه دي او امام محمد رحمه الله کثرت د رکوع او سجودو افضل ګڼلی دی.

ثُمَّ السُّنَّةُ فِيْ سُنَّةِ الْفَجْرِ اَنْ لَّا يَأْتِيَ بِهَا مُخَالِطًا لِلصَّفِّ وَاَنْ يَّأْتِيَ بِهَا اِمَّا فِيْ بَيْتِهٖ اَوْعِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ وَاِنْ لَّمْ يُمْكِنْهُ فَفِي الْمَسْجِدِ الْخَارِجِ وَاِنْ كَانَ الْمَسْجِدُ وَاحِدًا فَخَلْفَ اُسْطُوَانَةٍ وَنَحْوَ ذٰلِكَ هٰذَا اِذَا كَانَ بَعْدَ الشُّرُوْعِ فِي الْفَرِيْضَةِ وَاَمَّا قَبْلَ شُرُوْعِهِمْ فِي الْفَرِيْضَةِ فَيَأْتِيْ بِهَا فِيْ اَيِّ مَوْضِعٍ شَآءَ وَاَمَّا السُّنَنُ الَّتِيْ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ اَنْ تَطَوَّعَ فِي الْمَسْجِدِ فَحَسَنٌ وَفِي الْبَيْتِ اَفْضَلُ لِمَارُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهٗ كَانَ يُصَلِّيْ جَمِيْعَ السُّنَنِ وَالْوِتْرَ فِي الْبَيْتِ.

ژباړه: بیا په سنتو کي د سهار سنت دادي چي په صف کي یې مختلط نه وکړ بلکي خپل کور یا دروازه د مسجد سره متصله کړي که چیري دلته ممکن نه وي نو دي د مسجد په خارج حصه کي وي که چیري مسجد یو وي نو د یو ستني شاته یا دي په دا ډول یو بل ځای کي ودریږي او دا حکم هلته دی چي کله فرض لمونځ شروع سوی وي او په فرض کي د دوی د شروع څخه د مخه چیري چي زړه وغواړي ودي کړي او هغه سنت چي د فرائضو وروسته دي که چیري دا سنت په مسجد کي وکړي نو ښه دی او په کور کي ډېر بهتره ده ولي چي د نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه مروي دی چي هغه مبارک به ټوله سنت او وتر په کور کي کول.

تشریح: د سهار دوو سنتو کولو او دغه ډول د ټولو سنتو مؤکده کولو سنت مؤکده دادی چي د جماعت په صف کي یا د صف شاته بغیر د حائل نه وکړل سي بلکي بهتره داده چي په کور یا په مسجد کي علیحده یوځای ودریږي سنت وکړي ولي چي په صف کي په ولاړه سره په سنت اداکولو کي د جماعت مخالفت لازم راځي او دا مکروه دی، که چیري څوک په داسي حالت کي مسجد ته ورسیږي چي د سهار فرض لمونځ درېدلی وي نو د حضراتو شیخینو رحمهما الله په نز که چیري د دې

ځې يقين وي چي په سنت كولو سره د امام سره په ناسته كي شريک كېدی سم نو هغه دي سنت وكړي او امام محمد رحمه الله وايي كه چېري هغه دوهم ركعات نيولی سي نو دي سنت وكړي كه نه وي نو دي پرېږدي ولي چي د باجماعت فرض لمانځه فضيلت د سهار د سنتو څخه زيات دی، دغه ډول په ترک جماعت باندي عذاب هم د ترک سنت څخه زيات دی او د سهار د سنت پاته كېدو وروسته د شيخينو د قول په مطابق نه به د طلوع افتاب څخه د مخه او نه وروسته كيږي او امام محمد رحمه الله وايي چي ماته خوښه ده چي د طلوع شمس څخه وروسته د زوال څخه د مخه د مخه د هغو قضا اداكړم او د سهار د سنتو څخه علاوه د باقي سنتو بالاتفاق قضا نسته او د فجر د سنتو په اول ركعات كي" قل يا ايها الكفرون "او په دوهم كي سورة اخلاص ويل افضل دي ،د فرائضو وروسته كونكي سنتونه په كور كي كول افضل دي لكه څنګه چي د عليه لسلام ارشاد مبارک دی چي بهتره لمونځ د سړي د هغه په كور كي دی بغير د فرض لمانځه څخه ، آئمه كرامو د دې حكم څخه تراويح مستثنٰی كړي دي مګر چي كوم وخت بيره وي چي په كور كي به په نورو كارو كي اخته سي او څلور ركعاته سنت او نوافل به پاته سي نو په دې صورت كي بهتره داده چي په مسجد كي يې وكړي او اصح دادی چي خشوع او اخلاص پكښي زياته وي نو دې هلته وكړي كه نه وي نو دي په كور نه كوي، د در مختار عبارت داسي دی والافضل النفل ُغير التراويح المنزل اِلا لخوفِ شغل عنها والاصح افضلية ماكان اخشع واخلص، دغه ډول د تحية المسجد او د لمر د ترندي د لمانځه او د معتكف نوافل هم د دې حكم څخه مستثنٰی دي .

وَمِنَ السُّنَنِ التَّرَاوِيْحُ وَاِقَامَتُهَا بِالْجَمَاعَةِ سُنَّةٌ اَيْضًا عَلٰی سَبِيْلِ الْكِفَايَةِ حَتّٰی لَوْتَرَكَ اَهْلُ مَحَلَّةٍ كُلُّهُمُ الْجَمَاعَةَ فَقَدْ تَرَكُوا السُّنَّةَ وَقَدْ اَسَآئُوْا فِیْ ذٰلِكَ وَاِنْ

اُقِيمَتُ التَّرَاوِيْحُ وَتَخَلَّفَ عَنْهَا رَجُلٌ مِّنْ اَفْرَادِ النَّاسِ وَصَلّٰى فِيْ بَيْتِهٖ فَقَدْ تَرَكَ الْفَضِيْلَةَ كَمَا فِي الْمَسْجِدِ وَهٰكَذَا فِي الْمَكْتُوْبَاتِ. وَالْاِحْتِيَاطُ فِي النِّيَّةِ اَنْ يَّنْوِيَ التَّرَاوِيْحَ اَوْقِيَامُ اللَّيْلِ اَوْسُنَّةَ الْوَقْتِ لِاَنَّ الْمَشَايِخَ قَدِاخْتَلَفُوْا فِيْ جَوَازِ اَدَآءِ السُّنَّةِ النَّفْلِ قَالَ بَعْضُ الْمُتَقَدِّمِيْنَ لَايَجُوْزُ وَهُوَ قَوْلُ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَقَالَ بَعْضُ الْمُتَاَخِّرِيْنَ يَجُوْزُ كَمَنْ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ بِنِيَّةِ صَلٰوةِ اللَّيْلِ ثُمَّ تَبَيَّنَ اَنَّهٗ كَانَ طلَعَ الْفَجْرُ قَالَ بَعْضُهُمْ يَنُوْبُ عَنْ سُنَّةِ الْفَجْرِ وَهُوَ قَوْلُهُمَا وَاِنْ شَكَّ فِيْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ لَايَنُوْبُ بِالْاِتِّفَاقِ وَاِنْ نَوَى التَّرَاوِيْحَ صَلٰوةً مُّطْلَقَةً فَحَسْبُ قَالُوْا اَلْاَصَحُّ اَنَّهٗ لَايَجُوْزُ وَوَقْتُهٗ بَعْدَ الْعِشَآءِ وَلَايَجُوْزُ قَبْلَهَا وَهُوَ الْمُخْتَارُ وَلَوْ صَلَّى الْعِشَآءَ بِاِمَامٍ وَصَلَّى التَّرَاوِيْحَ بِاِمَامٍ اٰخَرَ ثُمَّ عَلِمَ اَنَّ الْاِمَامَ الْاَوَّلَ قَدْ صَلَّى الْعِشَآءَ عَلٰى غَيْرِ وُضُوْءٍ يُعِيْدُ الْعِشَآءَ وَالتَّرَاوِيْحَ وَاِنْ فَاتَتْهُ تَرْوِيْحَةٌ اَوْتَرْوِيْحَتَانِ ذُكِرَ فِي الذَّخِيْرَةِ اِخْتَلَفَ مَشَايِخُ زَمَانِنَا قَالَ . بَعْضُهُمْ يُؤْتِرُ مَعَ الْاِمَامِ ثُمَّ يُقْضِيْ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يُصَلِّي التَّرَاوِيْحَ الْمَتْرُوْكَةَ ثُمَّ يُؤْتِرُ وَاَمَّا الْاِسْتِرَاحَةُ فَيَجْلِسُ بَيْنَ كُلِّ تَرْوِيْحَتَيْنِ مِقْدَارَ تَرْوِيْحَةٍ فَاِنِ اسْتَرَاحَ عَلٰى خَمْسِ تَسْلِيْمَاتٍ قَالَبَعْضُهُمْ لَابَاسَ بِهٖ وَقَالَ اَكْثَرُ الْمَشَايِخِ لَايَسْتَحِبُّ.

ژباړه: په سنتو کي تراويح هم دي او هغه په جماعت سره ادا کول سنت کفائي دي تر دې پوري که چېري ټوله اهل محله يي جماعت ترک کړ نو يقيناً يې سنت ترک کړ او په دې عمل سره ګناهکار دی او که چېري يې تراويح قائم کړه او د دې خلګو

ښځه یو سړی د دې ښځه پاته سو او په خپل کور کي یې ادا کړه نو هغه په ځای د ښتو فضیلت ترک کړ او که چېري ټولو په خپل کور کي د جماعت سره ادا کړه نو نغوی ته د مسجد د ډول د جماعت ثواب نه سو حاصل او دغه حکم د فرائضو هم ی، په نیت کي دادی چي تراویح یا ولاړه یا د وقتي سنت نیت وکړل سي ولي چي د شائخو د نفل په نیت سره د سنت په ادا کیدو کي اختلاف دی ځینو متقدمینو ویلي دي چي نه دی جائز او دا د امام ابوحنیفه رحمه الله قول دی او ځینو متاخرینو ویلي دي چي جائز دی لکه څنګه چي څوک دوه رکعاته د تهجد په نیت سره وکړي یا ورته معلومه سي چي سهار سوی دی ځینو علماؤ ویلي دي چي دا د سهار سنت قائم مقام دي او دا د صاحبین رحمهما الله قول دی، که چېري په طلوع فجرکي شک وي نو بالاتفاق قائم مقام نه سي کیدی او که چېري یې د تراویحو په نیت سره مطلق لمونځ وکړ نو علماء وایي چي اصح دادی چي دا جائز نه دی او د تراویحو وخت د ماخستن وروسته دی د دې ښځه د مخه نه دي جائز او مختار هم قول دادی، که چېري یې د ماخستن فرض د یوه امام شاته وکړه او تراویح یې د بل امام شاته وکړي او بیا معلوم سي چي اول امام د ماخستن لمونځ بغیر د اوداسه کړی وو نو د ماخستن او تراویحو ټولو اعاده به وکړي او که چېري یوه تراوه یا ترویحات د هغه ښځه پاته سي نو په ذخیره کي ذکرسوي دي چي زموږ د زمانې د علماؤ په دې کي اختلاف دی ځینو ویلي دي چي د امام سره د وترو وروسته دي قضاراوړي، او ځینو ویلي دي چي د متركه تراويح كولو وروسته دي وتر وکړي، او جلسه د استراحت داده چي د هرو دوو ترویحاتو په مابینځ کي د یوه ترویح په مقدار کښیني که چېري د پنځو سلامونو د لسو رکعاتو وروسته یې جلسه استراحت وکړه نو ځینو علماؤ ویلي دي چي په دې کي هیڅ باک نسته او اکثره علماؤ ویلي دي چي دا مستحب نه دی.

تشریح: تراویح سنت مؤکده دي ولي چي د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د دور ښځه تر

نه پوري صحابه او علماء د امت د تراويحو په مسنونيت باندي متفق را روان دي اکثرو علماؤ د دې په مسنون کيدو باندي اجماع نقل کړي ده، په هدايه که هم سنت مؤکده ورته ويل سوي دي د تراويحو په باره کي د روافضو قول قابل د اعتبار نه دی چي صرف يې د نارينهوو په حق کي سنت ګڼي بلکي علماؤ صراحتاً ذکر کړي دي چي تراويح د نر او ښځي دواړو لپاره سنت مؤکده دي، د اصح قول مطابق د تراويحو وخت د ماخستن وروسته ترسهاره پوري دی د وترو څخه د مخه او د وترو وروسته هم نو که چېري چاته يو څه تراويح د امام سره نه ونيسي او امام د وترو لپاره ولاړ سي نو هغه سړی دي د امام سره وتر وکړي بيا دي هغه تراويح وکړي چي د امام څخه فوت سوی دي، او د اصح قول مطابق د تراويحو جماعت سنت کفايي دی که چېري د ټول مسجد والا د تراويحو جماعت پرېږدي نو هغه ټوله ګناهګاره کيږي نه هغه څوک چي ځينو جماعت پرې ايښی وي البته مطلقي تراويح د ټولو په حق کي جلا جلا سنت دي که چېري څوک تراويح پرېږدي نو تارک سنت کيږي او جماعت چي کله يو څه خلګ قائم کړي نو د نورو د ذمې څخه ساقط کيږي او په طور د استحباب د هرو څلورو رکعاتو وروسته جلسه استراحت يعني ځان ته آرام رسولو لپاره تقريبا د څلورو رکعاتو په مقدار کښينستل سته، او هر چا ته اختيار دی چي په دې توقف کي تسبيح وايي يا د قران تلاوت وکړي يا خاموش کښيني، علامه قهستاني رحمة الله عليه ويلي دي چي د دې توقف په منځ کي درې واره دا کلمات ويل بهتر دي والجبروت سبحان الملک الحی الذی لا يموت سبوح قدوس رب الملئکة والروح لا اله الا الله نستغفر الله نسألک الجنة ونعوذ بک من النار.

وَالاَفْضَلُ لِلْاِمَامِ تَعْدِيْلُ الْقِرَءَةِ بَيْنَ التَّسْلِيْمَاتِ وَاِنْ صَلّٰى قَاعِدًا بِغَيْرِ عُذْرٍ جَازَ مِنْ غَيْرِ كَرَاهَةٍ وَاَنْكَانَ الْاِمَامُ قَاعِداً بِعُذْرٍ وَالْقَوْمُ قَائِمِيْنَ جَازَ لَا يُسْتَحَبُّ وَلَوْ

مَلَّى التَّرَاوِيْحَ كُلَّهَا بِتَسْلِيْمَةٍ وَّاحِدَةٍ وَقَدْ قَعَدَ عَلٰى رَأْسِ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ جَازَ وَلَايَكْرَهُ لِاَنَّهُ اَكْمَلُ ذُكِرَ فِي الْمُحِيْطِ وَاِذَا شَكُّوْا فِيْ اَنَّهُمْ صَلَّوْا تِسْعَ تَسْلِيْمَاتٍ اَوْعَشْرَ تَسْلِيْمَاتٍ فَفِيْهِ اِخْتِلَافٌ وَالصَّحِيْحُ انهم يُصَلُّوْنَ بِتَسْلِيْمَةٍ اُخْرٰى فرادٰى وَذُكِرَ فِي الْمُلْتَقَطِ يَقْرَءُ فِي التَّرَاوِيْحِ مِقْدَارِ مَالَايُؤَدِّيْ اِلٰى تَنْفِيْرِ الْقَوْمِ وَفِي الْفَتَاوٰى يَقْرَءُ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ ثَلٰثِيْنَ اٰيَةً حَتّٰى يَقَعَ بِهِ الْخَتْمُ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يَقْرَءُ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ عِشْرَ اٰيَةٍ وَهُوَ الصَّحِيْحُ وَبِهِ تَحْصِيْلُ السُّنَّةِ وَهُوَ الْخَتْمُ مَرَّةً وَّاحِدَةً لَوْ اَمَّ فِي التَّرَاوِيْحِ ثُمَّ اقْتَدٰى بِاٰخَرَ فِيْ تَرَاوِيْحِ تِلْكَ اللَّيْلَةِ لَايَكْرَهُ وَاِذَا بَلَغَ الصَّبِيُّ عَشْرَ سِنِيْنَ فَاَمَّ الْبَالِغِيْنَ فِي التَّرَاوِيْحِ يَجُوْزُ وَذُكِرَ فِيْ بَعْضِ الْفَتَاوٰى اَنَّهُ لَايَجُوْزُ وَهُوَ الْمُخْتَارُ وَاِنْ صَلّٰى اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ بِتَسْلِيْمَةٍ وَاحِدَةٍ وَلَمْ يَقْعُدْ عَلٰى رَأْسِ الرَّكْعَتَيْنِ تَجْزِئُ عَنْ تَسْلِيْمَةٍ وَّاحِدَةٍ وَهُوَ الْمُخْتَارُ وَاِذَا فَرَغَ مِنَ التَّشَهُّدِ يَنْظُرُ اِنْ عَلِمَ اَنَّهُ يَثْقُلُ عَلَى الْقَوْمِ لَايَزِيْدُ الدَّعْوَاتِ الْمَاثُوْرَةِ وَلَوْ تَذَكَّرُوْا تَسْلِيْمَةً بَعْدَ الْوِتْرِ اِخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ قَالَ اَبُوْبَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْفَضْلِ لَايُصَلُّوْنَ بِجَمَاعَةٍ وَقَالَا الصَّدْرُ الشَّهِيْدُ يَجُوْزُ اَنْ يُّصَلِّيَ بِجَمَاعَةٍ وَلَوْ سَلَّمَ الْاِمَامُ عَلٰى رَأْسِ رَكْعَةٍ سَاهِيًا فِي الشُّفْعِ الْاَوَّلِ ثُمَّ صَلّٰى مَابَقٰى عَلٰى وَجْهِهَا قَالَ مَشَايِخُ بُخَارٰى يَقْضِي الشُّفْعَ الْاَوَّلَ لَاغَيْرُ وَقَالَ مَشَايِخُ سَمَرْقَنْدَ عَلَيْهِ قَضَآءُ الْكُلِّ.

ژباړه: د امام لپاره بهتره ده چې د سلامو په مابينځ كې برابر والى وكړي، كه بېله

عذره کښيني تراويح وکړي نو بلا کراهته جائز دی او که چېرې امام د يوه عذر په وجه ناست وي او قوم ولاړ وي نو جائز دی او بهتر نه دی، که چېرې يې پوره تراويح په يوه سلام سره وکړې او د دوو رکعاتو وروسته يې ناسته وکړه نو بلا کراهته جائز دی ولې چې دا په ثواب کې اکمل دی او په محيط کې ذکر سوي دي که چېرې يې په دې کې شک وکي چې هغه نه سلامه ګرځولي وي يا لس نو په دې کې د علماؤ اختلاف دی او اصح دادی چې هغه دي په انفرادي طور زيات دوه رکعاته وکړي او په ملتقط کې ذکرسوي دي چې په تراويحو کې دومره مقدار قرآئت ويل چې د څخه د قوم نفرت نه وي او په فتاوٰی کې راغلي دي چې په هر رکعات کې دې دېرش دېرش آياته ووايي چې دا ډول درې واره د قرآن ختم وسي او ځينو علماؤ ويلي دي چې په هر رکعات کې دې د لسو آيتو قرآئت ووايي او دغه صحيح دی، دا ډول د سنتو حصول کيږي چې يو وار ختم د قرآن کول دي او که چېرې يې په تراويحو کې امامت وکړ او بيا يې په دغه شپه کې د بل چا اقتدا وکړه نو مکروه نه دی او چې کله کوچنی د لسو کالو سي او په تراويحو کې د بالغانو امامت وکړي نو جائز دی او په ځينو فتاوؤ کې دي چې نه دی جائز او دغه قول مختار دی، که چېرې څلور رکعاته په يوه سلام سره وکړي او په دوو رکعاتو کې نه کښېنستی نو دا په دوو رکعاتو سره کافي کيږي او دا قول مختار دی او چې کله د التحياتي څخه فارغه سي نو دي وګوري که چېرې يې د وتر وروسته دوه رکعاته په ياد سوه نو په دې کې د علماؤ اختلاف دی ابوبکر محمد بن فضل رحمه الله ويلي دي چې په جماعت سره به يې نه کوي او صدر الشهد ويلي دي چې جائز دي چې په جماعت سره يې وکړي او که چېرې امام په ايره سره په اوله شفعه کې سلام وګرځوی او پاته لمونځ يې په خپله طريقه سره وکړ نو د بخارٰی علماؤ ويلي دي چې په هغه باندي د ټولو قضاء لازمه ده.

تشريح: که چېرې پوره تراويح په يوه تکبيري تحريمه او يوه سلام سره وکړي او د

دوو رکعاتو وروسته ناسته وکړي نو جائز دی او صاحب کتاب ویلي دي چي د ثواب په لحاظ دا زیات کامل دی ولي چي په دې کي مشقت زیات دی مګر صاحب کبرٰي په خلاصه وغیره سره د دې کراهت نقل کړی دی د دې لپاره چي د زیات او کامل اجر حاصلولو لپاره فقط مشقت نه دی کافی بلکي اتباع د سنتو ضروري ده او اتو رکعاتو څخه زیات په یوه سلام سره کول د احادیثو مبارکه وو څخه نه دي ثابت نو مکمل شل رکعاته تراویح په یوه سلام سره کول جواز مع الکراهت دی او چي کله د امام او د قوم شک سي چي اتلس رکعاته یې کړي دي یا شل نو په دې صورت کي بهتره داده چي باقي دوه رکعاته په انفرادي طور هر یو وکړي د دې لپاره چي د شلو رکعاتو څخه زیات نوافل د جماعت سره د کولو احتراز وسي، په تراویحو کي د قرآئت مقدار دومره پکار دی چي قوم منتفر نه سي ځیني علماء وایي چي په هر رکعات کي دي دیرش آیته وویل سي نو د رمضان المبارک په هري عشري کي یو ختم د قرآن کیږي لکه څنګه چي په کبیري کي د ابوعثمان هندي په حواله سره لیکلي دي چي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه درې قراء کرام را وغوښتل او د هغوی څخه یې قرآئت وواریدی کوم قرآئت چي زیات سریع وو هغه ته یې حکم ورکړ چي د خلکو لپاره په هر رکعات کي دیرش دیرش رکعاته وایه او ځینو علماؤ ویلي دي چي په هر رکعات کي لس آیتونه ویل بهتر دي او دا ډول د رمضان تر آخره پوري د قرآن یو ختم به وسي، ځینو آئمه کرامو په اوویشتمه شپه کي ختم د قرآن مستحب لیکلی دی ولي چي دا امید کیږي چي دا لیلة القدر دی.

دغه ډول که چیري په قوم باندي بوج وي نو دعوات ماثوره دي پرېښودل سي مګر درود شریف ویل دي نه پرېږدي ولي چي دا د امام شافعي رحمه الله په نز فرض دی البته صرف په" اللهم صل علی محمد وعلی ال محمد "باندي اکتفاء کولای سي قوم ته پکار ده چي د خوش الحان په ځای د درست خوان حافظ قرآن انتخاب وکړي

او د يوه سړی لپاره جائز ده چي په يوه مسجد کي تراويح وکړي او په دغه شپه کي خپله د بل چاته تراويح وکړي ولي که څه هم هغه د شلو رکعاتو څخه زيات تراويحو څخه زيات باقي نوافل د جماعت سره کړي دي او دا مکروه دی مگر دا هغه وخت مکروه کيږي چي کله امام او مقتدی دواړه د زائد نفل کولو والا وي او عوام يې د دې نفلي جامعت لپاره راغوښتي وي مگر په دې صورت کي امام خپله د خپل تراويح کونکی دی او مقتدی بيا منتفل دی نو دا جماعت پوره منتفل نه سو البته د يوه امام په دوو ځايو کي د تراويح کولو مسئله اختلافي ده ابوبکر اسکاف رحمه الله دا ناجائز گڼلي دي او امام ابو نصر رحمه الله دې ته جائز ويلي دي او د دې اختلاف اصلي منشاء هغه ده چي تراويح په مطلق د نفل په نيت سره جائز دي که نه د کوم ذکر چي اول تېر سوی دی دغه ډول نصير بن يحيیٰ رحمه الله ويلي دي چي کله هلک د لسو کالو په عمر کي امور بالصلوة سو نو دی د بالغ په حکم کي سو او په تراويحو کي د بالغ لمونځ هم نفل دی ولي چي د بالغانو نفل لمونځ د نابالغ د لمانځه څخه قوي دی د دې لپاره چي د نوافلو شروع کولو وروسته د فاسد کولو سره د بالغانو ذمه لازمه راځي او د نابالغ په ذمه نه لازم کيږي نو دا اقتداء د قوي خلف الضعيف ده چي زموږ په نِز نه ده جائز او د مصنف رحمه الله عبارت" وان صلی اربع رکعات بتسليمة واحدة...الخ "مطلب دادی چي کله د څلورو رکعاتو نيت وکړي مگر د دوو رکعاتو وروسته يې ناسته ايره سي نو د نوافلو هره ناسته د فرضيت په وجه د قياس تقاضا ده چي دا لمونځ فاسد سي مگر حضراتو شيخينو رحمهما الله دا استحساناً جائز گڼلی دی مگر د اولي شفعي په فساد کي يې قياس معتبر کړی دی نو په دې صورت کي اوله شفعه فاسديږي او په دوهمي شفعي کي د بقاء تحريمې په وجه د عدم فساد حکم کيږي نو دا څلور رکعاته فقط د دوو رکعاتو سره کافي دي او که چېري څوک په تراويحو کي د دوو رکعاتو څخه زيات يو د تحريمه وسلام سره ادا کوي او په

ایره سره یې په یوه رکعات باندي سلام وګرځوي نو په دې صورت کي د مشائخو د بخارا فتوٰی ده چي په دا خلګو فقط د دوو رکعاتو قضاء ده ولي چي د دا نوافلو هره شفعه علیحده لمونځ دی او په شفعه ثاني کي یې چي کله شروع کړي نو د شفعي اولي څخه ووتی نو باقي لمونځ په شفعه ثاني بنا کیږي او شفعه ثاني فاسده نه ده، د دې لپاره فقط دوه رکعاته یعني په اوله شفعه کي دي قضا راوړي، د مشائخ سمرقند فتوٰی ده چي کله هغه په ایره سره په یوه سلام سره سلام ګرځولی وي نو د باقي دوو رکعاتو د کولو وروسته به په دریم سلام ګرځوي او دغه ډول دا سلسله به د الی اخره پوري جاري وي مګر د ټولو قضاء واجب ده.

وَالوِتْرُ ثَلَاثُ رَكْعَاتٍ بِسَلَامٍ وَّاحِدٍ عِنْدَنَا يَقْرَءُ الْفَاتِحَةَ وَالسُّوْرَةَ فِيْ جَمِيْعِ رَكْعَاتِهَا وَيَقْنُتُ فِي الثَّالِثَةِ قَبْلَ الرُّكُوْعِ فِيْ جَمِيْعِ السَّنَةِ وَلَايُصَلِّيْ بِجَمَاعَةٍ اِلَّا فِيْ رَمْضَانٍ وَالْمَسْبُوْقُ يَقْنُتُ مَعَ الْاِمَامِ وَلَايَقْنُتُ بَعْدَهَا وَاِنْ شَكَّ اَنَّهُ فِي الثَّانِيَةِ اَوْفِي الثَّالِثَةِ يَقْنُتُ مَرَّتَيْنِ وَذٰلِكَ لِاَنَّ تَكْرَارَ لُقُنُوْتِ فِيْ مَوْضِعِهِ وَذُكِرَ فِي الذَّخِيْرَةِ اَنَّهُ اِنْ قَنَتَ فِيْ الْاُوْلٰى اَوْفِيْ الثَّانِيَةِ سَاهِيًا لَمْ يَقْنُتْ فِي الثَّالِثَةِ وَبَيْنَهُمَا فَرْقٌ وَهَلْ يُصَلِّيْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلم فِيْ اٰخِرِ الْقُنُوْتِ اَمْ لَاقَالَ الْفَقِيْهُ اَبُو اللَّيْثِ يُصَلِّيْ وَذُكِرَ فِيْ بَعْضِ الْفَتَاوٰى لَابَأْسَ بِاَنْ يُّصَلِّيَ وَهَلْ يُجْهِرُ الْاِمَامُ بِالْقُنُوْتِ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ الْفَضْلِ يُخَافِتُ كَذَاجَرَتِ الْعَادَةُ فِي مَسْجِدِ اَبِيْ حَفْصِ الْكَبِيْرِ بِبُخَارٰى وَقَالَ صَاحِبُ الذَّخِيْرَةِ بُرْهَانُ الدِّيْنِ اسْتَحْسَنُوْا الْجَهْرَ فِيْ بِلَادِ الْعَجَمِ لِيَتَعَلَّمُوْا وَذُكِرَ فِيْ شَرْحِ الْاِسْبِيْجَابِيِّ يَكُوْنُ ذٰلِكَ الْجَهْرُ دُوْنَ جَهْرِ الْقِرَآءَةِ وَاَمَّا الْمُقْتَدِيْ

فَهُوَ مُخَيَّرٌ اِنْ شَآءَ قَنَتَ وَاِنْ شَآءَ اٰمَّنَ وَاِنْ شَآءَ سَكَتَ كُلُّهُ مَرْوِيٌّ عَلَى الْاِخْتِلَافِ بَيْنَ اَبِي يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٍ وَاِنْ قَنَتَ اَوْ اٰمَّنَ لَايَرْفَعُ صَوْتَهُ بَالْاِتِّفَاقِ.

ژباړه: زموږ په نز وتر درې رکعاته په یوه سلام سره او په هر رکعات کې به فاتحه او سورت وایي او په دریم رکعات کې به د رکوع څخه د مخه ټول کال دې دعائي قنوت وایي او د رمضان د میاشتي بغیر دې په جماعت سره نه کوي او مسبوق دې دعائي قنوت د امام سره ووایي وروسته نه او که چېري په شک کې پاته سو چې په دوهم رکعات کې دی که په دریم رکعات کې نو دې دوه واره دعائي قنوت ووایي چې د عائي قنوت تکرار په خپل ځای مکروه دی لکه څنګه چې په اوله مسئله کې تیر سوي دي او په دوهم صورت کې یو په خپل ځای کې نه سو واقع او په ذخیره کې ذکرسوي دي که چېري یې په اول یا دوهم رکعات کې په ایره سره دعائي قنوت ووایه نو په دریم رکعات کې دې نه وایي او په دې دواړو مسئلو کې فرق دی او د دعائي قنوت په آخر کې درود شریف وویل سي که نه؟

ابو اللیث سمرقندي رحمه الله ویلي دي چې درود شریف دې ووایي او په ځینو فتاوٰی کې ذکر دي که چېري یې درود شریف ووایه نو هیڅ باک نسته او امام به د دعائي قنوت په وخت کې به جهر کوي که نه؟ محمد بن فضل رحمه الله ویلي دي چې خفیه دې ووایي او دغه طریقه په بخارٰی کې د ابوحفص کبیر په مسجد کې جاري وه او صاحب الذخیره برهان الدین رحمه الله ویلي دي چې علماؤ د عجم په شارو کې جهر بهتر ګڼلی دی د دې لپاره چې خلک یې ایزده کولای سي او په شرحه اسبیجابی کې دي چې دا جهر به د قرآئت د جهر څخه کم وي او مقتدي ته اختیار دی که وغواړي نو دعائي قنوت دې ووایي یا دې اٰمین وکړي یا دې چپ سي او دا ټوله اقوال مروي دي د ابویوسف او محمد په اختلاف باندي او که چېري قنوت ووایي یا اٰمین ووایي

بالاتفاق دي آواز نه پورته کوي .

تشريح: مصنف رحمه الله وتر لمونځ د سننو او نوافلو سره ذکر کړي دي د دې لپاره چي په ډېرو احکامو کي د نوافلو په مثل دی لکه څنګه چي د اذان او اقامت نه کېدل او په ټولو رکعاتو کي قرآئت ويل وغيره او د نوافلو او وترو ټولو ثبوت د احاديثو مبارکه وو څخه دی، د ابو دواد شريف روايت دی چي عليه السلام درې واره وويل الوتر فمن لم يوتر فليس منی، دا لمونځ د امام ابوحنيفه رحمه الله په نِز واجب دی او د صاحبينو رحمهما الله ؤ په نِز سنت دی او دا به درې رکعاته لمونځ په يوه سلام سره کوي او دېغه قول د اکابرو صحابه لکه حضرت عمر، ابن مسعود، انس، ابن عباس، او د ابو امامه رضوان الله تعالی عليهم اجمعين دی ، او د فقهائي سبعه مدينه هم دا قول دی، په وتر لمانځه کي مستحب دادی چي په اول رکعات کي" سبح اسم ربک الاعلی "په دوهم رکعات کي" قل يا ايهاالکافرون "او په دريم رکعات کي" قل هو الله احد "وويل سي او دعائي قنوت د رکوع څخه د مخه به دريم رکعات ويل کيږي او د حضرت عبدالله بن عمر په حديث کي دي او د ابن عباس په روايت کي دغه ډول منقول دي، د ځينو علماؤ قول دی چي د دعائي قنوت لپاره دي څه خاص الفاظ نه مقرريږي بلکي څه ډول چي کيدی سي د الله تعالی څخه يې وغواړي مګر د اکثره علماؤ قول دادی چي کومي دعاګاني په روايت کي منقولي دي د هغو ويل بهتر دي چي په هغه کي د ټولو ښه دعاء مشهوره او معروفه ده" اللهم انا نستعينک....الخ "او د رمضان څخه علاوه وتر لمونځ په جماعت سره کول مکروه دي او که چېري مقتدی د اول يا دوهم رکعات څخه پاته سي نو هغه دي د امام سره دعائي قنوت ووايي ولي چي دغه دريم رکعات دی او د دعاء تکرار هم جائز نه دی او که چېري د وتر لمونځ کولو په وخت کي په شک کي ولويږي چي دا دوهم رکعات دی که دريم وي نو دي دوه واره قنوت ووايي ولي چي په دې دوو رکعاتو کي دا

احتمال دی چي کیدی چي دریم رکعات وي او د دعائي قنوت تکرار هغه وخت غیر مشروع دی چي کله علی الیقین دریم رکعات معلوم وي او په دې صورت کي یو په خپل ځای کي دواړه نه دي، په محیط کي دي چي د امام محمد رحمه الله قول په دعائي قنوتو کي د جهر کولو دی او امام یوسف رحمه الله په قنوت کي د جهر قائل نه دی صاحب کتاب د برهاالدین قول نقل کړی دی چي په بلاد عجم کي جهر بهتر دی د دې لپاره چي خلک یې ایزده کړي مګر دا قول د دې لپاره مقبول نه دی چي د لمانځه د ایزده کولو محل نه دی د دې لپاره تحوله محققین لکه صاحب هدایه وغیره اخفاء ته بهتر ویلي دي او په دې باندي تر ننه پوري زموږ په زمانه کي د علماؤ عمل جاري دی او د مقتدی لپاره هم بهتر دغه دی چي هغه هم په خفیه طور دعائي قنوت ووایي.

دا فصل په بيان كي د لمانځه د فاسدوونكو شيانو دى

(فَصْلٌ فِيمَا يُفْسِدُ الصَّلٰوةَ)

وَاِذَا تَكَلَّمَ بِكَلَامِ النَّاسِ نَاسِيًا اَوْعَامِدًا اتَفْسُدُ بِشَرْطِ اَنْ يَّكُوْنَ مَسْمُوْعًا لِنَفْسِهٖ وَاِنْ لَّمْ يُصَحِّحْ حُرُوْفَهٗ اَوْيَكُوْنَ مُصَحِّحًا وَاِنْ لَّمْ يُسْمَعْ وَاِنْ نَامَ فَتَكَلَّمَ اَوْ ضَحِكَ وَهُوْنَآئِمٌ تَفْسُدُ وَاِنْ اَنَّ فِيْ صَلٰوتِهٖ اَوْتَاَوَّهَ اَوْاَبْكٰى فَارْتَفَعَ بَكَاؤُهٗ اِنْ كَانَ مِنْ ذِكْرِ الْجَنَّةِ اَوِ النَّارِ لَمْ يَقْطَعْهَا وَاِنْ كَانَ مِنْ وَجْعٍ اَوْمُصِيْبَةٍ يَقْطَعُهَا وَلَافَرْقَ بَيْنَ قَوْلِهٖ اَوَّهْ وَبَيْنَ قَوْلِهٖ اٰهْ وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ اٰخِرًا لَاتَفْسُدُ فِيْ اٰهْ وَاُفْ وَتُفْ وَفِى الْمُلْتَقَطِ اِذَا لَعَسَتْهُ الْحَيَّةُ فَقَالَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ تَفْسُدُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ خِلَافًا لِاَبِىْ يُوْسُفَ وَرُوِىَ عَنْ مُحَمَّدٍ اِنْ كَانَ الْمَرِيْضُ لَايَمْلِكُ نَفْسَهٗ لَاتَفْسُدُ كَمَالَوْ تَجَشّٰى اَوْعَطَسَ فَرْتَفَعَ صَوْتُهٗ وَحَصَلَ بِهٖ حُرُوْفٌ لَمْ تَفْسُدْ ذَكَرَهُ الْخَاقَانِيَّةُ.

ژباړه: چي كله د خلكو په راز خبري وكړي كه په ايره سره وي يا قصداً نو فاسد كيږي په دې شرط چي هغه كلام خپله واوري كه څه هم د هغه حروف صحيح نه وي كه څه هم يې نه واوري او كه چېري بيده سو او بيا يې كلام وكړ يايې وخندل او هغه بيده وو نو د هغه لمونځ فاسد دى كه چېري يې په لمانځه كي فرياد وكړ يا يې وژړل وژړل په لوړ اواز سره وه نو كه چېري د جنت يا د دوزخ په يادېدو سره وي نو لمونځ نه فاسده وي او كه د درد يا مصيبت په وجه وي نو لمونځ فاسده وي او د هغه په قول په اه آه كي هيڅ فرق نسته او ابويوسف رحمه الله په قول چي په آخر كي يې ويلي دي چي آه، اف او تف لمونځ نه فاسده وي او په ملتقط كي دى چي كله هغه مار وخوري

نو يې ووېل بسم الله الرحمٰن الرحيم نو د امام محمد رحمه الله په نِز فاسده وي په خلاف د امام ابويوسف رحمه الله ،او د امام محمد رحمه الله څخه روايت سوی دی که چېري ناروغه په ځان باندي کنټرول نه کي پيدا نو نه يې فاسده وي لکه څنګه چي يو څوک آرړی يا آرړمی وکاړي او د هغه آواز لوړسي او ورسره حروف هم حاصل سي نو نه يې فاسده وي دا په خاقانيه کي ذکرسوي دي .

تشريح: په لمانځه کي خبري کول حرامي دي او په دې سره لمونځ فاسديږي که څه هم په ايره سره وي، د حضرت امام شافعي رحمه الله په نِز په ايره كلام كولو سره لمونځ نه فاسديږي د هغه مشهور حديث مبارک په وجه چي عليه السلام مبارک ويلي دي چي الله تعالى پوره کړي ده زما د امت څخه خطا او ايره په چا چي زور وکړل سي، مګر د احنافو په نِز د دې حکم څخه أخروي مراد دی يعني د ګناهو ليري كول، نو فساد د لمانځه چي کوم دنيوی حکم دی هغه مراد نه اختتل کيږي او زموږ دليل د مسلم شريف دا روايت دی" ان صلوتنا هٰذه لا يصلح فيما شی من كلام النساء "يعنى زموږ په دې لمانځه کي د انسانانو هيڅ کلام نسته، او د كلام کمه درجه داده چي متكلم كه کوڼ نه وي نو هغه يې خپله آوريدی سي ولي که چېري د صحت باوجود يې متكلم خپله نه اوري نو دا فقط اشاره ده كه چېري مصلی په لمانځه کي د تكليف آواز وکړ يعني آه يا د همزه په ضمه او د واو په سکون سره آه اواز يې راويستی ياپې په زور سره ژړا شروع کړه که چېري دا د خوف آخرت په وجه وي نو لمونځ نه فاسد کيږي ولي چي دا دعائ رحمت په ډول ده او که چېري د دنياوي مصيبت په وجه وي نو لمونځ يې فاسد کيږي ولي چي دا بمنزله د شكايت دی .

وَفِي الذَّخِيْرَةِ اِذَاقَالَ الْمَرِيْضُ يَارَبِّ اَوْقَالَ بِسْمِ اللهِ لِمَا يَلْحَقُهُ مِنَ الْمُشَقَّةِ لَاتَفْسُدُ وَلَوْ اَجَابَ بِلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اَوْ اُخْبِرَ بِمَا يَسُرُّهُ اَوْ اَوْبِمَا يَسُوْءُهُ اَوْ يُعْجِبُهُ فَقَالَ سُبْحَانَ اللهِ اَوْقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ اَوْقَالَ لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ تَفْسُدُ عِنْدَهُمَا خِلَافًا لِاَبِيْ يُوْسُفَ وَذَكَرَ الْقَاضِي الْاِمَامُ فَخْرُ الدِّيْنِ فِيْ قَوْلِهِ اَجَابَ هَلْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللهِ فَقَالَ لَااِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَلَوْ اَرَادَ اِعْلَامَهُ اَنَّهُ فِي الصَّلٰوةِ لَاتَفْسُدُ وَلَوْ عَطَسَ فَقَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لَاتَفْسُدُ وَلَوْ عَطَسَ اٰخَرُ فَقَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ يُرِيْدُ اِسْتِفْهَامَهُ تَفْسُدُ وَلَوْ عَطَسَ فِي الصَّلٰوةِ فَقَالَ لَهُ اٰخَرُ يَرْحَمُكَ اللهُ فَقَالَ الْمُصَلِّيْ اٰمِيْنَ تَفْسُدُ وَاِنْ فَتَحَ عَلٰى مَنْ لَيْسَ مَعَهُ فِي الصَّلٰوةِ تَفْسُدُ صَلٰوتُهُ وَاِنْ فَتَحَ عَلٰى اِمَامِهِ قِيْلَ اِنْ فَتَحَ بَعْدَ مَاقَرَءَ مِقْدَارَ مَاتَجُوْزُ بِهِ الصَّلٰوةُ تَفْسُدُ وَالصَّحِيْحُ اَنَّهُ لَاتَفْسُدُ وَاِنِ انْتَقَلَ الْاِمَامُ اِلٰى اٰيَةٍ اُخْرٰى فَفَتَحَ عَلَيْهِ بَعْدَ الْاِنْتِقَالِ تَفْسُدُ صَلٰوةُ الْفَاتِحِ وَاِنْ اَخَذَ الْاِمَامُ تَفْسُدُ صَلٰوةُ الْكُلِّ وَاِنْ فَتَحَ غَيْرُ الْمُصَلِّيْ عَلَى الْمُصَلِّيْ وَاَخَذَ بِفَتْحِهِ تَفْسُدُ وَاِنْ اَكَلَ اَوْشَرِبَ عَامِدًا اَوْنَاسِيًا تَفْسُدُ.

ژباړه: په ذخيره کي راغلي دي که يو ناروغه د تکليف په وجه سره يا رب، يا بسم الله ووايي نو لمونځ يې نه فاسد کيږي او که چېري چا په لمانځه کي په لااله الا الله سره ځواب ورکړ يا د خوشالۍ يا د غم يا عجب خبر ورکړل سو بيا يې سبحان الله، الحمدلله، يا لاحول ولاقوة الا بالله ووايه نو د طرفينو په نِز فاسد کيږي په خلاف د ابويوسف رحمه الله ، قاضی امام فخرالدين رحمه الله ويلي دي چي لمونځ کونکي ته که

څوک ووايي چي آيا د الله تعالی څخه ماسوای بل معبود سته؟ بيا هغه لااله الا الله ووايه که څه هم د هغه اراده داوي چي هغه په لمانځه کي دی بيا هم نه سو فاسد، که اربمی په لمانځه کي ورته راله نو يې الحمدلله ووايه لمونځ يې نه فاسد کيږي که چيري دوهمه اربمی راله نو لمونځ کونکي الحمدلله د هغه د تعليم لپاره ووايه نو فاسد کيږي که چيري په لمانځه کي يوسړي ته آربمی راله نو يوبل سړي د هغه لپاره يرحمک الله ووايه بيا لمونځ کونکي آمين ووايه نو فاسد سو که چيري يې دې سړي ته لقمه ورکړه چي د ده سره په لمانځه کي شريک نه وو نو د هغه لمونځ فاسد سو او که چيري يې خپل امام ته لقمه ورکړه د دومره قرآئت ويلو وروسته په کوم سره چي لمونځ جائز کيږي نو صحيح دادی چي نه فاسد کيږي، که امام دوهم آيت ته منتقل سي او يوچا لقمه ورکړه نو د لقمې ورکونکی لمونځ فاسد کيږي او که چيري يې په لمانځه کي خوړل يا څښل وکړه که په ايره يا قصداً سره وي نو لمونځ يې فاسديږي .

تشريح: د امام ابويوسف رحمه الله د قول مطابق که چيري چا د درد په وجه د يا رب يا بسم الله الفاظ ادا کړل نو د هغه لمونځ نه فاسد کيږي ولي چي دا الفاظ ذکر الله دي چي فقط د انسان په اراده سره نه بدليږي او امام ابويوسف رحمه الله په داسي الفاظو کي د ملفوظ خيال کړی دی د نيت نه، که چيري لمونځ کونکي امام ته لقمه يعني ګوله يې ورکړه او امام په قدر مايجوز به الصلوة قرآئتِ ووايه نو د اصح قول مطابق د مقتدي او امام دواړو لمونځ نه فاسد کيږي لکه څنګه چي په يوه روايت کي راغلي دي چي عليه السلام مبارک په لمانځه کي د سورة المؤمنين تلاوت يې وکړ او په قرآئت ويلو سره يې يوه کلمه ايره سوه نو چي کله د لمانځه څخه فارغه سو نو يې ووېل چي په تاسو کي أُبی موجود نه وو هغه ځواب ورکړ چي حضرت ولي دی، نو عليه السلام مبارک ووېل چي تا وماته لقمه ولي را کړه ، نو أُبی رضی الله

عنه ځواب وکړ چي زما خیال وو چي شاید دا کلمه منسوخه سوي ده نو علیه السلام مبارک وویل که چیري منسوخه سوي وای نو ما به ضرور تاسو ته ویل، نو دا د لمانځه د نه فاسدیدو واضح دلیل دی.

دغه ډول که چیري امام دوهم آیت ته منتقل سوی وي بیا هم د اکثرو علماؤ د قول مطابق لمونځ نه فاسد کیږي.

وَكَذَا الْعَمَلُ الْكَثِيْرُ وَكُلُّ عَمَلٍ يُشِكَّ النَّاظِرُ اَنَّهُ لَيْسَ فِي الصَّلٰوةِ فَهُوَ عَمَلٌ كَثِيْرٌ وَقَالَ بَعْضُهُمْ كُلُّ عَمَلٍ يُعْمَلُ بِالْيَدَيْنِ عُرْفًا فَهُوَ كَثِيْرٌ وَذُكِرَ فِي الْمُلْتَقَطِ لَايُعْتَبَرُ فِيْ فَسَادِ الصَّلٰوةِ عَمَلُ الْيَدَيْنِ وَلٰكِنْ يُعْتَبَرُ الْقِلَّةُ وَلَا كَثْرَةُ وَلَوِادَّهَنَ بِدُهْنٍ اَخَذَهُ مِنْ اِنَاءٍ اَوْكَانَ بِيَدِهٖ فَاَخَذَهُ بِيَدِهِ الْاُخْرٰى وَادَّهَنَ بِهٖ رَاْسَهُ اَوْسَرَّجَ شَعْرَهُ تَفْسُدُ وَلَوْكَانَ الدُّهْنُ اَوْنَحْوُهُ بِيَدِهٖ فَمَسَحَهُ بِرَاْسِهٖ لَاتَفْسُدُ وَاِنْ حَمَلَتِ الْمَرْاَةُ صَبِيًّا فَاَرْضَعَتْهُ تَفْسُدُ وَاِنْ مَصَّ صَبِيٌّ ثَدْىَ اِمْرَاَةٍ تُصَلِّيْ اَنْ خَرَجَ مِنْهُ اللَّبَنُ تَفْسُدُ وَاِلَّا فَلَا وَاِنْ صَافَحَ بِيَدِهٖ يُرِدُّ السَّلَامَ تَفْسُدُ وَلَوْ رَفَعَ الْعِمَامَةَ مِنْ رَاْسِهٖ وَوَضَعَ عَلَى الْاَرْضِ اَوْرَفَعَ مِنَ الْاَرْضِ وَوَضَعَ عَلٰى رَاْسِهٖ اَوْنَزَعَ الْقَمِيْصَ اَوْتَعَمَّمَ بِيَدٍ وَّاحِدَةٍ لَاتَفْسُدُ وَلٰكِنْ يُكْرَهُ وَلَوْ ضَرَبَ اِنْسَانًا بِيَدٍ وَّاحِدَةٍ اَوْ ضَرَبَهُ بِسَوْطٍ وَنَحْوِهٖ تَفْسُدُ صَلٰوتُهُ كَذَا فِي الْمُحِيْطِ وَذُكِرَ فِي الذَّخِيْرَةِ اِنَّ الْمُصَلِّيْ عَلَى الدَّآبَّةِ اِذَا ضَرَبَهَا مَرَّةً اَوْمَرَّتَيْنِ لَاتَفْسُدُ وَاِنْ ضَرَبَهَا لِاِسْتِسْرَاعِ السَّيْرِ تَفْسُدُ وَبَعْضُ الْمَشَايِخِ قَالُوْا اِذَا ضَرَبَهَا مَرَّةً اَوْمَرَّتَيْنِ لَاتَفْسُدُ وَاِنْ ضَرَبَهَا ثَلٰثَ مَرَّاتٍ مُتَوَالِيَاتٍ تَفْسُدُ وَبَعْضُ

مَشَايِخِنَا قَالُوْا اِذَاكَانَ مَعَهُ سَوْطٌ فَهَشَّهَابِهِ وَفِىْ نُسْخَةٍ فَهَيَّاهَا اَوْنَخَسَّاهَا لَاتَفْسُدُ وَلَوْهَدّٰى بِهِ اِلَى الطَّرِيْقِ وَضَرَبَهَا تَفْسُدُ وَاِنْ حَرَّكَ رِجْلًا لَا عَلَى الدَّوَامِ لَاتَفْسُدُ وَاِنْ حَرَّكَ رِجْلَيْهِ تُفْسِدُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ اِنْ حَرَّكَ رِجْلَيْهِ قَلِيْلًا لَاتَفْسُدُ.

ژباړه: دغه ډول عمل کثير لمونځ فاسده وي او هر هغه عمل چي کتونکی په دې شک کي واچوي چي دا سړی لمونځ کونکی دی نو هغه عمل کثير دی او ځينو علماؤ ويلي دي چي هر هغه عمل چي په دواړو لاسو سره وکړل سي نو دا عمل کثير دی او په ملتقط کي ذکرسوي دي چي د لمانځه په فاسديدو کي د دواړو لاسو عمل معتبر نه دی بلکي کمي او زياتی معتبر دی، که چېري يې تيل ولګول چي د لونبي څخه يې اخستي وه يا د هغه په لاس د اول څخه وه نو يې په دوهم لاس ولګول او په سر يې ولګول ياي يې وربښتان زمونږ کړل نو فاسد کيږي او که چېري تيل يا د هغه په مثل يې په لاس وو او هغه يې په سر مسحه کړل نو نه فاسد کيږي، که ښځي کوچنی پورته کړ او هغه ته يې شيدې ورکړي نو فاسد کيږي او که چېري کوچني په لمانځه کي د ښځي تيان کش کړل نو د هغوی څخه شيدې ووتلې نو فاسد دی که نه وي نو نه دی، که يې د سلام په نيت روغبړ وکړ نو فاسد کيږي او که چېري يې د سر څخه لنګوټه راواخستله او په مځکه يې کښېښوولهٔ يا د ځمکي څخه يې پورته کړه په سر يې کړه ياي يې قميص ويستی يا په لاس سره يې لنګوټه وتړله نو لمونځ نه فاسد کيږي مګر مکروه دی که چېري يو سړي په لاس سره يا په اوسپني سره يا په يو بل شي سره بل سړی ووهي نو د هغه لمونځ فاسد کيږي او ځيني علماء وايي چي کله د هغه سره اوسپنه وي او په دې سره يې راوګرځوي او په يوه نسخه کي دي چي بيا يې هغه تياره کړه يا يې په تيره کړه نو نه فاسد کيږي او که چېري يې هغه په ووهي يا لار ور وښيي نو فاسد کيږي. او که يوه پښې ته يې حرکت ورکړ مګر هميشه نه نو نه

فاسد کيږي که چېرې دواړو پښو ته يې حرکت ورکوی نو فاسد کيږي او ځينو ويلي دي که يې دواړو پښو ته معمولي حرکت ورکړ نه فاسديږي .

تشريح: د عمل کثير په تعريف د فقهاؤ کرامو څخه پنځه اقوال نقل دي ۱ عمل کثير هغه دی چي د هغه کولو والا د کتونکي په نظر کي په ظن غالب وي چي لمونځ نه کوي، دا د جمهورو علماؤ قول دی او دغه اصح قول دی .

۲: کوم کار چي عادتاً په دواړو لاسو سره کول کيږي هغه کثير دی که څه هم لمونځ کونکی هغه په يوه لاس باندي وکړي لکه لنګوټه تړل چي په يوه لاس سره کيږي، هغه قليل که څه هم لمونځ کونکی يې په دواړو لاسو وکړي لکه د خولۍ پرسر کول يا ايستل، ۳ درې حرکتونه پرله پسې کول داهم کثير دی که نه وي نو نه دی بلکي قليل دی، ۴ عمل کثير هغه دی چي کونکی مقصود وي يعنی د هغه لپاره چي جلا مجلس کوي، ۵ عمل کثير هغه دی چي کوم لمونځ کونکی دا خپل کارونه ډېر وګڼي، اوس د دې پنځو اقوالو په تناظر کي مصنف رحمه الله مختلف صورتونه بيان کړي دي چي د يوه څخه يو ډول په يوه قول منطبق کيږي .

وَعَنْ اَبِيْ بَكْرٍ فِيْ مَنْ قِيْلَ لَهُ كَمْ صَلَّيْتُمْ فَاَشَارَ الْمُصَلِّيْ بِيَدِهِ اِلٰى اَنَّهُمْ صَلَّوْا رَكْعَتَيْنِ لَاتَفْسُدُ وَاِنْ كَتَبَ مَاتَسْتَبِيْنُ حُرُوْفُهُ اِنْ كَانَ اَقَلَّ مِنْ ثَلٰثِ كَلِمَاتٍ لَاتَفْسُدُ وَاِنْ زَادَ عَلٰى ذٰلِكَ تَفْسُدُ وَفِي الْمُلْتَقَطِ وَلَوْ قَالَ الْمُصَلِّيْ مِثْلَ مَاقَالَ الْمُؤَذِّنُ تَفْسُدُ صَلٰوتُهُ وَفِي الْخَانِيَّةِ اِنْ اَذَّنَ يُرِيْدُ بِهِ الْاَذَانَ تَفْسُدُ وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ لَاتَفْسُدُ مَالَمْ يَقُلْ حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ وَلَوْسَمِعَ اسْمَ اللهِ تَعَالٰى فَقَالَ جَلَّ جَلَالُهُ اَوْسَمِعَ اسْمَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ اَرَادَ اِجَابَتَهُ تَفْسُدُ

وَاِنْ لَّمْ يُرِدِ الْجَوَابَ لَاتَفْسُدُ وَلَوْ اَنْشَاَشِعْرًا اَوْخُطْبَةً وَّلَمْ يَتَكَلَّمْ بِلِسَانِهٖ لَاتَفْسُدُ وَقَدْ اَسَآءَ وَلَوْرَدَّ السَّلَامَ بِيَدِهٖ اَوْبَرَاْسِهٖ اَوْطُلِبَ مِنْهُ شَئٌ فَاَوْمٰى بِرَاْسِهٖ لَاتَفْسُدُ وَلَوْقَالَ اَللّٰهُمَّ اَكْرِمْنِيْ اَوْقَالَ اَنْعِمْ عَلَيَّ اَوْاَصْلِحْ اَمْرِيْ اَوْقَالَ اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِي الْعَافِيَةَ اَوْقَالَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ لَاتَفْسُدُ وَلَوْقَالَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاَخِيْ فِيْهِ اِخْتِلَافُ الْمُتَاَخِّرِيْنَ وَلَوْقَالَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِعَمِّيْ اَوْلِخَالِيْ تَفْسُدُ وَلَوْقَالَ اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ رُؤْيَتَكَ اَوْجَنَّتَكَ اَوْحَجَّ بَيْتِكَ لَاتَفْسُدُ وَلَوْقَالَ اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ دَآبَّةً اَوْكَرْمًا اَوْزَوْجَةً اَوْنَحْوَ ذٰلِكَ اَوْقَالَ اَللّٰهُمَّ اقْضِ دَيْنِيْ تَفْسُدُ وَلَوْنَظَرَ كِتَابٍ وَفَهِمَ مَافِيْهِ اِنْ نَظَرَ غَيْرَ مُسْتَفْهِمٍ لَاتَفْسُدُ بِالْاِجْمَاعِ وَاِنْ نَظَرَ مُسْتَفْهِمًا ذُكِرَ فِي الْمُلْتَقَطِ تَفْسُدُ وَذُكِرَ فِي الْاَجْنَاسِ لَاتَفْسُدُ عِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ وَبِهٖ اَخَذَ مَشَايِخُنَا وَاِنْ قَرَءَ مِنَ الْمُصْحَفِ اَوْمِنَ الْمِحْرَابِ تَفْسُدُ عِنْدَ اَبِيْحَنِيْفَةَ خِلَافًا لَّهُمَا.

ژباړه: د ابوبکر رضي الله عنه څخه روایت دی د هغه سړی په باره کي د چا په باره کي چي چا ته وویل سي چي تا څومره لمونځونه کړي دي نو لمونځونکي په لاس سره اشاره وکړه چي هغه دوه رکعات کړي دي نو نه فاسد کیږي او که یې واضح حروف ولیکل نو که چیري د درو کلماتو څخه کم وي نو نه فاسد کیږي او که د دې څخه زیات وي نو فاسد کیږي او په ملتقط کي راغلي دي که چیري لمونځ کونکی په مثال د مؤذن کلمات ادا کړي نو د هغه لمونځ فاسد سو او په خاقانیه کي راغلي دي که یې د اذان په کلماتو سره د اذان کولو اراده وي نو فاسد کیږي او ابو یوسف رحمه الله ویلي دي

چې تر څه وخته پورې يې حى الصلوة نه وي ويلى نو نه فاسد كيږي، كه يې د الله تعالى نوم واوريدى نو جل جلاله يې ووايه يا يې د نبى عليه السلام نوم مبارك واوريدى نو يې صلى الله عليه وسلم ووايه كه چېري يې په دې سره ځواب وركول مقصود وي نو فاسد كيږي او كه يې ځواب وركول مقصود نه وي نو نه فاسد كيږي، كه چېري يې په زړه زړه كې يو شعر يا خطبه جوړه كړه او په ژبه يې تكلم نه وكړ نو نه فاسد كيږي بلكې ګناهګار سو، كه يې د سلام ځواب په سر د لاس اشاره سره وركړ يا يې په دې سره يو شى وغوښتى بيا په سر سره اشاره وكړه نو نه فاسد كيږي او كه چېري يې وويل چې يا الله ماته عزت راكړې يا پر ما انعام وكړې يا زما ټوله امور ترسره كړې يا ماته عافيت نصيب كړې يا زما مور او پلار او ټولو مومنانو ته بخښنه وكړې نو نه فاسد كيږي او كه يې وويل يا الله زما ورور ته مغفرت وكړې نو په دې كې د متاخرينو علماؤ اختلاف دى، او كه يې وويل يا الله زما اكا او ماما ته مغفرت وكړې نو فاسديږي او كه يې وويل چې يا الله ماته خپل ديدار يا خپل جنت يا د خپل بيتې حج رانصيب كړې نو نه فاسديږي او كه يې وويل چې يا الله ماته سوارى يا انګور يا مينه وغيره رانصيب كړې يا يې وويل چې يا الله زما پور ادا كړې نو په دې سره لمونځ فاسديږي، او كه يې يو ليكل سوى شى وليدى او هغه يې وفهموى او كه يې د ويلو په نيت نه وي ليدلى نو بالاتفاق نه فاسديږي، كه يې د ويلو په نيت سره كتلى وي نو په ملتقط كې دي چې فاسد كيږي او په اجناس كې دي چې د ابو يوسف رحمه الله په نز نه فاسديږي او په دغه باندې زمونږ د علماؤ اختلاف دى، كه يې د مصحف يا د مخ د ديوار څخه قرآن ووايه نو د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله په نز فاسديږي په خلاف د صاحبينو.

دا عبارت د انتهائي وضاحت په وجه ناقابل د تشريح دى

وَلَوْ اَخَذَ حَجَرًا فَرَمٰى بِهِ طَائِرًا تَفْسُدُ وَلَوْ كَانَ مَعَهُ حَجَرٌ فَرَمٰى بِهِ لَاتُفْسِدُ وَقَدْ اَسَآءَ وَقَالَ فِي الْاَجْنَاسِ اِنْ رَمٰى بِاَطْرَافِ اَصَابِعِهِ وَاحِدًا لَاتَفْسُدُ وَلَوْ حَكَّ جَسَدَهُ مَرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ لَاتَفْسُدُ وَلٰكِنْ يَكْرَهُ وَكَذَا اِذَا فَعَلَ مِرَارًا غَيْرَ مُتَوَالِيَاتٍ وَلَوْ فَعَلَ مِرَارًا مُتَوَالِيَاتٍ تَفْسُدُ وَهٰذَا اِذَا رَفَعَ يَدَهُ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ وَاَمَّا اِذَا لَمْ يَرْفَعْ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ فَلَاتَفْسُدُ وَذُكِرَ فِي الْاَجْنَاسِ اِذَا قَتَلَ الْقُمْلَةَ مِرَارًا اِنْ قَتَلَ مُتَدَارِكًا تَفْسُدُ وَاِنْ كَانَ بَيْنَ الْقَتْلَاتِ فُرْصَةً لَاتَفْسُدُ وَالْكَفُّ عَنْهُ اَفْضَلُ وَكَذَا لَوْ رَوَّحَ بِثَوْبِهِ اَوْ بِمِرْوَحَةٍ مَرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ تَفْسُدُ وَلَوْ تَنَحْنَحَ يُرِيْدُ بِهِ اِعْلَامَهُ اَنَّهُ فِي الصَّلٰوةِ وَسُمِعَ حُرُوْفُهُ اَوْ تَنَحْنَحَ لِتَحْسِيْنِ الصَّوْتِ مُتَعَمِّدًا تَفْسُدُ عِنْدَهُمَا كَذَا ذَكَرَهُ فِي الْاَجْنَاسِ وَلَوِ اسْتَأْذَنَ رَجُلٌ نِ الْمُصَلِّيْ فَجَهَرَ بِالْقِرَآءَةِ اَوْ قَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اَوِ اللّٰهُ اَكْبَرُ لَاتَفْسُدُ وَاِنْ قَبَّلَتِ الْمُصَلِّيْ اِمْرَاَتُهُ وَلَمْ يَشْتَهِهَا هو فَصَلٰوتُهُ تَامَّةٌ وَلَوْ قَبَّلَهَا هُوَ بِشَهْوَةٍ اَوْ بِغَيْرِ شَهْوَةٍ فَسَدَتْ.

ژباړه: که يې ډبره په لمانځه کي را واخسته او مرغه ته يې ور وغورځوله نو لمونځ يې فاسديږي که د هغه سره ډبره وي بيا يې هغه وويشتی نو نه فاسديږي که چېري يې د يوې ګوتي د کنارو سره صرف يو وار وويشتی نو نه فاسديږي او که يې خپل ځان يو يا دوه واره وګوروی نو لمونځ يې فاسد نه دی مګر مکروه دی دغه ډول که يې چېري دا عمل څو واره وکړ مګر پرله پسې نه وي او که پرله پسې يې څو واره وکړ نو فسدسو او دا هلته چي هر وار لاس پورته کړي که يې هر وار د خارش والا ځای څخه لاس نه کی پورته نو نه فاسديږي، په اجناس کي راغلي دي که چېري يې

په لمانځه کي شپېږي مړې کړي نو که يې مسلسلې مړې کړي وي نو فاسد سوی دی
که يې په مړه کولو کي څه وقفه کړي وي نو نه فاسدېږي او د هغه نيول افضل دی.
دغه ډول که يې چېړي په کالو يا په يوشي سره يې ځانته يو يا دوه واره هوا ورکړه نو
لمونځ يې فاسدېږي. که يې په لمانځه کي غاړه صفا کړه نو د شيخينو رحمهما الله په
نز فاسدېږي دغه ډول په اجناس کي ذکر دي که چا د لمونځ کونکي څخه اجازت
واخ کړ نو هغه قرآئت په زور سره ووايه يا يې الحمد لله يا الله اکبر يې ووايه نو
لمونځ يې نه فاسدېږي، که چېړي لمونځ کونکي يو ښځه مچ کړه او لمونځ کونکی
يې نه کړ مچ نو د هغه لمونځ پوره دی او که چېړي لمونځ کونکی هم هغه مچ کړه که
په شهوت سره وي او که بېله د شهوت نو فاسد سو.

تشريح: که چېړي يې ډبره پورته کړه مرغه يې وويشتی نو د عمل کثير په وجه
لمونځ فاسده وي البته که چېړي ډبره اول په لاس کي وه نو فقط ويشتل عمل قليل
دی د دې لپاره مفسد نماز نه دی که چېړي دغه ډبره يو انسان ته ورسره کړي نو بيا
مخاصمه يعني دعوه وسوه او متاصمه د عمل کثير په وجه مفسده ده دغه ډول په
لمانځه کي شپېږي مړي کول د امام ابوحنيفه رحمه الله په نز مکروه دی او د امام
محمد رحمه الله په نز مکروه نه دی، مصنف رحمه الله د خبرداري يا تحسين صوت لپاره
غاړي تازه کولو د حضراتو شيخينو په نز مفسد ګڼلی دی حالانکي صحيح دادی چي
دا مسئله د طرفينو ده ولي چي ابويوسف رحمه الله د دوو حروفو کوم يو چي د زوائدو
څخه وي د فساد نماز قائل نه دی او که چېړي غاړي تازه کول د عذر په وجه وي نو
بالاتفاق مفسد نه دی مثلاً چي کله يې په قرآئت کي آواز بند سي نو دا غاړي تازه
کول د لمانځه د اصلاح لپاره دي لکه څنګه چي د بنا په صورت کي د اوداسه د خ ی
لپاره تک راتګ لمونځ نه فاسده وي، که چېړي د لمانځه په وخت کي خپلي ښځي د
لمونځ کونکي څخه مچه واخسته مګر لمونځ کونکی ولاړ وو نو لمونځ کامل دی

مګر که چېرې سړي د لمانځه په دوران کې مچه واخسته نو لمونځ فاسد دی که څه هم د شهوت بغير وي د دې لپاره چې نر فاعل د جماع دی، نو دواعی د جماع مرد د طرف څخه د جماع په معنٰی کې دی او ښځه فقط محل د جماع ده.

اَلْمُصَلِّیْ اِذَا وَسْوَسَهُ الشَّيْطٰنُ فَقَالَ لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ اِنْ كَانَ ذٰلِكَ فِیْ اَمْرِ الْاٰخِرَةِ لَا تَفْسُدُ وَاِنْ كَانَ فِیْ اَمْرِ الدُّنْيَا تَفْسُدُ كَذَا ذَكَرَهٗ فِی الذَّخِيْرَةِ اَلْمُصَلِّیْ اِذَا اَرَادَ اَنْ يُّسَلِّمَ عَلٰی غَيْرِهٖ سَاهِيًا فَقَالَ اَلسَّلَامُ فَتَذَكَّرَ فَسَكَتَ تَفْسُدُ وَذُكِرَ فِی الذَّخِيْرَةِ اَلْمَشْیُ فِی الصَّلٰوةِ اِذَاكَانَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ لَاتَفْسُدُ اِذَالَمْ يَكُنْ مُتَلَاحِقًا وَلَمْ يَخْرُجْ مِنَ الْمَسْجِدِ وَاِنْ كَانَ فِی الْفَضَاءِ لَاتَفْسُدُ مَالَمْ يَخْرُجْ عَنِ الصُّفُوْفِ وَبَعْضُ الْمَشَايِخِ قَالُوْ فِیْ رَجُلٍ رَاٰی فُرْجَةً فِی الصَّفِّ الثَّانِیْ فَمَشٰی اِلَيْهَا لَاتَفْسُدُ وَلَوْمَشٰی اِلَی الصَّفِّ الثَّالِثِ تَفْسُدُ هٰذَا اِذَالَمْ يَكُنْ مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ وَاَمَّا اِذَا اسْتَدْبَرَ الْقِبْلَةَ فَسَدَتْ كَمَا اِذَا اسْتَدْبَرَ الْقِبْلَةَ عَلٰی ظَنٍّ اَنَّهٗ رَعُفَ ثُمَّ تَبَيَّنَ اَنَّهٗ لَمْ يَكُنْ رَعُفَ فَسَدَتْ وَاِنْ لَّمْ يَخْرُجْ مِنَ الْمَسْجِدِ وَلَوْمَضَغَ الْعَلَكَ اَوِالْهَلِيْلَجَ تَفْسُدُ وَلَوِابْتَلَعَ مَابَقِیَ بَيْنَ اَسْنَانِهٖ اِنْ كَانَ زَائِدًا عَلٰی قَدْرِ الْحِمِّصَةِ تَفْسُدُ وَاِنْ كَانَ اَقَلَّ مِنْ قَدْرِ الْحِمِّصَةِ لَاتَفْسُدُ صَلٰوتُهٗ وَلَاصَوْمُهٗ.

ژباړه: که چېرې لمونځ کونکی شيطان په وسوسه کې واچوي بيا هغه لاحول ولا قوة ووايي که چېرې دا وسوسه د اٰخرت په باره کې وه نو لمونځ نه فاسديږي که د دنيايي امورو څخه وو نو فاسديږي دغه ډول په ذخيره کې دي چې لمونځ کوونکی چې کله په ايره سره د سلام کولو اراده وکړه نو د لفظ سلام ويلو وروسته يې په ياد

سو نو بیا چپ سو نو فاسدیږي او په ذخیره کي راغلي دي چي په لمانځه کي د قبلې طرف ته کیدل لمونځ نه فاسدیږي چي کله پرله پسې نه وي او د مسجده څخه نه وي وتلی که په خلاصه صحرا کي لمونځ کوي نو تر څه وخته پوري چي د جای صفوف څخه نه وي وتلی نو لمونځ نه فاسدیږي او ځینو خلګو د هغه سړي په باره کي ویلي دي چا چي په دوهم صف کي ګنجائش ولیدی بیا هغه طرف ته روان سو او که چېري دریم صف ته ولاړی نو فاسدیږي دا حکم هلته دی چي د قبلې وطرف ته شا ګرځونکی نه وي که چېري یې د قبلې وطرف ته شا کړه نو فاسدیږي که څه هم د مسجد څخه نه وي وتلی، که چېري یې ژاولي یا غوښه وژوولـه نو فاسدیږي که یې د غاښو په مابینځ کي بند شی تیر کړ نو که د نخود د دانې د مقدار څخه زیات وي نو فاسدیږي که چېري د نخود د مقدار څخه کم وي نو د هغه لمونځ او روژه نه فاسدیږي.

تشریح: که د لمونځ کوونکي دا ایر سي چي هغه لمونځ کوي بیا یې یو چاته سلام وکړ مګر صرف د السلام ویلو وروسته او د وعلیکم څخه تر مخه یې یاد سي چي هغه لمونځ کوي نو د طرفینو رحمهما الله په نِز د هغه لمونځ فاسد دی. امام ابو یوسف رحمه الله وایي چونکي د السلام لفظ ذکر دی د دې لپاره مفسد نه دی. که چېري لمونځ کونکی په خپل لمانځه کي مخته شاته، راسته یا چپه طرف ته ولاړ سي او د قبلې وطرف ته د هغه شا نه وي یا شا ته چپه روان وي مګر په هر صورت کي تلل مسلسل نه وي بیا د یو رکن په مقدار ودرېدی نو د هغه لمونځ نه فاسدیږي تر څه وخته پوري چي د مسجد څخه نه ووزي او که چېري په صحرا کي لمونځ کوي نو د موضوع صفوف څخه تجاوز نه وکړي، دغه ډول که چېري لمونځ کونکي ته د مخ په صف کي ځای په نظر سي او هلته ولاړ سي نو د هغه لمونځ نه فاسدیږي مګر که چېري د خپل صف څخه هم د مخ په صف کي ځای خالي وي او په هغه کي په پرله

پسې قدمو سره ولاړ سي نو د هغه لمونځ فاسدیږي البته که چېړي د هر قدم وروسته لږ ودرېدی نو لمونځ صحیح دی په غاښو کي بند شی که چېري د نخود د مقدار څخه زیات وي نو په دې سره لمونځ فاسدیږي او که چېري یې په خوله کي ګوړه یا بوره یا یوبل خوږ شی ایښی وي چي د هغه خوند لږ لږ و حلق ته ځي نو په دې سره لمونځ نه فاسدیږي ولي چي ډېر زیات کم وي.

دا فصل په بيان كي د سجده سهوي دى

(فَصْلٌ فِيْ سُجُوْدِ السَّهْوِ)

سَجْدَةُ السَّهْوِ وَاجِبَةٌ لَا تَجِبُ اِلَّا بِتَرْكِ الْوَاجِبِ اَوْ بِتَاخِيْرِهٖ اَوْ بِتَاخِيْرِ رُكْنٍ اَمَّا تَرْكُ الْوَاجِبِ فَهُوَ كَمَا اِذَا نَسِيَ قِرَاءَةَ الْقُنُوْتِ اَوِالتَّشَهُّدِ فِيْ اِحْدَى الْقَعْدَتَيْنِ فِيْ اَظْهَرِ الرِّوَايَاتِ وَكَمَا اِذَا نَسِيَ تَكْبِيْرَاتِ الْعِيْدَيْنِ وَكَمَا اِذَا جَهَرَ فِيْمَا يُخَافَتُ اَوْخَافَتَ فِيْمَا يَجْهَرُ وَذُكِرَ فِي الذَّخِيْرَةِ يَجِبُ بِسِتَّةِ اَشْيَآءٍ بِتَقْدِيْمِ رُكْنٍ نَحْوُ اَنْ يَّرْكَعَ قَبْلَ اَنْ يَّقْرَءَ وَيَسْجُدَ قَبْلَ اَنْ يَّرْكَعَ وَبِتَاخِيْرِ رُكْنٍ نَحْوُ اَنْ يَّتْرُكَ سَجْدَةً صُلْبِيَّةً فَتَذَكَّرَهَا فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ فَسَجَدَهَا اَوْ يُؤَخِّرَ الْقِيَامَ اِلَى الثَّانِيَةِ اَوِ الثَّالِثَةِ وَبِتِكْرَارِ الرُّكْنِ نَحْوُ اَنْ يَّرْكَعَ مَرَّتَيْنِ بِتَغْيِيْرِ الْوَاجِبِ نَحْوُ اَنْ يَّجْهَرَ فِيْمَا يُخَافَتُ اَوْيُخَافِتَ فِيْمَا يُجْهَرُ فِيْهِ وَبِتَرْكِ الْوَاجِبِ نَحْوُ اَنْ يَّتْرُكَ الْقَعْدَةَ الْاُوْلٰى فِي الْفَرَائِضِ وَبِتَرْكِ السُّنَّةِ الْمُضَافَةِ اِلٰى جَمِيْعِ الصَّلٰوةِ نَحْوُ اَنْ يَّتْرُكَ قِرَاءَةَ التَّشَهُّدِ فِي الْقَعْدَةِ الْاُوْلٰى وَقَالَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ اَلتَّشَهُّدُ فِي الْقَعْدَةِ الْاُوْلٰى وَاجِبٌ وَالْجَهْرُ وَالْمُخَافَتَهُ فِيْ مَحَلِهٖ وَاجِبٌ وَلَوْ جَهَرَ فِيْمَا يُخَافَتُ اَوْخَافَتَ فِيْمَا يُجْهَرُ قَدْرَ مَاتَجُوْزُ بِهِ الصَّلٰوةُ يَجِبُ وَهُوَ الْاَصَحُّ وَاِلَّا فَلَا وَذُكِرَ فِي النَّوَادِرِ اِنْ خَافَتَ الْفَاتِحَةَ اَوْاَكْثَرَهَا اَوْخَافَتَ مِنَ السُّوْرَةِ ثَلٰثَ اٰيَاتٍ قِصَارٍ اَوْ اٰيَةً طَوِيْلَةً فَعَلَيْهِ السَّهْوُ وَاِنْ خَافَتَ اٰيَةً

قَصِيْرَةً يَجِبُ عِنْدَهُ خِلَافًا لَهُمَا ثُمَّ اَدْنَى الْجَهْرِ اَنْ يَّسْمَعَ غَيْرُهُ وَاَدْنَى الْمُخَافَةِ اَنْ يَّسْمَعَ نَفْسُهُ وَهٰذَا هُوَ الْمُخْتَارُ ذَكَرَهُ فِي الْقُنْيَةِ.

ژباړه: سجده سهوه واجب ده او نه واجب کيږي مګر نه د واجب په پرېښوولو سره يا د هغه په موخر کولو سره يا د يوه رکن په تاخير سره، نو د واجب پرېښوول لکه دعاء قنوت، يا په ناسته کي يې التحياته ايره سي نو د ښکاره روايت مطابق او دغه ډول چي کله تکبيرات عيدين يې ايرسي دغه ډول که چېري د اخفاء په ځای جهر وکړي يا د جهر په ځای اخفا وکړي او په ذخيره کي راغلي دي چي په شپږو شيانو سره سجده سهوه واجب کيږي، د رکن مخکي کول لکه د قرآئت څخه تر مخه رکوع وکړي او د رکوع څخه تر مخه سجده وکړي او د رکن په تاخير سره لکه څنګه چي د لمانځه سجده پرېږدي بيا په دوهم رکعات کي په ياد ېدو سره هغه سجده وکړي يا ولاړه د دوهم يا دريم رکعات مؤخره کړي، په تکرار د رکن سره لکه چي رکوع دوه واره وکړي، د واجب په مغير کولو سره لکه څنګه چي د اخفاء په ځای جهر کول او د جهر په ځای اخفا کول او د واجب په پرېښوولو سره لکه چي په فرائضو کي اوله ناسته پرېږدي او د داسي سنت په پرېښوولو سره چي ټوله لمونځ په مثل منسوب وي لکه څنګه چي په اوله ناسته کي التحياته پرېښوول او ځينو علماؤ ويلي دي چي په اوله ناسته کي التحياته ويل واجب دي، جهر او اخفاء په خپل خپل ځايو کي واجب ده، او که چېري د اخفاء پر ځای جهر او د جهر پر ځای اخفاء په دومره مقدار کي ووايي په کوم سره چي لمونځ جائز کيدی سي نو سجده سهوه واجب ده که نه وي نه ده او دغه اصح قول دی، په نوادر کي ذکرسوي دي که چېري الحمد لله شريفه يې پوره يا اکثره خفيه وويل يا د سورت څخه درې آياته مختصر يا يو آيت لوی ووايه نو په هغه باندي سجده سهوه لازمه ده او که چېري يې يو ايت مختصر خفيه ووايه نو

د ابو حنیفه رحمه الله په نز واجب ده بخلاف د صاحبینو، نو بیا اداڼی جهر دادی چي د دې څخه علاوه یې یو څوک واوري او اداڼی اخفاء داده چي هغه یې خپله واوري او دغه مختار قول دی دغه یې په کوقنیه کي ذکر کړي دي.

تشریح: سجوده سهوه زموږ په نز واجب ده او دا په لمانځه کي مخته راتلونکي نقصاناتو لپاره جبیره ده لکه چي په امورو حج او عمره کي دم دی، په ترک واجب سره لازمیږي او سنتو و مستحباتو لکه ثناء، امین، تکبیرات، انتقالات او رکوع وسجودو کي په تسبیحاتو وغیره سره نه لازمیږي او نه د فرائضو په پرېښوولو سره سجده سهوه لازمه ده ولي چي د فرائضو جبیره په دې سره نه سي کېدی بلکي پرې ښوول د لمانځه دي او د فرائضو اعاده کول ضروري ده، صاحب ذخیره ویلي دي چي په شپږو شیانو سره سجده سهوه واجب کیږي.

۱: په تقدیم رکن سره د دې مثال مصنف رحمه الله دا پیش کړی دی چي رکوع د قرآئت څخه د مخه او سجده د رکوع څخه د مخه وکړل سي مګر رکوع د قرآئت څخه د مخه او سجده د رکوع څخه د مخه په لمانځه کي نه شمارل کیږي بلکي د قرآئت وروسته رکوع او د رکوع وروسته سجده کول لازم دي نو چي کله یې دوی په لمانځه کي شمار کړل نو دا د رکن مقدم کول نه سو البته په دا ډول کولو سره سجده سهوه د دې لپاره لازمه ده چي په دې زیادت سره د رکن تاخیر وسو.

۲: د رکن په تاخیر سره لکه څه ډول چي څوک په یوه رکعات کي یوه سجده ایره کړي په دوهم رکعات کي یې هغه په یاد راتلو سره ادا کړي یا په دوهم رکعات سره ولاړه مؤخره کړي یعني دا چي اول رکعات په دوهم باندي، یا په اوله ناسته کي د تحیاتي سره درود شریف یوځای کړي د دریم رکعات ولاړه مؤخره کړي.

۳: په تکرار رکن سره مثلاً د یوې رکوع پر ځای دوې یا د دوو سجدو پر ځای په یوه رکعات کي درې سجدې کول.

۴: واجب د خپل صفت څخه د دوهم صفت وطرف ته متغير كول لكه د جهر په ركعاتو كي خفيه او په خفيه كي جهر كول.

۵: په ترك د واجب سره لكه څوك چي اوله ناسته پريږدي د دريم ركعات لپاره ولاړ سي.

٦: د داسي سنت په پريښوولو سره د كوم نسبت چي د پوره لمانځه وطرف ته وكړل سي لكه د اولي ناستي التحياته ويل چي دې ته تهشد الصلوة ويل كيږي او تشهد قعده نه ويل كيږي لكه تسبيحات د ركوع او د سجودو صرف د ركوع او سجود وطرف ته منسوب كيږي.

مګر دا شپږم قسم د هغه علماؤ د قول مطابق دى چي د اولي ناستي التحياته سنت ګڼي او د جمهورو علماؤ مذهب دادى چي په اوله ناسته كي التحياته ويل واجب دي، ولي چي نبى كريم صلى الله عليه وسلم په دې مواظبت كړى دى.

وَلَوْقَامَ اِلَى الْخَامِسَةِ اَوْقَعَدَ فِى الثَّالِثَةِ يَجِبُ بِمُجَرَّدِ الْقِيَامِ وَالْقُعُوْدِ وَاِنْ نَهَضَ اِلَى الثَّالِثَةِ سَاهِيًا اِنْكَانَ اِلَى الْقُعُوْدِ اَقْرَبَ يَقْعُدُ وَفِىْ وُجُوْبِ السَّهْوِ عَلَيْهِ اخْتِلَافٌ وَاِنَّمَا يَكُوْنُ اِلَى الْقُعُوْدِ اَقْرَبُ اِذَالَمْ يَرْفَعْ رُكْبَتَيْهِ فَاِنْكَانَ اِلَى الْقِيَامِ اَقْرَبُ لَمْ يَقْعُدْ وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ وَلَوْ كَرَّرَ الْفَاتِحَةَ فِى الْاُوْلَيَيْنِ اَوْقَرَءَ الْقُرْاٰنَ فِىْ رُكُوْعِهٖ اَوْفِىْ سُجُوْدِهٖ اَوْفِى التَّشَهُّدِ يَجِبُ وَاِنْ قَرَءَ الْفَاتِحَةَ فِى الْاُخْرَيَيْنِ مَرَّتَيْنِ اَوْضَمَّ فِيْهِمَا سُوْرَةً اَوْقَرَءَ التَّشَهُّدَ مَرَّتَيْنِ فِى الْقَعْدَةِ الْاَخِيْرَةِ اَوْتَشَهَّدَ قَآئِمًا اَوْرَاكِعًا اَوْسَاجِدًا لَاسَهْوَ عَلَيْهِ كَذَافِى الْمُخْتَارِ وَلَوْ زَادَ فِى التَّشَهُّدِ فِى الْقَعْدَةِ الْاُوْلٰى اِن قَالَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ يَجِبُ بِالْاِتِّفَاقِ وَرُوِىَ عَنْ اَبِىْ حَنِيْفَةَ اَنَّهُ اِنْ زَادَ حَرْفًا وَاحِدًا

يَجِبُ وَرَوِىَ عَنْهُمَا اِنْ قَالَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ لَايَجِبُ وَاِنْ سَكَتَ فِى الْاُخْرَيَيْنِ مُتَعَمِّدًا فَقَدْ اَسَآءَ وَاِنْ سَكَتَ سَاهِيًا يَجِبُ عَلَيْهِ السُّهُوُ وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ لَاسَهْوَ عَلَيْهِ.

ژباړه: كه څېري د پنځم ركعات لپاره ولاړ سو يا په دريم ركعات باندي كښېنستى نو صرف په ولاړه او ناسته باندي سجده سهوه واجب كيږي او كه څېري د دريم ركعات لپاره په ايره سره ولاړسو نو كه و ناستي زيات نژدې وي نو دې كښېني او پر ده باندي د سجده سهوي په لازميدو كي اختلاف دى او ناستي ته قريب هغه وخت وي چي كله ځنګنونه نه كړي پورته كه څېري ولاړي ته نژدې وي نو نه دي كښيني او سجده سهوه دي وكړي او كه يې په اولو دوو ركعاتو كي الحمد لله شريفه دوه واره وويل يا يې په ركوع او سجوده كي قرآن induvaye يا په التحياتي كي نو واجب دى او كه يې په اٰخيري دوو ركعاتو كي الحمدلله دوه واره وويل يا يې په هغه كي سورت يو ځاى كړ ياىې په اٰخيره ناسته كي التحياته دوه واره وويل يا يې په حالت د ولاړي، ركوع او سجده كي وويل نو په هغه باندي هيڅ سجده سهوه نسته دغه مختار قول دى .

د اولي ناستي په التحياته كي يې : "اللهم صلي على محمد وعلى ال محمد " زيادت وكړ نو بالاتفاق واجب ده او د امام حضرت ابو حنيفه رحمه الله څخه روايت دى كه يې څېري يو حرف هم زايد كړ نو واجب ده او د صاحبينو څخه روايت سوى دى كه څېري يې " اللهم صل على محمد "ووايه نو نه واجب كيږي او كه په اٰخيري دوو ركعاتو كي قصداً چپ وو نو ګناهګار دى او كه په ايره سره چپ وو نو په هغه سجده سهوه لازمه ده او ابويوسف رحمه الله وايي چي په هغه هيڅ سجده نسته .

تشريح: كه څېري په څلور ركعاتيزه لمانځه كي د پنځم ركعات لپاره ولاړ سو يا د

دریم رکعات د سجودو وروسته د څلورم رکعات په ځای په دریم رکعات کښېنستی یا د ماښام په لمانځه کي د څلورم رکعات لپاره یا د سهار په لمانځه کي د دریم رکعات لپاره ولاړ سو نو که څه هم د ولاړي په حالت کي یې هیڅ نه وي ویلي صرف په ولاړي سره سجده سهوه لازمه ده، دغه ډول دریم رکعات بېله د ماښام یا د اول رکعات وروسته صرف په ناستي سره که په ناسته کي یې څه وویل او که نه سجده سهوه باندي لازمه ده ولي چي په دې صورتو کي د واجب عمل په تاخیر یعني په ولاړي سره التحیاته او سلام مؤخر کیږي، د ناستي په صورت کي رکن یعني ولاړه مؤخره کیږي، که چیري یې په دوهم رکعات باندي د کښېنستلو پر ځای اوله ناسته یې ایره سوه د دریم رکعات لپاره ولاړسو نو دي وکتل سي که ناستي ته نژدې وو یعني ځنګنونه یې نه وه پورته کړي یا د بدرالدین کردري د قول مطابق نیم نه وي پورته سوی نو دي کښېني او د اصح قول مطابق په هغه باندي سجده سهوه نه ده لازمه او که چیري سیده ودریدی نو دي ناسته پرېږدي لمونځ دي مکمل کړي او په هغه باندي د واجب ترک کولو په وجه سجوده سهوه لازمه ده مګر که چیري د دریم رکعات په اوله ناسته کي په یاد راتلو سره بیرته وګرځي نو که څه هم ځینو علماؤ د فساد نماز فتوٰی کړي ده ولي چي هغه فرض ولاړه پرېښودله د واجب ناستي وطرف ته را وګرځیدی مګر د حافظ ابن الهمام د تحقق مطابق لمونځ نه فاسدیږي البته ګناهګار ضرور دی، زموږ د علماؤ فتوٰی هم د عدم فساد ده، که یو مقتدی د امام سره په اوله ناسته کي شریک سي مګر د التحیاتي د شروع کولو څخه تر مخه امام پورته سي نو مقتدي ته التحیاته پوره کول پکار دي، که یې په اوله ناسته کي په ایره سره درود شریف" اللهم صل علی محمد وعلی ال محمد "پوري وو ایه نو د مفتٰی به قول مطابق په هغه باندي سجده سهوه ضروري ده.

وَإِنْ قَرَءَ بَعْدَ التَّشَهُّدِ فِي الْقَعْدَةِ الْاٰخِرَةِ لَاسَهْوَ عَلَيْهِ وَإِنْ تَذَكَّرَ الْقُنُوْتَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ لَمْ يَعُدْ وَإِنْ تَذَكَّرَ وَهُوَ فِي الرُّكُوْعِ فَفِيْهِ رِوَايَتَانِ وَقَالَ النَّاطِقِيُّ عَادَ اَوْلَمْ يَعُدْ يَسْجُدُ لِلسَّهْوِ وَإِنْ سَلَّمَ عَلٰى رَأْسِ رَكْعَتَيْنِ فِي الظُّهْرِ عَلٰى رَأْسِ رَكْعَتَيْنِ فِي الظُّهْرِ عَلٰى ظَنِّ اَنَّهَا جُمُعَةٌ اَوْ فَجْرٌ يَسْتَأْنِفُ وَإِنْ سَهٰى عَنِ الْقَعْدَةِ الْاٰخِيْرَةِ وَقَامَ اِلَى الْخَامِسَةِ يَعُوْدُ اِلَى الْقَعْدَةِ مَالَمْ يَسْجُدُ لِلْخَامِسَةِ وَيَسْجُدُ للسَّهْوِ وَإِنْ قَيَّدَ الْخَامِسَةِ بِالسِّجْدَةِ بَطَلَ وَتَحَوَّلَتْ صَلٰوتُهُ نَفْلًا وَعَلَيْهِ اَنْ يَّضُمَّ اِلَيْهَا رَكْعَةً سَادِسَةً وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ وَإِنْ قَعَدَ فِيْ اٰخِرِ الرَّابِعَةِ ثُمَّ قَامَ كَانَ فَرْضُهُ تَامًّا وَالرَّكْعَتَانِ نَافِلَةً وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ اِسْتِحْسَانًا.

ژباړه: که يې په اخيره ناسته کي د التحياتي وروسته قرآئت ووايه نو په هغه باندي سجده سهوه واجب نه ده او که چېري يې د رکوع وروسته دعائي قنوت په ياد سي نو اعاده دي نه کوي او که په رکوع کي ورپه ياد سو نو په دې کي دوه روايتونه دي امام ناطقي رحمه الله ويلي دي که يې اعاده وکړه او که نه بهر صورت به سجده کوي او که چېري يې د ماپښين په لمانځه کي په دې خيال سره سلام وګرځوی چي لمونځ پوره سوی دی بيا يې په ياد سو چي هغه فقط دوه رکعاتونه کړي دي نو دی دي لمونځ پوره کړي او سجده سهوه دي وکړي او که يې چېري په دوو رکعاتو باندي په دې خيال سره سلام وګرځوی چي د جمعې يا د سهار لمونځ کوي نو دي د شروع څخه لمونځ وکړي او که يې چېري اخيره ناسته ايره سوه د پنځم رکعات لپاره ولاړ سو نو تر څه وخته پوري چي يې د پنځم رکعات سجده نه وي کړي نو د ناستي و طرف ته دي را وګرځي او سجده سهوه دي وکړي او که يې پنځم رکعات د سجده

سهوي سره مقید کړ نو فرض باطل سو او ټول لمونځ یې نفل سو او په هغه لازمه ده چي د شپږم رکعات ورسره یوځای کولو سره سجده سهوه وکړي که چېري په څلورم رکعات کښینستی بیا ودریدی نو د هغه فرض پوره سوه او دوه رکعاته نفل سوه او استحساناً دي سجده سهوه وکړي.

تشریح: په لمانځه کي په اخیري ناسته کي د التحیاتي وروسته یې د قرآن پاک یو څه آیاتونه وویل نو په دې سره سجده سهوه نه لازمیږي ولي چي دا د ثنا او دعا محل دی، قرآن پاک په دعا باندي مشتمل دی که چېري په وتر لمانځه کي یې دعائي قنوت ایر سي او د رکوع کولو وروسته یې په یاد سي نو دعائي قنوت دي پریږدي فقط په اخر کي دي سجده سهوه وکړي مګر چي کله یې په رکوع کي دننه په یاد سي نو بیا دي هم دعائي قنوت پریږدي ولي چي د رکوع وروسته قومه د ولاړي په حکم کي نه ده او دعائي قنوت په حالت د ولاړي کي ویل کیږي نو ځکه صرف په سجده سهوه سره د هغه لمونځ صحیح کیږي، د څلور رکعاتو په لمانځه کي په دې خیال سره په دوو رکعاتو باندي سلام وګرځوی نو د یاد راتلو وروسته یې که چېري منافي د لمانځه کار نه وي کړی نو پاته دوه رکعاته دي د هغوی سره یوځای کړي په اخر کي دي سجده سهوه وکړي نو د هغه لمونځ به درست وي ولي چي د هغه خیال د کامل لمانځه وو نو سلام سهوًا سو مګر که یې د څلور رکعاته لمانځه متعلق دغه خیال کړی وو چي دوه رکعاته دي مثلاً د جمعې دوه فرض رکعاته دي نو هغه سلام ګرځولی دی نو د هغه سلام د لمانځه لپاره قاطع سو د باقي دوو رکعاتو بنا په هغه باندي نه سي کیدی د دې لپاره دي پوره لمونځ وکړي، که چېري یو سړي ته په اخیر د لمانځه کي سهوه وسي او په ایره سره په رباعي کي پنځم په ثلاثي کي څلورم په ثنائی کي د دریم رکعات لپاره ولاړ سو نو که یې چېري په دې زائد رکعات کي سجده نه وي کړي نو د هغه بیرته ګرځېدل پکار دي او د ناستي سره په سجده سهوه

ولو سره لمونځ پوره کول پکار دي ولې چې هغه يو رکن يعني اخيري ناسته کې
نه ولي ده مګر که يې په دې زائد رکعات کې سجده وکړه نو زموږ په نز د هغه د
لمانځه فرضيت باطل سو تړوله لمونځ يې نفل کيږي لهٰذا د دې زائد رکعات سره دي
يو رکعات بل يوځای کړي چې نفل جُفت سي او که چېري يې اخيره ناسته په قدر د
التحياتي ويلو وروسته د زائد رکعات لپاره ولاړ سو نو که د سجدې کولو څخه
ترمخه يې په ياد سي نو دي د ناستي وطرف ته را وګرځی او په سجده سهوه کولو
سره دي سلام وګرځوي، زائد رکعاتونه چې يې څومره کړي وي هغه نه شمارل کيږي
ولې چې د يوه رکعات څخه کم لمونځ د ماتولو قابل وي، که چېري امام د زائد
رکعات لپاره ولاړ وي نو مقتدی دي د هغه پيروي نه کوي بلکي که چېري هغه د
زائد رکعات د سجدې څخه تر مخه را وګرځيدی نو دي د هغه اتباع وکړي که يې
سجده وکړه نو مقتدی دي په خپله سلام وګرځوي.

وَسَهْوُ الْاِمَامِ يُوْجِبُ السِّجْدَةُ عَلَيْهِ وَعَلَى الْقَوْمِ وَسَهْوُ الْمُؤْتَمِ لَايُوْجِبُ عَلَى الْاِمَامِ
وَلَاعَلَيْهِ وَاِنْ سَهٰى عِنِ السَّلَامِ يَعْنِيْ اَنَّهُ اَطَالَ الْقَعْدَةَ عَلٰى ظَنِّ اَنَّهُ خَرَجَ مِنَ
الصَّلٰوةِ فَسَلَّمَ يَسْجُدُ للسَّهْوِ وَاِنْ سَلَّمْ مَنْ عَلَيْهِ السَّهْوُ يُرِيْدُ بِهِ قَطْعَ الصَّلٰوةِ يَعْنِيْ
لَايُرِيْدُ سَجْدَةً للسَّهْوِ ثُمَّ بَدَالَهُ فَلَهُ اَنْ يَّسْجُدَ مَالَمْ يَتَكَلَّمْ وَلَايَسْتَدْبِرُ الْقِبْلَةَ
مَنْ شَكَّ فِى الْقِيَامِ اَنَّهُ كَبَّرَ لِلْاِفْتِتَاحِ اَمْ لَاوَطَالَ تَفَكُّرُهُ وَعَلِمَ اَنَّهُ كَبَّرَ اَوْظَنَّ اَنَّهُ
لَمْ يُكَبِّرْ فَاَعَادَ التَّكْبِيْرِ ثُمَّ تَذَكَّرَ فَعَلَيْهِ السَّهْوُ ثُمَّ الْاَصْلُ فِىْ حُكْمِ التَّفَكُّرِ اِنْ
مَنَعَهُ عَنْ اَدَآءِ رُكْنٍ اَوْ وَاجِبٍ يَلْزَمُهُ السَّهْوُ وَقَالَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ اِنْ مَنَعَهُ عَنْ
الْقِرَاءَةِ اَوِ التَّسْبِيْحِ يَجِبُ عَلَيْهِ السَّهْوُ وَاِلَّا فَلَا.

ژباړه: د امام سهوه په خپله په هغه او په قوم باندي سجده سهوه واجب وي، او د مقتدی سهوه په امام او په خپله پر هغه نه واجبه وي، که چیري په سلام سره سهوه وي یعنی هغه ناسته په دې خیال سره اوږده کړي چي هغه د لمانځه څخه وتلی دی د هغه وروسته یې سلام وګرځوی د هغه وروسته یې سجده سهوه وکړه او که چېري هغه سړی په چا چي سجده سهوه لازمه وه د سلام قطع کولو په نیت سره وګرځیدی یعني د سجده سهوه ادا کولو نیت یې نه وو بیا هغه ته معلومه سوه نو هغه دي سجده وکړي تر هغه وخته پوري چي یې خبري نه وي کړي او د قبلې وطرف ته یې شا نه وي کړي، کوم څوک چي په ولاړه کي په دې شک کي سي چي هغه تکبیري تحریمه ادا کړه که نه او د هغه فکر اوږد سو او معلوم سو چي تکبیر یې ویلی دی یا یې دا ګمان وکړ چي تکبیریې نه دی ویلی نو دوباره دي تکبیر ووایي بیا یې په یاد سوه نو په هغه باندي سجده سهوه ده، په اصل قاعده په فکر کولو کي داده چي که چېري هغه د رکن یا واجب ادا کولو څخه بند کړي نو په هغه باندي سجده سهوه لازمه ده او ځینو علماؤ ویلي دي که چېري هغه د قرآئت او رکوع کولو څخه بند کړي نو په هغه باندي سجده سهوه واجب ده .

تشریح: د امام سهوه په مقتدي باندي سجده واجب کوي که څه هم مقتدی مسبوق وي چي کوم وخت امام ته سهوه سوې وه هغه وخت دی موجود نه وو مثلاً په اول رکعات کي امام سهوه سو چي د هغه په وجه سجده لازمه سوه اوس یو سړی په دوهم یا دریم رکعات کي شریک سو نو چي کله امام سجده سهوه کوي نو په دې مقتدي مسبوق هم لازمه ده، البته واضح دي وي چي د امام سره به صرف په سجدې کي شریک وي د امام سره به سلام نه ګرځوي بلکي منتظر به وي چي کله امام سجده وکړي نو دی به هم شریک سي او د امام د فراغت وروسته به خپل پاته لمونځ پوره کړي او د مقتدی په سهوه سره نه په امام سجده واجب ده او نه په مقتدی د دې

لپاره چې تنها د مقتدي په سجده كولو كي د امام مخالفت دی او د هغه په وجه كه چېري امام سجده وكړي نو امام چي اصل وو هغه به ددې مقتدی تابع سي او دا جائز نه ده .

په لمانځه كي كه سوچ او فكر چېري د يوه ركن په مقدار اوږد سي نو په هغه باندي سجده سهوه لازمه ده ولي چي په دې سره په اركانو او واجباتو كي تاخير راځي .

وَاِنْ سَلَّمَ الْمَسْبُوْقُ مَعَ اِمَامِهٖ لَاسَهْوَ عَلَيْهِ وَاِنْ سَلَّمَ بَعْدَهٗ يَجِبُ وَفِي الْمُلْتَقَطِ الْمَسْبُوْقُ اِذَا سَلَّمَ مَعَ اِمَامِهٖ وَكَبَّرَ اَيَّامَ التَّشْرِيْقِ مَعَ اِمَامِهٖ سَهْوًا فَعَلَيْهِ السَّهْوُ وَالْمَسْبُوْقُ يُتَابِعُ اِمَامَهٗ فِيْ سُجُوْدِ السَّهْوِ وَاِنْ قَامَ قَبْلَ سَلَامِ الْاِمَامِ وَقَرَءَ وَرَكَعَ وَلَمْ يَسْجُدْ حَتّٰى سَجَدَ الْاِمَامُ لِلسَّهْوِ يُتَابِعُهٗ وَيَرْفِضُ قِيَامَهٗ وَرُكُوْعَهٗ وَاِنْ لَّمْ يُتَابِعِ الْاِمَامَ يَسْجُدُ اِذَا فَرَغَ وَاِنْ سَهٰى فِيْ مَايَقْضِيْ يَسْجُدُ اَيْضًا.

ژباړه: كه مسبوق د امام سره سلام وګرځوی نو په هغه باندي سجده سهوه نسته او كه يې د هغه وروسته وګرځوی نو واجب ده او په ملتقط كي راغلي دي چي مسبوق كله د امام سره سلام وګرځوي او د امام سره تكبيرات تشريق هم ووايي نو په هغه سجده سهوه لازمه ده، او مسبوق دي په سجده سهوه كي د امام اتباع وكړي او كه چېري د امام د سلام څخه ترمخه ولاړ سو قرآئت او ركوع يې وكړل او سجده يې نه وه كړي تر دې پوري چي امام د سجده سهوه لپاره سجده وكړه نو هغه دي د امام اتباع وكړي او خپله ولاړه او ركوع دي پرېږدي او كه يې د امام اتباع نه وكړه نو د قرآئت د فراغت څخه وروسته دي په آخيري ناسته كي دي سجده وكړي او كه چېري په خپل پاته لمانځه كي سهوه سو نو په هغه كي دي هم سجده سهوه وكړي .

تشريح: کوم سړی چي د يوڅو رکعاتو څخه پاته سي هغه ته د فقهي په اصطلاح کي مسبوق ويل کيږي نو مسبوق د امام سره د سلام ګرځولو وروسته د خپل پاته سوي رکعاتو لپاره ولاړيږي مګر که چيري يو مسبوق خپل پاته رکعات اير کړي د امام سره سلام وګرځوي بيا يې خپل پاته رکعات کول په ياد سي نو په دې سلام ګرځولو سره په هغه باندي سجده سهوه واجب نه ده ولي چي دی د سلام ګرځولو پوري د امام په اقتدا کي دی او اول تېر سوی دی چي د مقتدي په سهوه سره په هغه سجده نه لازميږي او که د امام سره د سلام ګرځولو څخه وروسته مقتدی سلام وګرځوي يعنی د امام د سلام سره مقارن نه وي نو په مقتدي باندي سجده سهوه لازمه ده ولي چي اوس د منفرد په حکم کي سو او مسبوق به هم په سجده سهوه کي د امام اتباع کوي چي د هغه تفصيل د دې عبارت څخه تر مخه په تشريح کي تېر سوی دی.

وَلَايَنْبَغِيْ لِلْمَسْبُوْقِ اَنْ يَّقُوْمَ اِلٰى قَضَآءِ مَاسَبَقَ بِهٖ قَبْلَ سَلَامِ الْاِمَامِ فَاِنْ قَامَ قَبْلَ اَنْ يَّفْرُغَ الْاِمَامُ مِنَ التَّشَهُّدِ فَالْمَسْئَلَةُ عَلٰى وُجُوْهٍ اِمَّا اِنْ كَانَ مَسْبُوْقًا بِرَكْعَةٍ اَوْبِرَكْعَتَيْنِ اَوْبِثَلٰثِ رَكْعَاتٍ فَمَنْ كَانَ مَسْبُوْقًا بِرَكْعَةٍ اِنْ وَقَعَ مِنْ قِرَآئَتِهٖ بَعْدَ فَرَاغِ الْاِمَامِ مِنَ التَّشَهُّدِ مِقْدَارَ مَاتَجُوْزُ بِهِ الصَّلٰوةُ جَازَتْ صَلٰوتُهٗ وَاِلَّا فَسَدَتْ لِاَنَّ قِيَامَهٗ وَقِرَآئَتَهٗ قَبْلَ فَرَاغِ الْاِمَامِ مِنَ التَّشَهُّدِ لَايُعْتَبَرُ وَكَذَا اِنْ كَانَ مَسْبُوْقًا بِرَكْعَتَيْنِ.

ژباړه: د مسبوق لپاره مناسبه نه ده چي د خپل پاته رکعاتو ادا کولو لپاره د امام د سلام څخه تر مخه ولاړ سي نو که چيري امام د التحياته د فراغت څخه وروسته ولاړ سو نو دا مسئله په يوڅو صورتو باندي ده يا خو به د يوه يا دوه يا به د درو رکعاتو

مسبوق وي نو که چېرې د يوه رکعات مسبوق وي نو د هغه د قرآئت دومره مقدار په کوم سره چي لمونځ جائز کيدی سي د امام د التحياتي د فراغت څخه وروسته واقع وي نو د هغه لمونځ جائز دی که نه وي نو فاسد دی ولي چي د هغه ولاړه او قرآئت د امام د التحياتي د فراغت څخه ترمخه معتبر نه دي او دغه حکم دی که چېري مسبوق د دوو رکعاتو وي.

تشريح: د مسبوق لپاره نه دی جائز بلکي مکروه تحريمي دی چي د امام د سلام څخه ترمخه د خپل پاته لمونځ پوره کولو لپاره ولاړ سي ولي چي نبی عليه السلام وويل" انما جعل الامام يؤتم تختلفوا علي "يعنی امام خو د دې لپاره مقرر کيږي چي د هغه اتباع وکړل سي نو د هغه څخه اختلاف مه کوئ، البته که د ضرورت پر بنا د امام د فراغت څخه تر مخه ولاړ سي مثلاً که چېري د امام لپاره انتظار وکړي نو په پاته رکعاتو کي طلوع آفتاب د سهار په لمانځه کي يا د ماپښين په لمانځه د عصر د وخت د خول خوف وي نو د امام د فراغت څخه تر مخه ولاړيدل جائز دي بيا په دې صورت کي به کتل کيږئ چي دا مسبوق يا به د يوه يا د دوو رکعاتو څخه پاته سوی وي نو هغه که چېري د امام د التحياتي څخه د فراغت ترمخه قرآئت ووايي او امام د هغه وروسته فارغه سو نو دا لمونځ د دې لپاره فاسد دی چي دا قرآئت بمنزله د عدم عدم دی نو چي کله فرض قرآئت نه وي نو د لمانځه فاسيدېدل لازم دی مګر که چېري د امام د فراغت وروسته د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزيو آيت او د صاحبينو په نز درې آياته مختصر يا يو لوی آيت ووايي نو لمونځ به يې درست سي ولي چي د قرآئت فرض مقدار پوره سوی دی، که چېري د درو يا څلورو رکعاتو مسبوق وي او د امام د التحياتي د فراغت څخه ترمخه خپل قرآئت يې پوره کړ نو د هغه لمونځ د دې لپاره جائز دی چي په پاته رکعاتو کي د قرآئت کمی پوره کول ممکن دی ولي چي قرآئت په دوو رکعاتو کي علی التعين فرض دی البته که يې چېري په پاته

رکعاتو کي قرآئت نه وو ایه نو لمونځ یې فاسد دی.

وَذُكِرَ فِي الْخَاقَانِيَّةِ رَجُلٌ صَلّٰى وَلَمْ يَدْرِ اَثَلٰثًا صَلّٰى اَمْ اَرْبَعًا اِنْ كَانَ ذٰلِكَ اَوَّلَ مَاسَهٰى اِسْتَقْبَلَ يَعْنِيْ اَوَّلُ مَاسَهٰى فِيْ عُمْرِهٖ وَعَلَيْهِ اَكْثَرُ الْمَشَايِخِ وَاِنْ لَقِيَ ذٰلِكَ غَيْرَ مَرَّةٍ يَتَحَرّٰى فَاِنْ وَقَعَ تَحَرِّيْهِ عَلٰى اَنَّهٗ صَلّٰى رَكْعَةً فِيْ رَكْعَتَيْنِ يُضِيْفُ اِلَيْهَا رَكْعَةً اُخْرٰى وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ وَاِنْ وَقَعَ تَحَرِّيْهِ عَلٰى اَنَّهٗ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ يَقْعُدُ وَيَتَشَهَّدُ وَيُسَلِّمُ وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ وَاِنْ لَّمْ يَقَعْ تَحَرِّيْهِ عَلٰى شَيْءٍ اَخَذَ بِالْاَقَلِّ وَاِنْ كَانَ فِيْ صَلٰوةِ الْفَجْرِ يَجْعَلُ كَاَنَّهٗ صَلّٰى رَكْعَةً فَيَقْعُدُ لِاِحْتِمَالِ اَنَّهٗ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ وَفِي الذَّخِيْرَةِ لَوْ شَكَّ فِيْ ذَوَاتِ الْاَرْبَعِ اَنَّهَا هَلْ هِيَ الْاُوْلٰى اَوِ الثَّانِيَةُ يَقْعُدُ عَلٰى رَاْسِ كُلِّ رَكْعَةٍ وَفِي الْفَتَاوٰى الْفَضْلِيِّ اِذَا دَارَ بَيْنَ الثَّانِيَةِ وَالثَّالِثَةِ لَا يَقْعُدُ وَهُوَ الصَّحِيْحُ اِلَّا فِي الْمَغْرِبِ وَالْوِتْرِ وَاِنْ بَدَاَ بِالسُّوْرَةِ فِي الْاُوْلٰى فَعَلَيْهِ السَّهْوُ وَاِنْ قَرَءَ حَرْفًا كَذَا فِي الْخَاقَانِيَّةِ وَسَجْدَةُ السَّهْوِ سَجْدَتَانِ بَعْدَ السَّلَامِ وَيَتَشَهَّدُ وَيُسَلِّمُ وَيَاْتِيْ بِالصَّلٰوةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ كِلْتَا الْقَعْدَتَيْنِ وَالْاَدْعِيَةِ فِيْ قَعْدَةِ السَّهْوِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يَاْتِيْ بِالْاَدْعِيَةِ فِيْهِمَا وَاللّٰهُ اَعْلَمُ.

ژباړه: په خاقانیه کي ذکرسوي دي چي یو سړي ته په لمانځه کي د لمونځ کونو سره دا نه معلومیده چي درې رکعاته یې کړي دي که څلور نو علماء وایي که چېري اول وار دا غلطي سوي وي نو د شروع څخه دي وکړي یعني چي کله په ژوند کي اول وار سهوه سوی وي او په دغه باندي د اکثره علماؤ عمل دی، که چېري دا عمل

پيات وي نو سوچ وفکر دي وکړي که چېري د هغه سوچ دا سي وي چي هغه د دوو رکعاتو څخه يو کړی وي نو د هغه سره دي يو رکعات بل هم يوځای کړي او سجده سهوه دي وکړي او که چېري د هغه سوچ بو طرف ته هم نه ځي نو دي د کم اعتبار وکړي او که د سهار په لمانځه کي وي نو دا سي خيال وکړي چي يو رکعات يې کړی دی نو ناسته وکړي د دې احتمال وجه چي کيدی سي دوه رکعاته يې کړي وي او په ذخيره کي دي که چېري په رباعي لمانځه کي يې شک سي چي دا اول رکعات دی که دوهم نو دي په هر رکعات کي کښيني د په فتاوی قاضي خان کي راغلي دي که يې په دوهم او دريم کي شک سي نو نه دي کښيني او دا صحيح دي مګر نه د ماښام او په وتر لمانځه کي، که چېري يې په اول رکعات کي د الحمدلله شريفي څخه ترمخه سورت ووايه نو په هغه باندي سجده سهوه ده که څه هم يو حرف يې ويلی وي دغه ډول په خاقانيه کي راغلي دي.

سجده سهوه د سلام وروسته دوې سجدې دي او التحياته دي هم ووايي او سلام دي هم وګرځوي او په نبی عليه السلام دي په دواړو ناستو کي درود شريف ووايي او دعاګاني صرف د سهوي په ناسته کي او ځينو علماؤ ويلي دي چي په دواړو ناستو کي دي دعاګاني ووايي، او الله تعالى تر ټولو ښه پوهيږي.

تشريح: حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله وايي که چېري په لمانځه کي شک په اول وار راغلی وي يعني د بلوغ وروسته په ټوله عمر کي اول وار پيښ سوی وي نو دي د سره څخه لمونځ وکړي چنانچي د ابن شيبه رحمه الله څخه مصنف رحمه الله روايت کړی دی چي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ويلي دي چي کوم چا ته دا نه وي معلوم چي درې يې وکړه يا څلور نو اعاده دي وکړي تر هغه وخته پوري چي ښه يې ياد سي، که اکثره وخت شک ورته پېښيږي نو په تحري کولو سره دي په غلبه ظن باندي عمل وکړي ځکه چي په صحيحينو کي د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه مرفوعاً روايت دی چي

"واذا شک احد کم فی صلوته فلیتحرالصواب فلیتم علیه "مګر که چېري د هغه سوچ او فکر په یوې خبري نه سي یوځای یعني غلبه د ظن نه سي حاصله نو کمتر چي کوم یقیني دی په هغه دي عمل وکړي مثلاً په دوو یا درو رکعاتو کي شک وي نو په دوو کېدو کي هیڅ شک نه وي او یقیناً تر دې کم نسته، نو په دغه دي مدار وکړي ولي چي امام مسلم د ابوسعد خدری رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چي کله ستاسو څخه څوک په خپل لمانځه کي شک وکړي نه باندي پوه سي چي څومره یې کړي دي نو دي په یقین بناء وکړي تر دې پوري چي دا یقین یې سي چي پوره کړی یې دي نو دي د سلام ګرځولو څخه ترمخه دوې سجدې وکړي په کوم صورت کي چي په کمتر بنا وکړي په هغه کي دي پر هر هغه رکعات ناسته کوي کوم چي د رکعات اخیر ګڼي مثلاً په یو دوو کي یې شک وي او فکر یې یوه طرف ته نه سو یوځای نو ځکه هغه په یوه بنا وکړه نو د هغه وروسته دي ناسته وکړي د دې وهم په وجه چي دا دوهم هم کیدی سي نو محل د ناستي دی او په دوهم رکعات کي دي هم ناسته وکړي ولي چي د بناء علی الاقل وروسته دا دوهم رکعات دی که څه هم د هر رکعات وروسته کښینستل بدعت دی مګر د ترک فرض یا واجب څخه د ځان ساتلو لپاره دا صورت اختیار سوی دی، په لمانځه کي د سهوه کیدلو جبیره د سلام وروسته دوې سجدې دي مګر په ناسته کي چي کوم درود شریف او دعاګاني ویل کیږي د هغه مقام ناسته صلوتیه ده که ناسته او سجده سهوه؟

په دې بابت د مشائخو اختلاف دی امام کرخی رحمه الله وایي درود دي د ناستي وغیره د سجده سهوي څخه په وروسته ناسته کي ویل پکار دي صاحب هدایې هم د دې تصحیح کړي ده ولي چي د درود شریف او دعاګانو محل د لمانځه اخیري حصه ده او د سجده سهوي څخه ترمخه لمونځ نامکمل وي، د امام طحطاوي رحمه الله په نِز د سجده سهوي څخه ترمخه او وروسته په دواړو ناستو کي دي ووایي.

په فتح القدير كي راغلي دي چي درود شريف په دواړو ناستو او دُعا صرف په اخري ناسته پكار ده، د سجده سهوي د اداكولو لپاره صلاحيت د وخت قيد دى يعني سجده سهوه دي هغه وخت وكړي چي كله د لمانځه صلاحيت لري نو كه چېري د سهار په لمانځه كي د سلام وروسته لمر راپورته سي يا د سلام وروسته د لمونځ كونكي څخه يو منافع د لمانځه عمل ښكاره سي نو په دې صورتو كي د هغه څخه سجده سهوه ساقطيږي.

دا فصل په بیان کي د قرآئت ویونکو د غلطیانو په بیان کي دی

(یو ضروري وضاحت)

په دې فصل کي یواځي ژباړه لیکل کیږي، صاحب کتاب خپله تصریح کړي ده چي دا مسائل په علم لغت کي د" مهارب تامه "څخه بغیر په یو بل باندي قیاس نه سي کیدی ځکه صرف د ماهرینو اقوال نقل کول کافي دي البته د دې مسائلو په صحیح طور د ایزده کولو لپاره په نور الایضاح کي د شیخ الادب محمد اعزاز رحمه الله نقل کرده حاشیه مسائل زلة القاري د عنوان څخه مطالعه کول ضروري دي.

اَلْاَصْلُ فِيْهِ اَنَّهٗ اِنْ لَّمْ يَكُنْ مِّثْلُهٗ فِى الْقُرْاٰنِ وَالْمَعْنٰى بَعِيْدٌ مُّتَغَيِّرٌ تَغَيُّرًا فَاحِشًا تَفْسُدُ صَلٰوتُهٗ كَمَا قَرَءَ هٰذَا الْغُبَارُ مَكَانَ الْغُرَابِ وَكَذَا اِنْ لَّمْ يَكُنْ مِثْلُهٗ فِى الْقُرْاٰنِ وَلَا مَعْنٰى لَهٗ كَمَا اِذَا قَرَءَ يَوْمَ تُبْلَى السَّرَآئِلُ مَكَانَ السَّرَآئِرُ وَاِنْ كَانَ مِثْلُهٗ فِى الْقُرْاٰنِ وَالْمَعْنٰى بَعِيْدٌ وَلَمْ يَكُنْ مُّتَغَيِّرًا تَغَيُّرًا فَاحِشًا تُفْسِدُ نَحْوُ اِنَّا كُنَّا غَافِلِيْنَ مَكَانَ فَاعِلِيْنَ وَهُوَ الْاَحْوَطُ وَقَالَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ لَاتَفْسُدُ لِعُمُوْمِ الْبَلْوٰى وَلَا يُقَاسُ مَسَآئِلُ زِلَّةِ الْقَارِىْ بَعْضُهَا عَلٰى بَعْضٍ اِلَّا بِعِلْمٍ كَامِلٍ فِى اللُّغَةِ وَاِنْ بَدَّلَ حَرْفًا مَكَانَ حَرْفٍ اَلْاَصْلُ فِيْهِ اِنْ كَانَ بَيْنَهُمَا قُرْبُ الْمَخْرَجِ اَوْكَانَا مِنْ مَّخْرَجٍ وَّاحِدٍ لَاتَفْسُدُ كَمَا اِذَا قَرَءَ تَكْهَرْ بِالْكَافِ مَكَانَ تَقْهَرْ اَمَّا اِذَا قَرَءَ مَكَانَ الذَّالِ ظَآءً اَوْمَكَانَ الضَّادِ ظَآءً اَوْعَلَى الْقَلْبِ فَتَفْسُدُ صَلٰوتُهٗ وَعَلَيْهِ اَكْثَرُ الْاَئِمَّةِ

وَرُوِیَ عَنْ مُحَمَّدِبْنِ سَلْمَةَ لَاتَفْسُدُ لِاَنَّ الْعَجَمَ لَایُمَیِّزُوْنَ وَکَانَ الْقَاضِی
الشَّهِیْدُ الْمُحْسِنُ یَقُوْلُ الْاَحْسَنُ فِیْهِ اَنْ یَّقُوْلَ اِنْ جَرٰی عَلٰی لِسَانِهِ وَلَمْ یَکُنْ
مُمَیِّزًا وَفِیْ زَعْمِهٖ اَنَّهٗ اَدَّی الْکَلِمَةِ عَلٰی وَجْهِهَا لَاتَفْسُدُ وَکَذَا رُوِیَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ
الْمُقَاتِلِ وَعَنِ الشَّیْخِ الْاِمَامِ اِسْمٰعِیْلَ الزَّاهِدِ وَفِی الذَّخِیْرَةِ اِنْ لَّمْ یَکُنْ بَیْنَ
الْحَرْفَیْنِ اِتِّحَادُ الْمَخْرَجِ وَلَاقُرْبُهٗ اِلَّااَنَّ فِیْهِ بَلْوٰی عَآمَّةٌ نَحْوُ اَنْ یَّاْتِیَ بِالذَّالِ
مَکَانَ الضَّادِ اَوْ بِالزَّایِ الْمَحْضِ مَکَانَ الذَّالِ اَوِالظَّآءِ مَکَانَ الضَّادِ لَاتَفْسُدُ
عِنْدَ بَعْضِ الْمَشَایِخِ وَفِیْ قَطْعِ الْکَلِمَةِ بِاَنْ یَّقُوْلَ اَلْ فَانْقَطَعَ ثُمَّ قَالَ حَمْدُ لِلّٰهِ
فَقَدْ کَانَ الْاِمَامُ شَمْسُ الْاَئِمَّةَ الْحَلْوَانِیُّ یُفْتِیْ بِالْفَسَادِ وَعَامَّةُ الْمَشَایِخِ قَالُوْالَا
تُفْسِدُ لِعُمُوْمِ الْبَلْوٰی اَمَّا الْوَقْفُ فَلَا یُوْجِبُ فَسَادَ الصَّلٰوةِ اَیْضًا لِعُمُوْمِ الْبَلْوٰی
عِنْدَ عَامَّةِ عُلَمَآئِنَا وَعِنْدَ بَعْضٍ تَفْسُدُ نَحْوُ لَنْ یَّقْرَءَ لَآاِلٰهَ وَوَقَفَ وَابْتَدَاَ بِقَوْلِهٖ
اِلَّا هُوَ اَوْقَرَءَ وَلَقَدْ وَصَّیْنَا الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ مِنْ قَبْلِکُمْ وَوَقَفَ وَابْتَدَءَ
وَاِیَّاکُمْ اَنِ اتَّقُوْا اللّٰهَ اَوْقَرَءَ وَیُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَقَفَ وَابْتَدَاَ وَقَرَاَ وَاِیَّاکُمْ
اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ اِلٰی غَیْرِ ذٰلِکَ وَلَوْ وَصَلَ حَرْفًا مِنْ کَلِمَةٍ بِکَلِمَةٍ اُخْرٰی بَاَنْ قَرَءَ
اِیَّاکَ نَعْبُدُ وَاِیَّاکَنَسْتَعِیْنُ اَوْاِنَّا اَعْطَیْنَا کَلْکَوْثَرَ اَوْاِذَاجَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَمَا اَشْبَهَ
ذٰلِکَ لَاتَفْسُدُ عَلٰی قَوْلِ الْعَامَّةِ وَعَلٰی قَوْلِ بَعْضِ الْمَشَایِخِ تَفْسُدُ وَبَعْضُ

الْمَشَايِخِ قَالُوْا اِنْ عَلِمَ اَنَّ الْقُرْاٰنَ كَيْفَ هُوَ اِلَّا اَنَّهُ جَرٰى عَلٰى لِسَانِهٖ هٰذَا
لَاتَفْسُدُ وَاِنْكَانَ فِيْ اِعْتِقَادِهٖ اَنَّ الْقُرْاٰنَ كَذٰلِكَ تَفْسُدُ وَذُكِرَ فِي الْمُلْتَقَطِ اَنَّهُ
لَوْقَرَءَ اَلْهَمْدُ لِلّٰهِ بِالْهَاءِ اَوْقَرَءَ كُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ وَلَايَقْدِرُ عَلٰى غَيْرِهٖ تَجُوْزُ صَلٰوتُهٗ
وَلَوْقَرَءَ قُلْ اَعُوْذُ بِالدَّالِ اَوْقَرَءَ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذِرِيْنَ بِكَسْرِ الذَّالِ لَاتَفْسُدُ
وَلَوْ قَرَءَ الْاَلْثَغُ لَبِّ مَكَانَ رَبِّ لَاتَفْسُدُ وَعَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ فِيْ مَنْ قَرَءَ وَاِذَا بْتَلٰى
اِبْرٰهِيْمُ رَبَّهٗ بِضَمِّ الْمِيْمِ وَفَتْحِ الْبَآءِ اَوِالْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ بِفَتْحِ الْوَاوِاَوْ
وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَايُطْعِمُ بِفَتْحِ الْعَيْنِ فِي الْاَوَّلِ وَكَسْرِهَا فِي الثَّانِيْ لَاتَفْسُدُ وَاِنْ زَادَ
حَرْفًا اِنْ لَّمْ يُغَيِّرِ الْمَعْنٰى لَاتَفْسُدُ وَاِنْ غَيَّرَ الْمَعْنٰى نَحْوُ اَنْ يَّقْرَءَ وَاِنَّكَ لَمِنَ
الْمُرْسِلِيْنَ وَاِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى تَفْسُدُ وَيَنْبَغِيْ اَنْ لَّاتَفْسُدُ وَذُكِرَ فِيْ زِلَّةِ الْقَارِیْ
لِلشَّيْخِ حِسَامِ الدِّيْنِ اَبِيْ سَعِيْدِبْنِ اَسْعَدِ النَّسَفِيِّ وَلَوْقَرَءَ اَللّٰهُ السَّمَدُ بِالسِّيْنِ
مَكَانَ الصَّادِ لَاتَفْسُدُ وَهٰذَا اِخْتِيَارُ نَجْمُ الدِّيْنِ عُمَرَ النَّسَفِيِّ وَلَوْقَرَءَ عَتّٰى
مَكَانَ حَتّٰى لَاتَفْسُدُ وَلَوْقَرَءَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَلْحِمَدَهٗ يُرْجٰى اَنْ لَّاتَفْسُدَ وَلَوْ قَرَءَ يَدْعُ
الْيَتِيْمَ بِتَسْكِيْنِ الدَّالِ اَوْبِضَمِّ الدَّالِ وَتَرْكِ التَّشْدِيْدِ لَاتَفْسُدُ وَلَوْلَمْ يَقِفْ
وَوَصَلَ قَالَ عَامَّةُ الْمَشَايِخِ تَفْسُدُ وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ الْمُبَارِكِ وَاَبِيْ حَفْصِ الْكَبِيْرِ
الْبُخَارِيِّ وَمُحَمَّدِبْنِ الْمُقَاتِلِ وَجَمَاعَةٍ مِّنَ الْوَاوِزَةِ اَنَّهٗ لَاتَفْسُدُ وَكَذَا اَفْتٰى

اَبُوْ نَصْرِ الْمَاتُرِيْدِيُ وَلَوْ قَرَءَ اِنَّ اللهَ بَرِیْءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَرَسُوْلِهٖ بِكَسْرِ اللَّامِ لَاتُفْسِدُ وَلَوْ قَرَءَ اِنَّا كُنَّا مُنْذَرِيْنَ بِفَتْحِ الذَّالِ تُفْسِدُ قَطْعًا وَذُكِرَ فِيْ فَتَاوٰی قَاضِيْخَانَ وَلَوْ قَرَءَ يَدْعُ الْيَتِيْمَ بِتَسْكِيْنِ الدَّالِ تُفْسِدُ وَلَوْ قَرَءَ يَتْخُلُوْنَ بِالتَّآءِ مَكَانَ الدَّالِ تُفْسِدُ وَلَوْ قَرَءَ اِنَّا خَلَقْنَا مَكَانَ اِنَّا جَعَلْنَا اَوْقَرَءَ اِيَاکَ نَعْبُدُ بِغَيْرِ التَّشْدِيْدِ لَاتُفْسِدُ عِنْدَ الْمُتَاَخِّرِيْنَ وَلَوْ قَرَءَ مَاضْظُرِرْتُمْ بِالزَّايِ اَوْبِالظَّآءِ اَوْبَالذَّالِ تُفْسِدُ وَلَوْ قَرَءَ اِلَّا مَاضْتُرِرْتُمْ باالتَّآءِ لَاتُفْسِدُ عِنْدَ الْمُتَاَخِّرِيْنَ وَلَوْ قَرَءَ مَاضْطُرِرْتُمْ بِالزَّايِ اَوْبِالظَّآءِ اَوْ بَالذَّالِ تُفْسِدُ وَلَوْ قَرَءَ اَللّٰهُمَّ سَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ بِالسِّيْنِ لَاتَفْسُدُ وَلَوْقَرَءَ مَاوَدَعَکَ بِتَرْکِ التَّشْدِيْدِ لَاتَفْسُدُ وَلَوْتَرَکَ التَّشْدِيْدَ فِی الرَّبِّ تَفْسُدُ وَلَوْ قَرَءَ كَيْدَهُمْ فِيْ تَظْلِيْلِ بِالظَّآءِ تَفْسُدُ وَلَوْ قَرَءَ بِالذَّالِ الْمُعْجَمَةِ لَاتَفْسُدُ وَلَوْ قَرَءَ حَمَّالَةَ الْحَتَبِ بِالتَّآءِ تَفْسُدُ وَلَوْ قَرَءَ مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّاسِ بِنَصْبِ الْجِيْمِ لَاتَفْسُدُ.

ژباړه: په دې کي اصلي قاعده داده که چېري د دې غلط لفظ مثل په قرآن کي نه وي او د هغه لفظ معنٰی د قرآني لفظ د معنٰی څخه ډېره لیري او زیاته متغیره وي نو د دې غلط لفظ ویونکي لمونځ فاسدیږي لکه څنګه چي څوک د غراب په ځای غبار ووايي او دغه حکم دی که چېري د هغه مثل په قرآن کي نه وي او دا لفظ هیڅ معنٰی نه لري لکه" یوم تبلی السرائر "په ځای سرائل ووایي او که چېري د دې لفظ مثل په قرآن کي وي او معنٰی یې بعیده وي مګر ډېره متغیره نه وي نو بیا هم لمونځ

فاسديږي مثلاً (انا كنا فاعلين) په ځاى غافلين ووايي او په دې قول كي زيات احتياط دى، ځينو علماؤ ويلي دي چي د عموم بلوٰى په وجه په دې صورت لمونځ نه فاسديږي، د زلة القاري مسائل په يو بل نه قياس كيږي مګر دا چي د لغت عربيه كامل علم لري او كه چېري د يوه حرف پر ځاى بل حرف ووايي نو په دې كي دا قاعده ده كه چېري د دې دوو حروفو په مابينځ كي قريب مخرج وي يا د يوه مخرج څخه وي نو نه فاسديږي لكه څنګه چي يو څوک د فلا تقهر پر ځاى تكهر ووايي او كه چېري يې د ذال پر ځاى ظاء او ضاد پر ځاى ظاء وويل نو د هغه لمونځ فاسديږي او په دغه باندي د ټولو علماؤ فتوٰى هم ده، د محمد بن سلمه رضي الله عنه څخه روايت سوى دى چي نه فاسديږي ولي چي عجمي خلک په دې كي تميز نه سي كولى او امام قاضي شهيد الحسن رحمه الله ويلي دي چي په دې مسئله كي بهتره داده چي داسي وويل سي چي د خلګو په ژبه كه چېري داسي غلط جاري وي او عام خلک د دې حروفو په منځ كي تميز نه سي كولى يا د هغه په ګمان كي دا كلمه په خپله طريقه باندي ادا كړه نو نه فاسديږي او دغه ډول قول د امام محمد بن مقاتل او امام اسماعيل زاهد څخه روايت دى ، په ذخيره كي راغلي دي كه چېري د دوو حروفو په منځ كي اتحاد مخرج او قريب نه وي مګر د دې حروفو په غلط ويلو كي عام خلک ګرفتار وي لكه د ضاد پر ځاى ذال يا د ذال پر ځاى خالص زا او يا د ضاد پر ځاى ظاء ووايي نو د ځينو علماؤ په نز په دې سره لمونځ نه فاسديږي، د يوې كلمې په ټوكړې ټوكړې كولو كي لكه د اَل په ويلو سره يې كلمه قطع كړه بيا يې حمدلله وويل نو په دې باره كي شمس الائمه حلواني رحمه الله د فساد حكم كړى دى .

عام مشائخ وايي چي د عموم بلوٰى په وجه نه فاسديږي او وقف هم د عموم بلوٰى په وجه د علماء وو په نِز لمونځ نه فاسده وي د ځينو په نِز فاسديږي لكه چي لااله يې ووايه او وقف يې وكړ او بيا د الا هو څخه يې شروع كړه" ولقد وصينا الذين اوتوا

الكتب من قبلكم يې ووايه او وقف يې وکړ بيا يې وت ثم ان التقوالله ځخه شروع کړيا و يخرجون الرسول يې ووايه وقف يې وکړ او واياکوم ان تؤمنوا بالله ربکم ځخه يې شروع وکړه وغير وغيره. که يې چېرې د يوې کلمې حرف د دوهمې کلمې سره يوځای کړ مثلاً اياک نعبد واياک نسعتين يا انا اعطينا کلکوثر يا اذاجاء نصرا الله يا د دې په مثل بل نو د عامو علماؤ په نز لمونځ فاسديږي او د ځينو علماؤ په نز لمونځ نه فاسديږي او ځيني علماء وايي که چېري دا وګړي چې قرآن په صحيح ډول څنګه چې وي مګر د هغه په ژبه دغه ډول راځي نو لمونځ نه فاسديږي او که چېري د هغه يقين وي چې د قرآن لفظ دا ډول دی نو فاسديږي او په ملتقط کې ذکر دي که چېري هغه الهمد لله يا کل هو الله احد وويل او د هغه ځخه علاوه په ويلو قادر نه وو نو د هغه لمونځ جائز دی او که چېري يې د دال سره اعوذ يا فساء صباح المنذرين د ذال په کسرې سره يې ووايه نو لمونځ فاسد نه دی او که چېري هکلا د چا په ژبه کې لکنت وي د رب پر ځای لب ووايي نو نه فاسديږي، د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله ځخه روايت دی چې په دې باره کې چې د ميم کومه ضميمه او د باء د فتحې سره واذبتلٰی ابراهيم ربه يا د واؤ د فتحې سره الخالق البارئ المصور يا د اول عين د فتحې او د ثاني د کسره سره، هو يطعم ولا يطعم ووايي نو لمونځ يې نه فاسديږي او که چېري يې ديوه حرف زيادت وکړ نو که په دوی کې تبديلي نه وي نو نه فاسديږي او که معنٰی يې بدله سوه لکه وانک لمن المرسلين او وان سعيکم لشتٰی يې ووايه په دې آياتو کې د واو په زيادت سره په معنٰی کې تغير دا ډول سو چې اوس دا ځواب قسم نه سي جوړيدی حالانکي دا دواړه آياتونه د ماقبل لپاره ځواب واقع سوي دي نو لمونځ فاسديږي او مناسب قول دادی چې فاسد نه وي ولې چې دا تغير فاحش نه دی، د زلة القاری په مسائل کې شيخ حسام الدين ابوسعيد بن اسعد النسفي رحمه الله ذکر کړي دي که چېري د صاد پر ځای د سين سره الله السمد

ووايي نو نه فاسديږي او دغه قول نجم الدين عمر النسلي رحمه الله اختيار کړی دی ، که چير د حتٰی پر ځای عتٰی ووايي نو نه فاسديږي او که يې سمع الله لمل حمده ووايه نو اميد دی چي نه فاسديږي او که چېري د شد پر ځای د دال سکون يا د ضمې سره يدع اليتيم ووايي نو د عام ګرفتاری په سبب لمونځ نه فاسديږي او که ان الذين اٰمنوا وعملوا الصلحٰت يې ووايه او د وقف کولو وروسته اولٰئک اصحاب الجحيم يې ووايه نو نه فاسديږي او که چېري د وقف بغير په يوځای کيدو سره نو د عامو علماء وو فتوٰی د فساد ده او د عبدالله بن مبارک، ابوحفص الکبير البخاری محمد بن مقاتل او مراوزه علماؤ د يوه جماعت څخه روايت دی چي نه فاسديږي، دغه ډول د ابونصر الماتريدی رحمه الله فتوٰی هم ده، مروه په ملک فارس کي د يوه ښار نوم دی چي کله د هغه وطرف ته نسبت کوي نو مروزی ويل کيږي چي د هغه جمعه مراوزه ده، که چېري د ان الله بريءُ من المشرکين ورسوله د لام د کسرې سره يې ووايه نو نه فاسديږي او که چېري يې انا کنا منذرين د ذال د فتحې سره يې ووايه نو يقيناً فاسديږي او په فتاوٰی قاضيخان کي ذکرسوي دي که چېري د دال د سکون سره يدع اليتيم ووايي نو فاسديږي او د دال پر ځای د تاء سره يتخلون ووايي نو فاسديږي او که چېري د انا جعلنا پر ځای انا خلقنا يا بغير د شد اياک نعبد ووايي نو د متاخرينو علماؤ په نِز نه فاسديږي او که يې چېري ماالضطررتم د زاء يا ظاء ياذال سره ووايه نو فاسديږي او ما اضتررتم د طاء پر ځای د تاء سره يې ووايه نو نه فاسديږي او که چېري من ختف الختفة د تاء سره يې ووايه نو فاسديږي او که چېري قل هو الله احت په تاء سره يې ووايه نو فاسديږي او که چېري اللهم سَل علی محمد په سين سره يې ووايه نو نه فاسديږي او که يې شد پرې ښووی ماودعک يې ووايه نو نه فاسديږي او که په رب کي يې شد پريښووی نو فاسديږي، که چېري په ظاء سره کيدهم فی تضليل يې ووايه نو فاسديږي او که يې په ذال معجمه سره تذليل

ووایه نو نه فاسدیږي او که حمالة الحتب په تاء سره یې ووایه نو فاسدیږي او که یې د جیم په فتحه سره من الجنة والناس ووایه نو لمونځ نه فاسدیږي.

تَمَّ الْكِتَابُ بِعَوْنِهِ تَعَالٰى

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى رَسُوْلِ خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِيْنَ. يَارَبِّ لَكَ الْحَمْدُ كَمَا يَنْبَغِيْ لِجَلَالِ وَجْهِكَ وَلِعَظِيْمِ سُلْطَانِكَ.

ژباړونکی

حافظ مولوي نور احمد حقاني